
ننګیالي پښتون





پښتو ټولنه
۱۳۴۵

د پښتو ټولنې د خپرونو
پرله پسې لمبر (۱۸۳)

ننګیالی پښتون

پښتو ټولنه

مهتمم : محمد اکبر «معتمد»

۱۳۴۵

د چاپ شمېر . (۲۰۰۰)

د لوی خدای په نامه

پښتو ټولنې د پوهنې د وزارت په مرسته ددې کال د اسد په ۲٤ نېټه د خوشحال خټک د مړينې د ۲۸٦ کال د يادونې او نمانځنې د پاره په کابل کښې د خارجي او داخلي پوهانو يو لوی سيمينار جوړ کړ چې دې سيمينار ته د خارجي هېوادو ډېر پوهان راغلي وو او د خوشحال د نمانځنې په غونډو کښې يې برخه اخيستې وه

کله چه هم ددې د روند کار د سرته رسولو د پاره وخت ډېر نه وو، خو بيا هم پښتو ټولنه د پياوړي صدر اعظم او د پوهنې د وزير په پاملرنه او د پښتو ليکوالو په مرسته او کومک په دې بريالې شوه چه دغه لوی او د روند کار چه د سرطان له ۱۵ نه شروع شوی و په (٤٠) ورځو کښې سرته ورسوي په دې موده کښې پښتو ټولنې د خوشحال خټک دوه مهم کتابونه (دستار نامه او طب نامه) هم نوي په ډول د چاپ ميدان ته راوويستل

لکه چه ښکاره ده د خوشحال د نمانځنې دغه تاريخي سيمينار د افغانستان په پلازمېنه کابل کښې جوړ او هغه ورځې په ډېر شور او زور وچليد او د خوشحال روح ته يې په قبر کښې د هغه د ژوندانه خوشحالي او تازګي ورسوله

خوشحال به خپله ويلي وو

مېړني دي چه نامېږي   نه مري هم په ګور

خوشحال خان نه يوازې د پښتون اولس يو نامی توريالی، جنګيالی، پوهيالی شخصيت و، چه مثال يې په نوره نړۍ کښې هم ډېر لږ پيدا کېدای شي د نو داسې لوړ تاريخي شخصيت او د شعر او ادب د ميدان لوی پهلوان نمانځنه او يادونه د پښتون ملت نو تاريخي فرض و مګر تر اوسه ورته د چا پام شوی نه و او د توري او قلم دغه ستر اتل همدغسې بې نمانځنې پاتې و خو بيا نه دي ډېر خوشحاله يو چه دغه درنه يادونه او نمانځنه په داسې وخت کښې وشوه چه هېواد زموږ د پوهنپال باچا اعليحضرت محمد ظاهر شاه په ځلانده دوره کښې د لوړتيا او پراختيا په لوري مخ په وړاندې روان دی او د پښتو ټولنې او افغاني ملت ژوندي کولو د پاره هم وخت په وخت پاخه ګامونه اخيستل کېږي

البته دا خبره هم تر ډېري اندازې پورې په ځای ده

چا چه خپل قدر په خپله وکړ ګله   ستاره د هغه قوم په عروج شوله

خدای هم نه بدلوي حال د هغه قوم   چه څوك نه بدلوي خپل حالت په خپله



زمونږ ګران او معظم ټولواک اعلیحضرت محمدظاهر شاه چه ددوی په نیکمرغه دوره کښې دافغانستان ملي ژبې پښتو ته پوره توجه شوې ده او دفضل او ادب څښتنان پکښې نمانځل کیږي دخوشحال خان تاریخي دروند سیمینار ددوی په غوره پیام پرانستل شو .

د نو ملت او اولس په لوړ تیا کښې په خپله د اولس او خلکو زیار او کوښښ هم ډیر لوی اثر لري ځکه چه د هیواد په ملي او اجتماعي چارو کښې د ملت او حکومت لاس یو ځای شي نو هغه هیواد ډیر ژر د ترقۍ لوړې څوکې ته ختلای شي له یوه لاسه هیڅکله ټك نه خیژي .

د خوشحال د زمانځنې دغه لوی تاریخي سیمینار د دغسې همکارۍ او همفکرۍ په برکت دایر او بري ته ورسید پښتونخوا په اسمان د خپل اغیز پلوشې وشندلې او هر څوك يې د خوشحال په لوړ علمي ، ادبي ، سیاسي او عسکري مقام ښه پوه او وپوهول

د ملت د لویو مشرانو زمانځنه او یادونه د ژوندو او اوسنیو نسلو اساسي کار دی د بریه هر ملت دغسې ادبي او علمي شخصیتونه لري چه د هغوی نوم د قومي یو والي د پاره د نوي نسل تاداو کار ورکوي که زموږ ګاونډي ملکونه په ټاګور ، اقبال او فردوسي نامدي ویاړي نو موږ به خوشحال نامدي د ویاړ ځولۍ اسمان ته اوچتولای شو ځکه چه خوشحال نه قوله هغوی یو کامل انسان او د توري او قلم د دواړو میدانو پهلوان ؤ . د خوشحال خان ژوند او ادب ، آثار او کتابونه زموږ د پاره په توره تیاره کښې د رڼا او ځلیدو مثال لري هم پکښې فکري لارښوونې موجودې دي او هم پکښې د ژوندي ژوندانه د خیبره برته ده هیڅ قوم د ژوندي ژوندانه برته ژوندی ساتي کیدای نه شي او نه په خپله فکري نا پوهه بري ته رسیدای شي د پښتو ژوندي او برمته ټټك د پښتون اولس د ژوندانه د پاره یوه ضروري خبره ده او خوشحال د دې ډول یو یوځ تاداو دی له دې ځکه د خوشحال او دغسې نورو لویو شاعرانو او پوهانو یادونه او زمانځنه زموږ ملي فریضه ده او نا یوچه همیشه ورته ګلګې ملا وتړو

د خوشحال د مقام نور هم ښه د پاره کښې دا دی یو لوی کتاب په (۳۲۳) مخونو کښې پښتنې دنیا ته وړاندې کیږي دا کتاب هم په ډیر لیوالتیا کښې د چاپ ښکلي ته راووت . په دې کتاب کښې د هغو پوهانو مقالې او شعرونه راغلي دي چه د سیمینار په پروګرام کښې شامل وو کتاب له ډیرو ښو معلوماتو او د سیمینار له خوږو خبرو او تصویرو څخه ډك دی نو دا دی د غه لوی په علمي او ادبي نا ملګه په ډیره مینه د پښتو ټولنې له خوا پښتو مینانو ته وړاندې کیږي

پښتو ټولنه د ټولو هغو کسانو څخه چه د خوشحال د زمانځنې په سیمینار کښې يې برخه اخستې ده او د دې مهم تاریخي کتاب «انګیالي پښتون» په راویستلو کښې يې زحمت ګاللی دی د زړه له کومې تشکر کوي او له پاك خدای نه يې ټل کامیاب او خوشحاله غواړي .

(رشتین)

داعلیحضرت معظم همایونی پیام

دخوشحال خان دنمانځنی دتولنې په مناسبت چه داسد له شلیرویشتم نه تردیرشم پورې په کابل کښې جوړیږی . مونږ دتورې او قلم دښتن خوشحال ختک دیادونې دلومړنی غونډې نمانځل دادب او تاریخ دیو ځلاند شخصیت دژوندانه دآثارو او افکارو دمعرفې په لاره کښې یو سودمند او ګټور ګام بولو .

ښکاره ده چه دیو ملي مشراو یوادیب په توګه دخوشحال خان دشخصیت دهلو هلو خواوو څېړل او دپښتو دنظم او نثر په لاره کښې دده دنقش څرګندول دادب دڅېړونکو او تاریخ لیکونکو پرله پسې همکاریو او زیاتو مطالعو ته اړتیالري ، هیله ده چه دغه ټولنه به دلومړني تمهید په توګه دنورو راتلونکو پراخو اولویو ټولنو دپاره لارې پرانیزي او دپوهانو فکري او ملي کوښښونه او دوی مقالې او رسالې به دپښتو ادب د دغه نومیالی شخصیت ، او په دغه وسیله دافغاني ملي کلتور معرفي او پیژندګلوي پوره او بشپړه کړي .

دخوشحال ختک دیادونې دلومړنی ټولنی برخې اخیستونکو ته دپاک خدای څخه توفیقونه غوارم



زموږ ستاوړی او پوه صدر اعظم ښاغلی محمد هاشم میوندوال چه د
دوی په منته او پاملرنه دخوشحال خان سیمینار دعمل ډګر ته راووت.

د صدر اعظم ښاغلي میوندوال د وینا متن

چه د خوشحال خان خټک د یادونې په محفل کښې یې وکړه

ګرانو اوریدونکو میرمنو او ښاغلو!

پیاوړ چه نن د پښتنو دیوملي قهرمان د کالیزې په محفل کښې برخه اخلم د املي قهرمان نومیالي پښتون او د پښتو نومیالي شاعر خوشحال خان خټک دی چه دهغه د ویاړ وي او ځلانځنې لپاره سره راټول شوي یو. خوشحال خان خټک چه په خپل ژوندانه کښې د پښتنو د مشراو ملي قاید په صفت اوله مرګ نه وروسته د نومیالي شاعر په حیث پیژندل شوی په مرګ اوژوند پـه دواړو کښې یوملت جوړونکـی شخصیت دی چه د پښتنو دآزادۍ او برم او حیثیت په ساتلو کښې د نوه ملي معمار په حیث نه ماتیدونکـی او نـه ړرانیدونکي کارونه کړي دي.

کومه لویه ذخیره چه ده د پښتو په ادب کښې پرې ایښې ده نه یوازې یې پښتو روندی ساتلې بلکه د پښتنو والي یو مکمل دایرة المعارف یې هم مونږ ته را پرې ایښې دي.

کومې مجادلې چه ده په خپل ژوندانه کښې د پردیو د تیري په مقابل کښې کـړې دي د توري او صلابت کلك مثال یې دده په خپل عهد کښې خپلو پردو ته ښودلی دی او کوم آثار چه ده مونږ ته راپرې ایښې دي زمونږ په عهد کښې دده د ملي زعامت او قلمي قدرت یولوی مثال ګڼل کیږي.

څکه نو مونږ ویاړو چه خوشحال خټک د توري او قلم سرباز دی او د پښتنو پـه ملي مسرانو کښې ملت ساتونکی او ملت جوړوونکی قهرمان دی، ځینې ملتونه نظامي قهرمانانو جوړ کړي او ځینې ملتونه ملي شاعرانو جوړ کړي لیکن پښتون ملت هغسې یوملت دی چه معماري یې هم د توري او هم د قلم خاوندو، دا یوه د یادونې خبره ده چه خټک که څه هم زیاتره د کوهاټ په سیمه کښې او سیدل خو اکوړې د خوشحال سرنیکه له خپلې قبیلې سره داټك پرلور چه د پښتنو دسیمې کرښه ده میشته شو او دلته یې د پښتنې پا سباني ځان ته غوره کړه . جلال الدین اکبر ودې خبرې نه ملتفت و او پر اټك باندې یې یوه کـلا جوړه کړې وه خو د پښتنو په مقابل کښې د خپل سلطنت ساتنه وکړي د پښتنو له خواخټـکو



پوهاند ډاکټر محمد عثمان انوري د پوهنې وزير چه د خوشحال د سيمنار
په جوړېدو کښې يې پوره پاملرنه کړې ده .

دخوشحال دکورنۍ به سلسله کښې د‌دې خای کښې دښمنودخاورې دفاع کوله دښمنو آزادی او‌اپك حخه دحق‌العبور امتیازیې کهلی‌اوساتلی‌و ، خوشحال‌دجهانګیر په‌زمانه کښې وزیر ید اودشاه جهان په دوره کښې‌دخپل قام مشر وپیژندل شو.
شاه‌جهان دخوشحال په‌اصطلاح قدردان باچا‌ؤ ، ددوی داحق بې‌منلی‌وخودده جانشین اورنګزیب سره‌ددې‌چه دخوشحال په مرسته دخپلو رقیبوورونو په مقابل کښې بریالی شوی‌و. دخوشحال اودپښتنو سره‌یې‌دښمنی واخسته خوشحال په‌رنتبور جمل کښې بندی شو‌حوحاوشوی‌کړای چه‌دده‌قلم‌اوربه‌بنده کړی‌دخوشحال‌دهمدی شخصیت اثر ووچه به پیښور کښې داورنګزیب حکمران دده دخلاصون غوښتنه‌وکړه خوشحال خپلی سیمی ته‌راغی اوبخپله مجادله یې شروع وکړه اوبه‌خبراوبه توراکښې ددوو‌نورو‌ښتنو جنګی‌سرداراتو ایمل‌خان اودریاخان په‌مرسته دوطن‌دآزادی دساتنی په‌لاره کښې بریایه وجنګید برحوچه دمغلو دوره مخ‌په خمیدو شوه اودنادر افشارله هجوم حخه وروسته داحمد شاه‌بابا برقیادت لاندې‌دښتنو آزادی بکمیله‌اوحاصله‌شوه
اوس چه موبز ددې ملی قهرمان دمړینی تلینه کوو دده دروحاست څخه‌مدد غواړو چه پښتانه دخپل‌ملی برم په‌ساتلو کښې بریالی اوسرلوړی وی اودادخوشحال محفل اودغسی نور ملی اوادبی محفلونه دې به وطن کښې ډیراوبی‌شماره شی اوددې محفل شاملین دی، میلمانه دې اوکه‌کوربانه بل خوشحال او کامګاروی.

یاهغه پښتانه نورو داخه نور شول | یادخدای دې اوس داهسې شان‌فرمان

☆ ☆ ☆

هر د هغه چه همت نا ك بر كت نا ك | دعالمه سره خوښ په‌زیست‌اورواك
مخ‌یې مخ قول یې قول عهد یې عهد | نه دروغ، نه‌یې فریب، نه ښ تپاك
لږ ویل ډیر یې کو ل به خامو شی کښې | دغنچې‌غوندې خوله‌یوری سینه‌چاك
چه خبره د پستې او بلنـد ی شی | به لوېی لکه آسمان په پستی خاك
لکه ګل شګفته ر وی تازه په باغ کښې | همیشه دښو بلبلو پری بلغاك

چه داهسې ښه ویل کاژه حیران یم
چه خوشحال راوړله کومه‌دا ادراك

دخوشحال ختك دیادوني په مناسبت

دپوهنې دوزیر پوهاند دکتور محمدعثمان انوري
وینا

جلالتمآب صدر اعظم، جلالتمآب ماتو، پیاوړو خوېندو ورونو!

ډیر خوښ یم چه دتوري اوقلم دخاوند خوشحال ختك، دوه سوه اوشپېتمه تلیزه کالیزه دجلالتمآب صدر اعظم په وینا اوستاسو په تشریف راوړلو او ګډون نمانځل کېږي

د پښتو پلار او استاد خوشحال خان ختك په ویل

همیشه به پري نازیږي دملګو   داچه ساز کړي سي خوشحال په ویل ماځ

د ده همدغه وینا ـ دوه سوه شپږ اتیا کاله وروسته قبول پښتانه په ډیره مینه داقبول کړي او دوی ته داتحاد اوراغونډېدلو هیله پیکاره کوي به هرحال دادی زه دپوهنې دوزیر په حیث دې ستر هیلي او ادبي غونډې ته مبارکي وایم.

ګرانو! پوهیږم چه دلته زموږ پوهان خوشحال خان په واقعي ډول په همه شان چه دلوی خوشحال سره ښایي معرفي کوي، نوزه هم اجازه غواړم چه ستاسي دمجلس مقدمه کښېږدم او ووایم

خوشحال ختك دتوري اوقلم پلار اصلا پښتون ختك دپښتونخوا «اکوړې» نومی ځای کي چه دده پلار او نیکه اصلي ټاټوبی و، په ۱۰۲۲ هـ کال کښې زېږېدلی دی.

خوشحال خان په هغه وخت کښې چه دده پلار شهباز خان دیوسفزو په جنګ کښې ومات شو دپلار پرځای یې دخپل قوم په مشرتوب وټاکل شو

دامشرتوب دهغه وخت مغلي پاچا شاه جهان هم ومانه، مګرکله چه دشاه جهان زوی اورنګزیب خپل پلار بندي کړ، ده دخوشحال خان مشرتوب دځان په ضرر وګاڼه، ځکه چه دی دپښتون قوم دمرئی توب په هڅه کښې و.

داورنګزیب همدغه ظالمانه او مستبدانه هڅې په خوشحال خان کښې دپښتون قوم دپاره دمبارزې جذبه وپاروله

خوشحال خان دامبارزه په ډیره صورت ترمرګه جاري وساتله حتی دمرګ په وخت کښې هم دا ډول وصیت کوي

ماهلته ښخ کړئ چه دمغلو سپوري مې پر خاوره ونه شي او دمغلو داسونو دپښو ګرد مې پرهدیره ونه لوېږي.

دخوشحال نصب العین زما په عقیده :

خوشحال خان خپله مبارزه دمشرتوب دحصول او ساتلو دپاره نه کوله بلکه دی دیوه واقعي انسان په حیث دهغه وخت داستعمار او استثمار په هغه کم او کیف پوهېدلی وکوم چه دده قوم ته متوجه ؤ. همدغه فکر دی، دې ته ګماري

تربیت که د ناخوان له لاسه مومی — په هر ځای نامدي ګلونه د بوستان شته

په همدې شان دې د طبیعت په مطالعه سره خپله نظریه دا ډول بیانول غواړي

هر استاد سره چه کسب د بوخوور ځي — دغه هنر پرده کښي نمایان شي

دلته دا خبره څرګندیږي چه خوشحال خان تقریباً دری سوه کاله دمخه په دې عقیده دی چه خدای پاك ټول انسانان بی له کوم فرق نه، استعداد او د پوهې توان ورکړی دی یعني دی ته تربیه نه کوی او نه تربیه دی جامعې ته نه ده سپي

دخوشحال خان ادبي هریت :

زما په عقیده دا یوه ریښتیا خبره ده چه خوشحال خان د پښتو ژبې پلار دی ۰

دا چه وایي -

ما خوشحال چه په پښتو شعر بیان کړ — د پښتو ژبه به اوس په آب و تاب شي

د پښتو د پلار دا دعوی تشه دعوی نه ده بلکه حقیقتاً صدق لري دا ځکه چه خوشحال خان ته که د نوي خوا نو تکړه واقع بین ویل کیږي د ملي خوادي د عمل د میدان ډېر قوی مجاهد هم دی

دخوشحال خان د مفکوري عمق :

کله چه موږ د خوشحال خان د فکر تعمق او ژور والی لټوو دلته د ده په ادب کښي د ده د ملت خواهي سره د ده انسان خوښتنه هم ایډیالی شو یعنی موږ خوشحال خان یواری توریالی او ادیب پښتون نه شو ایډیالی بلکه د ده د نظر عمق د ده په ادب کښي د ده د تصوفي طریقې انتخاب ښکاره کوی د خوشحال خان د شاعرۍ د وخت اعلی شعرا د تصوف په برخه کې شهودي لار غوره کوی یا همه صوفي والی چه خلك د ژوند څخه ګوښي کوی دلته تاسي د خوشحال خان د شهودي تصوف د لارې پر ځای وجودي تصوف ته رجوع او د قوم د پاره د توري سره په تصوفي طریقه سره اعتماد پر ځان ژوند کول، د ده نار نظري او عمق نظر غواړي لکه چه هغه لار دی غوره کوی

د زمریو مې نشوب په لښکر نه وی — متکی هر کله یواری په خپل ځان وی

خوشحال خان دا انسان طبیعي قوت ته په ډیره درنه سترګه ګوري او دوی ته د پر ځان اعتماد توصیه کوی ۰

دخوشحالخان دمجادلې لار :

د عصر د خبر په اعتبار د علامه اقبال وخت ته ورته ښکاري یعني د علامه اقبال وخت که هند دا انګلیسي استعمار پنځو ته سپاری د خوشحال خان سره د وخت نامساعدت د پښتون قوم مغلي استعمار ته سپاری ۰

دا دوه وخته د خاصو شرایطو په اعتبار سره نږدې دی خو د لار پښو و تګو لار سره بیله مثلاً علامه اقبال قوم د کلام په سحر خالته ملامت کوی مګر خوشحال خان د قلم سره توره لازم ګڼي ۰

چه د بیان په سحر او خپل میړانتوب، قوم یې خان راټول او د مغل د ظلم او اسارت نه یې
خلاص کړی هو په دغه کار خوشحال د هغه وخت هر یو لیکوال او وایي

چه هر د سر ماری کاندی د تورو د خوشحال خټک ترهغې هر ځای شم

که څه هم د خوشحال خان هر هر زده دی مګر کوم هر چه د ده د قومي خودارادیت
د حصول په در د خوری هغه دی نه هغه وخت کښي فقط او فقط سرماری کوی نه هغه دی شان
خوشحال د هغه عقیدی ... په حیث د زمان او مکان تشخص کوی او وایي

کل ګټه د ده توری که کابل دی که کشمیر ... دی چه یادیږی په سندر و او نه ور

دلته بوموږ مایند خوشحال خان د هغې غایی او نصب العین کومه چه د ده د وخت په
اعتبار هوره کړی وه خان بوه و ولو څکه د ده دی غایی حصول توره بللها نه لو ...

دخوشحال خان فلسفي مفکوره :

ترهغه حده چه زه د خوشحال خان په حصول کی معلومات لرم خوشحال خان په فلسفي
لحاظ، په صرف هغه مادي انسان دی چه هر شی د خوند په لحاظ وګوری او په هغه نظر وی
ایدیالست فیلسوف دی چه د ژوند خوند د ژوند نه پرې سود لو کی و ګڼي ځکه د لته
دا ویلای شو چه خوشحال خان نه زرمي نظر هغه اند بالست ته ور ته دی چه د ژوند
خوند او هوا په یاالستی نه هي کښي اصلي بولی د ملي خوا هغه شاعر په زرمی برخه کښي
یو تکې ونه ریالست هم کمل کړی نو څکه یو ځای وایي

مر د هغه چه همت ناك وی د عالمه سره هرګز په ژوند اوزواك وی

خو بل ځای هملی جهان د زرمي د دیا سره داډول بحلا کول غواړی

توره چه بیریږی خو ګدار لره کنه راځی چه وباډول شي خو خپل یار لره کنه
ولی راته وایی چه نه ښکلو نظرمه کړه ستر ګی چه پیدا دی خو د ندار لره کنه

لنډه دا چه خوشحال خان د ژوند نه هغې ډیرسه بوهید لی دی په هغه دی سبب هغه
د سه سلوك او د توره ګدار، ښکلو ته په نظر اچولو، د ژوند واقعیتونه کڼي

دخوشحال خان سیاسي عقیده :

ملکرو !

د خوشحال خان د مطالعي څخه دا څرګندیږی چه دی یو کلك ملي شخصیت و
او د خپل هیواد او قوم سره یې یوه عمیقه رابطه درلوده نو ځکه د ده د هرډول
تجاوز په مقابل کی قیام کړی او د هر ډول استعمار ډیر کلك دښمن و، په همدی
شان، د ده د خپل قوم آزادی تر هرڅه لوړه ګڼله چه وایي

دا هغه په ننګ مې وتړله توره ننګیالی د زمانې خوشحال خټك یم

خوشحال دیوه اجتماعي شخصیت په حیث :

خوشحال خان خپل اجتماعي شخصیت ډیر روښانه ښو ولی دی نو ځکه خپل مقام
داډول ښیی



پوهنوال نوریالی اعتمادی دپوهنتون
رئیس چه دخوشحال خان په سیمنار
کښې یې دپوهنتون پیغام په پښتو
لوستی دی .

خوشحالخان هنر دژوند دپاره غواړی که هنر دهنر دپاره ؟ :

خوشحالخان د عملی صحت او استعداد سره بیاهم د آسیا د منحطی دورې شاعر
ده دی او په قوم مایوسه کوی ملکه دده په نړخه کښې د پښتو ژبې د علماوو نظر په دا ده
چه خوشحالخان په ادب کښې د نوی لار خاوند دی دالار داروپا د هومیروم او رنسانس
دورې ته ورته کیږی یعنی هغه خدمت چه په اروپاکی هغې تاریخی دورې کړی دی
خوشحال د آسیا په دی کوټ کښې کړی دی

گرانو حضارو !

دا وه د خوشحالخان د ادب غایه او هدف چه یوه مثالی صفحه لری ته تحریر یمی .

گرانو وروڼو !

زه باور لرم چه ستاسی هغه مجلس چه د لوی خوشحال د نمانځنې په خاطر جوړ
شوی دی له هری خوا د ستاینې وړ او کټور شی زه ستاسی دپاره د لوی خدای
په توفیق غواړم

کوم میلمانه چه د دوستو هیوادو نه موږ ته راغلی دی هیله کوم چه دلته یې شپې
او ورځې خوشی تیرې شی خوا ممکن د دوی د خدمت په حلقه کې زمونږ مادی توان لږ وی
مګر په یقین لرم چه زمونږ زړونه د دوی دپاره د خورا ډیرې مینې او محبت نه
ډک دی .

دادی بیاهم ستاسی د ټولو صحت او خوښی د زړه لویه هیله لرم

د کابل پوهنتون پیغام

دا پیغام د ښاغلي توریالي اعتمادي
د پوهنتون د رئیس له خوا وویل شو

زه ډېر خوشحاله یم او د زړه له کومي ویاړم چه د پښتو د ملي او نړیوالي شخصیت خوشحال خان خټک د ۲۸۶ کلنۍ په مناسبت کې د کابل پوهنتون له خوا ګډون کوم.

خوشحال خان یو داسې مېړنی او نامتو شخصیت ؤ چه د قلم او انساني ښېګڼو او اخلاقي فضیلتو خاوند او د ژوندانه او ادب پیاوړی لیکوال او مفکر شاعر ؤ له دغو ټولو ښېګڼو سره سره د ملیت خواخوږی لوی مبارز او د هېواد نامتو رهبر هم ؤ نو ځکه خوشحال بې له شکه زموږ لوی ملي شاعر دی.

موږ د خوشحال خان د یاد د ونمانځلو دا مجلس په ډېرو دلایلو سره ستایو خو دوه لوی دلیلونه یې دادي چه اول په دې مجلس کې د هېواد د یو داسې نامتو شخصیت د ژوندانه او آثارو په باب کې تحقیق او څېړنه کېږي چه د شعر او نظم له برکته یې زموږ پښتو ژبې د ستنیاني «آب و تاب» موندلی دی

ما خوشحال چه په پښتو شعر بیان کړ　　پښتو ژبه به اوس په آب و تاب شي

همیشه به یې یادوي د ملو　　دا چه سار کړی خوشحال په ویل ماغ

دویم دلیل دا دی د هېواد د ځینو پوهانو د پاره داسې یوه مساعده زمینه برابره کېږي چه د هېواد د دې ادبي او علمي شخصیت په حال احوال باندې سوچ او ژور تحقیق وشي او زموږ د ماضي او د ادب د تاریخ پردې دوره باندې څه ناڅه رڼا واچوله شي

د خوشحال د ټولنې د څېړنو د ستاینې دویم دلیل دادی چه د دې تحقیقاتو او څېړنو په رڼا کې موږ له هغو انساني عالي صفاتو او فضایلو سره آشنا کېږو چه د خوشحال خان شخصیت یې تشکیلاوه څو موږ او زموږ د هېواد زلمیان د هغه لوی استاد خپل امام وګڼي او د هغه د خوبونو او اعمالو پیروي وکړي.

اوس زموږ د هېواد زلمیان په خپل علمي او فرهنګي ژوندانه کې له یوه خاص دریځ او موقف سره مخامخ دي. له یوې خوا دوی مجبور دي چه لوی معارف او نوی

دختیځ پوهانو لیکونه او پیغامونه

له ناروې څخه

دجارج مار ګنسټرن پیغام

د نیمې پېړۍ نه راهیسې زه د خوشحال خټک شعر لولم .

په دې نیمه پېړۍ کښې پرله پسې تری خوند اخلم او قدر یې کوم .

خوشحال حق لري چه ځان د پښتو ژبې فردوسي او سعدي بولي .

هغه خدمت چه ده پښتو ژبې ته کړی دی هیڅا به هیڅ وخت کښې نه دی کړی هیڅوک ده ته د پښتون قام په مشر نه دی يعنې د سردار او د پلار په شان مهربان او صفا زړه ور او سخت ګیر

د ده شعر د خوږو او نوو غوندې دی چه د تنکي دريڅه نه راوځي هغسې تېره چه درمانې په زړه او ستوري بې تېري کړي دي

دا نه شي کېدې چه دا شعر دچا خوښ نه شي دا نه شي کېدې چه د دې شعر د بوسکي بې خوښ نه شي .

زه د لوېديځ د يو روي په حيث د لوېديځ د پوهنتون د پوهنې د يو استاد په حيث او پښتو قولې د يوه څارونكي په حيث خوشحاله يم چه لوېديځ نه نزدې ورو ستنه خوشحال چه و پېژني .

ځکه چه د هغې قولې لکه ځکه چه په کامل کسې اوس خوند شوه هرې خواته دیا سعدي نه بس د هر وطن شاګردان ، زما د یو شمیر شاګردانو په شمول آرزو لري چه د خوشحال مزار ته ورشي او د هغه افکار او اشعار سه و پېژني او همدارنګه پوه شي تل ده چه ماو نه شو کولای چه د پښتو قولې دې ملي ته او س کامل ته ځان ورسوم دژوندانه مشکلاتو زه پرې نه سودم مګر سبا به يوه کسې قول هغه څه چه د خوشحال په باره کښې احساسوم هغه نه ډېر خلك احساس كړي

چه خوشحال د غرني ډېر لوړ کوتو سره ډېر آزاد ، زړه ور او رښتین سړی دی

پښتانه زلمیان او پیغلې اوس د پخوا نه زیات خوځښتیو ته ځي نو ځکه زه خوشحاله یم چه سبا د خوشحال زیات وطنوال او هر يوان د هغه په اشعارو نه و ستاېدي اوو نه ژاړي

د خوشحال د یاد او د قولنې مربالي توب غواړم .

علوم زده کړي ترڅو چه د عصري ژوندانه له پوهنو سره ښه ورته آشنا کړي او له ملي هوا
نه ئې کو لای چه خپل همه هغې او مشره کلتور له یاده وباسي چه په حقیقت کې
زموږ د اوسني کلتور بنیاد او بنسټ تشکیلوي . له همدې امله ده چه موږ دا نشو کولای
چه د عصري علومو په زده کړه خپل پراخ او لوی کلتوري میراث له لاسه ورکړو
د خوشحال د قولانو او د خوشحال خان د آثارو او ژوند په باب کې د تحقیقاتو په
ترڅ کې د همدې نامتو کلتوري میراث د روښانولو د پاره د پر لوی گام اوچت کړی دی
د کابل پوهنتون د دوی دغه اقدام ته په ډیر درنه سترگه گوري او دوی ته خپل درنه له
کومي میاشت کې وړاندې کوي . او همدغه راز د پوهنې د وزارت او پښتو ټولنې څخه په
صمیمیت سره تشکر کوي چه د دغه حاضر مجلس یې ترتیب کړی دی .

د ننگرهار د پوهنتون پیغام .

نن چه دا افغانستان په مرکز کابل کې د خوشحال خټک د مانځنې او یادونې یوه
درنه کالیزه جوړه شوې ده ، د ننگرهار د پوهنتون ټول استادان او محصلان په داسې
حال کې چه د پښتو د دغه ننگیالي ، توریالي مجاهد شاعر د علمي ، ادبي ، فکري
او سیاسي اوچت مقام مانځنه کوي د پوهنې له وزارت او د پښتو ټولنې له ریاست څخه
هم زیاته خوښي ښکاره کوي او په دې درنه مانځنه ورته مبارکي وایې زموږ هیله
ده چه افغاني ځوانان د خوشحال خټک د لوړو ملي نظریو پیروي وکړي او د هغه
په څېر کښې نه هم له هر څه دریغ او مثال کار واخلي .

له مسکو نه راغلی لیکونه

ډیر محترم پروفیسر رشتین !

اجازه راکړئ چه ستاسې د دعوت په نسبت چه شوروي عالمانو د پښتو د لوی شاعر خوشحال په ۲۸۶ تلین کښې د ګډون د پاره غوښتي وو ، د زړه له کومې تشکر وکړو . موږ هیلو به کوم علت ستاسې ملي لیکنو ته ناوخته را ورسید .

او د انستیتوت علمي پلان نه خوا ر نه ورکوي چه خپل علمي همکاران ستاسې کنفرانس ته دروليږو ستاسې د کنفرانس پوره موفقیت غواړو او هیله ده چه په آینده کښې به علمي تماسونه د شوروي او افغاني عالمانو په منځ کښې سره ټینګ شي او دا کار به د موږ د هیوادونو د ملتونو په منځ تفاهم کښې په ډیر درناوی

مو بخښئ د اسیا یي ملتونو د انستیتوت معاون اګست (۱۹۶۶ ع)

زما ګران دوست رشتین صاحب ! کوردې وډان .

د ناروغتیا په سبب د خوشحال خټك په سیمینار کښې زما ګډون امکان نه لري که ستاسې مهرباني را باندې وشي نو تو خوك دا زما وینا د پښتو ټولنې په مجلس کښې ولولي او زه به خوښ شم د نوا نه شان د پښتو د نا ر ه خدمت زما د زړه هدف دی

ټولو ملګرو ته زما سلام ورسانئ . ستاسې ډیري کامیابي غواړم

په درناوی – نیکلای دوریانکوف

د پښتو ټولنې افتخاري غړی .

له لندن څخه :

د سر آلف کیرو لیک او پیغام

زما ګرانه خوشحال اوسې !

پس د ډېر سلام نه ستاسو خط راورسید . د افغانستان د پوهنې وزارت او د پښتو ټولنې په دعوت واقعی ډېر مشکور او ممنون یم . لیکن دا دې ډېر افسوس خبره ده چه دعوت لکوټی ناوخت راغلی دی او دا ګټه په مباشت کښې زه مشغول او ناوړ کار یم ، ځکه کابل ته سفر کول زما ته ناممکن دی او تاسو نه معافی غوښتل پکار دی

هغه هم تاسو ته به دا معلوم وی چه اوی شاعر خوشحال خان خټک ته زما صدق مینه او تعظیم دی ځکه که تاسو دا موږون خان کوی نو زه به ستاسو د لاس په معرفت د دې شاعر د مضمونو مجموعات (چه ما سره زما دوست ایوان هوبل انګریزی کړی دی) کابل ته به ولیږم . علاوه د دې د خوشحال په باب کښې د Rayol Cohat په اعمار کښې یوه رساله شایع کړی وه د به هم در واستوم که خیر وی

فقط ستاسو دوست (اولف کیرو)

د پروفیسر مېکنزي لیک او پیغام

د پښتو ټولنې مشر پوهاند رشتین !

محترم او ګران دوست !

ستاسی د دوستانه بلنې لیک راورسید او زه یې په خوشحالی هم منظور او هم منانه کړم ځکه چه نه دي کم مدت احضار ته فرصت نه لرم چه کابل ته د دې شم او د خوشحال خان خټک د تلین په دا غونډه کښې ګډون وکړم او ستاسی د میلمستیا خوند واخلم .

سره له دې د دې بلنې او د پښتو ټولنې د نورو باپېدو ګټو مهربانیو قدر په پېژنم او ډېر منم او هیله داهیله کوم چه د خوشحال خان په نوم دا غونډه به لویه کامیابی وګټي او هغو ټولو ښاغلیو اشتراک کوونکو ته خپل سلامونه وړاندې کوم . په احترام

لندن ـ د جولای څلیرویشتم ۱۹۶۶

خوشحال هیڅ ډول مضمون پرې نه ښود، حقیقت دا دی چه له مختار سره و نښلاوه عشقي، بزمي، اخلاقي، اجتماعي، وطني، ملي، فلسفي، تصوفي، رزمي حماسي، فکاهي او نور هر راز مطالب یې د شعر په جامه کښې ونغښتل، د هر چا د ذوق دپاره یې د خپل شعر باغ ومې له رنګارنګ ګلونو ډک کړ.

ساده او آسان شعر یې د وینا د افکارو مرغلرې یې د شعر په ښایسته مړۍ کښې وپېیلې، دردمنو د زړونو ترجماني یې وکړه، د هر ډول ملک یې فتح کړ او د پښتو ادب لوی استاد شو.

په فصاحت کښې حسان، په رزم کښې فردوسي، په اخلاقو کښې سعدي، په فلسفه کښې خیام، په عشق او تصوف کښې حافظ، په عشرت کښې ابونواس او د فطرت د ښکلا انځورګر وبلل شو. دده له شعره د پښتو ژبه په آب و تاب شوه، د ملغلو ډېرو د پاره یې دوینا او خپرو باغ خوند کړ لکه چه وایي :

ما خوشحال چې په پښتو شعر بیان کړ　　د پښتو ژبه نه اوس په آب و تاب شي
همیشه به تري یاري وي د بلبلو　　دا چه ساز کړي خوشحال په ویل باغ

لنډه دا چه خوشحال خټک د پښتو ادب لوی ادیب، ښکلی شاعر، د ملیت پښتنګی، د پښتونولی لوال د ننګ او همت ټوټه، د تورې او قلم اتل، بیرغ او د هر م او همت لوی هر و پېژندل شو د لوی دورې لارښود یکي و ګڼل شو.

دې برته له شعره په نثر کښې هم د لوی لاس خاوند او د پښتو نثر د نوي نثر لیکوونکی، نوه مؤرخ لوی عالم مشهور مولف په صفت وستایل شو

د دې وجه ده چې نن موږ دده د علم فرهنګ، توري او ننګ لوړ مقام ته د احترام سر ټیټوو او دده د پېښلو آرزوګانو د پوره کېدو هیله کوو.

خوشحال د (۷۸) کالو په عمر د ۱۱۰۰ هـ کال د دوهمې خور په ۲۸ وفات او د هوډۍ د غره ترڅنګه خاورو ته وسپارل شو

د خوشحال خان لنډه پېژندګلي

د پوهاند رشتین له خوا

خوشحال د شهباز خان زوی، د یحیی خان نمسی او د ملک اکوړي کړوسی دی.

نوموړی دوه ویشت کاله له عمره تېر وو چه د خټکو نه یې کسی د شهباز خان

کړه نو خوشحال تو تی ننه اخو، ولدو کی ژغلوی شو، په عمر او چار راغی د خټکو نه

ناخو نو کسی وګرځېد، توتنانو یو لوی سیل ورسی شو، د وطن قول هو نه اودری

عروه نی تر وروو لاندی کړل په هر ېر او هر ګلر ار کېږي نی د خو اله چار

خواښه وه پر سودل. د داغ مړاوی اومځ تې هوای ورنه وهو ښه ی، مسکین شوی

پرمینا شوی په باره نمر او ښاره نارونی ملي پرمختیا راوستی. د دغو خوشحالی

ریات شوه څه وشو؟؟

د خوشحال د شاعری ولمه دعې نه او مې اژ نو نو د تاره کی د باره په چلید و

راځله ـ د طبیعت مارهه نې ورور وه جباره کړل، دولت، دتمر اله لو ډو عر و نو

وګر ځند، په خټکو پښتو کسات اوچتو شوکوته وخوت.

په خوسا خو نو کې چه پورته سو په دی وخت کېږي ورته نه ځای نار او او کوږ د

د زور ستان تمام چه د عبدالقادر په لاس ورده وخته راورسید لی ژغور سا وه مید ان

ته راووت، د پښتو پښتو نوالی، د آزادی او میړانی حمیت نی ورنوال نه کلک او

ټینګ عزم د ملت او قوم د لوی او نو والی د باره له سره تېر شو، د پښتون د آزاد

ژوند او حملوا کی د پاره نی له وسو سره لو نی وکړی

خپل همت نی د زمری په خوله کېږي لاس ور نه کړ، د وطن مینی په ناروبی ویده

ولسونه راویښ کړل د غیرت سا نه دوی، د پښتو نولی ګټه دوی او د پښتو ژبی نومیالی

ادیب او منګیالی شاعر و ښه نامتو شو.

د اجتماع او اخلاقو په میدان کښې هم ورغاست، له خلکو سره ددوی په ژبه لګیا

شو، د پښتو او لی دراته خوږ نو نه او ښکلی اخلاق نی بیان کړل. پښتانه نی د قوم

او ملت خدمت ته راو بلل.

د تصوف او سلوک په دنیا کښې هم والوت او د جهان او آسمان په ننداره سر شو.

راځه وګوره ستر ګی	د جهان ننداره ګوره
چه ساعت لری په ستوږدو	د آسمان ننداره ګوره

د خوشحال خان ختك د جهاندارۍ نظریه

«دستارنامې» ته یوه مقایسوي او تحلیلي کتنه

او

د اسلافو له آثارو سره ئې پرتله

پوهاند: عبدالحي حبیبي

د ۱۰۲۲ هـ کال د دوهمې خور په میاشت (مۍ ۱۶۱۳ م) د نورالدین جهانګیر په باچهۍ او د ختکو په اکوړه کې د لنډي سیند پرسې غاړه ۳۵ میله د پېښور شرقي خواته د ملك شهباز خان په کور او د ملك اکوړي په لویه کورنۍ کې یو هلك وزېږید، چې پرهمنه ئې «خوشحال» نوم کښېښود او وروسته لوی سړی شو، او په ۷۸ کاله جېل عمر کې د ختمو او افغانو تر منځ داسې جنګي او اولسي او ادبي او فکري چارې تر سره کړې، چې دی ځما د توري او قلم خاوند او د جنګ د میدان پهلوان ــ او د پښتنو د استقلال مبارز، او د نوې ګټور او سالم فکري حرکت مؤسس ګڼلای شو، دی په ۱۱۰۰ هـ تر جهان تېر شو، او د اکوړې جنوب شرقي ملوته په لوڼه اېسوړې کې ښخ دی.

خوشحال خان چې له کډیا ته چې بیتونه ئې شلو زرو ته رسېږي، نور د نثر منظوم او منثور کتابونه هم لري، او دده دغو نورو سلګو آثار وته چې کوږو نو دی د پښتو ژبې تر ټولو لوی د سبك خاوند شاعر او لیکوال او هم د «پښتو پلار» ګڼلای شو.

د خوشحال خان یو مهم پښتو منثور کتاب «دستار نامه» ده چې د ۱۰۷۶ هـ کال د اوږې خور په اولسمه ئې د هندوستان رنتنبور په بندي خانه کې ختم وخت لیکلی ده چې د اورنګزیب عالمګیر په حکم هلته ملاوطه بندي و.

د دې کتاب په خاتمه کې خوشحال خان لیکي: چې دا کتاب مې د دوستانو او یارانو او زامنو د ګټې لپاره د هند په محبس کې په داسې حال کې ولیکلی چې هېڅ کتاب راسره نه و، او څنګه چې له وطنه مې لیرې د فراق په حال کې

د ۹۷۰ هـ په شاوخوا کی خپل خيرالبيان ليکه، په دغه کې قولي صنعتي او مصنوعي عملي استعمال کړی، او ترده وروسته نيا اخون درويزه مخزن اسرار او نور و ليکوالو هم ددوی پيروی کوله مگر دلته نو به دا ووايو: چی د نثر ليکلو دغه مصنوعي شيوه په پښتو کی کوم ادبي او هنري ارزښت او ښايست نلري نو ځکه خوشحال خان چی د ذوق خاوند يو انسان ليکوال ؤ د روښاني نثر ليکلو ناوړه طريقه ئې نکړه غوره، بلکه د نثر صنعت ئې نور ته هغه قدم جريان ته وا نه دوله او ځکه چی د روښاني نثر دوقا کوم هنري ارزښت نه درلود، نو ئې خوشحال پيروي نه کوله، او خپله اعتقادي نظريه د روښان او درويزه پر ليکوالی ماندی په سوات نامه کی داسی ښکاره کوی:

درويزه چی بيان کړی خپل کتاب دی
نوم ئې مخزن الاسلام کړی ثواب دی
هر بيان ئې نا موزون مجهول بی رنگه
خالي نه دی له داشه له هر ننگه
که يو مصرع په شل ځله په سل ده
نا منظومه نا منثوره په ويل ده
د روښان خيرالبيان ئې ؤ لېدلی
همه هم مجهول بيان ؤ نا پسند لی
دا چی خوشي ميدان يا موند سمگړی شو
په ويل کی ئې چی ئلده وو، هغی توی شو

خوشحال د دغه اعتقادي او هنري نظر له مخه ميدان ته راغی او د روښان نی خوانده او ناوړه نثر ئې ورسو، خپل ادبی رسالت ئې د پښتو د نثر په نوی ميان گداری کی هم ادا کړ، او په دستارنامه کی يو خواږه او روان نثر ليکلو ته هڅه وکړه چی د پښتو ژبی له اصلی ښکلا او ساختمانه سره سم وی.

د کتاب نوم او موضوع يا د خوشحال خان د جهانداری نظريه

خوشحال خان د افغاني دودونو سره سم دستار د انسان د لياقت او استعداد د معمول گڼی، او ئې نکړیه د ادارې او د اجتماعی ښېگړې د قوت لپاره يو تعبير بولي، ځکه کله چی د افغانانو رامن د رشد او مېړانی حد ته ورسېږي، نو ښکړی ه

لیکلی دی، او ئې د ختم تاریخ دا پښتو مسرۍ ده: « بس دی ختمت د بیاتاله » او د دغو کلماتو ابجدي ارزښت (۱۰۷٦ ھ) کیږي.

خوشحال خان د پښتو نثر خوا هم خوشې نه ده پرېښې، د هند په بېلتون کې یې یوه « دستار نامه » ولیکله، او په هغې کې یې د دغې لیکنې علت داسې ووئې:

چې دستار تړي هزار دي   د دستار سړي په شمار دي

دستار نامه هم د دې بیت شرح ده چې یوه مقدمه او دوه بابه او یوه خاتمه لري، په مقدمه کې د دستار اهمیت او قابلیت ښيي لومړی باب د دستار شل هنره، او دوهم باب ئې شل خصلتونه بیانوي خاتمه ئې د ناپوهۍ او حماقت علامات شرح کوي.

د دستار نامې نثر او ظاهري ښېګڼې

خوشحال خان د دستار نامې په لیکنه کې یو مهم کار کړی او هغه دا دی: چې ده د پښتو د نثر لیکلو کلک بنسټ په دې کتاب کې پر ساده او روان او دسپلوونه نثر باندې ایښی دی چې په نثر کې د لزوم ما لا یلزم په ماولده بېسه ګرفتار نه سي.

دلته دا خبره د یادولو ده: د پښتو نثر لرغونې نمونې چې تر اوسه موږ پیدا کړې دي، د قندهار د ارغسان د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیا یو څو پاڼې دي، چې د تالیف کال ئې ٦١٢ ھ دی. او دغه لیکوال داسې روان او روښانه بې تکلفه نثر لیکلی چې د عربو یا دري ژبې د مسجع نثر اغېزې ډېرې لږې پکښې ښکاري او دا څرګندېږي چې د پښتو نثر د هغو لوړو دورو د همغه لنډه د دري ژبې د بلعمي او بیهقي او منهاج سراج جوزجاني او ګردېزي د نثر غوندې ساده او روان نثر و، او بې ځایه تکلف او تصنع پکښې نه ښکاري. مګر کله چې د سلجوقیانو دوره آخر ته ورسېده او د هجرت شپږمه پېړۍ پیل کېده نو په دري ژبه کې هم لکه عربي، فني او مصنوع مسجع نثر په خراسان کې پیدا سو، چې د انصاري هروي په مناجاتو او د ابوالمعالي نصرالله غزنوي وزیر په کلیله او دمنه او د قاضي حمیدالدین بلخي په مقامات حمیدي، او نما ئې په خورا کامل او پر تکلفه ډول د وصاف الحضره په تاریخ د ۷۰۰ ھ شاوخوا کې ولیدو.

د پښتو پر نثر هم دغه اغېزې سوې دي، او کله چې بایزید پیر روښان

له هغو څخه کوم تفصیل سره ور کولای، مګر کله کله د مورخانو په اوښتو کې ځینې دلچسپې نکتې لیدلی کېږي .

مثلاً هیون تسنګ چیني زایر چې په اووم هجري کال د لته راغلی او تر ۲٤ هـ پورې ئې د دې ځای د دربارونه او حکمرانانو او اداري طرز لیدلی وو، وايي چې د لته اداري منظم تشکیلات او مالي او لښکري اداري او حاکمان او قاضیان او دولتي کارداران سته دغسې هم طبري د اسلامي دورې معتبر مورخ لیکي : په ۱۲۰ هـ کال د هرات د هغه ن (حکمران) دامو یانو د حاکم اسد بن عبدالله د بلخ دربار ته راغی، او د مهرګان د جشن په ورځ ئې د بلخ په دربار کې وینا وکړه، ده په دغه وینا کې وویله، چې د دربار او حکومت اداره درې څو بوله پر لازم دي : درناوی ـ هوښیاری ـ برد باری (طبري ٥-٤٦٥) دغسې هم البلاذري په خوا ای عربي مورخ په فتوح البلدان کې (ص ٤٩٣) لیکي، چې د زابلستان پوه د تسیل په څپل عهد وما ـ درناوی ـ او کلکه اداره او د عتو مو کالل، د جهانداری په چارو کې تر آراسته او پکلي طاهر، د پرسروری ګڼل، او دامو ی دورې پر عربي حکمرانانو په ئې اعتقاد کاوه، چې د دوی ولي د لومړي پوه مسلمانانو په څول دغسې څوبو به ئلري؛ او دا څره د رتبیلانو د جهانداری لطر په پخه څول پکاره کولای شي .

په خراسان کې د درد شتی د بن پیروان هم او سیدل، د دوی د داسې لرغونی ثقافت او لویه اداري او سیاسي افکار و خاوندان وو، چې عربي حکمرانانو به هم له دوی څخه پند ونه ره کول . مثلاً په ٦٤ هـ کال یو بو ه مجوسي متکلم په سیستان کې ژوند کاوه چې نوم ئې رستم بن مهرهرمز د و، د تاریخ د سیستان مؤلف وايي چې د سیستان عربي حکمرانان به هم له ده څخه په اداري سیاست او د جهانداری په اصولو کې پند و نه اخیستل، او تل به ئې پوښتنې څنې کولې .

او دغه تاریخي روایتونه دا څرګندوي چې د دې مملکت خلکو په اداره او سیاست او اجتماعي اخلاقو او جهانداری کې ځینې پاخه اصول او معکوره د رلو دل

اما د غزنویانو چې د هجرت په لومړۍ پېړۍ کې د عراق له لارې خراسان ته راغلل، د دوی د ژوند انه ساده قبیلوي مبادي درلود، څو په لاره کې ئې د ساسانیانو د دولتي سازمان او اداري تشکیلات چې څو پېړۍ پر تیرې موږ وي هم لیدلي وو، او په اداره او جهانداری په خوله ښت او دولتي لارو چارو کې له هغو څخه د یر ښیان رده کړی و، او کله چې په ۱۳۲ هـ کال ـ ٧٤٩ م د بغداد د عباسیانو دولت د ابومسلم خراساني په مټ تاسیس شو

ور پرسر کوي ، او دا نو ددې خبرې علامه وي ، چې اوس نو هغه ز لمی په ټولو اجتماعي او ملي او د کورني په مسئوليتونو کې برخه لري .

خوشحال خان د دستار نامې په مقدمه کې وايي : چې څو هنرونه او خصلتونه بوه دستار بندته ضروري دي او که څوك هغه صفات او ښېګړې لري، د دستار بندی لايق به نه وي ، دی شل هنرونه او شل خصلتونه په دستار نامه کې را ښيي او وايي که څوك د غه صفتونه ولري نو د « سړي » اطلاق پر کيږي او د پګړۍ خاوند کيدای شي ، او د حکم او لارښوونې حق به لري .

خوشحال خان د هنر او خصلت فرق داسې کوي : هغه څه چې په زده کړه او تعليم لاس ته راځي هنر او کسب او فن دی ، او بنا د غه هنرونه د استعداد او وجوب مرتبې لري ، او دی د کتاب په لومړي باب کې د غه شل هنرونه بيانوي (۱) د ځان پېژندلو هنر (۲) د علم او کمال موندنه (۳) د خط هنر (٤) د شعر هنر (٥) د غشي ويشتلو هنر (٦) د اوبازۍ هنر (۷) د آس سپارلۍ هنر (۸) د ښکار هنر (۹) د شجاعت هنر (۱۰) د سخاوت هنر (۱۱) د ازدواج او معاشرت هنر (۱۲) د اولاد روزنه (۱۳) د خدمتګارانو او لښکر د تاديب هنر (۱٤) د معيشت سمولو هنر (۱۵) د زراعت او دهقانۍ هنر (۱٦) د تجارت هنر (۱۷) د تحقيق نسب هنر (۱۸) د موسيقۍ هنر (۱۹) د نرد او شطرنج هنر (۲۰) د مصورۍ او نقاشۍ هنر .

اما شل خصلتونه چې د دستار نامې په دوهم باب کې ښودل شوي دي ، هغه دا دي

(۱) مشورت (۲) عزيمت (۳) خاموشي (٤) راستي (٥) شرم او حيا (٦) نيك خوی (۷) مروت (۸) عفو او کرم (۹) تدبير (۱۰) عدل او انصاف (۱۱) توکل (۱۲) د پروردست او نماځ او استعمال پر خپل ځای (۱۳) خوف او رجاء (۱٤) د مملکت انتظام (۱۵) همت (۱٦) حلم (۱۷) غيرت (۱۸) حزم او احتياط (۱۹) طاعت او تقوی (۲۰) استغفار .

د شرق په ادب کې ددې موضوع سوابق

د افغانستان خلکو له پخوانې زمانې څخه د جهاندارۍ او قيادت او د ملك دارۍ لپاره اصول او خاص صفات لرل ، او دغه روايات په دوی کې د بلخ او کابل او سيستان او نورو ځايو له شاهي خاندانونو څخه پاته شوي وو ، که څه هم اوس موږ

او عبادت او اخلاقو او ثقافت ډېر مواد سته او په اسلامي دنیا کښې یو ممزوج او مرکب فرهنګ رواج کړ، چې وروستنۍ د قاضي القضاة علي بن محمد الماوردي (۳٦٤-٤٥٠ هـ) په ادب الدنیا والدین او نصیحة الملوك او د حکومتي سیاست په تسهیل النظر، او قانون الوزاره او سیاسة الملك او احکام السلطانیه او دده په نورو کتابو کې د جهانداری لپاره ډېرې فرهنګي چارې او لارښوونې سته، او د عبدالرحمن ابن علي سیر الملوك او د حسن بن عبدالله ترتیب الدول هم دغه چارې په ډول ډول څېړي، او داسې کاره کوي، چې د اسلامي مدنیت او فکر یو ځای سوي، او عربي فکر د نورو لرغونو ملتونو فرهنګي موادو په ګډون سره ډېر تکړه او غښتلي سوي و.

۲- د خراسان او شاوخوا هلکو خو لرغوني ثقافي عنعنات درلودل، او د ۲۰۵ هـ کال په شاوخوا کې د دې زرپالې سیمې، چې د ځان لپاره د حکومت یو خپلواك سازمان بیا موندی. د دغه او له پوشنګه طاهریان - له بلخه سامانیان - له غزني څخه آل ناصر - له ملتانه لودیان - له خوارزمه آل فریغون له غرستانه شاران - له سیستانه صفاریان او هم له غزني ګوښې څخه نور محلي حکمرانان راووتل، او له هر یو څخه ئې اختیاراتو خپلو لاسو ته راوستل، د دوی خپل لرغوني موروث سیاسي او اداري خو ښتو نه او جهانداری ته او له بغداد د عباسیانو له عمرو خو او ګډو نظامو څخه ئې پر کارول، چې دغه هم د یونانی کتابو د ترجمې له خوا لاس ته ورغلي وو، او اوس یو موږ د یوه چې د دغه زمانې د اجتماعي پوهانو په لیکنو کې درې څپې توکي ښکاریږي:

لومړی: د لرغوني خراساني فکر پاتې شونکي

دوهم: د اسلامي فقه او اخلاقو اثري

درېیم: هغه مواد چې د یونانی پوهانو، په خاصه توګه بیا د ارسطو د اخلاقي فلسفې له کتابو څخه د بغداد د عباسیانو په ثقافت او مدنیت کې ورننوتلي وو چې د دغسې کتابو قدیمتر یوه نمونه د خراسان د ستر پوهاند ابونصر محمد فارابي (۲٦٠-۳۳۹ هـ) کتابونه السیاسة المدنیه - آراء اهل المدینة الفاضله - آداب الملوکیه دي چې د دیني او سماوي مبادي په ممیشي چارو کې د ارسطو له مدني فلسفې سره نژدې کړل او د مدینه فاضله د بشر خلاصتوب له پاره ګڼلی، دی وایي: «په هغه ډول چې بالطبع عضو رئیس په بدن کې تر ټولو غوره او کاملتر دی، دغسې هم د مدینه فاضله مشر، د هغه ښار د اوسېدونکو کاملتر فرد وي. او د فاضل ښار د ریاست صفت هم د ولس شرط لري:

بو د خراسان په فکري او مدني عباسي عصر، د آل عباس دولتي سامانيان ته ورنو تل، چې وروسته
له دغه سياسي او فکري بود ه بخښه د خلافت عربي په سامانيان کې د خراسان د او بولو بو
ملکوا او کورنيو لاسونو هم کار کاوه، او د شرق او غرب له خوا د افکارو او ثقافي عناصرو
انتقال هم عربي دنيا ته شروع سوی ؤ، او د آرياني او رومي او مصري او يوناني افکارو
او مدني روايانو يوه عظيمه ذخيره هم د ترجمې يا او ريد و له خوا د عباسي خلافت فکري
مرکزونو ته را انتقال سوې وه، چې د لته يې څو را لنډ ډول يادېږي:

١ـ لومړی مؤلف چې په دغو څنو کې د سياست او جهانداري په باب کې څه ري وکړي
يو يوه نومسلمانه زرد شتي ؤ، چې زور نه بن داذويه نوميدی، په ابن مقفع مشهور ؤ
او په ١٤٥ هـ کال مړ کړ سو. ده د خداي نامه او د جهانداري آيين نامه له پهلوي ځخه په
عربي ترجمه کړې او د ادب الکبير او ادب الصغير کتابونه ايې په عربي وکښل، چې ده
کتابونه د جهانداري اصول او د اجتماعي اخلاقو لاري چاري ښايي، او مخصوصاً يا د ده
يوه «رسالة الصحابه» د خليفه منصور عباسي لپاره ليکلې سوې ده، چې د خلفا ؤ
او واليانو او وزيرانو لپاره د مملکت د نظام او عدالت او لښکرو د تيارولو، او د اعلان
جنګ او د دوعې د شرطونو، او د لښکرو د خلب او قيادت او ماليانو او د ثقافت
او اخلاقو د روزنې په باب کې ښه هدايات لري، او د خراج او ماليانو او قضا قوانين ليکي
او د قاضيانو د خودسرۍ د مخنيوي لپاره هم قضا د يوه خاص قانون پښنها د کوي.

دا ابن مقفع په دغو پندونو او هدايتونو کې د آرياني ثقافت او اوستو کراسی
قديمه روحيه ښکاري، او د اسې ښي ښکره کېدېږي، چې د لته دو مسامي او آرياني ثقافتونه
سره ګډيږي مګر ده په دغو کتابو کې د دين تلقين اثر نه ښکاري، هر څه چې وايي
د لرغوني آرياني فکر او ثقافت ښکارندوي دي، چې هم له دې سببه د الحاد او زندقيت
په تهمت وواژه سو، ده د عجمي فرهنګ څر عناصر د عربو په فکر او ادب او سياست
او اداره او معيشت ور ننه ايستل.

تر ابن مقفع وروسته ابو عثمان عمرو بن بحر چې په جاحظ نومېږي ؤ (١٦٣ـ٢٥٥ هـ)
په کتاب البيان والتبيين او کتاب الحيوان کې. او ابن قتيبه عبدالله بن مسلم مروزي خراساني
(٢١٣ـ٢٧٦ هـ) په عيون الاخبار کې، او ابو حنيفه احمد دينوري (متوفى ٢٨٢ هـ) په
اخبار الطوال کې د يو. ګډ او ممزوج ثقافت ممثلان دي، چې عربي او اسلامي فرهنګ
له عجمي او يوناني او هندي افکارو سره ګډ کړي دي، او د دوي په آثارو کې د جهانداري

ورووسته ئې سیاست ته ډېر ځانګړې پاملرنه شوې، چې هر څانګه او برخې لري، او هر یوه له (۲۱) صفتونو لرونکې وي او هغه دا دي:

هغه صفتونه چې سایس ئې باید ولري (۱) د نفس قوام ۲- د سیاست د دستور رعایت ۳- حزم ۴- د حرام څخه ډډه او قوانین ۵- زړه سوی او احسان ۶- عفت ۷- د دښمنانو د شرر دفع.

د سیاسي صفات: ۱- د خوړو تولید ۲- زوروانه ۳- مانیه کول او واده کول ۴- د بچیو تهذیب ۵- د صنعت کارانو تهذیب ۶- په ماڼو کې اجتماعي اقتصاد ۷- د ملک د ساتونکو تأدیب. اما د سایس اداري ضروریات دا دي:

۱- د کار دارانو غوره کول ۲- د غوره شوو کاردارانو ضمانت ۳- د کاردارانو قوانین او آداب ۴- مشاور او وزیرته ضرورت ۵- د مشاور او وزیر صفتونه. ۶- د غوره کولو اصول ۷- د مشورې قوانین او دستورونه. (ص ۲۷٤)

څه دې ډول دالسعادة والاسعاد کتاب د جهانداري او اجتماعي ژوندانه ټول اصول په یوه فاصله مدینه کې د فاضل او حکیم سیاست مدار تر قیادت لاندې شرح کوي او دا کتاب په خپل ډول کې د هر ګټور او جامع شمېرل کېږي، چې د هغه وخت د پوهانو اجتماعي فکورې او د خلکو تصورات، د اداري او سیاست په کارو کې ښکاره کوي، او د یوې مسعودي او آرامې ټولنې د جوړښت لپاره خراسان خلکو دا فکرونه ښکاره ندوي دي. او د بیان ډول ئې هم پرمختګ، تحلیل او منطقي تسلسل ولاندي، چې د ښې بیان دعادي لیکوالو سره نه وي.

۳- بل مهم کتاب چې د دري ژبې د نثر شهکار او د موضوع له پلوه هم ځانګړی او ډېر ښکلی کېږي، دامیر عنصرالمعالي کیکاوس بن اسکندر بن قابوس بن وشمګیر بن زیار قابوسنامه ده، چې دی د آل زیار یو شهزاده وو، او په ۴۱۲ هـ زېږېدلی دی. دا کتاب ئې خپل زوی ګیلانشاه ته لیکلی وو، چې دده امیرزاده پور د سلطان محمود غزنوي لور وه، او قابوسنامه په یوه داسې چاپېرکې ولیکله شوه، چې په خراسان کې د پاچهي د آدابو قدیم مرکز ؤ، مګر مؤلف خپل زوی ته داسې خبرې کوي، چې مراد ئې پاچا کېدل نه، بلکه د جامعې یو سالم او ګټور عضو کېدل دی. او دا کتاب ٤٤ بابه، یوه خطبه او یوه خاتمه لري، او امیر کیکاوس، چې یو سپاهي او دانشمند او نادر فقه نیکخویه مسلمان ؤ، په رشتیا خبرو

۱- د اعضاوو سلامتي ۲- د فهم جودت ۳- د حافظې قوت ۴- فطانت
۵- د ژبې طلاقت ۶- د درد کېدو مینه ۷- په خوړلو او څښلو او نکاح
کې به حریص نه وي.
۸- رښتیا به ئې خوښ وي. ۹- د نفس لوړي ۱۰- د عدل مینه ۱۱- به د دنیوي
اعراضو او نورو پورې زړه نه تړل ۱۲- د ارادې قوت (ص۸۶ آراء اهل المدینه)

په دغو عصرو کې د خراسان بل فیلسوف سړی محمد بن یوسف هروي نشاپوري مشهور په ابن ابي ذر عامري دی (متوفی ۳۸۱ هـ) چې دغو کتاب ئې د السعادة والاسعاد په نامه لیکلی او په دغه کې پر اخلاقو او د سیاست پر قواعدو او د دوراني پر اصولو او د تدبیر منزل او د جهانداری پر لارو چارو په داسې ډول غږیږي وکړه چې د انسان د خوشحالۍ او د نورو د خوشحالۍ کولو لپاره کار څخه واخلي. دغه تدبیرونه او اصول ئې د افلاطون او ارسطو د یوناني کتابو له ترجمې او د نورو یوناني حکیمانو له ویناو څخه راواخستل، او د ایران، هند، عرب، او د اسلام د مشرانو اقوال ئې پر زیات کړل.

چې دده دغه کتاب د خراسان د خلکو د څلورم قرن د فکر او هر ممکنه ښکاروندوی دی. په دې یوناني فلسفه له اسلامي شریعته سره تطبیق کوي او څرګندوي چې دی د ابوزید بلخي شاگرد وو، او موږ داوایو چې عامري هروي هم د بلخ د پوهې له روڼه مشاله څخه نور راخیستی وو.

عامري په دغه خپل کتاب کې چې د دغه وخت د اجتماعي افکارو او د سیاست مدن او اخلاقو یو کوچنی دایرة المعارف دی داسې وایي: چې د نورو خوشحالۍ کول او اسعاد په دغه سیاست پورې اړه لري، چې مناسب سعادت ته ورسوي، او سیاست وال نابشپړ سیاست کې په دې بل مقصد ولري، چې اهل مدینه یعنې د ملك اوسېدونکي حیواني ښېگړو مثې روغتیا، ښکلا، مالي شهوات ته ورسوي او هم انساني او آلهي ښېگړې لکه عفت، شجاعت، حکمت، عدل د وی نصیب کې. (ص ۱۷۴)

عامري سیاست پر درې برخې وېشي: لومړی هغه صفتونه چې د خلکو د ښېگړو لپاره باید د سایس په نفس کې وي. دوهم هغه صفتونه چې مناسب یعنې خلك ئې باید ولري، دریم هغه شیان چې مشر او سایس د خلکو د کارو د سمون لپاره هغوته اخلي.

ښکاري چې امام په سیاست کې خپل خاص مذهب لري ، او هر ځای وايي «ومذهبنا في الامامة» .

د امام په وخت کې د بغداد عباسي خلافت ډېر بې شوکه او خوار ځواکی شوی ؤ او سلجوقیانو د خلافت پر اکثرو شرقي ممالکو باندې قبضه کړې وه ، امام هم دغه اوضاع په سترګو لیدل ، چې یوه عجمي قوم تسلط پیدا کړی دی ، نو ده د لته په امامت کې خاص نظر او مذهب درلود ، او د امام مطاع لپاره ئې ډېر لږ شرایط ښوول ، چې دغه اسلامي دنیا له یوه شرعي امامه خالي نه وي .

نو په دغه ډول غزالي یو مفکر دی ، چې بیان ئې په منطقي ځېر ښکاري او یو متد هم لري ، دی سیاست د هغه وخت د معمولو عواملو تر اثر لاندې تجزیه کوي یعنې د خپلې زمانې اسلامي دولت د دین او عصري تجربې ـ دارستوکراسۍ او روحي عناصرو ـ او د ملوکیت طوایف تر اغېزو لاندې ردي ، بیا نو د هغه کیفیت په منطقي او مستدل ډول ښاکي .

۵ ـ د امام غزالي په دغه عصر کښې خواجه نظام الملک حسن بن علي طوسي د سلجوقیانو لوی وزیر په ۴۸۵ هـ کال خپله سیاست نامه یا سیر الملوک هم تیار کړ چې بیا نو د ۵۰۰ هـ په حدودو کښې محمد مغربي دغه کتاب په نهایي ډول ترتیب کړ . د کتاب انشاء ډېره خوږه او روانه ده ، ۵۱ فصله لري ، او اکثره ئې د جهانداري لپاره و پادشاه ته سپارښتې او پندونه دي . چې ډېر مطلبونه په حکایاتو سره مدلل کوي' او ډېرې ګټورې تاریخي ټکي هم پکښې بیانوي .

مګر د خواجه دغه کتاب یو خاص متد و مفکوره نلري ، او د فارابي ـ عامري هروي یا غزالي غوندې د یوه خاص روش او متد خاوند نه دی ، دی د خپل سلف قابوس نامې سره هم برابري نلري ، ځکه چې د خواجه مقصد د پادشاه لارښوونه او د ده د مقام ټینګول دي ، حال دا چې قابوس نامه غواړي ، چې د جامعې یو سالم او ګټور فرد څنګه جوړېدای شي ؟

مګر سیاست نامه د ابن مقفع له «رسالة الصحابة» سره شباهت لري ، خو لږ فرق ئې دا دی ، چې په سیاست نامه کښې د ورو ستنیو زمانو مثالونه او حکایتونه او د زمانې د دوو تجربو نمونې هم داخلې دي . مګر هدف او غایه ئې هغه د ابن مقفع په ځېر ، د یوه مطلق ارستوکراسي سازمان تقویه وه . خو غزالي هم دغه کار د یوه منطقي روش

او په پښکاره بیان خپل زړه ته نصیحتونه کوي ، او په ٤٧٥ هـ کال ئې دا کتاب لیکلی دی .

٤- له دغه وروسته د امام ابوحامد محمد غزالي طوسي (٤٥٠ - ٥٠٥ هـ) دوره رارسیږي ، چې دی عالم او فیلسوف او صوفي سړی و ، او پخپلو کتابو کې سیاسي خاصه فلسفه روڼه کړې ده ، او فاسي یونانیکوره ورانده کوي ، چه تصوف او اشراق د خراسان مدرسې فکرونه ئې د اسلامي احکامو سره تطبیق کړي دي غزالي سیاست د خلکو د صلاح او تألیف لوړه وسیله گڼي چې هم پرظاهر هم پر باطن اثر کوي ، او د دین او دنیا سعادت د خلکو نصیب کوي . دی وایي چې د آخرت سعادت پر دین ولاړ دی ، او دین هم په دنیا پورې اړه لري ، او د دنیا د کارو نظم هم په سلطان او دده په سیاست پورې تړلی دی ، نو دینوي سیاست مدار امام او د هغه وجود هم شرعي ضرورت دی (الاقتصاد في الاعتقاد ١٠٥) غزالي عدل او انصاف د سیاست سره لازم بولي ، او یو کتاب ئې د عدل د اصولو په بیان کې د نصیحة الملوك په نامه په دري لیکلی دی ، چې علي بن مبارك (متوفی ٥٩٥ هـ) د « التبر المسبوك في نصیحة الملوك» په نامه عربي کړی دی غزالي په دې کتاب کې د عدالت د قیام لس اصله داسې ښیي ١- د ولایت په اهمیت پوهیدل ٢ - له صالحو عالمو څخه استفادات .

٣- د ځان او قولو کاردارانو د ظلم دفع کول ٤ - تکبر نه کول .

٥- قول هغه شیان چې پرځان نه خوښوي ، پر نورو ئې هم نه پېرزو وانه ري .

٦- د محتاجانو اړتیاوې پرځای کول .

٧ - په شهواتو کې قناعت لرل ٨ - ذوق او نرمي ٩- په دې کې نه زیار کاږي چې خلك د شریعت سره برابر له ده څخه خوښ وي ١٠- قانون باید حاکم وي او د شریعت مخالف د خپل خوښې و نه غوښتلی شي .

غزالي دیوه مشر د امامت لپاره شپږ صفته لازم بولي چې ئې په کسب نه پیدا کړي :

١ - بلوغ ٢ - عقل ٣ - حریت ٤ نر والی ٥ - قریشي نسب .

٦- د سترگو او غوږو سلامتي او د غه څلور اکتسابي صفتونه هم ورته ضروري دي

١ - شجاعت او همت ٢ - کفایت ٣ - علم ٤ - پرهیزگاري .

غزالي لیدرلیږ د غه لس صفته د مطاع امام لپاره په خپل کتاب المستظهري کې (ص ٦٧) لازم گڼي ، او د باطنیانو رد کړی ، چې دوی امامت معصوم بولي او داسې

په سیوري کښې یو داسې افغان او مسلمان او ښو اخلاقو خاوند دستار بند پیدا کي ، چې اجتماعي شرایطو او اقتصادي چاپېریال انتظار کاوه ؟ او په دې جمله خوشحال خان هم یو د غسې دستاربند مشر په افغاني نظام کښې ښوبت .

مګر ده تل د ډېرو دغو اوزلمد ملوکیت سره چې انسان به ئې د مریي په توګه استثمار کاوه ، سخته مبارزه کوله ، او عمر به هم په دغه فکري او عملي جګړه کې تېر ؤ ، افغانان ئې د غې مبارزې ته رابلل ، او د ډهلي ستمګره امپراطوري ئې داسې غندله :

داچې خانان دي یا امراګان دي په هند کې ګرځي په هر مکان دي
غوښې، هډوکي د مظلومانو خوري زما تر فهمه ، واړه ددان دي

د عربي لیکوالو او یونانیانو لکه ابن مقفع او خواجه طوسي توجه داوه چې یو ارسټوکراسي او د ملوکي طوایف معقول نظام د فلسفې او لرغونو روایاتو او اسلامي احکامو سره برابر قایم کي .

مګر د خراسان یونانیو لکه فارابي او هروي یوه مجموعه د جامعه او مدینه فاضله جوړوله ، چې د ارسطو له فلسفې سره نوې ، او لرغونیو روایاتو ، او اسلامي شریعت سره برابره ، او د یوه فاضل او حکیم مشر تر قیادت لاندې وي .

اما نظام الملک یو ارسټوکراسي د ملوکیت نظام په دې ډول تقویه کاوه ، چې د اسلاف له روایاتو او تجربو څخه ګټه واخلي ، او هم له اسلامي روحیې سره موافق وي .

مګر غزالي یو خاص ترتیب او منډ لاره ، چې دغه د نظام الملک مقصد ئې د روحې او دېنې او فلسفي منطق په وسیله پرېښودر اوه . خو هغه لار چې خوشحال خان په دستارنامه کې ښکاره کړې ده ، د افغانانو د هغه وخت له ژوندانه او طرز تفکر سره بالکل برابره وه ، او د عمل او اداریت جوالئ قوي وه . او هغه چې دی په دغه کارکې د تجربې او عمل خاوند ؤ ، او ئې هغه د یوه افغان مشر لپاره لار سمه ټاکلای شوای

د خوشحال خان د جهاندارۍ نظریه او مکیاولي

تر خوشحال خان سل کاله د مخه د اروپا د فکر او تمدن په یوه مرکز یعنې ایټالیا کې یو سیاستمدار مورخ او فیلسوف او سیاسي لیکوال د مکیاولي Machiavelli (۸۷٤ - ۹۳٤ هـ = ۱٤٦۹ - ۱۵۲۷) په نامه پیدا شو ،

په سیوري کېږي کوي ، چې د روحانیت او دین او فلسفې په امتزاج ئې خپل مقصد نرم او ملایم کړی دی .


د دستار نامې د جهاندارۍ د نظریې پرتله
د شرقي پوهانو له افکارو سره

اوس نو موږ غواړو ، چې د دستار نامې مطالب له د هغو کتابونو سره چې لوړ مو یاد کړل ، پرتله کړو :

خوشحال خان په داسې عصر کښې ژوند کاوه ، چې د پښتو او خلکو فکري موازیت حتماً د ده پر فکر او تصوراتو باندې اثر کوونکی وو ، او ښايي چې په خپلو عمر کې به د ده او نورو ترمنځ فکري توازن هم پیدا سوی وي . ده په خپله وايي : دستارنامه مې د هند په زندان کښې په داسې وخت لیکلې ده ، چې هیڅ کتاب او مأخذ مې نه ورلود ، خو سره د دې هم د خوشحال خان ذهني محفوظات له عربي او دري ادبه ډېر زیات وو ، چې د هر ځای عربي یا دري اشعار او مقولات ، او هم کله کله قرآني آیتونه او احادیث د سند په توګه راوړي ، او په ټول کتاب کښې ۱۷ فارسي بیتونه او ۲۵ مصرعې او ۵۷ مقولې او آیتونه او حدیثونه سته .

د دستار نامې ځینې فصلونه له قابوس نامې او سیاست نامې سره موافق دي لکه : شعر - ښکار - د اولاد روزنه - علم - تجارت - زراعت - کتابت - موسیقي - نرد او شطرنج فصلونه چې په قابوس نامه کښې هم سته ، مګر د مشاورت - عدل او انصاف - ترتیب خدم وحشم - خوف ورجا فصلونه ئې له سیاست نامې سره برابر دي ، خو د دستار نامې د تحقیق انسان او خصائلو فصلونه د ابن مقفع او ماوردي او جاحظ او غزالي له کتابونو سره شباهت لري ، او ځینې فصلونه ئې هم د خوشحال خان ابتکار دی ، لکه اوباري - خانداني روابط - ازدواج - د آسونو سپارلی .

نو د خوشحال خان د جهاندارۍ نظریه ، د آیدیل دستار بند او مشرانو پوره معرفت مرکبه مفکوره ده ، چې د پښتونوالي - اسلام - انساني اخلاقو پر اساس د پوره متانت په ډول د ملوکي طوایف د کوم معتدل نظام لپاره جوړه سوې ده . او د خان پېژندنه - پوهه - د جهاندارۍ هنرونه او نیک انساني خصلتونه - مشورت - د عدل رعایت - اجتماعي تقوا - ځوانمردي - رښتیا ، او نور ښه صفتونه ئې اساسي بنیادونه تکمیل کېږي . او اصلي غایه او موخه ئې داده ، چې د ملوکي طوایف او ارستوکراسي



پوهاند عبدالحی حبیبی د سیمینار غړی خپله بیانیه اوروی

چې د ایټالیا د رنسانس د دورې د نثر لیکوالو په سر کې دریږي، او د مطلقې جهاندارۍ یو نظریه ئې وړاندې کړې ده چې د «نوي استبداد» په نامه مشهوره ده.

مکیاولي یو کتاب د شاهزاده یعنې زمامدار په نامه لیکلی دی، او دغه نظریه ئې په کښې روښانه کړې ده. دغه کتاب او مولف ئې له دوه پلوه د خوشحال خان سره شباهت لري:

اول دا چې خوشحال خان دستارنامه د هغه په شان کې و لیکله، او مکیاولي هم خپل کتاب په تمهید ځای کې کښلی و.

د مکیاولي او خوشحال خان د فکري مکتب مشترک ټکی دا دی، چې مکیاولي خو یواځې زمامدار د کشور او اخلاقو او دین او اقتصاد او ټولو شیانو معمار گڼي او غواړي چې په مطلق ډول اقتدار وساتلی شي، او په دغه لار کې هیڅ ډول اخلاقي پابندۍ شرائط نه مني. حقوق او قانون هم د زمامدار له ارادې څخه را ولاړ شیان گڼي، او د هغه ارادې ته اطاعت هم واجب بولي، او وائي چې اخلاق هم د زمامدار له وضع کړي قانون څخه راوري.

خوشحال خان هم خپل د ستارنامه جهاندار او مشر په دغه ډول لیکه د مکیاولي زمامدار، د اقتدار یو مظهر گڼي، مگر فرق ئې دا دی چې دی څیړنې د دین او اخلاق ارزښتونه هم د خپلې جهاندارۍ په نظریه کې دخیل بولي، یعنې مکیاولي د اقتدار ساتنه او د سیاسي موفقیت په لاره کې هیڅ قید او شرط نه مني، او هدف ئې په خپله اقتدار دی، خو خوشحال خان هم خپل د ستار نه شخصیت د دغه اقتدار نو سکار ته و او ساتونکی بولي، مگر د اقتدار حصول او ساتنه ئې قیدونه گڼي نو ځکه مشروطه ئې شمیري

نو د مکیاولي اقتدار مطلق او نامقید دی اما د خوشحال خان اقتدار مشروط دی
خوشحال هم دغسې فکر کوي لکه مکیاولي.

مگر دی تر ایمان او مسلمانۍ او د ښه والي او اجتماعي تقوا په قیود مقید زمامدار غواړي چې په خپل اجتماعي لیاقت د پښتنو د ستار تړلی شي، او د طلا او اجنبي استعمار زېښې ونه کړای شي او دا همه او ئې دعوې دي، چې خوشحال خان په خپله په ژوند کې د راوړې، او هم اورنگ له استعمار سره ئې ډېرې وهلې:

که په دا دور مې گوري هغه زه یم	چې مې دا غم په خاطر اوسې داورنگ دی
څو یې ژوندی وي دعوې لرم په ژوند کې	ولې څه کړم چې نصیبون ولې نه یې ننگ دی
لا تر اوسه ئې مارغه په قرار نه دی	چا چې ما سره وهلي سر په سنگ دی

ښاغلی ګل پاچا «الفت»

د خوشحال خان

د اشعارو اجتماعي او اخلاقي خوا

شاعران د اکثرو په لحاظ نه عملي دنیا کښې ډېر بې برخې دي او له خلکو سره یې ناسته ولاړه او د ژوندانه تعلقات ډېر کم دي

په همدغه وجه ډېر شاعران په عشقي یا تصوفي خیالاتو کښې دومره ډوب تللي چه د ژوند واقعي او عملي انحو ته یې توجه ډېره لږه ده ځکه یې په اشعارو کښې اجتماعي افکار او نظریات ډېر لږ موندلی شو

که د نورو وختو شعر و شاعرۍ ته و ګورو دا حقیقت ډېر ښه ښکاره کېږي چه پښتوانه نه شعر کښې یا داسې شاعرانه خیالاتو ځای درلود چه په واقعي دنیا کښې به یې مصداق نه شو پیدا کولی یا به د عشق داسې رمزونه او رازونه پکښې وو چه نور خلک نه پرې سه نه پوهېدل او نواری شاعرانه شعور نه یې درک کولی شو

همه وخت شعر د عامو خلکو د پوهولو د پاره نه و د تفنن او کمال ښودنې د پاره و د عوامو د احساساتو او جذباتو د راپارولو د پاره یو اړې رزمي او حماسي شعرونه ویل کېدل چه خلک نه ئې غزا یا ملي جهاد ته تحریکول.

اخلاقي نصایح که څه هم له ډېر پخوا وخته په شعر کښې موندلی شو خو همه نه هم غالباً داسې خبرې وې چه نظراً نه ډېرې ښکلې معلومېدې مګر له انساني فطرت سره نه یې ډېر اړخ نه لګاوه

په دې آخره زمانه کښې چه شعر او شاعر د ملکي له خلکو سره ښه تعلق له پخوا نه زیات کړی نو له اجتماعي ژوند او مدني خوا سره ئې رابطه ډېره ټینګه شوه



ښاغلي ګل پاچا الفت د اولسي جرګې وکیل د سیمینار ټولي
خپله بیانیه اوروي .

د همدې لامله وايي

د نامرد سره مکې ته رسېدلی   ښه د مرد سره په بېده بېديا ورك

✡✡

پس له مرګه ښخ د مرد تر قدم ښه یم   ګور مې مه شه د نامرد له ګوره سم

✡✡

اوس نو ګورو چې د خوشحال خان په نظر کښې مرد څوك دی او د مردی صفات د ده په نظر کښې کوم کوم دي؟ دا صفتونه ده په دغو بيتو کښې وګورئ :

مرد نه نه شي په ګفتار   څو پیدا نکړي کردار
چې دې و کنځي مرد نه يې   که له تا نه وي په چار
چې څه دی خوا انتقام دی   د مردانو کار و سار
چې عزت ور څخه نه وي   همه مرد نه دی په کار
هم مهره اري هم زهر   ښه مردان دي لکه مار
چې هم تندر هم باران وي   تر همو مردانو ځار
مرد نه غم د ځېل هر کا   نه د زر نه د يسار
مرد نه غم کا د ځېل شرم   د عزت د اعتبار
نامرد د ځېل په سب کا   مرد نه مور اري نه پلار

✡ ✡

مرد همه چې همت ناك برکت ناك   د عالمه سره خوږ په رښت وژواك
مخ بې مخ قول بې قول عهد بې عهد   نه دروغ نه لې فريب نه تش تپاك
ارو يل ځ پر تې کول په خاموشۍ کښې   د عېچې عو ندې خو له ځ که سينه چاك
چې خبره د پښتو د ملند ته شی   په لوئی لکه آسمان په پښتو خاك
په تمکين کښې لکه غر په پښتو کښې   په هر لوري ځانګړي نګوري لکه تاك
لکه ګل شګفته روی تازه نه باغ کښې   همیشه د سو ململو پر ي ملماك

✡✡

په نورو متفرقو شعرونو کښې وائي

مرد نه غیور وي مرد نه صبور وي   هم نه په عفوه په کرم مشهور وي
نامرد همه دی په حقیقت کښې   چې دا خو تو که يې له دله دوروی

✡ ✡

زما په عقیده دغه کار په پښتو شاعرۍ کښې خوشحال خان خټک آغاز او تکمیل کې او دغه لوی تحول یوازې ده ته منسوب دی.

خوشحال خان همه شاعر نه و چه د ژوند له جنجالو نو او کړاوونو او د اجتماع له شور و شره ګوښې پاتې وی او له نشو شاعرانه خیالاتو سره مشغول وی

دی د شاعرانه ذوق او قریحې له لارې او سره د خپل ولس مشر هم و او د پښتون د خولې پلو، بوګنډو او لوړو ژوریو لوی لوی فکرونه ور سره ملګری و.

دی د پښتو حال او مآل ته سه متوجه و او د ملت مستقبل ئې په نظر کښې و، ده د یوه معلم او مربی په حیث خلکو ته لارښوونه کوله او خپل اجتماعی افکار یې په شعر کښې ورځایدی کول ده د شعر اجتماعی خوا ته ډېره جهده د ملیت او انسانیت په بنیاد ټینګار کاوه او د شعر ډېر ستر امتیاز ئې په همدغه برخه کښې موندلی شو چه زه د مضامینو د تقسیم په وخت په دغه مورد کښې د څه ویلو حق نلرم ځکه چه دا برخه د ده د شعر له اجتماعی خوا څخه بېله شوې ده او د مستقل مضمون په حیث یوه محترم شخص ته د څېړنې د پاره سپارل شوې ده زه دا استثنی په نظر کښې نیسم او ځان مقید ګڼم چه ده د په اشعارو کښې سوی له دې نه نور اجتماعی او اخلاقی مضامین ولټوم

خوشحال خان د یوه مفکر او صاحب نظره شاعر په حیث د انفرادی او اجتماعی ژوند په مختلفو خواو او په ډېرو اجتماعی مسایلو کښې خپل افکار او نظریات څرګند کړی دی چه په ځینو کښې له خپل عصر نه ډېر وړاندې دی او په ډېرو خبرو کښې د خپل محیط او ماحول او د پښتنی ذهن او عقایدو ډېر ښه ترجمان دی

که څوک دا سوال طرحه کړی چه تاسو څنګه سړی ته په شخصیت او رجلیت قایلېږی یا په بل عبارت د خپل ایډیالی شخص د تشخیص د پاره څه صفتونه او څه دار خویونه لازم او ضرور ګڼې؟

ښائی چه دغه سوال ته هر څوک د خپل فکر او نظر مطابق بېل بېل ځوابونه وائی او مختلف نظریات را پیدا شی دی په دغه مورد کښې د پښتنی شعور او احساس نه ما همه چا ته په سړیتوب او حیثیت قایل دی چه مرد دی او مردانګی ولری او د ننګ وغیرت خاوند وی. دی له دې نه چه سړی له نامرد سره مخې ته ورسېږی دا بهتره ګڼی چه له مرد سره په دنیا او بیابان کښې ورك شی او بس له مرګه هم د مرد تر قدم لاندې سخېدل غواړی نه د نامرد له څنګه

ډېر وېل او ډېر خندل د ده د شخصیت سپکاوی معلومېږي او سره له دې چه په اجتماعي ژوند او معاشرت کښې شګفته روئي او خلاصه تندي ستائي بیا هم وائي همېشه او سه خو له پټه لکه سا وي

چه ضرور شي بیا هاله کړه دوه خبرې نه
تر همه نه نامعقول په جهان څوك وي
چه همیش په خندا سپین لري غاښونه
که خبره که خندا کړې ځکې ځکې
هره چار تر حساب مه کوه نېروه
درته وایم چه په کوم توکي نه درو ند شي
چه د هر ځا سره نه کړې خوا بونه

✡ ✡

خوشحال خان د سو او بد و معیار د خاطې د خدمت او منفعت په اساس ټاکلی هرشی چه په مدنی دنیا کښې د خلکو د ښاره نافع او مفیدوی هغه ښه ګڼې او که مضروی په بده سترګه ورته ګوری

په شرقي ممالکو کښې سپی او خر له نورو حیوا ناتو نه په سپکه نامه یادیږی او زمری ته نه احترام کتل کیږی د همدې لامله په شعرو ادب کښې د زمری ستاینه ډېره او د انسان تشبیه له زمری سره لوی صفت دی مګر خوشحال خان بالعکس وائی

سپی نه به کړم تر مری نه — سپی د کور مزری دغره دی
خر که بد دی بیا وری وړی — بد سړی تر خر خره دی

خوشحال خان د خلکو عمومی قضاوت او عام نظر ته په ډېر اهمیت قایل دی او د خاطې شعور له هر دلیل او حجت نه قوی سند بولي لکه چه وائي .

هیڅ حجت له هیچا مه کوه خوشحاله — هر چه تا و ته څوك وائي ته هغه

✡ ✡

د ده له یوه بیت څخه معلومېږی چه دی کمیت ته په کم نظر نه ګوری او اکثریت ډېر محترم او معظم ګڼې ځکه یو ترسلو او سل تر زرو قربانوی لکه چه وائي

که د مردانو نه دین آیین نې   نه نمد په سر هم نې نه نمد په سپین یې
که نه دي تخت شته نه دي افسر شته   قیصر د روم یې فغفور د چین یې

✡✡

مردان همه دی چه همت ناك وی   په هره چار کښې چست و چالاك وی
که غم نري راشی پروا دغم نه کا   خواره له هرچا په ریښت وژواك وی

✡✡

څو شا نه خلی له علیمه انتقام   مرد نه خوب کا نه خوراك کا نه آرام
چه د ننګ ارزنا موس اندوه یې نه وی   د همه سړی نه نه وی احترام
چه د مل تر لاسه وړ غی د مل شو   مرد نه خپل اری د خپل فکر زمام

✡✡

نه جهان کښې که مردان دی هم همه دی   چه و سخی وته و نسی محتاجو نه
واړه زلونه فراغت دی په بیا دی نه کښی   چه په غم کښی مردا نه شی زله همه

✡✡

که نه توره یې خواب ور کړې مرد دی ده   که و خود دې خوك ازار کا ندی نه چوب

✡✡

له دې بیتو څخه معلومیږی چه دی همه چا ته نه درانه نظر گوری چه له گفتار سره کردار هم ولری او دعمل څخه یې نه یوره درنه وی

همه څوك چه دچا سر که ترینه نه سوری او خپل انتقام په لوړه یما نه نشی اخیستلی یا یې دخپل فکر زمام نه خپل لاس کښی نه وی او ننګ اوعزت نا ندې دسر او مال سره لوته نه وی تیار دده په نزد داحترام وړ نه دی

دی مرد له مارسره تشبیه کوی چه باید هم زهر ولری او هم دمهر موره هم لکه دآسمان وریځ درحمت باران هم ورسره وی او هم آسمانی تندر چه دلرگی خواب په توره ورکړی او په سخو حالاتو کښی دصبر وثبات خاوند وی.

دآسمان په څیر لوړی او بلندی او درنګ په شان مروتی دوالده دنوموړی شخصیت دپاره ضروری گڼی

په عهدونو ول فنکار له چلول او فکی مړگی نه ځان ساتل دمردی شمار بولی که خوك دمردانو په دین او آیین فینګ وی همه ته د روم قیصر او د چین فغفور وائی دخوشحال خان ایدیالی شخص باید دننګ ناو وقار خاوندوی.

دا دود هغو لري دين و دانش لري — نه يې رښتيا وي نه يې تميزه

✡ ✡

سردار دعوې د كرم خصلت ښه دى — د جنګ تر كاره به آشتي مېن شه دى
په بې هنرو نه د سردارۍ دى — چه واړه تېر شي تېغ هنرمن شه دى

✡ ✡

سردارۍ لره بويه دا درې توكه — يو همت دويم توره نسل اخلاق

✡ ✡

سره له دې چه خوشحال خان د سردارۍ د پاره لوړ اخلاق عالي صفتونه او ښه هنرونه لازم او ضرور بولي بيا هم وائى

د مار كه نوى په تن كښې زهر — سردار كه نه لري خنجر د قهر
دادواړه توكه زما په بوهه — نه ياد به كلي وي نه ياد به ښهر

✡ ✡

خوشحال خان كه له يوې خوا د سردارۍ په كم و كيف ښه پوه شوى او قبول هنرونه ئې ورمعلوم دي له بلې خوا د ملګرتيا او رفاقت په مفهوم او معنى هم ښه پوهېدلى دى كه څوك د سردارۍ په فكر كښې نه وى او حاجته د لارې مل او ملګرى لټوى نو خان د ملګرتيا اصل و اساس مساوات او ورورولي ګڼي او په دې عقيده دى چه نادار او نوكر هېڅكله ملګرى كېدى نشي ځكه وائى
چه تر تا نه وړاندې وروستو ځي مله نه دى — چه په لار در سره سم ځي مله همه

د سردارۍ او ملګرۍ نه باب خو مو ددغه فكر او نظر واېد كه غواړئ چه د انسان په باب ددغه نظر په حاته معلومه كړئ چه دى انسان او انساني مقام ته په څه نظر ګوري او څنګه ئې ګڼي نو دا ئې ته په باب ئې واورئ ؛

جهان نو نه څه لږ نه دى — ته يې ښه و نه وينې نادانه
ګوره څو دي هسې زمكې — ګوره څو هسې آسمانه
واړه ځاى دي ستا په زړه كښې — اى تر عرش لويه انسانه
آئينه د زړه صيقل كړه — چه يې ووينې اى ځانه
كه دې دا ننداره و شي — خداى نه ئې له سبحانه

هندوست د کاینات دی په خپرو	یو تر سلو صدقه شه سل تر زرو

سره له دې چه د کایناتو هندوست په خبرو پورې موقوف گڼی او د ده نوع هم په خبرو کښي دی نیا هم تشو خبرو ته په څه ارزښت نه دی قایل او کار وعمل ته په ډیره درنه سترگه گوری ځکه وائی

✡ ✡

په چارم آسمان نه راست لکه عیسی وم	که آسمان ته الوته شوی په خبرو

✡ ✡

په خالي کیسو نه رسی تر کامه	څه حاصل که بوعلي شی په کیسو

✡ ✡

و گفتارو ته ئې مه غوړوه سترگې	په کردو په عمل گوره کس نا کس

✡ ✡

د خان په اجتماعی نظریاتو کښي دا هم ډیر جلب نظر کوی چه دی دا انسان فطری او طبیعی استعداد ته په ډیر اهمیت قایل دی او بې له ذاتی استعداده د تعلیم او تربیت اغېزی ته دومره نه دی قایل لکه چه په دې لاندې اشعارو کښي وائی

چه بنیاد ئې بد اشوی په نفاق	د همه نه طمع مکړه اتفاق
چه اودلي وی نه ذات توره شړۍ	سپینول یې و هر چا ته دی شاق
د عمل سره ئې خوږه خوږه نه شي	مړغومې چه ترخه ده په میثاق
که اخلاق ناصری په یاد وو وائی	بد اخلاق کښي نه سه نه شي بد اخلاق

✡ ✡

صالحان له طالحانو نه پیدا شی	له زاهده نه پیدا شی غل سارق
د بدخوی د خوی علاج ملك الموت دی	نه به دې علاج خبر حکیم حاذق
که کارگه غوندې ئې وهم وی خوشحاله	هیڅ استاد نه شي طوطا نکړی ناطق

✡ ✡

تعلیم د زاغ وزغن که ډیر وکړې	ښکار به یې کله د باز په څېر وکړي
د ترخې وسپنې توره که کړې ساره	غزا به کله په همه شمشیر وکړي

✡ ✡

په بل ځای کښې وائی :

ماهیت یې موندلی نشی — چه څه څیز دی دا بشر
کله اور کله اوبه شی — کله تور ه کله سپر
کله خوږ ب شی له باده — کله بیا په هېڅ نه شکر
لکه دی دی په جهان کښې — بل به نه وی د پنده ور
څه حوالې تر خدای را کوږ دی — که یې نه دی مر ا مسر

✡ ✡

دعقل او پوهې په باب هم خان یو خاص نظر لری چه په کاغذ و نو او کتابو پورې ئی نه منحصروی او نا قصه یا عادی پوهه چه کوم لوی خطر ور سره ملګری نه وی بې اهمیته بولی،

دی هغه دانائی ستائی چه په انسان باندې په ښکاره تی لحاظ سره اغیزه وکړی همه هیر رائی داسې چه سړی پرې د مل مال شماری او حساب و کتاب ئی برابر وی سپک ګڼی او خواره حقیره پوهه ئی بده ګڼی

دده په اشعارو کښې دعقل او پوهې یادونه په ډېر ښه ډول شوېده ،

عقل د سر کې یاد آسمان دی — چه دواړه نه لری هغه حیوان دی
عقل د سر کې د سور له نه دی — چه د آسمان دی د دستان دی
چه عالمان یې په تور په سپین وینی — چه درویشان یې په علیین وینی
د عارفانو علم څه نور دی — تر عرشه فرشه په حبل یقین وینی

✡✡

په کار عدو کښې خوانانې ولولی — چه کسلی نه وی هغه څوک څه لولی
هسې مردان شته په دا دنیا کښې — تختی د وچولی تختې درنده لولی

✡✡

دانائی مه ګڼه چه صبر نه لری — چه صبر نه لری حکمت نه څه لری
سړی د صبر په کار کښې وار مه — چه صبر ناک وی هر څه نه بیه لری

✡✡

د ناقصې پوهې بدل په کار نه دی — د دانا فکر خطر لری خطیر

✡✡

د لوېدو او لوېدو په باب خوشحال خان د ښه غور و دقت خاوند دی او نه محض لوېدتیا او پورته ختلو هیڅکله نه غواړی.

ځای او مسکن دې د کار که ګلشن نشي　　　که مدام سيري دې د جاه خښتن نشي
حسن همه دی چه اصل ذات لري　　　د سپاندې ګل به ګله سمن نشي

✡ ✡

سړه له دې چه دی بې له ذاتي او فطري استعداده تعليم او تربيت ته په څه اثر نه دی قايل بيا هم بې ادبه بې علمه بې هنره او بې اخلاقو کسانو ته په داسې نظر ګوري

چه نه ادب لري نه عقل راي لري　　　دوپای ليده شي خوی دڅار پای لري
چه بې ادبه وي آدم يې مه ګڼه　　　څه شو که شکل آدم نمای لري

✡ ✡

اصيل توب په نور څه نه دی　　　اصيل توب دی په خويونو
په هر يو نو کسې اصيل شته　　　په اصيلو کسې هر يو نه

✡ ✡

خوشحال خان د سردارۍ زمامدارۍ او مملکتدارۍ د پاره ځينې صفتونه او خصلتونه لازم او ضرور ګڼلي چه نا اند دولس مشر او واکمنې ولري او عمل پرې وکړي لکه چه وائي

يا سردار لره خپل عقل　　　يا وزير صاحب تدبير
که هر څو يې عقل ډېر وي　　　بيا هم نه بې مشوره بغير
که دانه وي نه همه وي　　　په ژوندون يې نو په وير
نه سردار لره دوه کاره　　　دايم نو به په ضمير
يو دې هسې رنګ بخښش کا　　　چه پکښې نه وي تقصير
نارد چرګ د دانو دی　　　نه دې پوه شي نه دا ځير
بل چه جنګ ته تياري کا　　　په دښمن دې شي ځنځير
که په صلح کښې زور ګار شي　　　څه حاجت د تيغ و تير
په دنيا د سر سندل شي　　　يا چه حکم وي د پير
يا چه کار د ناموس پېښ شي　　　هور ته هم نشي تقصير
که نه څوک نيسي ځان تيغ ته　　　نه شلغم دی نه پنير

✡ ✡

سردار ته نو په دا يو څو شيره　　　چه مهربي وي زما غيره

چه ور ته حکم د خپل صاحب وي
که هر څو ګران وي هم ئې به وړه وي

✡ ✡

خوشحال خان د صبر و تحمل ډېر ضرورت طرفدار دی او دغه توصیه په مکرر ډول په مختلفو پیرایو کښې کوي

دی وائي سړی باید خپل غمونه او خپلې پرېشانئ چا ته ښکاره نه کړي او په هر حال ځان خوش او خوشحاله وښئ خصوصاً خپلو علیمانو او بدخواهانو ته

دا مطلب تاسې دده په دې څلور بیته کښې ډېر ښه لیدلی شئ.

غم و الم ته له دله دور کړه — خندا هوس کړه شادي سرور کړه
که مخ دې زېړ وي په دلګیرئ کښې — ته ئې په دوه څپېړو سور کړه

✡ ✡

دی په سعیه او عمل ډېر ټینګه عقیده لري او هر څه چه په دنیا کښې له هر ځایه لاس ته راځي له کانو نه وي که دریابونو نه هغه د انسان د جد و جهد محصول بولي لکه چه وائي

لعل له کانه نه په نه خشان کښې — لؤلؤ له بحره په لوئ عمان کښې
په ځیګر خون خېژي دا نه واړه توکښه — که فکر و کار سړی په ځان کښې

✡ ✡

لکه په تا کښې شته نشته په چا کښې — نه په کانو نه په دریا کښې
دریغه خوشحاله حقه که د زړه — چه تل به نه وي په دا دنیا کښې

✡ ✡

خان د خانئ په تقاضا د خود او کرم ډېر طرفدار دی او د پیسو غونډول ډېر بدګڼي سره له دې چه د مال او ثروت ضرورت او اهمیت ته ډېر ښه ملتفت دی او د دنیا ټولې چارې ور پورې مربوطې ګڼي بیا هم زرساتل د ځان د پاره عیب او عار بولي او په دې فخر کوي چه زړه ئې په مال او دولت پورې نه دی تړلی او سره وسپین ئې په لاس کښې نه ټینګېږي

په دغه باب کښې د ده فلسفه او طرز تفکر په دې بیت کښې وګورئ.

د دنیا په پرېشانئ کښې جمعیت دی — د دنیا په جمعیت کښې پرېشانئ ده

لکه چه خان پخپله د کار او عمل خاوند ؤ نورو ته ئې هم د کار او زیار توصیه کوله او بېکاره او نا کاره سړی ئې نه خوښېده.

ده نه غوښتل چه څوک د چا د منت او احسان خواړه وخوري یا د چا په پاتې

په دې باب کښې تاسو دده همه شعر واورئ چه د چمار او کدو د نوتې سوال وجواب پکښې په دې ډول درج دی

چه کدومې د چمار په وړه وخوت — و چمارته ئې آغاز کړ دا مقال
چه ته بې د څو کالو نو ای چماره — راته ووایه خپل عمر خپل احوال
چماروویې د دوه سوو کالو زه یم — په حساب کښې کم گومه دې کم وی یو نیم کال
کدووویې های خوته په مدت لوی شوې
دایم زه در سره سم شوم دم در حال
چمار وویې چه وخت سخت د خلې راشي
زه او ته به سره زده کړو ها له حال

همه شان وشوکت چه په خپله دانسان په وجود کښې نه وی موجود او محض د نورو داطاعت او فرمان بردارئ په وجه چا ته حاصل وی خوشحال خان ئې هیڅ نه ولی او په دې ډول ورته گوری

چه دې څوك دوهڅ ابدې ورو ستو ځی دا څه شی
په تنها و خود چه شان دی شان همه

خان د آزادئ په باب وائی

آزادی تر بساد شاهئ لا تیری کا — چه د بل تر حکم لاندې شی زندان شی

مگر یوازې همدغه سیاسی آزادی کافی نه گڼی او تش په همدې نه دی قانع چه سړی د چا له حکم لاندې نه وی او له شخصی غلامئ نه خلاص وی بلکه په اقتصادی او اخلاقی لحاظ هم د آزادئ غوښتونکی دی او د طمع نه ده یا د احتیاج او محکومیت نه ده له آزادئ نه محروم گڼی ځکه وائی

آزاده نه له چا طمع امید نه کا — چه نه طمع له چا کا کله غلق شه

✡ ✡

په جهان نه هیڅوك نه وی چه آزاد وی — ځینې عشق اندوه نده کړه ځینې لوری

✡ ✡

دی د چا نوکری هم بندگی گڼی او له ملازمت نه ئې آزاده پیشه ډیره خوښه ده ځکه وائی

نوکر ژوندی نه وی کار ئی د مړه وی
خپل ژنده بې نه وی د صاحب په ژنده وی



ښاغلی سرور گویا اعتمادی
د سیمینار غړی



ښاغلی محمد ارسلان سلیمی
د سیمینار غړی



ښاغلی عبدالله بختانی
د سیمینار غړی

شو بوژوند وکړی او خوټه خور ورته وویل شی

په ظلم او ناروا نا بندې ډوډۍ پیدا کول هم ده ته د زهرو خوندل معلومیږه ځکه ئې وویل

څوک چه ډوډۍ په د دهقانۍ خوری | خواږه د خوږو د مېلمانۍ خوری
چه یې په ظلم خوری واړه دی زهر شی | که سالونه د سلطانۍ خوری

✡ ✡

طباخ چه وو ری تر یو څو لاسه | ورځې وخوری د پیاسه پاسه
پاتی خوراك ئې خوراك د سپیو دی | نه دا خمر شه نه صحن شماسه

✡ ✡

که پند زما منې نمك حرام مشه | نر بوړو پاتی خوږه طعام مشه
خوږه طعام مې خوراك د سپیو دی | غصه په زړه کښې په دا کلام مشه
د نانو حلوا مه خوره چه منت ور سره ملوی
حلال کشکاب د خپل محنت خوره په سر او ږده نښتاره

✡ ✡

چه په هره کوخه ګرځی هر ره کار شی
تر دا هسې ګشت څخیر سه دی په نو
د هغو بحره څو اری ده تل تر تا
چه زکوة خوری د کتاب به مثلو

✡ ✡

هر ساعت چه په چا ځی هسې بیکار
تر هغه به ره لاسه ګوم بیګار
رنځوران که کار و بار ته کښا معذور دی
روغ سړی ته ولی په کښا حلال ر و ر ګار

✡ ✡

حال که څه هم شعرو نه ډیر زیات وویلی مګر په خپرو کښې یې دا بې ویلو ډیره زیاته توصیه کړې ده ځکه زه هم په دغه توصیه عمل کوم او خپله وینا د دغه ستر او لوی شاعر په دې بیت ختموم

د خوشحال قدر که اوس نه هېڅ نا شته | پس له مرګه به ئې یاد کاندي ډیر عالم

✡ ✡


دا دی زموږ د مړو او ژوندو حال

بقلم علی گویا اعتمادی

اشعار دری خوشحال خان

درباره خوشحال خان محققان و ادیبان تاکنون سخن بسیار گفته‌اند و در این باب بسی دشواری ها را بر ما آسان کرده اند شك نیست که بعضی از آنها بدقت و کنجکاوی هوشمندانه بررسی و تحقیق کرده‌اند کاین خود ارزش بسیار دارد همچنین استادان و دانشمندان ورهمای هم کار من در این انجمن حق مطلب را اداء کرده و چنان چه درخور این ادیب نامور و مرد صاحب شمشیر و قلم است از هر حیث و جهت او را معرفی کرده‌اند و روشنی کافی در خبایا و زوایای زندگانی سیاسی و اجتماعی و ادبی او افگنده‌اند بنده صرف در قسمت اشعار دری این شاعر مقتدر و نامدار میخواهم چند کلمه بعرض برسانم

در کلیات که بنام ارمغان خوشحال به همت جناب سید رسول (رسا) که خود از ادیبان نامی پښتو است و در پشاور طبع شده و در قسمت پنجم آن چهل و چهار غزل و یك قصیده و دو سه رباعی بزبان دری است سبك و اسلوب وی در غزل همان عصاره و چکیدهٔ سبك های پیشین است در اشعار دری او چیزی تازه و نوی که درخور ذکر باشد موجود نیست با این همه آنچه شعر دوستان کهن در شعر او می پسندند شیرینی و روانی بیان او ست موسیقی لطیف خوش آهنگ او ست که در سادگی الفاظ و زیبائی معانی کلام او را امتیاز خاص بخشیده است و سخن او را مثل یك پارچه حریر نرم و لطیف کرده است که لطافت و سلاست آن عیناً استحکامش را از خاطر برده است پارچهٔ حریری که در کارگاه دل و جان شاعر بافته شده و زبان سادهٔ او بران نقش و طراز پرند شوشتری بسته است از حیث الفاظ هم‌سنگ شاعران سبك عراقی و از حیث معانی نیز لبریز از چاشنی محبت و شور عشق است ترکیبات نا رواری و مبالغه تشبیهات دور از ذهن و ستم زات ندارد و مبالغه آمیز در شعر او راه ندارد بلکه محرك وی سوز و شوری است که با جوش روح و هیجان خاطر بیرون میریزد و به شعر تبدیل می شود بطور مثال دو سه غزل او را که به اقتفای شاعران پیشین خود سروده برای مقایسه و هم جهت انشراح خاطر حضار محترم بعرض میرسانم



د خوشحال د سیمینار په تالار کښې هغه وخت چه ښاغلی محمدهاشم میوندوال صدر اعظم خپله بیانیه اوروی په دغه عکس کښې له ښي خوا نه کیڼې خواته ـ ښاغلی اجمل خټک ـ ښاغلی بېنوا مولانا امتیاز علی عرشي ، پوهاند صدیق الله رښتین ، پریشان خټک او ښاغلی سلیمی لیدل کیږی .

غزل فیضی

این چه مستی است که بی باده و جام است اینجا
باده گر خام ننوشیم حرام است اینجا

اینکه از بادیهٔ عشق خبر می پرسی
پای بردار که کونین دو گام است اینجا

زاهدا منتظر چشمهٔ کوثر منشین
که بیك جرعه می کار تمام است اینجا

هیچ کس نیست که در دائرهٔ حیرت نیست
صید گاهیست که جبریل بدام است اینجا

راز سر بستهٔ خم پیش خرد مگشائید
سخنی پخته مگوئید که خام است اینجا

نام و ناموس ز ما خاك نشینان مطلب
این مقامیست که ناموس ز نام است اینجا

چون شدی معتکف میکده فیضی هوشدار
کز دم پیر مغان فیض مدام است اینجا

اینك غزل خوشحال که در اشعار دری خود کوهی وروهی نیز تخلص میکند

نو بهار و می و معشوقه و جام است اینجا
زهد و پرهیز ورع را چه مقام است اینجا

قصه کوتاه که در مذهب ما ای صوفی
غیر می هر چه بود جمله حرام است اینجا

یارب آن غنچه را هیچ گزندی مرساد
که برویش نگران خاص وعوام است اینجا

پیشم از مشك خطا دم مزن ای مشك فروش
که پر از نکهت آن زلف مشام است اینجا

شاه من تند مران رخش که بس مردم شهر
بهر نظارهٔ تو بر در و بام است اینجا

غزلی در ردیف الف دارد که قبل از وی مولانا عبدالرحمن جامی وبعضی (دیگری) ونظیری نیشاپوری وصائب تبریزی نیز بدین وزن و بحر و قافیه غزل ها ساخته اند بعد از غزل جامی وبعضی غزل خوشحال بسمع شما میرسد اینک غزل جامی

طرف باغ و لب جوی و لب جام است اینجا
ساقیا خیز که پرهیز حرام است اینجا

شیخ در صومعه گر مست شد از ذوق سماع
من و میخانه که این حال مدام است اینجا

لب نهادی بلب جام و ندانم من مست
که لب لعل تو و باده کدام است اینجا

بستهٔ حلقهٔ زلف تو نه تنها دل ماست
هر کجا مرغ دلی بستهٔ دام است اینجا

می کشی تیغ که سازی دلی مارا بدو نیم
تیغ بگذار که یك غمزه تمام است اینجا

جامی از بوی تو شد مست بمی دیده بجام
بزم عشق است چه جای می و جام است اینجا

غزل خوشحال :

هرکه در کوچه آن ماه مکانی دارد
کفر محض است اگر میلی جنانی دارد
کام دل یافت که از چشمه خضر افزون است
آنکه از لعل لبت روح وروانی دارد
شانه زاو صف سر زلف سیاهت شاید
که بهر موی ازین شیوه زبانی دارد
ای نسیم سحری غنچهٔ دل را بگشای
بلبل سوخته دل نیز فغانی دارد
گر نیم اهل ورع عیب من ای شیخ مکن
هر کسی در دل خود زعم و گمانی دارد
چند پرسی که ترا تیر ز شصت که رسید
آنکه ابرو زمژه تیر و کمانی دارد
تو مپندار که تنها دل خوشحال ربود
کیست کو عاشق آن نیست که جانی دارد

در ردیف های فوق نیز دو غزل بسیار شیرین وزیبا دارد که غزل اول آن را واقف لوی که بعقیدهٔ من خاتم شعرای افغانستان هند وشاعر بسیار نازک خیال و مغلق فکر است استقبال کرده .

غزل خوشحال :

خط نو رسید آن نو رسیده ٭ بقتل عاشقان خط بر کشیده .
ز غنج و دلال او را چه خوانم ٭ درون تن روان و نور دیده .
ز بو و گل لطیفتر او چه خوانم ٭ که رضوان این چنین حوری ندیده .
کام هر دو عالم دست دارد ٭ هر آنکو آن لب میگون مکیده .
بروح و همه لطف است و خوبی ٭ نمانم از پدر چه نیکو آفریده .
ز روی نیرود آن گلشن حسن ٭ ز گلها از رخش وردی نچیده .

غزل واقف :

چشم میر مد آن نو رسیده ٭ خدا داند که از مردم چه دیده .
آهنگ عجب نالید امشب ٭ مگر بلبل فغان من شنیده .

می نوازدی خوش لحن به جادوی نفس
آهوی کوه و بیابان همه رام است اینجا
با نوای سخن سنگ مگو ای دیگر
مست عشق است نه سنگ است و بنام است اینجا

بنا برتنگی وقت وفرصت محدود یکه در اختیار من است ازخواندن غزلیات نظیری وصائب صرف نظر کردم شیخ علی حزین لاهیجی که در بنارس وفات نمود و مزارش نیز در آن جا است این غزل را بعد از خوشحال استقبال کرده که مطلع آن این است

از بنارس نروم معبد عام است اینجا
هر برهمن پسری لچهمن و رام است اینجا

غزل دیگر خودرا خوشحال به استقبال خواجهٔ شیراز یعنی آن شاعری که خشت زیر سر و بر تارك هفت اختر پا میگذاشت سروده است اول غزل حافظ بعد غزل خوشحال را عرض میکنم

غزل حافظ:

شاهد آن نیست که موی و میانی دارد
بندهٔ طلعت آن باش که آنی دارد
چشمهٔ چشم مرا ای گل خندان دریاب
که به امید تو خوش آب روانی دارد
دل نشان شد سخنم تا تو قبولش کردی
آری آری سخن عشق نشانی دارد
در رهٔ عشق نشد کس به یقین محرم راز
هر کسی بر حسب فکر گمانی دارد
با خرابات نشینان ز کرامات ملاف
هر سخن وقتی و هر نکته مکانی دارد
مرغ زیرك نشود در چمنش نغمه سرای
هر بهاری که به دنباله خزانی دارد
مدعی گو لغز و نکته به حافظ مفروش
کلك ما نیز زبانی و بیانی دارد

شهد بی تدبیر و بی دانش نه انصاف است و عدل
هر که از عقل و خرد خالیست صاحب افسر است
تا چه بازی رخ نماید تا چه آید از فلك
ماه بختم در محاق و مهره ام در ششدر است
شاه عالم گیر را باید اساس عدل و داد
گر نداند این دو چیز آخر زوال کشور است
قیمت گوهر نمی داند مگر گوهر شناس
از زبان مرد صاحب دل سخن چون گوهر است
راستی را پیشه کن وانگهی دم از مردی بزن
مرد گر باشد بعالم همچو شاه خیبر است

از یك بیت خوشحال درین قصیده معلوم میشود که قصاید امیر معزی ملك الشعرای دربار سنجر را که درین بحر و قافیه ساخته شده نیز ملاحظه کرده شاید این قصیده را بجواب امیر معزی ساخته است

بیت خوشحال این است :

ملك سنجر از حدود کاشغر تا شام بود
ملك ازان دیگران ماندست و نام سنجر است

دو بیت امیر معزی در قصیدهٔ که بدین مطلع ساخته است چنین است .

هفت کشور در خط فرمان سلطان سنجر است
هفت گردون در کف پیمان سلطان سنجر است
گر چه هر سنگی بود بالای میدان ملوك
از حلب تا کاشغر میدان سلطان سنجر است

در خاتمه بدین رباعی وی ختم مقال می نمائیم

پیری که درو قوت ادراکی نیست
در عشق بتان در دل او چالاکی نیست
ریش پسرم سیاه و عمر او دراز
ریش من اگر سپید شد باکی نیست

دلم از وصل آن سیمین تن آسود　　شود سیماب از سیم آرمیده
قدش دیدم قیامت را شنیدم　　شنیده کی بود مانند دیده
کس آداب وفا چون من نورزید　　چو شمع این راه طی کردم بریده
چه خواهی کرد چون دامانت گیرم　　به محشر تا گریبان دریده

سخن واقف مرا تصدیق میداد
خوشی خوش به فریادم رسیده

غزل دیگر خوشحال در ردیف (ها) از باحال ترین و شورانگیز ترین غزل های اوست

لبت از آب حیوان آب برده　　رخت نور از رخ مهتاب برده
مدام در خواب چشم او چه جادوست　　که از چشمان عاشق خواب برده
متاب زلف و پیچ جعد مشکین　　صبوری از دل بیتاب برده
گران قامت را چو محرابست ابرو　　چرا من سجده در محراب برده
به عارض دل، به چشمان دین، به لب روح　　سلامت را همه اسباب برده

نه تنها دل ز خوشحال ختک برد
که زهد از دست شیخ و شاب برده

در غزل های دری خوشحال مضامین اجتماعی و فلسفی و انتقادی دیده نمیشود بلکه سراپا لبریز از احساس و حال وسرشار از شور و عشق و درد و سوز و گداز است که معنی حقیقی شعر هم همین است قصیده ایکه بوزن و بحر بحر الابرار امیر خسرو دهلوی و لجة الاسرار جامی و تحفة الافکار امیرعلی شیر نوائی و نسایم الاسحار کلیم کاشانی و سواد اعظم بیدل ساخته دو سه اشارة انتقادی بر محیط خود و اوضاع مشوش و ناآرام آن دارد که اینک بسمع شما میرسد

چشم ظاهر بین مردم مردم چشم سر است
عاشقان را در درون چشم چشم دیگر است
حرف خاص از بهر خاصان حرف عام از بهر عام
گوش نامحرم سروش غیب را کی در خور است
یار در عالم نماند از هیچ کسی یاری مخواه
در چنین عهدی کسی کو یاری خواهد خر است

د خوشحال خټک د توري د شرنګ نه به چه هر څوک لا په خوب کښې له کټه په لړزه ورزیدل داغه تصادفي خبره یاده وو د کمزوري او بزدلي نتیجه نه وه بلکه موږ پوهیږو چه دغه ننګیالي سترانسان ته قدرت د ماشوم والي د شپو ورځو نه د زماني د طوفاني سمندر په څپو ولکو ځپلو او موجونو کښې د لوبیدلو او پورته پرزو کولو درس ورکړی و، لا د شپږ واړو کالو ماشوم وچه (لمبې‌سیین) د ځپلو طوفاني ځپو به ځو کښې په مخه واخست خوده د پښتنو بیبانو په روزنځان تری د نجات ساحل ته راورساوه

د قوت او زور په مقابل کښې په زور او قوت نه یواځې ځان خلاصول بلکه د ری اوبلخ کولو لو نه ځواني سترمیږه خوشحال خټک ته د ماشوم توب له وخته قدرت ورو ښودله، او چه ځنګه تاند او لمی شو، نو دا انساني سیلا وو بود تم کولو او مخې نیولو د آزمېښت د ګر ته ورودانګی شو

د اوخت لا د ده قومي عشق عفي او چتي او لوړې بولۍ ته نه و رسیدلی چه بس د عزیزانو د پاره د پردو سره وجنګېږي بلکه د محیط او قامي ژوند رخ او رجحان مجبور کړ چه د تربګنی د منځی اور د اټر او اخیزي لاندې د خپل قام او اولس سره په وینو ځپو ورانو ویجاړو جنګېږي

خدای خبر چه لا تر کومه به دا تربږنۍ روانه وه، او تر کله پوري به د افغان د ملي او قامي طاقت دا دغه هومره تندر د خپل قام او ولس په سرونو او کورونو راپریووت، خو د خیبر په دانګو غرونو او د ښمن خوړو کښې لیچو لو کښې چه د خوشحال د ملي مجاهدو لوی ملګری او مرستیال ایمل خان مومند د ډیلی د مغرورو او په ځان مین ګورزنو لکونه فوج، کرورونه مال دولت او حتی کور کهول په مردانه طریقه تالا ترعي کړ، او د ښمن ته یې و ښودله چه ـ

میږه د پښتون کښې د کوټکیانو ځالي نه شي   ما یلو دوامین ځکه خیبر کښې خپل قبر نو ده فی له وروسته د خوشحال وینې د جنګو لی په ځای د پښتو والی د ننګ مرغی او سعادت د ګټلو په لاره کښې په غور ژنګونو پیل وکړ، او په دې لاره کښې یې د لومړني قدم اخستلو په ډول دا دوه کارونه وکړل :ـ

۱:ـ د مغلو ی سلطنت سره یې د مرستي او همکاري ځنځیر وګرزاوه او لاس یې تري واخیست

لیکوال : ښاغلی محمد ارسلان «سلیمی»

درست پښتون له کندهاره تر اټکه
سره یو دي ننګ په کار پټ او آشکار

خوشحال خټک او د هغه دملي

مجاهدو ملګري

درنو....!

د خوشحال خټک د کورنۍ، د هغه د ماشوموالی، د هغه د ځلمي توب، د هغه د بوډاتوب او مرګ او د هغه د ملي او وطني مجاهدو دلاورو د ملګرو ورمانه د لوی افغان د پاره د رمانې د طوفاني څپو په اوږدو څرېدو او هسکو ټیټو کښې د هغې اوږې ایړه او د یو یېکره چهار حیثیت درلود چه د لویو بحرونو په طوفاني څپو او امواجو کښې د موجو دو موجو د پاره پله پسې خپل طوفاني رفتار جاري وساتي او یکښې سوار ه حلک او ماهر ګاڼې د ومره سخت ستړي ی ستو ما نه شي چه تش د لا سو نو او پسو څو څول هم ورته د پرګران کار شي

خوشحال خټک او د هغه د وطني جهاد دلاورو ملګري هم د پښتنو په قوانه کسې په داسې وخت کښې د عمل میدان ته راووتل چه د غه ولس د شمال او لویدیځ له خوا نه د ډیرو او یو او عظیمو طاقتونو تاړاکو نو ته خپل ټټر ورته سپر کړی او د لوی د یانو غوریانو او غزنو یانو د جهادونو توپونه او سیلاوونه یې د رمانې څپو ته سپارلي وو.

د ننګیالي رامنو لمسو خوښتل چه د پښتون بابا ځکه شمله د خپلو پسولانه دی کړی او د هغو قولو افتخاراتو سره یوځای پښتون ولس دا سې وخپي چه ګیانه څو د غور او غز ني د افتخار ډکو دننګو ځلیوته د کښلو قابل پاتې شي او له د سوری شیر شاه هغه یو نو نه بیا په یادرا وستلی شي چه رمانه نه یې په پوره ویاړ د خپل تاریخ په ویې کتاب کښې د همیشه د پاره یادساتي

د خوشحال خټك نه پخوا بوزوی د خو محمدو دو قیام خو خو ونکو پښتنو سره نیل او خلا شو د هغوی په ځای د هغو تر شا د استعمار په ضد د پښتنو لوی لوی قامونه او قبیلې درېدلی دی، همدا سبب و چه د خوشحال د پښتنی توری تر نس د بهرام او د هغه د ملګرو سر کې داسې ونه ستوانې چه د لوی جنګ نه وروسته نې په تېښته تېښته ځانونه خلاص کړل

دې پښتو د نارې زور ګیر اونو او افغانی مجاهدانو ترمنځ د ښتو او جنګ جګړو تنور داسې سور کړ چه دوول او تاوخه یې ان په دیلی کښې په اورنګ د خولو طوفان روان کړ

د ننګ اولاد چه لا د روښانی قیادت لاندې د پښتنو چپاوو نو څه پوره د مه شوی نه و، د خوشحال خټك او د هغه د ننګیالو ملګرو (ایمل خان او دریا خان) تر مشرۍ لاندې د پښتنو سره په نوره داسې او ډده او ستوماڼو ونکې جنګ کښې بوختېدل شول چه د شپې خوب او د ورځې آرام د وانده پرې حرام شول

چه په کړ په کښې نه د ایمل د قیادت لاندې مومندو، شینوارو، ..خوېدو او نورو پښتنو قبیلو د اورنګ لکونه فوځ سره د بې شماره سار او سامانه په یوه خونړۍ جګړه کښې تالاترغی کړل، نو وروسته نه خوشحال په کوهاټ کښې د دریا خان په مشرۍ دا پرېښودو، ورکړو او نور ولړی نږدې پښتنو قامونو ننګیالو لښکرو په اورنګی فوځونو د دوکی قیامت جوړ کړ

خوشحال خان خټك د خپلو ملی مجاهدو د ملګرو د دی قامی جهاد په قوله موده کښې د استعمار په ضد د قول افغان ولس د سره یو او متحد کولو په لوی او عظیم کار کښې لګیا و، د هغه نوار نې موخه او هدف دا ؤ چه افغان چه توره ترملا تړی، نو هغه ما ید نس او نس د افغان په ننګه وی، نه د بل څه او بل کار د پاره او همدا سبب دی چه هغه نبچله د ځیرلوی و پاند کولو او افغان ولس ته د ترقۍ لو لوی ننګ ورډانه‌ي کولو په وخت کښې داسې وائی

د افغان په ننګ مې وتړله توره ننګیالی د زمانې خوشحال خټك یم

خوشحال خان خټك چه دا لویه او عظیمه اراده وکړه، نو ور سره یې د پښتون د دې لاهانی ارادی او عزم اظهار په دې الفاظو کښې وکړ چه وائی

په جهان د ننګیالی دی دا دوه کاره یا به وخوری ککری یا به کامران شي

۲ ـ د خپلو راتلونکو نامي مجاهدو دراتلونکي ملګري (ایمل خان مومند) سره او بیا وروسته یې د خپلې دغې مقدسې لارې د دوهم ملګري (اپریدی دریاخان) سره د لومړي ځل د پاره د سلام علیک وکړ، او د ارتباط مزي یې ور سره ټینګ کړل خو دغه ډلې استعمار چیان د خوشحال خټک د دغو لومړیو قدمو له اهمیت نه په ځیر شول، امین یې د پېښور څخه لرې کړ، او د هغه پر ځای یې (مهابت خان) مقرر کړ، مهابت خان پېښور ته د را رسیدو سره، د خوشحال خان څخه په کلکه وغوښتل چه دغه ډلې سره د پښتنو او افغاني دنیا په ضد خپلو پخوانیو ملاتړ و نو او همکار یو ته نه یوازې د پخوا په شان دوام ورکړي، بلکه پدې لاره کښې هر څه چه حکومت غواړي دې یې نافذ وکړي

خو دیکه مرغه دا وخت د خټکو ملک خوشحال خان نه و، بلکه اوس پښتون خوشحال و چه د استعمار ایجنټ ورڅخه هغه څه غوښتل چه هیڅ یوه پاک او سپېڅلي پښتون نه شو چړې منلی، نه یې مني او نه به یې ومني او لکه څنګه چه خپله په یوه شعر کښې وایي

چه منصب مې د مغل خو بڼو ملک وم　　چه منصب د مغل نه خورم اوس ملک یم

دا وخت خوشحال خټک ته د آزادي غوښتونکو پښتنو سترګې متوجه وې، او د خوشحال ملګري (ایمل خان او دریا خان) چه داده شول چه د پښتو او پښتنو لوی غر (خوشحال) قدم په قدم د خپلې د وطن جهاد سره ځان یو ځای او ملګری کول غواړي، نو د خپلې او د خپلې د ټولو ملګرو زړونو ته هم د سپین غره غوندې غټې او سخت شول، او د پردو په ضد یې خپلو وطني مجاهدو ته نور هم شدت ورکړ

دا وخت خوشحال خټک په یوه ایکلی قصیده کښې یو بیت داسې وايي ـ

مرګه! څومره مهلت راکړه په جهان کښې　　چه خنجر د مغلو په وینو سور کړم

دا استعمار ایجنټ (مهابت خان) چه پدې پوه شو چه د خوشحال خټک یو څوی بهرام د خپل ورور اشرف خان په مشرۍ ځکه ډېر خپه دی چه پخپله د مشرکیدو ډېر شوقین دی، نو د هغه سره یې د امداد ژمنه وکړه او زیاته مادي او معنوي مرسته وکړه او په دې وسیله یې زوی د خپل پلار غاړې ته ورواچاوه، خو هغه پدې نه پوهیده (او ځکه خو باید نه وای پوهیدلی چه پښتانه، پښتانه پېژندلی شي نه مغل څوک) چه دا وخت که

چه په هوا په خاطر نه هسې عیان شي — ځینې څه چاري پیدا په دا جهان شي
په لا چې په چو تره وګـړ ریند لـم — اوس مې ګشت د ابر یدیو په میدان شي
لکه نار په بوه غره ګرزي بل ګوري — بیا څما نظر د سوات په کوهستان شي

په قصیده کښې کوم ځای چه د پردو د منصب په پرېښودلو د کومې ډېرې زیاتې خوشالي څرګندونه کوي نو وایي

د مغل منصب مې پرېښود هسې خوښ یم — لکه خلاص د لوېه بنده بندیوان شي

د پردو زور ګیرو څخه د کسات او انتقام اخستلو جذبه چه په همدې قصیده کښې په کومو زوردارو الفاظو کوي هغه دا دی :-

که مې چیرې ننګیالي پښتانه کسېوري — بیا به لري دا څما د زړه ارمان شي
ومغل وته به هسې کار ښکاره کړم — چه راضي را څخه روح د مرید خان شي
په جهان د ننګیالي دي دا دوه کاره — یا به وخوري ککرې یا به کامران شي
د نارونو د کار ګـنا نو مصاف وینم — تردا میمخ به بې دوینو رود روان شي
عاقبت به خدای ظفر کـا د نار انو — تار په تار به آواره واړه کارګان شي

د قصیدې په پای کښې ننګیالي خوشحال د خپل قام واس په زړه او نو کسې د لیا زیات همت او غیرت پیدا کولو په غرض داسې وایي

د مړزیو مې نتوب په لښکر نه وي — مت یې هر کله یواځې بخپل ځان شي
آزادي تر باد شاهي لا تری کا — چه د بل تر حکم لاندې شي زندان شي

خوشحال خان چه په اېزیدو کښې د هرګه مرکو کار تمام کړ ، نو بیا د خپلو قامي جهادونو د ملګرو (ایمل او دریا خان) په ستاینو هم ، ... یوسفزو په سیمو ګرزید ، او ځای په ځای یې پښتنو ته پخپلو زوردارو الفاظو کښې داحقیقت څرګند کړ چه که پښتانه د پردو مریوله او غلامان شي ، نو نه به پښتو او غیرت ورته پاتې شي ، او نه ننګ او ناموس

داوخت اورنګ د خپل بې شماره فوج سره حسن ابدال ته را ورسید ، او د پښتنو په سیمو کښې یې د مال دولت سیلا وخور کړ او په دې وسیله یې په پښتنو کښې د کورنیو اختلافونو او خواښدیو په پیدا کولو او زیاتولو پیل وکړ ، خو خوشحال خان او دهغه د قامي جهاد ملګری ایمل خان او دریاخان هم چوپ او لاس ترزلې ناست نه وو ملکه پښتنو ته یې داورنګ داستعماري مړینو نوا او د سیـو

د همدې اخ وډب په شپو ورځو کښې د خوشحال خان د قامي جهاد ونو ملګري ایمل خان مومند د مومندو د سیمې په کښې په قومي ځای کښې د اورنګ په فوځونو هغه ډندوکار خونه کړې چه د پښتني جهادونو د تاریخ او ایتة ایك پاڼې مه یې په ایکلو دو یاړه او افتخار هغه سرلوړي کوي چه د قامونو د آزادي څو پښتلو په تاریخ کښې یې خورځ واشکړې او د همه دلارې ملګري کوي او س

د کړ یې په عاسي ماندې د اورنګ زیب مغرور او په ځان مین فوځونه د شجاعت خان او د خود پور دراخه مهاراجه جسونت سنګه په مشرۍ د مومندو د ګند او په کړ یه قومي عاسي د دی د پاره ور حتل شروع کړل چه د ایمل د افغاني تحریك سته له بیخه وباسي، خو د خوشحال خان خټك ملګري ایمل خان په کړ په کښې د اورنګ باغو فوځونو یو داسې شان ډبوکی قیامت جوړه کړ چه پکښي شجاعت خان خوو مړ، مګر جسونت سنګه په بې امداري ډیرو خوار بو او تکلیفونو ځان له مرګه خلاص کړ او د اورنګ سیمې ته ورسید

د هغه وخت د خوشحال خان خټك مل ملګري دریا خان اپریدی د خوشحال خان سره سلا وکړه چه دواړه په یو وخت او په یوه اتفاق په کوهاټ بر ید او حمله کوو، خو چه دریا خان اپریدی په کړ په کښې د ایمل خان مومند له ویاړه ډك بري واورید ناڅاپه یې په (کوهاټ) کښې د اورنګ په فوځونو هیبه وکړه، او داسې خوږې حمکړه یې وکړه چه په پای کښې که څه هم پوره بري خو یې وبه کړ مګر بردو روزګیر وته یې وشو د له چه د مغلي بریه هر لوېشت حاوره د بردو روزګیرا بو د پاره د سره تور حیثیت لري

د هغه وخت چه په کړ په او کوهاټ کښې د خوشحال خان خټك د ملګرو په مشرۍ کښې پښتنو ځلمیانو د اورنګ ډلې ډلې فوځونه د نیستی او عدم کندې ته ورتو غول پخپله خوشحال خان خټك د دېمن سره د مقابلې د پاره د تور یالیو اپریدو درا پا ځولو په غرض تیراته لاړ، او دی لا د تیرا د قو لمو او حرګو مرکو په تاریخي مرکز (میدان) کښې و چه خبر شو چه په کړ په او کوهاټ کښې د استعمار دروزګیرو فوځونو ساري تباهي اورنګ زیب په داسې امداره وارخطا او عصبي کړ یدی چه د یوه ډیر لوی او عظیم فوځ او توپخانې سره پخپله د افغاني اولس سره د مقابلې د پاره راروان شوی دی، دا وخت خوشحال خان خټك یوه لویه او مشهوره قصیده وایکله چه زه یو ځو بیتونه تري د لته اوروړل غواړم خوشحال وایي

نه هیچ یم نه کار ته یم چه به کړې و مې و ګړ رم
یا مار یم یا شاهین یم پخپل ښکار مې رنځور دی

که ما غوندی نور هم وای په دی کار به ډیر خوشحال وم
چه ما غوندی څوك نشته ځکه پروت را باندی غم دی

ایمل دریاخان دواړه په شهر انګ تیر شول په ننګ کښی
د دواړو په فراق کښی خاطر آه و ماتم دی

بل ځای د پښتنو په بی اتفاقه ورځ د افغان پامقابل کښی د دښمن په بریالیتوب او د خپل مقدس افغانی جهاد دلاری د ملګرو په بیوخته شهید کیدلو افسوس کوی او د خپلی بیکسی او بیوسی حالت داسی بیانوی

پښتانه لکه مګس ور باندی ګرځی
ورته ایښی د مغل د حلوا تال دی

نوری واړه تښتیدی تار په تار خوری شوی
اوس به هیچ کښی نو کړم د دوی احلال دی

ایمل خان دریاخان دواړه خو د ښی ولاړل
اوس خو پاتی ومل ته یو خوشحال دی

د دی ټولو مایوس کوونکو او ناوړو حالاتو سره سره د خوشحال خټك زړه او روح د یو حقیقی ملی او قامی زعیم او هیرو زړه او روح ؤ او هغه پخپل لمن د ماتی او تسلیم تور ټکی هیڅکله هم ملوث نه پاره نه و، هغه نه افغان او اس ته کله شاباس او آفرین وویل او کله نه یی تامی او پیغورونه ورکول او په دی ترتیب هغه افغان اولس ژوندی کول او د همیشه د پاره آزاد او ژوندی ساتل غوښتل، د خپل قام او ولس ژوندی او خپلواك کول او ژوندی او خپلواك ساتل د خوشحال دو یاړه یك ژوندانه لومړنی او وروستنی هدف او ارمان و او د دی حقیقت د څرګندولو د پاره دادی موږ د هغه د یوی لوی او مشهوری قصیدی څخه څو بیتونه لاندی غوره کړی او تاسو ته یی وړاندی کوو :

ځکه د پردي او چټو لوټه لاس واچاوه، یوخوا او رنګي قوځونه او ایجنټان و، چه په پښتنو کښې یې په زرهاوو ډك زرخوړول او په هغوی کښې یې له یوې خوا د خان ملګري او د قام دښمنان پیدا کول او له بلې خوا یې پخپلو کښې سره په د ښمنو او جنګ جګړو کښې ښکیل کول چه په دې وسیله د پښتون متحد قوت کمزوری او ټوټې شي .

او له بلې خوا خوشحال خټك او د هغه د وطني مقدس جهاد ملګیالي ملګري وو چه سینه په سینه، کور په کور او کلي په کلي ګرځیدل، خپل قام او ولس ته یې پښتني ننګ او غیرت وریادول او د پردو په ضد یې سره یو کول او د عمل میدان ته را پاڅول

داد سیاست او تدبیر جنګ د ځه وخت دپاره روان و، تر څو چه په پای کښې اورنګ زیب د خپل لښکر سره د خپل سلطنت مرکز ته ستون شو، دی په ښکاره خو ناکام ستون شو مګر په حقیقت کښې هغه او د هغه ایجنټانو په پښتنو کښې د نفاق او کورني اختلاف زهر داسې په شدت شیندلي وو چه په اوږد وخت کښې یې نتیجه څرګنده شوه

د خوشحال خټك د مقدس قامي جهاد دوام، بیا و بدی او ملګیالي ملګري ایمل خان او دریا خان یو په بل پسې د وطن او ایمان و ولس د مقدس ملي جهاد د په لاره کښې شهیدان شول، د خوشحال خټك سره د خپل کور د ښمني کلي و ولس، او قبیلې او قام ته سرایت وکړ، د مودو مودو پله پسې او مسلسلو جنګ جګړو په نتیجه کښې په افغان ولس کښې خوروالي او تشتت پیدا شو، د هند د ماوري امپراتورۍ مادي او تعلیماتي لوی او عظیم طاقت بالاخره په افغان و ولس کښې د کورنیو اختلافونو او تشتت ناروغي خوره کړه

خوشحال خان دا افسوس ناك حالت پخپل یوه شعر کښې په دې ډول بیان کړیدی

مغل و ته چه ګوزار کړم هغه هسې مغل نشته
د توري د وار بې تیر شو اوس ورپاتې یو قلم دی
پښتون به زر و پیسې په هر یو به ګیډا لو نو
په ما بې اثر نشته لا په ما د خدای کرم دی

کال په کال امر یا ن دی چه پر یو ر ی
چه طوفان شو لې لسکرې کوم بې شما ر

حرابې د هندوستان دی را حو رې شوی
سر ه مهر ان د ی نو ر ی به کو هسا ر

پهدا هسې وخت چهوخت د نام او ننگ دی
د ا ني ننگه پښتا نه کا څه ر فتا ر

پښتا نه چه تو ر څه فکر کا نا پو ه د ی
بې د تو ر ی خلا صی نشته په بل کا ر

اوس چه هسی بې ننگې نی نا مو سی کا
عا قبت به و ر سکا ر ه شی حپله چا ر

مر گ څما په بو هه بهتر داژوندون د ی
دعزت سره چه بو ی ر یست ر و ر گا ر

همیشه به پهجها ن کسی ژ و ند ی نه و ی
د خو شحا ل خټك په یا تو شی نا د گا ر

خوشحال خان خټك د پښتو خوړو تر خو تیلیفونو او نصیحتونو څخه بس پوه
نتیجهاخلی او همه داده چه وایی -

ملله هیڅ لید لـه نه شی په د ا مـغ کـسـی
یا مغل له ملکه و ر ك یا پښتو ن خو ا ر

په هر حال خوشحال خټك د پردو په مقابل کښي د لوی افغان د آزادی او قامی
وقار شهامت تیر ع اوړ وساته خو چه څنګو نی ننگو او قام خرڅو پښتنو ورسره خفا
وکړه او د پښتنی قامو لی تیپره مانه کړه، مولوی رعیم، اوی ادیب، داففا نی د نیا
د سپین غره هو مر ه لوی ا نسا ن خو شحا ل خټك هم په انتـهائـی ا ر مـا ن
کسې دا وونل چه -

ساقي راشه ډکې کړې پيالې راکړه
چه د ميو په مستۍ کښې شم سرشار

پښتنو زلميو نيولا لاس و تېغه سره کښېل
لکه نار ننګيالي سري کا مدي په سکار

سپينې توري يې ګلګون کړې په وينو
په اهار کښې شګفته شو لا له زار

ايمل خان دريا خان دواړه مرګ بې پروای
هيڅ تقصير دواړو ونه کړ وار په وار

د خيبر دره يې سره کړه له په وينو
په کړپه يې هم روان کړ د ننګو کار

تر کړپې يې تر نا خوه سمې غرونه
په لړزه په لړزه شول نار په نار

نه هغه اوري چه کيږي پنځم کال دی
هره ورځ د سپينو تورو خبر بهار

چه په دا اوري زه را علم اته شوم

زه مردار نم که دا خلک دي مردار

په لښکر لښکر نار و شوم ورته ستړی
دا کار په راته نه مرګ واي نه خمار

ددې پېغور نه وروسته خوشحال خان دالاهاي حقيقت پښتنو ته وښانه ی کوي
چه پښتون هرځای چه وي پښتون دی او چه هرځای نو پښتون ته زيړه او تکليف رسي
قول پښتانه نه هرومرو پرې خوښېږي او دردېږي نو ځکه وای چه

درست پښتون له کنده هاره تر اټکه   سره يو دننګ په کار پټ او آشکار

خو نيا موراً پښتنو ته اخطار ورکوي چه ګوري ده د پردو په زړو او خوږو ترخو
خبر وو نه عولېږي او ګوري ه چه د بېس عراقي په پېسو نامي و پېري نو ځکه وای چه

ای خدایه !

نفس حسد کینه د پښتنو دا تو ده وینه
خدایه کړې ته له دا د خپل زړو کې په مینه

دا غرض نیت کړی چې قول د پښتنې مې
قول راغونډ کړی بنیاد قامولی په پاکه مینه

دا آئینه د زړه د مهر صفي په د ووړو پټه
بیا د محبت په نور روڼه کړې تنکه سینه

مینه مینه مینه مې د قام د رنځ علاج دی
مات قوتې زړه کې نه په دې شان را کوشیږ شینه

نور خو نه څه زیات کړی اکثر څه د قام درز مات کړی
یو درد مند زړه کې شته بس نور هیڅ شی نه لرینه

آمین

تل دې وی د خوشحال، میرویس او احمدشاه لوړ روح ته خوښ او خوشحال

پښتنا نه چه نې ننګی ګا څوك بی شه ګا

ګورستا ن ار ، نه د ر و مم له ا ر ما نه

په پای کښې ستر خوشحال پښتون هم پخپلو پیاوړو ننګیالو ملګرو ایمل خان

اودریا خان او همو رزګورنو پښتنو غلمیانو پسې دلوی افغان د لوئ ، متحد ی

او آزادې دنیا دخوږیدلو په ارمان کښې ګورستان ته ار مانی لاړ چه په دې مقدسه

پاکه او پاك خدای اوډپاك مدای پاکو سپیڅلو ننګ ګانو ته مسطو ره لا ر ه کښې

قربان او شهیدان شوی وو ، خو هغوی چه کوم مشال بل کړی و ، همه نه پواری مړ نه کړی

شو ، بلکه همه دهغو نه وروسته لوی میرویس نیکه داسې و ځلاوه چه پلو شی نې آ ن

تر اصفهانه ورسیدلې

او بیاوروسته همه لوی احمد شاه بابا دلوی افغان دلوی او حقیقی افغانستان

او مستقل او پر افتخاره افغانستان په شکل کښې ځرګند اوددنیا په جغرافیا ئی

نقشه کښې ښکاره کې

داوه دخوشحال حق اودهغه دملی مجاهدو دملګر و دمقدس وطنی جهاد ګټه

او ثمره چه څو اې نیکو نو ته په لاس ورغله ،

او اوس

په شعوري ډول په ملي تاریخ ، کولتور او معاصرو ویاړي ، د خپل اولس د نبوغ ټاکي او دنیا ورسره په مهینانه معارفه کوي

خوشحال او اقبال دواړه د مسلمانانو په جامعه کښې را پاڅېدلي دي او دغو د پاڅولو او ویښولو سندرې یې ویلې دي دغه اولسونه نوی ژوند غواړي چه همه یا د اسرافیل په شپېلۍ او یا د خوشحال او اقبال غوندې شاعرانو په نغمو او پیغورونو لاس ته راځي

خوشحال په داسې وخت کښې سر او چتوي چه قوم یې د مغل د استعمار تر حه ساعتونه تېروي او اقبال د انګرېز د اقتدار او استعمار په عصر کښې سر پورته کوي

خوشحال د خپل قوم د نجات د پاره ، د شرق د سیاسي ادبیاتو په تاریخ کښې د لومړي ځل د پاره د ملیت (نیشنلزم) نغمې غږوي او اقبال د شرق د آزادۍ د پاره د شرقي ملیت روح ژوندی کوي

ځکه چه د اقبال او خوشحال د اولسونو ژوند او تاریخ تقریباً د مشابهو شرایطو لاندې واقع شوی دی نو د دواړو په نغمو او آهنګونو کښې مشابه سر او تال تر غوږه کیږي .

اقبال تقریباً په هغه محیط کښې واقع دی چه هلته د خوشحال ادبي مکتب په زور او شور تېر شوی دی نو ارو مرو دده د شعر نوه منبع د خوشحال د تفکر اغېزه ګڼلی شو

اقبال که په پښتو ژبه نه پوهېده نو د پښتنو والي نه خبر و او د پښتو د ادب او تاریخ نه پوره واقف و دغه په اردو او پارسي شعرونو کښې د پښتنولۍ جلوې موجودې وي

د اقبال د «بال جبرئیل» نومي کتاب په حاشیه کښې لیکلي دي

«خوشحال خان خټک د پښتو ژبې مشهور وطندوست شاعر دی چه افغانستان یې د مغلو نه آزاد کړ او په سرحد کښې یې د پښتنو قبایلو یوه ډله جوړه کړه دا پرېدو قوم تر آخره پورې ورسره ودرېد دده د سلو نظمونو انګرېزي ترجمه په ۱۸۶۲ ع کال کښې د لندن نه شایع شوه »

لیکونکی: عبدالله بختانی

د خوشحال او اقبال

د اشعارو ځینې مشترکې خواوې

دا رنګینې معنې چې ری دی خوشحاله،
چه را دروی لکه ګل په بیاض ستا
(خوشحال)

برګ ګل رنګین ز مضمون من است
مصرع من قطرهٔ خون من است
(اقبال)

شعر او ادبیات په تېره بیا شعر د خپل عصر د ژوندانه هینداره وی نه شاعر هغه دی چه دغه هینداره ښه او صافه خوندي کړی، خو چه د قام د ژوندانه ترو بسته هغو مرموزو نازکې نکتې پکښې څرګندې شي

دا هغه کېدی شي چه شاعر له قومه را ووځي او په قوم کښې نو ځي د قوم د اعمالو، آمالو او افکارو نه خبر وی او قوم ئې ته ور ښاندې خبر کړی

د اولس په ژبه پوه وی او د ژوندانه ئې خبر وی کولتور، عنعنات، دود او دستور ئې ور معلوم وی او په هغو نادودو پوه وی چه په قوم کېږی یا قوم ئې په ځان کوی ملی روایات، حماسې، متلونه او اصطلاحات ورپېژني

د قوم په رنځ او درمانې په نبض پوهېږی او د اولس د دردونو تشخیص وکړی شي

هم دا خبرې دی چه د یوه ملی شاعر د پاره د الهام اساسی منبع پیدا کوی

خوشحال ختك او ډاکټر محمد اقبال د شرق هغه لوی او ستر شاعران دی چه

بیا وایی :

نقش نو اندر جهان باید نهاد ار کهن در دل چه امید کشاد؟

بیا وایی

اهل حق را زندگی از قوت است قوت هر ملت از جمعیت است

په دې شان د پردی طاقت په مقابل کښې مبارزه ددوانړو ستړو شاعرانو
په شعرونو کښې ځېنې وهی اوداوراز پیرایې یې مونږ لی دی . مونږ به همدې
پیرایو کښې ددوانړو شاعرانو مقایسه وهانه دې کړو

لوړ همت :

دپواسیرقوم افراد خوچه دخپلو قهتو اعراضو ته تپونه شی ، دځې اوتومع
زنځیرونه ونه شلوی اوددنیا آنی اوفانی شخصی اونفسی ګټوته شاته کړی ، ترڅه
پورې د اسارت کړی ماتولی نه شی او له نیکمرغی سره نه مخامخ کیږی

خوشحال وایی :

طمع ملاده اسیر ښنده کا سه سه سړی وی داپې ګنده کا

ما ځ پر لید لی چه طمع نه لری په یاد شاهانو پورې خنده کا

✡ ✡

دمنت داروکه مرم په کار می نه دی که علاج لره می راشی مسیحا هم

✡ ✡

نحت دی، که طالع ده ، که داخپله فقیری ده

خدای می شړیه توره پر اوره داتلس کړه

اقبال څه وایی :

من فقیر بی نیازم مشربم این است و بس

مو میائی خواستن نتوان، شکستن میتوان

✡ ✡

زخم کرم نمی خورم ، لطف شهان نمی کشم

در نگرای هوس فریب همت این گدای را

✡ ✡

نه شیخ شهر ، نه شاعر ، نه خرقه پوش اقبال

فقیر راه نشین است و دل غنی دارد

ددې نه معلومېږي چه علامه اقبال ضرور د خوشحال په اشعارو کښې یا د انګرېزیه او اردو له لارې یا په بله طریقه مطالعه کړی

اوس به موږ د دواړو شاعرانو په ځینو ځینو اشعارو کښې وګورو

د شاعر ایډیالوژی :

خوشحال چه په قول د ځینو شاعرو په زرګونو موضوعاتو کښې یې شعر ویلی دی حتی په طب کښې هم مګر په عمومي ډول د ده د شعر خصوصیت دده ملي ایډیالوژي ګڼلی شو ، چه هغه د پښتنو آزادي، آبادي، پوهېدل ، یو کېدل او لوړېدل دی

زه به ګرد ملک ترې مه ږدم په خپل ملک کښې

په حکمت ، په زړو زور ، په لښکرو به

څو به نوړو ، په توپ ، په تېرو شي

بند چېدان شي به تند تیر پښه هرو نه

پـه دې شعر کښې ده حکمت ، هم او زړو ته هـم اتکاه کړې ده او د (آخر الحیل السیف) په کلیه یې هم عمل کړی دی مګر کله چه یې په عملي صحنه کښې د اتجربه حاصله کړې ده چه زور نواړې په زور ماتېږي ، نیا یې نو ویلي دی

بې د تېغ له آبه نورې اوبه نشته   چه ځنګځوی سره ساده کا قدرونه

څو وا نه خلې لـه علیمه استقام   مرد به خوب کا ، نه خوابده کا ، نه آرام

یـا به یو لـې مخ مـکې تـه   یـا مـغلـو سره رزم

پښتانه چه نور څه فکر کا نا پوه دي   بې له توري خلاصی نشته په دې کار

په شرق کښې دا نګرېزي استعمار په مقابل کښې علامه اقبال لوی مبارز دی او د ده د شعر اساسي ایـډیالوژي د استعمار سره مبارزه ده دی د شرق قومونه دې انقلابي مبارزې ته رابولي

آدمیت زار نالید از فرنګ   زندګی هنګامه برچید از فرنګ

پس چه باید کرد ای اقوام شرق   باز روشن می شود ایام شرق

در ضمیرش انقلاب آمد پدید   شب ګذشت و آفتاب آمد پدید

راپیدا او دولت له خاورو نه بې پوره ته کړي دوی بیا قوم خودۍ او خودداري ته رابولي . د قوم سترګي بینا کوي او زړونه یې بیداروي قوم ته د لویوالي درس ورکوي او د همت او لوړتیا سندري ورته وايي . ملي شاعر یوازي د خیال په وزرونه بلکه د همت ، خودۍ او خودداري په زور لوړ الوزي او په دې ذریعه قوم ته لوړ هدف او لوړه ارزو ښيي کیدی شي چه دا ارزو د لویوالي سره په شعر کښي د خیال لوړوالی هم ملګری شي او په دې صورت کښي لوړ او عالي ادبیات ایجادشي . وګوری چه خوشحال څه وايي ؟

که لوی وته مې ګوري — ماه و خور زما پرچم دی
اسمانونه مې خیمې دي — پرې د ستورو زینت تم دی
لا مې لوړ باغونه نور دي — کهکشان مې دارم دی

اقبال څه وايي :

بلند بال چنانم که بر سپهر برین — هزار بار مرا نوریان کمین کردند

✡ ✡

پرې هی چرخ نیلی فام سی منزل مسلمان کې
ستاره جس کې ګرد راه هووه کاروان توهی

یعنی « د مسلمان منزل د شنه اسمان نه په اخوا دی
ته همه کاروان یې چه ستا د پښو دوړې ستوري دي . »

خوشحال وايي :

په اسمان باندې پورې کړم — د همت په پر و بال

✡ ✡

چه ملک سره سر نه سي — په همت کښي هغه زه یم

✡ ✡

وايي لار د ختو شنه و اسمان ته — زه به لار درته پیدا کړم په هنر

✡ ✡

اقبال وايي :

در دشت جنون من جبریل زبون صیدی — یزدان به کمند آور ای همت مردانه

د پښتو ميني ته هر خلك له كاره ايستلي دي او د خوارئ په كندو كپو يې اچولي دي ، خوشحال او اقبال د شرقي شاعرئ د غنمو سره سم د پښتو مينه د ټولو خطا گانو سر گڼي خوشحال وايي

همه زر تر كاڼي لوږي لا بتر دي — چه يې وننجوي په زمكه به خر شي

چه اوبه په ځاى ايسارېږي خوسا شي — صفا يې هم په دا ده چه بهېږي

اقبال وايي :

اگر كردي نگه بر پارۀ سنگي — ز فيض آن زرى تو گوهر شد

نظر خود را ببخش اى بندۀ زر — كه زر از گوشۀ چشم تو زر شد

خوشحال وايي:

د درويش نرخه خوشي غم د ځوي دي

چه په شمار د زرو ناست وي چوڼو چند كا

اقبال وايي :

مرد درويش كا سرمايه هي آزادي و مرگ

هي كسي اور كي خاطر يه نصاب زر و سيم

يعني : «د درويش سړي سرمايه آزادي او مرگ دي او بر ته له دې د نورو په زړه كښي د سرو او سپينو نصاب دى »

خوشحال وايي :

د سليمان غونډې يې پاس په ځنگي كښېږ ده

په قارون غونډې يې ږده د زړه د ننه

اقبال وايي :

ضمير پاك و نگاه بلند و مستي شوق

نه مال و دولت قارون نه فكر افلاطون

لوړ خيال :

كله چه يو قوم د دولت كندې ته ولويږي نو د هغه روحيات هم ټيټېږي ، په ادب او رواياتو كښي يې هم علامات د ذهنيت ورده كوي . هرڅوك وايي چه زه غريب سړى يم زما به څوك څه دي ؟ او هر ناصح او هوښيار (؟) تو ورته نصيحت كوي «چه نه كار هلته څه كار ؟ » – مگر ملي شاعران غواړي چه قام د غفلت له خوبه

اقبال بیاوېلي دي :

میا درا سرم برساحل کـه آنجا | نوای زندګانی نرم خېزاست
به دریاغلطوباموجش درآویز | حیات جاودان اندرستېزاست

مېړانه اومجاهده :

خوشحال او اقبال دواړه دمېړانې اومجاهدې د ډگر قهرمانان دي مبارز ، قهرمان اومجاهد مېړونه ددواړو خوښېږي

څو به یوقوم کښې دمېړانې اومجاهدې روح پیدا نه شي ، همه قوم دسه ژوند سه ورځ به ستر ګو نه وینې ددواړو شاعرانو په نظرکښې د قوم دغه روحیه بېدارېږي اودواړو دمجاهد مېړه په لټه چیمې و هلي دي . همه مجاهد چه په اراده او حیلوا کي مېړدي او په دې لار کښې د مرگ اوبند پروا نه لري دهیڅ شي نه ، نه ډارېږي اوددنیا مال ، دولت ، رتبه اومنصب یې له لارې اړولی نه شي

خوشحال وايي :

مردي دې هیڅ دې چه په زړه شېر نه يې | څه حوو شوو که زړه ور ډېر نه يې
ترسر چه تېرشي وېره هیڅ نه وي | وېره دې هومره دچه ترسر تېر نه يې

اقبال وايي :

د ل بیباك را حر عام ر نـگ است | د ل ترسنده را آهو پلـنگ است
اګر بیمی ندا ري بحر صحرا است | و ګر ترسی به هر موجش نـهنگ است

خوشحال وايي :

چه خر ګنده سرباري کانډي د تورو | زه خوشحال خټك ترهغې هسې حار شم

✿ ✿

سرباري یا دپتنګ یا دعاشق ده | یا قسمت دمجاهد یا د سپاهي شوه

اقبال وايي :

من آن علم و فرا ست با پر کاهي نمیګیرم | که از تیغ و سپر بیګانه سازد مرد غازي را

په پر یوتلو اولسونو کښې دمحیط سره موافقت ، د زمانې سره خونبست ، موقع شناسي اومجلس ارایي لوی هنرونه ګڼل کېږي او د هـر هـوښیار خلك په دغه لار ځي

عروج آدم خاکي کې منتظر دي تمام   په کهکشان، په ستاري، په نیلګون افلاک

د دغو لویو شاعرانو په اشعارو کښي د دې مضمون ډیري لوړي نمونې شته دلته د دغو لوړو توجه دې ته را اړوم چه د بنیادم د مادي ژوند پرمخ تګ او د سائنس او تخنیک عروج او ارتقاء خو د مادي تحول او سیاسي انقلابونو په لمنه کښي کیږي، مګر د بشر معنوي او ادبي صلاحیت، په هروخت او هر ځای کښي مادي حرکت ته نوی رنګ او آهنګ بخښي او د ادیب او شاعر لوړ خیال هرومرو د سائنس د پوهانو او فیلسوف په ژور فکر اغیزه کوي.

نن ادیب او شاعر په خپل هنر اسمان ته د ختو لار پیدا کوي او د کهکشان ستورو او اسمانونو له استطاره بنیادم خبروي او د حکیم او فیلسوف ذهن دغه دعوت مني او د همت د سپوتنیك په ذریعه د شاعر هنر عملي کوي او په دې صورت د خاورین بنیادم کرامت ثابتوي

دا نیله معماګري چه د خوشحال او اقبال غوندې لوړو شاعرانو او فلسفه د خوارۍ له خاورو نه پورته کیږي او هرچا ته حیران حیران ګوري

دا معما نواري د اولسونو همت حلولی شي!!

ژور فکر :

د شاعر کار د ژوندانه له لوړو ژورو سره دی او هم دی چه خپل اولس د پستۍ له ژورونه و باسي او د هسکۍ اسمان ته یې هسکوي نو ځکه دی تل په لوړو ژورو پرېشانه او سرګردانه ګرځي کله د لوړ خیال په وزر اسمان ته ختږي او په دې هسکۍ کښي په ستورو نارکوي او کله نیا دانه پسې په سیند کښي لاهو کیږي او د یو خواخوږي ماهو په شان د قام ماته کشتۍ له ګردابه و باسي په دې سبب د شاعر د لوړ الوت منزل اسمان او د هغه د ژورې اند پسې معمول سیند او دریاب دی

و ګورئ چه خوشحال څه ویلی دی ؟

که غوټې پسې وهې به لاس به در شي   چاوې داچه په دریاب کښي ګوهر نشته

✡ ✡

د مقصود ګوهر په لوی دریاب کښي پروت دی   غواصان پسې غوټې وهي په مرسته

✡ ✡

د عاشق خاطر او خیال لکه دریاب دی   چه څپه یې کله لوږه کله مسته

دازادی مینه :

خوشحال او اقبال یواړي دا نه چه یحیله دطمعې ارادی لری ، بلکه دوی خپل قوم او اولس هم دازادۍ خواته رابولی او دهغوی په طبیعت کښې دازادۍ روحیه پالی

دوانړه آزادی غواړی ، آزادی لټوی او په ازاد میړونو پسې ګرځی

خوشحال وایی :

آزادی تر پادشاهیه لا تیری کا | چه د بل ترحکم لاندې شی زندان شی

✡ ✡ ✡

که پادشاهی په زندان کاندې نه وی | د **آزادو آزادی** وی لسه السته

✡ ✡ ✡

تر **آزادی** نشه بهتر هیڅ نشته | چه خوك په کور کښې خپله د نده کا

✡ ✡ ✡

چه سپی شی وهنی پی خښتم په وخت داوړی | پادشاهی د اورنګ زیب زما غیږ که

اقبال وایی :

مردحر محکم ز حکم لا تخف | ما به میدان سر به جیب او سر به کف

مردحر از لااله روشن ضمیر | می نگردد بندۀ سلطان و میر

مردحر چون اشتران باری برد | **مردحر** باری برد خاری خورد

(الخ)

هغه زلمیان چه په وسله مین نه وی او یواړي ځان سینګاروی ، هغه دقوم اووطن په درد نه خوری بلکه یحیله دقوم اووطن دپاره یوبی درمانه زیغوی دوی چه دپول او سینګار اسیران دی او ځان خوندوی سوقوم په څنګه آزاد اووطن په څنګه خوند کړی ؟

پوهیږلی شاعران له دغسې ناخوانانو نه مخ اړوی اوورته په کرکه ګوری

خوشحال وایی :

چه مین نه وسلو نه وی | مرد دې نه وایی خپل ځان ته

لاس دې سره کاسترګی توری | ځان دې وخوند وی ځوان نه

مگر د اولس شاعران د اوضاعو تغیر او انقلاب غواړي ، همو ی د ناصحانو
په ډېر نصیحتونو پورې ملنډې وهي او په خپله مبارزه د تمام تقدیر اړوي .
همو ی د زمانې سره نه جوړېږي ، بلکه زمانه په خپله طبعه جوړوي .

خوشحال وایي :

توکلت علی الله ! یو ه وینا ده — د خوشحال له زمانې سره سازنشته

اقبال وایي :

حدیث بی خبران هې تو بازمانه بساز ! — زمانه با تو نسازد ، تو با زمانه ستیز !

خوشحال وایي :

د اسمان د هرې خبرې لور په لور تورې لښکرې
زړه مې نه خوځي له ځایه ګر خوښې وي که نه

اقبال وایي :

به خود خزیده و محکم چو کوهساران زی !
چو خس مزی ! که هوا تیز و شعله بیباک است

د عزم او ارادې خاوندان او آزاد طبعه شاعران هیڅکله د چا د خوشحالۍ
یا خپګان ، دوستۍ او دښمنۍ ، ګټې او تاوان د پاره خپل قضاوت نه بدلوي ، حق
نه پټوي او جاه او مقام ته سر نه ټیټوي دوی هیڅکله خره ته اس او اس ته
ټټو نه وایي او ځان یې تغیر نه سپي ، بلکه د محیط په بې تمېزۍ پورې خاندي شرقي
ادبي عنعنه داسې ډېر مثالونه لري ، سعدي وایي :

خر قاضی اگر به مکه رود — چون بیاید هنوز خر باشد

رحمان بابا وایي :

د مکې په برکې کښې څه شك نشته — ولې خر به حاجي نه شي په طواف

خوشحال وایي :

که د خره وربندې سپي وانه سره زر کړې — خر به اس نه شي په دا زیب و زینت

اقبال وایي :

علامم جز رضای تو نجویم — جز آن راهي که فرمودي نپویم
ولیکن گر به این نادان بگوئي — خري را اسپ تازي گو ! نگویم

که شیخان، که زاهدان، که عالمان دي — د عمل سره خوند به دي قال د واعظو

✡ ✡ ✡

دا جاهل شیخان، شیخان نه دي شیطان دي — چې فساد یې پیدا کیږي له تهلیله

✡ ✡ ✡

زاهدان، شیخان وهر لوري ته ډیر دي — د خوشحال خټک به کار دي عارفان

❀ ❀ ❀

زه خو شرابي یم شیخه څه راسره جنګ کړې
برخې ازلي دي کشکې ما دغان په رنګ کړې
زه خو د رندو درد غواړم په هر یوه مذهب کښې
تار د ستا خمرې چه نقلونه رنګارنګ کړې

❀ ❀ ❀

اقبال وایي:

دین حق از کافری رسواتر است — زانکه ملا مؤمن کافرگر است
از شکر فیهای آن قرآن فروش — دیده ام روح الامین را در خروش
کم نگاه و کور ذوق و هرزه گرد — ملت از قال و اقولش فرد فرد

✡ ✡

به بند صوفی و ملا اسیری — حیات از حکمت قرآن نگیری
به آیاتش ترا کاری جز این نیست — که از یاسین او آسان بمیری

عام شکایت:

کله چه شاعر د یو قوم ترقي او آزادي غواړي نو بیداري د افتخار نه ډکه حماسه ورته نه وائي او بیدارې د تېرو میړنو د افتخاراتو او ویاړنو په کیسو او افسانو یې نه اوده کوي بلکه خپلو نواقصو ته یې هم توجه اړوي. تنقید کوي اعتراض کوي، پیغور ورکوي او درنده له درده معنا داري سپکې سپورې هم ورته وایي.

دا ددې د پاره کوي چه قام له سپکوالي نه وباسي او د سړیتوب لوړ مقام ته یې ورسوي خوشحال او اقبال په ډیر جرئت، صراحت او صداقت قام خپلو نیمګړتیاوو ته ملتفت کړی دی او د حاذق حکیم په شان یې خپل رنځور ته په ډاګه ویلی دي

اقبال وایي :

این مسلمان زادهٔ روشن دماغ ‌ ‌ ‌ ظلمت آباد ضمیرش بی چراغ
در جوانی نرم و نازک چون حریر ‌ ‌ ‌ آرزو در سینهٔ او زود میر
این غلام ابن غلام ابن غلام
حریت اندیشهٔ او را حرام

د ریاکارۍ سره مبارزه :

په هر قوم او وطن کښې ، په هر وخت او هر ځای کښې ، د هر صحیح مسلک او لوړې ایډیالوژۍ په مقابل کښې او د تنویر ، ارتقاء ، تجدد او اجتماعي انقلاب په مخالفت یو شمېر خلک ډېر وي . د دغو کسانو اساساً د ارتجاع کوونکو ملاتړي ، د علم ، عمل او حرکت مخه نیسي ، او نه خوځي او ما یان پکښې نیسي په ساده قولو کښې دا ریاکار خلک د شیخ ، ملا او صوفي په لباس راوځي . په خپل سپین لباس سپېڅلي خلک غولوي او د ملنګ په جامه د ملنګ رول لوبوي واقعي مذهبي لارښوونکي دغې نه وي ، بلکه د دغو ریاکارانو اکثر کارونه د دین او مذهب له اساساتو نه هم مخالف وي او د دنیا له دود او دستور نه هم

روښانفکره قومي شاعران تل له داسې خلکو نه زړه چاودي وي او د دوی له خوا تکفیر او توهین شوي دي څرنګه چه له ارتجاعي عناصرو سره د دوی ارتباط ډېر قوي وي نو د شاعر غریب حنجره زړاتر نه کوي پوارې د دغې ریاکارانو حقیقي څېره څرګندوي

رحمان بابا چه یو مذهبي عالم او صوفي شاعر دی ، د دې خلکو په باره کښې وایي

دین یې دام دی د دنیا په لار کښې ایښی ‌ ‌ ‌ پرې را الوزي وحشیان د مخلوقات

حافظ صاحب شیرازی وایي :

واعظان کاین جلوه بر محراب و منبر می کنند
چون به خلوت می روند، آن کار دیگر می کنند

د خوشحال او اقبال په اشعارو کښې هم د دغې خلکو د ریاکارانه کارونو ډېره غندنه شوې ده

خوشحال وایي :

چه پرون یې ما سقانو سره جنګ و ‌ ‌ ‌ نن همه تر ما سقانو لا غټه نور شو

خپل ذاتي شخصي او نفسي حالت نه د نجات د پاره په شعر کښې د دغې تعبير او نزاکت نه کار اخلي چه هم درته درد وواېي او هم يې ونه وايي نو داسې چل کوي چه د کلماتو نه بل راز کار اخلي او د اشارو، کنايو او استعارو لمنه نيسي نو د ځان يا د خپل اولس ترجماني ژوند «نفس» ځان يا خپل قوم «بلبل» استعدادي قوتونه «صياد» يا ناعوان او د خپل زړه ارمان «گل» بولي. دغو ته ادب پېژندونکي سمبول وايي

کوم سمبول چه د يو شاعر په اشعارو کښې عام شي، د هغه هر نيت چه وي، هغه ډير ځله د معاصرو او راتلونکو نسلونو د شاعرانو په شعرونو کښې هم ځای نيسي او د ادبي عمومي توجه مرکز گرځي

خوشحال او اقبال هم د شرق د شاعرۍ د ادبي عمومي د سمبولونو نه تل کار اخيستي دی او هم ځانله خاص سمبولونه لري چه د دواړو سمبولونه سره يو ياور ته دي

څرنګه چه په وروستي عصر کښې د ارغونو شاعرانو عمومي سمبولونه (گل، بلبل، نورا، شمع، پتنگ، ساقي، شراب ،) نيځي راغله او بي خونده شوي دي نو خوشحال او اقبال د آزادۍ د روحيې پادرو حيي د آزادۍ په اثر د خپلو ادبي او تعليمي مسلکونو سره سم ځانته مشخص سمبولونه هم ټاکلي دي چه هغه «باز» او «شاهين» دي

دا سمبول د شجاعت او لوړهمتۍ او حرکت د روحيې د پاره ډير مؤثر دي .

«باز» د خوشحال خان او «شاهين» د اقبال د شاعرۍ سمبول دی که څه هم کله کله خوشحال د خپل فکر « شاهين » او اقبال د خپل نظر « باز » هم الوزولی دی

مونږ ويلی شو چه څومره د باز او شاهين مفهوم يو تر بله سره ورته والی لري هغومره د دواړو شاعرانو په شاعرانه نظر او ادبي تفکر کښې هم نژدېوالی موجود دی .

دخوشحال باز:

باز د خوشحال خان ډير خوښ وو او د خپل ښکيالي او زړه ور طبيعت له مخه يې ښکار هم خوښاوه د ده يو مستقل اثر « باز نامه » نو مېږي چه د بازانو د ساتنې پالنې او ښکار په باره کښې دی دغې کتاب په مقدمه کښې وايي

خوشحال وایی :

څیمي لوبي دعوی لرم په رنده کسی   خو افسوس چه پښتانه و ا نده بي ننگه دی

او اقبال وایي :

نصیبي نیست ارسور دردو بم مردو مومم را
ردم اکسیر را برخاك صحرا ، باطل افتاد است

خوشحال د پښتنو د بی اتفاقی نه ډیر سخت شکایت لری
هره چار د پښتانه تر عقل سه ده   اتفاق ورځخه نشته ډیر ارمان !

✿ ✿

که هر څه بي ساروبه نه سازبري   پښتانه دی د کړو کسا هو د یوا ل
اقبال نه پښتنو نا بدي عیناً همدغسی ژاړی
لیك ازبي مرکزی آشفته روز   بي نظام و ناتمام و نیم سوز
آن یکی اندر سجود آن درقیام   کار و بارش چون نماز بي امام

سره ددې هم خوشحال د خپل قوم فطری استعداد ته هغله من دی او چور نا امیده نه دی

که توفیق د اتفاق پښتانه مومي   زوړ خوشحال نه دوباره شي په دا ځوان

✿ ✿

تر مغلو پښتانه په توره سه دی   که په پوهه پښتانه وای څه هوسیار
او اقبال هم په شرق کښي د یو داسی مبرانتوب انتظار لری چه همه زړه ابونه ورابوی او دعلامابور ځیرونه شلوی

میر سد روزی که ز نحیر علامان بشکند
د ننده ام ارزورن دیوار زندان شما
حلقه گرد من زنید ای پیکران آب و گل !
آتشي در سینه دارم از نیکان شما

باز او شاهین د دواړو شاعرانو سمبول دی :

شاعران په تیره بیا د شرق شاعران ، پخپلو شعرونو کښي څیني کلمات او لغات د سمبول په ډول راوړی کله چه د استعداد په تیارو کسی په شاعر د بیا لسکه زندان شي او ده ته د دغه حالات د صحیح تصویرو لو حق حاصل نه وی ، د رنده د درد په و یلو بي ژبه سوری یاغو ځیری او دهغه په نه ویلو بي هغو کی سوری اورنده چوی ددغه

څه تهمه ښکار شه چه دي ځای په سر دروی
نه لکه د کـلي کـارګه ګرځي هم د نس کړي

✡ ✡

غلهوار د بل منګولي وته ګوري لکه باز لېري مړدي خپله غوټه کړه

✡✡

عاقبت به صدای طبل کا د بازانو تار په تار به آواره وانده زاغان شي

✡ ✡

اهل شرته د شاهین منګول پیدا کړه اهل خیر وته حلم شه تر حمامه (۱)

✡ ✡

دواړه سترګي يې شاهين شهپر يې زاغي
زما زړه کوتر شاهين را څخه يو وړه

✡ ✡

داقبال شاهین :

داقبال په اشعارو کښي يو مستقل نظم دی چه عنوان يې دی «پند باز با بچهٔ خويش» او بل يې د«شاهين وماهي» تر عنوان لاندي دی (۲)

اقبال عموماً «شاهين» او کله کله «باز» د مثل په ډول راوړي دي چه موږ يې څو نمونې وړاندي کوو

نی زما پند و ق زغاني زمين و حرم شاهين از دم سرد ش تدرو

✡ ✡

شاهین من بصید پلنگان گذاشتی همت بلند و چنگل ازین تیزتر بده .

✡ ✡

گفتم این که چه شاهین بلند پروازی به هوش باش که صیاد ما کمین دام است

✡ ✡

توان گرفت ز چشم ستاره مردم را خرد بدست تو شاهین تند و چالاک است

✡ ✡

(۱) حمام کوتره . (۲) دا دواړه نظمونه په «پيام مشرق» کښي دي .

طبیعت مې په مثال د باتور باز دی که یې ګوري د هر ښه ښکار ته سار دی
په دې موضوع کښې خاص له یو مستقل نظم نه هم لري چه د یوه کښې داسې دی
نه تمامه «باز نامه» نه دا دیرش بیته که یې یاد کړې د خوشحال د یادګاری
سربېره پر دې خوشحال په خپلو عشقي، اجتماعي او حماسي شعرونو کښې باز
د یوه معمول په صورت راوړی دی چه ځینې نمونې یې دا دی

که بیولې زر که باز پر بېدی له چنګه — زه به هم له لاسه پرېږدم شوخ وشنګه

✡ ✡

درست عالم دې په خوشحال باندې غوغا کا — باز پروا کا د کارغانو له غلبله ؟

✡ ✡

پر د قار شته پر د باز — لکه پر هسې پرواز

✡ ✡

د هغو ځوانو کښې یې نیمې ځې تر زړونو — چه تېره تېره کا ته کا لکه باز

✡ ✡

سا پسته د یې تاووس و زلره نو یه — دا و اده ښکار و نه نه کا باز زما

✡ ✡

په شوکت لکه شهباز شه — په همت لکه عنقا

✡ ✡

دما زړه لکه د باز دی — که ته رنګ لری د مېور (۱)

✡ ✡

چه د زرکو ښکار په غره کښې پیدا کېږی — باز په دا سبب نیولی دی د اعمر

✡ ✡

دخوشحال په زړه یې هسې چارې وکړې — لکه باز چه زرکه یوسي په منګولو

✡ ✡

همه باز تر مسکېر که لا بتر دی — چه غوټې وهي په شلاندو (۲) یا مېږکو

✡ ✡

چه وهل، خوړل، خوړول کا، همه باز دی یا شاهین
چه یې سوړی لره وډینه، یامېږی دی یا واره (۳)

---

(۱) مېور یعنې تاووس (۲) شلاندو چونګښه (۳) واره مږک

اقبال د الوتنې په باره کښې چه د نوي عصر اختراع ده وايي:

نه پرواز شاهین نه تیرو عقاب   به چشمش ز لاهور تا فاریاب

بالاخره اقبال د افغان ملت په باره کښې وايي

ملت آواره کوه و دمن   در رگ او خون شیران موج زن
زیرک و روئین تن و روشن جبین   چشم او چون جره بازان تیز بین

د خیبر او د خیبر د اوسیدونکو په باب وايي:

سر زمینی کبک او شاهین مزاج   آهوی او گیرد از شیران خراج
در فضایش جره بازان تیز چنگ   لرزه بر تن از نهیب شان پلنگ

په افغاني جامعه کښې:

اوس نه موږ پښتون مشر او شاعر خوشحال خټك او د شرق فیلسوف شاعر علامه اقبال په افغاني جامعه کښې وګورو

خوشحال خو بیخله په خټه پښتون، په پښتني کهول کښې زیږیدلی او په پښتني چاپیریال کښې لوی شوی سړی دی لکه چه مخ کښې وویل شو و ده ته د ژوند ایډیالوژي د پښتو آزادي، آبادي، پوهه او اتفاق و د ده د اشعارو محور او روح پښتونولي او افغانیت دی د خپلې زمانې دې ننګیالي د پښتو نه ننګ توره وتړله او د کندهار نه تر اټکه پورې د یوې آزادې، آبادې او متحدې جامعې د جوړولو ارمانجن و دی وايي

درست پښتون له کندهاره تر اټکه
سره یو د ننګ په کار پټ او آشکار

اوهم دی وايي:

د افغان په ننګ مې و تړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال خټك یم

اقبال هم د افغاني اولس او چاپیریال سره خپله علاقه ثابته کړې ده افغانستان ته یې سفر کړی دی او د افغان او افغانستان په باره کښې یې ډېر شعرونه ویلي دي د خیبر، کابل، غزني، کندهار، فاریاب، بلخ او بدخشان ستاینه او یادونه یې کړې ده

افغاني بادشاهان، علماء او مشاهیر یې په ډېر اخلاص یاد کړي دي

جز به شاهینی به مرغان هوا صحبت مگیر — خیز و بال و پر گشا پرواز تو کوتاه نیست

✿ ✿

تو ای شاهین نشیمن در چمن کردی از آن ترسم
هوای او ببال تو دهد پرواز کوتاهی

✿ ✿

ترا نادان امید غمگساریها ز افرنگ است
دل شاهین نسوزد بهر آن مرغی که در چنگ است

✿ ✿

من بگویم درگذر از خاك و کوی — دولت تست این جهان رنگ و بوی
دانه زین گوهر از خاکش مگیر — صید چون شاهین ز افلاکش بگیر

✿ ✿

می فتد بر مرگ آن مرد تمام — مثل شاهینی که افتد بر حمام

✿ ✿

کبوتر بچهٔ خود را چه خوش گفت — که نتوان زیست با خوی حریری
اگر با هو زنی از مستی و شوق — کله را از سر شاهین بگیری

✿ ✿

زندگی سوز و ساز، به ز سکون دوام — فاخته شاهین شود، از تپش زیر دام

✿ ✿

بازوی شاهین گشا، خون تدروان بریز — مرگ بود باز را زیستن اندر کنام

✿ ✿

ندارد کار با دون همتان عشق — تذرو مرده را شاهین نگیرد

✿ ✿

برهنه سر هی تو عزم بلند پیدا کر — یهان فقط سر شاهین کی واسطی هی کلاه

یعنی «چه سر دی لوڅ دی نو لوړ عزم پیدا کړه، ځکه یواځی د شاهین سر دپاره دغه خولی ده» وګوری د اقبال دا اردو بیت او دخوشحال دغه پښتو بیت یو مضمون لری

د کلاه لایق خو باز دی یا شاهین دی
په دا څه چه د کلاغ په سر کلاه شی

یعنی :

«۱- چه قبیلې په ملي یووالی کښې ورکې شي هغه به د پښتنو نوم لوړ شي

۲- زه د هغو زلمو سره مینه لرم چه ستورو ته کمند کښې نیسي .

۳- د غرو د غاړو زلمي په هیڅ شي کښې تر مغلو پاتې نه دي .

٤- زه به تاته د زړه خبره وکړم چه د خوشحال خان هغه مرید خوښ دی چه هلته د غرو نادو نه د مغلو د سپرو د اسونو دوړې نښې وروړلای »

وګورئ چه د خوشحال د ژوند د ایډیالوژۍ خلاصه، د مرګ د وخت ارمانې خبرې د نوي نسل د پاره د خوشحال له خوا پروګرام او وصیت علامه اقبال په څومره مینه بیانوي او هغه د خپل زړه خبره بولي

د اقبال په شعر کښې د خوشحال فکر :

خوشحال خان یو دردېدلی او رنځېدلی شاعر دی د قام دردونه او رنځونه یې قام ته ښکاره ویلي دي د ده په اشعارو کښې ډېرې تنقیدي نمونې شته چه یوه یې دا ده

پښتانه په عقل و هوښ څه ناکس دي　　کوډه سپي د قصابانو د خوښ دي

بادشاهي یې د مغل په زړو مایله　　د مغل د منصبونو په هوس دي

اوس له ناره په خپل کور کښې ورغلي

په ولعه د اوس د غابې د خرس دي

دې شعر د اقبال ځېره توجه ور ګرځولې ده

(جاوید نامه) د اقبال د لوړ خیال یو ژوندۍ نمونه ده چه د خیال په وزر یې کښې په اسمانونو ګرځېدلی دی په دې شاعرانه سفر کښې کله چه د مشرق د تېرو بادشاهانو په ټولګي کښې د احمدشاه ابدالي له روح سره ملاقات کوي نو د پښتنو د ژوند په باره کښې د احمدشاه بابا د روح سره د زړه خواله کوي

په دې مصاحبه کښې شاعر د پښتنو منحرف شوی نفسیاتي حالت د خوشحال خټک په خوله د احمد شاه بابا د روح حضور ته وړاندې کوي او د هغه د یوې پوښتنې په جواب کښې وايي

خوش سرود آن شاعر افغان شناس　　آنکه بیند باز گوید بی هراس

آن حکیم ملت افغانیان　　آن طبیب علت افغانیان

راز قومی دید و بی باکانه گفت　　حرف حق با شوخی رندانه گفت

دده یو مطبوع اثر «مسافر» نومېږی او په افغانستان کښې دده د سفر خاطرات دی. دده خپل ټول مشهور او قوی اثر «پیام مشرق» اعلیحضرت امان الله خان ته اهداء کړی دی. په دې او په خپلو نورو آثارو کښې یې د پښتنو او دهغو د هېواد ښه ستاینه کړې ده او ډېره زیاته علاقه او همدردي یې ورسره ښودلې ده. دا ښکاره کوی چه د پښتنو تاریخ، کولتور او ملي موجودیت دده په زړه او ضمیر باندې ډېر اثر کړی دی او د پښتونخوا ځمکه او آسمان ورته د الهام یوه ډېره سرچینه ده. ډېر ښه څه وایي

آسیا یك پیکر آب و گل است — ملت افغان در آن پیکر دل است
از گشاد او گشاد آسیا — وز فساد او فساد آسیا
تا دل آزاد است، آزاد است تن — ورنه کاهی در رهٔ باد است تن

داقبال په شعر کښې دخوشحال ذکر :

خوشحال خان په ژوندون کښې هم مشهور و او پس له مرګه یې هم مشهورانه خوښېدله

دی وایي :

پس له مرګه سخ د مرد ترشنګه ښه یم
ګور مې مښه د نامرد له ګوره شم

کله چه خوشحال وفات کېده نو داسې وصیت یې وکړ «ما هلته سخ کړئ چه د مغلو سیوری مې پر خاوره ونه شي او د مغلو د سپرو د پښو ګرد مې پر هدیره ونه لوېږي »

اقبال ددې کیسې یادونه داسې کوی :

١ـ قبایل هوں وحدت کی ملت مېں گم — کہ ہو نام افغانیوں کا بلند
٢ـ محبت مجھے ان جوانوں سے ہے — ستاروں پہ جو ڈالتے ہیں کمند
٣ـ مغل سے کسی طرح کمتر نہیں — کہستاں کا یہ بچۂ ارجمند
٤ـ کہوں تجھ سے اے ہمنشیں دل کی بات — وہ مدفن ہے خوشحال خاں کا پسند
اڑا کر نہ لائے جہاں باد کوہ
مغل شہسواروں کی گرد سمند



ښاغلی سناتور قیام الدین خادم
د سیمینار غړی



ښاغلی عبدالروف بینوا
د سیمینار غړی



ښاغلی عارف عثمانوف د سیمینار غړی

« اشتری یابد اگر افغان حر   با یراق و ساز و با انبار در
همت دونش از آن انبار در   می شود خوشنود با زنگ شتر »

دا شعر سربېره پردې چه دخوشحال دپاسني شعر ترجمه ده، داقبال له خوا دخوشحال په اشعارو يو تقريظ هم دی موږ گورو چه په دې شعر کښي د(خوش سرود) عبارت دخوشحال دشعر ستاينه ده

سربېره پردې په دې شعر کښي خوشحال افغان شناس، حق ويونکی او نه وېرېدونکی شاعر او دافغاني ملت دردمند حکيم بلل شوی دی

چه دا يوازې ددغه شعر سره نه بلکه دخوشحال دلوړ شخصيت، عالي افکارو او نه ړنگېدونکو اشعارو سره دعلامه اقبال درنده له کومې علاقه ښکاره کوي

داقبال دا شعر دخوشحال دپورتني شعر ديوې برخې منظومه ترجمه ده، مگر دهغه مضمون داقبال په نورو اشعارو کښي هم څه نا منعکس شوی دی

لکه چه وايي :

آدم از بی بصری بندگی آدم کرد
گوهری داشت ولی نذر قباد و جم کرد
یعنی از خوی غلامی ز سگان خوارتر است
من ندیدم که سگی پیش سگی سر خم کرد

✿ ✿

مومن و پیش کسان بستن نطاق   مومن و غداری و فقر و نفاق
با پشیزی دین و ملت را فروخت   هم متاع خانه و هم خانه سوخت

✿✿

بهر یک نان نشتر لا و نعم   همت صد کس برای یک شکم

✿✿

ښاغلو دوستانو او گرانو عزيزانو !

داوو دخوشحال او اقبال دشاعرۍ ځينې مشترک، يا سره ورته او مشابه اندړونه چه دوخت په تقاضا مې دنمونې په توگه وړاندې کړل

هيله لرم چه زما دا ناتمامه سعيه په خپله کامله مينه ومنئ !

زه په داسې حال کښي چه ستاسو دتوجه او التفات نه تشکر کوم، خپله وينا داقبال په کلام پای ته رسوم

اهل حق را حجت و دعوا یکیست
خیمه های ما جدا دلها یکیست

لیکوالی ښاغلی قیام الدین خادم

دخوشحال او رحمان موازنه


دا میر کروړ له وخته څخه د حمید ماشوخیل مومند د زماني او تر ننه پوري لکه څنګه چه پټه خزانه، پښتانه شعراء، ورکه خزانه، دخیبر ادب او نوري تذکري څیړنه کوي د پښتونخوا په سیمه کښي سوونه او زرګونه شاعران تیر شوي دي، د پښتو شعر د پښتون د حقې سره اصیل شوي دي

د دې ملت تر اوسني شاعران دي په دې حقیقت باندي دلیل یو او نیمګړی تحلیل واضح دلالت کوي

دا دوا لړه صنفه عام ملي اشعار دي. مصنفانې معلوم نه دي او خاص د عامې مال او ترکه ګڼل کیږي .

د پښتو د شعر دې اولي لمبي او پلن ډګر ته چه مونږ وګورو نو د هغو شاعرانو په مینځکښي چه دیوانونه یې زمونږ په لاس نو کښي شته، خوشحال او رحمان تر ټولو لوی شاعران دي. د دوی د شاعرۍ سکه د څلور سوو کالو څخه په پښتني دنیا او نوره نړۍ چلیږي او په راتلونکي زمانه کښي هم ګومان نه کیږي چه څو د پښتو کشور ودان وي دا سکه کوټه شي سره د دې چه د دغو اشخاصو د لویي منکر نشته. خو بیا هم د دغو دوه لویو شاعرانو په باب د فکر خاوندان په یوه رایه نه دي ځینې خوشحال خان ته په زیات اهمیت قایل دي او ځینې رحمان بابا ته

او بیا په دې دوه ؤ لویو شاعرانو کښي د هر یوه اخلاصمندان د هغه لوی شاعر د شعر او ادبي مقام اندازه نشي لګولای .



وشحال حوك دسیمینار دلومړۍ ورځې داوریدونکو یوه منظره
ي عکس کیڼې لومړی کتار له ښي خوا نه کیڼې خوا ته

لمي قاري ماحر چه دده د قرآن کریم په تلاوت دغه سیمینار پرانستل شو ، دکتور نور علي ت وزیر ـ دکتور عبدالحکیم ضیائی د پلان وزیر ـ انجینر میر محمد اکبر رضا د کرهڼې او اوبو وزیر ـ دکتور محمد حیدر د مخابراتو وزیر ـ ښاغلی عبدالله یفتلی د مالیې وزیر ـ کترا نور رالی د روغتیا وزیره ـ ښاغلی عبدالستار شالیزی داخله وزیر او دصدارت عظمی مرستیال ـ ښاغلی محمدهاشم میوندوال صدر اعظم چه په دغه وخت کښې خپله وینا اوروی ، علي محمد د دربار وزیر ـ ښاغلی عبدالهادی داوی د مشرانو د جرگې رئیس او ښاغلي ر عبدالظاهر د اولسي جرگې رئیس په نورو کتارونو کښې نور مامورین او د ملل شوی لیدل کیږی

معلومیږي د معاصر علماؤ د لوبدي نالي خاوندان دي. د خوشحال خان پلار شهباز خان
لوی خان او نوابو ساني چه دده په دربار کښي نه علماؤ او ادباؤ هم وو چه
خوشحال خان ورنه زدکړه کړیده مگر د رحمان بابا استادان ماحول او
مخصوصاً د کوچنیوالي او ځواني حال په تیاره کښي دي

(٤) دواړه د لوی علم سره لوی او نامتو شاعران هم دي

(٥) د دواړو شاعري سره ددي چه د عصر او ماحول د رنګ نه خالي نه ده متأثره
ده خو په ملي او اقوامي رنګ کښي رنګینه ده

(٦) د دواړو شاعري د هدف او مرام او یوه ایډیال شاعري ده دوی شعر
د شعر د پاره نه دی ویلي د خوشحال شاعري د ملیت د انکشاف او تبلیغ د پاره ده
بوده خمري بکښي صفي دي لکه چه وائي؟

د افغان په ننګ مي وتړله توره
ننګیالي د زمانې خوشحال خټک یم

د رحمان شاعري اخلاقي شاعري ده خو خپل قوم او ملت ئي تر ټولو د مخه نه
نظر کښي دي لکه چه وائي:

چه کشور د افغانانو پري معطر شي
د هر بیت مصرع مي زلفې د خوبان کړې

(٧) خوشحال خان او رحمان بابا په خپل، خپل رنګ کښي مبتکرین او د خلا
سبك او مکتب واضعان او موسسان دي

(٨) دواړه خپل پیروان او شاګردان لري خو هر کله چه د پښتنو هر کار په
سیالي او رقابت بنا دی نو د خټکو شاعران اکثره په خوشحال خان پسي او د
مهمندو د رحمان بابا په پلروان شوي دي، د رحمان بابا عصر چه تر خوشحاله ار
وروسته دی نو دی هم د سیالۍ په ډول خپل شعر د سپینیانو د پاره افتخار بولي
او په مقابل کښي خوشحال او خټك یادوي

بو خوشحال بو کم سل خټك بور په طبیعت کښي
ګنار شه د رحمان سپینی له بوره مرده

ـ د دې وجهه نو څو د دوئو نو اختلاف دی نه دا هم ده چه تر اوسه پورې
د پښتو په شعر او خاص پښا د دغو دواړو شاعرانو په باب کومه داسې ناقدانه
تبصره نه ده شوې چه د شخصي ذوق له مقامه پورته، د ادب په معيار، وسيع
نظر او د نقد په اساسي اصولو مبني وي! په دې فرصت کښې چه په کامل کښې
د خوشحال خان د يادګيرنې په مناسبت مراسم پرځاى کيږي ما ته لږ شانې وخت
په لاس راغي چه د خوشحال خان او رحمان د موازنې په باب يو څه داسې مواد
راغونډ کړم چه د دې محفل د اوږدوالي او ساره څخه تير نشي

د خوشحال او رحمان د شاعرانه شخصيتونو په باب چه ښې ی کتنه کوی نو
دوه ډېر ئې نظر ته راځي يو د عمومياتو او بله د خصوصياتو، يعنې په دواړو
کښې څه داسې خواوې شته چه مشترکې دي او څه داسې څيز و نه هم شته چه
دواړه بيلوي هغه چې په خوشحال او رحمان کښې مابه الاشتراک په نظر راځي
او موږ ئې عموميات بولو دا شيونه دي

۱ـ خوشحال او رحمان دواړه د پښتنو دوه لويو قومونو ته منسوب دي
خوشحال خان د خټکو د لوئې خيلخانې او کرلاڼي پښتون دي
او رحمان بابا مومند غوريا خيل پښتنی دی

۲ـ دواړه د خپل قوم مشران او سرداران دي خو دا بيله خبره ده چه
خوشحال خان د ادب او شاعرۍ د لوړ مقام سره د سردارۍ حيثيت هم ټينګ کړ
او رحمان د شعر او ادب استغراق دومره مسحور کړ چه خانئ ئې ترک کړه او ملنګي
ئې غوره کړه رحمان بابا وائي

نه شي د خانانو ملنګانو سره کلي
چېرته غزنيخان چېرته ملنګ عبدالرحمان

وائي چه غزنيخان د رحمان بابا ورور دی چه د ده مجذوب او د ملنګۍ
حالت د خان د پاره عيب ګڼي رحمان بابا د شعر، سرود او عاشقانه محفلو څخه
منع کوی .

داکار نه کيږي نو رحمان بابا منع کوي رحمان بابا د دغو حالاتو په مناسبت
پورته ذکر شوی اشاره کړې ده

۳ ـ خوشحال خان او رحمان بابا لکه چه د دوی د شعر له ديوانو نو څخه

دغه کورنۍ چه ډېر قوي دښمنانو راګېر کړې وه هم ئې دفاع کوله، هم ئې تعرض او هم ئې په اساسي توګه د ملیت تعمیر!.

خوشحال خان د شاعر په حیث یو خورا لوی قومي او ملي شاعر دی قوم او ملت جوړولو ته په ارادي ډول متوجه دی شعر ئې په ټولو قومي خصوصیاتو مشتمل دی د پښتو خاص لغتونه، خاصې محاورې قومي متلونه، استعارې او کنائې په قومي رنګ او د محیطي شعایرو او دودونو د تاثیر لاندې استعمالوي په خپلې شعري رواني او سلیسې ژبې افغاني دنیا تمثیلوي خودو مره خو ډه سکلی، او شایسته چه د سړی دارم د ښاپېرو قصې هېرې شي خپله ژبه، خپل وطن، خپل قام، خپله جغرافیه، خپل تاریخ د خپلو مشرانو حسن او جمال قومي لوړ او عالي خصوصیات یادوي. او کله د غیرت د وېښولو او قوم فداکارۍ ایثار او ویاړلي ته د اټلو د پاره سپکې، سپورې، ستغې، پېغورونه او حتی کنځلاوې هم کوي خو همه هم د یو پښتون او په قام مین شخص د پاره ډېرې خوږې او شیرینې دي پخوا نه چه لاس د تورو او غېرو ځنګونه وو، د اسونو د پښو په ګردونو کښې نه ځمکه او اسمان ورک شول، و رځ نه شپه شوه، د اسونو، پیلانو، د وسلو د شرنګا، د ټوپکو د ډزو، د ګوزرونو ډرهار، د بهادرانو د چیغو او د زخمیانو او پرهار ژلیو له قیامت څخه نه د محشر ورځ جوړه شوه، چا نه حمله کوله او چا نه تېښته، نو قائدانو او جرنیلانو نه حالت بې زړه توب ته نه پرېښودل د غلته نه چیغې، سورې، او مختلف شعارونه ورکول کېدل او نه نه ئې پرېښودل چه څوک له میدانه وتښتي، یا یې زړه کمزوری شي. په پښتو کښې، تندی، تېزی، سختي او سپورې له دغه وخته راپاتې دي او د خوشحال خان شعر ئې ډېر ښه مثال دی. پښتانه تشدد کوي او که عدم تشدد زړه کوي خو دغه د زرګونو کالو غریزه نه ورنه ژر ورکه نه شي.

د پښتو شعر یو عجیب خاصیت لري، تل د تورو په زړه او ربښا کښې وده کوي اعلماً پښتانه بهادران او قائدان پخپله شاعران هم وي. دغه وجهه ده چه د پښتو شعر بالکل د اجتماع سره ګډ دی اجتماعي دی، حیاتي دی، او د بزم برخوالي د رزم او مجادلې پله ډېره درنه ده د پښتو شعر یو هدف او غایه لري او هغه د قوم، اعتلاء ارتقاء او ننګ و ناموس دی دغه دلیل دی چه د پښتو

خصوصيات او امتيازات

سره د دې چه د خوشحال او رحمان په ادبي شخصيتونو کښې ګډې او شريکې خواوې ليدل کيږي خو بيا هم د خوشحال او رحمان شاعري لفظاً او معناً ځانته ځانته خصوصيات او امتيازات هم لري د دغو دواړو شاعرانو د شعر مختصات بيانول زما د مضمون دلچسپه او خوږه برخه ده د مخې له پلوه خو لکه چه مخکښې اشاره وشوه خوشحال خان د توري او قلم دواړو هيرو دی سړی نشي ويلی چه کومه خاصه يې تر بلې دمخه او اصلي ده

خوشحال خان د عمر د پوخوالي او رشد په ورستيو توره او قلم دواړه د خپل قوم او د خپل ملت د پت پرځای کولو او د پښتنولۍ د پاره په کار اچولي دي د مغولو چه پښتنې دنيا د مغولو له لاسه خلاصه کړي او د پخوا په شان يوه پښتنۍ او افغاني دنيا جوړه کړي چه په افغاني روايانو او کلچر تينګه ولاړه وي د ده په دې لاره کښې له قلمه هم د توري کار اخلي لکه چه وائي :

زما ژبه نه ده ! ورده
ګوزارونه د توپك کا

قومي شاعري د خوشحال خان د شعرونو يوه خاصه ده په قومي شاعرۍ کښې لوړې پښتو ژبې ته توجه کوي .

املاء ، انشاء ، عروض ، قافيه ، محاوراو ورانکښې پيدا کوي د پښتو د پالنې د پاره يوازې په شاعرۍ اکتفاء نه کوي مقفي نثر په غير مقفي معاصر نثر چه په معاصر کښې هم ډير سليس روان او په وړو ، وړو محاورو او روزمره جملو ښادي ايجادوي د نظم او نثر د پاره سبك او اسلوب د پيدا کولو نه علاوه د مياروبيان د سلسلې په شان يوه کورنۍ چه پنځې او بړکسي موجود دي تربيه کوي . دا کورنۍ د پښتو ادب هرې خواته نظم دی که نثر ، تاريخ دی که قصه ، دينيات دي که قوميات دې ټولو خواو ته هڅه کوي . او د پښتو ژبې د پاره يو لوی باغ يې او ګلزار تياروي په يوه ځای زما له نظره تيرشول چه صدر خان وائي ما ته بابا وويل « پښتو کښې مونږ ډير آثار وليکل مګر د پښتنو قصې او د عاشقانو احوال نه دي ليکل شوي . او دا خو اتشه باتي ده ، په دې پلو بايد پام وشي ، تر دې وروسته ما د دلي او شهي په قصه ليکلو پيل وکړ » ما چه د ده جملې ولوستې نو حيران شوم د قوميت او مليت د ومره لوی او عميق مثال ، ؟

او ترىور غیرت ، په وطن غیرت ، په دين غیرت يعني په حق الله غیرت چه معنا ئي دفاع په حقوقو کښې دفاع او د کمزوري حمايه ده ځکه چه د شرعې په اصطلاح حقوق الله هغه څيزونه دي چه خاص نفعي نه پکښې ګټه وي د عامه قول مثبت اخلاق چه د کر شول د «پښتون» په کلمه کښې ځای شوی دی

پښتون يعني څه ؟ پښتون يعني همت ناك ، غيرتي او د شهامت خاوند شجاع زړوی که ښځه ، د دغو ښځو مثبتو ارکانو په مقابل کښې ښځه منفي هم وجود لري . چه هغه دا دي بې همته يا لوچك - بې خيره يا کمخوس ؛ بې توري يعني نامرد يا قيوس - بې وفا يعني خپل چاري او پيسه دوست ، بې ننګه يعني بې غيرته د پښتونولۍ له مسلکه مخالف ته پښتانه (دوس) هم وائي په پښتونولۍ کښې ترد ې نده ګنجا شته . دوس يا بې غيرته هغه کس دی چه پښتانه ئي په خپله سوسايټۍ کښې نه مني .

د دی مجمل بيان څخه وروسته چه د خوشحال خان د حياتي مسلك څخه مو ګړي مناسب نه وي چه که ددغه له ديوان څخه يو څه شواهد وړاندې کړو او وروسته بيا د رحمان بابا له مسلکه څخه وغږيږو

همت او مېړانه

مرد نه په شي نه ګفتار — څو پيدا نکړي کردار
چه غيرت ور سره نه وي — مرد هغه نه دی په کار
مرد په غم کا د خپل شرم — د غـيرت د اعتبـار
نامرد فخر په نسب کا — مرد نه مور لري نه پلار

✿ ✿ ✿

درست پښتون له کندهاره تر اټکه
سره يو د ننګ په کار پټ او اشکار
پښتانه چه نور څه فکر کا نابود دی
بې د توري ي خلاصي نشته په مل کار

✿ ✿ ✿

بې اجله مرګ ي نشته — تيغ و هه مکړه تقصير
کل ګټه ده د توري — که کامل دی که کشمير
ميړني دی چه يادېږي — نه صدر و هم نه وزير

په دنیا کښې په وچو غرلو او کړاو ادب پیل کړی او ملانې ورته تړلې ده، ملاتې ماته شوې او کامیاب شوې نه دی

همدغه قومي خاصه، او په سه توګه سره پېژندل او تعقیبول د خوشحال او رحمان د کامیابۍ سبب ګرځېدلی دی لکه چه په وړاندې تاریخ کښې امیر کروړ، اسعدي سوري، د لودیانو کورنۍ د میاروښان کورنۍ، احمد شاه بابا، د میرویس خان کورنۍ، د خوشحال خان کورنۍ، د میاعمر صاحب کورنۍ او په اوسني تاریخ کښې د خدائي خدمتګارانو او د ویښ زلمیانو ادبي مبارزې همدغه مدعا اثباتوي

خلاصه داچه د خوشحال خان په نزد «د افغان ملیت اصل فلسفه پښتونولي ده» دی د پښتونولۍ مفسر او مبصر دی. لکه څنګه چه دده د دیوان، د ستار نامې او نورو تالیفاتو څخه معلومیږي، پښتونولي نه لومړي سر کښې اوچت او عالي اخلاق دي چه سړیتوب ئې بولي، او د سړیتوب تکامل او اظهار د حق د پاره په مبارزه سره کیږي د پښتونولۍ څو اساسي ارکان دادي، (۱) پت - یعني شرم، حیا درونوالي او شرافت (۲) ښیګڼه - یعني نیکي، احسان د غریب مرسته، میلمه پالنه، عفوه، سخا، سه خبره، نصیحت، ښودنه او روزنه (۳)، توره - یعني همت، مېړانه، شجاعت، زړورتیا، اقدام اراده، بدل اخستل، مبارزه میدان ګټل (٤) وفا - یعني وفا په عهد، د نیکۍ خواب په نیکۍ ورکول احسان نه هېرول او د محسن احترام ساتل، ملګری نه پرېښودل، د دروغ نه ویل، غدر او خیانت نه کول (٥) ننګ - د ځان عزت ساتل، ځان ته نه دربده سترګه کتل، مقابل ته که څه هم دده دښمن وي سپك نه کتل، عفت او ساهوتوب، د نیکۍ نور په ځان نه پرېښودل، د سپین سترګو او بې حیاو سړیانو په نره مقابله کول که څه هم مبارزه د سړي د سر په قیمت تمامه شي د خپلو حقوقو څخه په مېړانه دفاع کول

د ننګ سره د ناموس کلمه هم نوځای راځي لکه چه وائي د ننګ ناموس خاوند دی - یالکه داچه هیڅ ننګ و ناموس نه لري د ننګ و ناموس نه په «غیرت» سره هم تعبیر کیږي غیرتي سړی یعني د ننګ او ناموس خاوند د غیرت دغه موارد دي په ښځه غیرت، په خپل حق غیرت، په قام، عزیز، ورور

او دی علمی دی پښتنې له موره
په سپین مخ توری میا کړلاهی دی

✡ ✡ ✡

که د سمې که د غره دی یو سفر یه
همګی مرری دی مه یی وهروال

✡ ✡ ✡

کړلاهی ، سپینه مي خو چه پښتانه دی
رنګه په کار له واړو مشترک یم

✡ ✡ ✡

د پښتونخوا خوبان ستايي

که په حسن د کشمیر خوبان او ښار دی
یاد چین او د ماچین او د تتار دی
پښتنې چو نه چه ما په سترګو څیر کړې
همه ګل وانده خجل ددوی تر کار دی
هیڅ حاجت نشته د مشکو د ګلابو
په پنځه و حسنه نما نځه عطر عطار دی
که څیکه که کتما له که نور سینګار دی
داهمه د نورو ر لمو بوری خوار دی
له صورت ئې د سیرت خوبي افضل ده
تر ظاهر یې د باطن خوا ډېره بسیار دی
کل دورګار یې سرتر پایه پرده پوښ دی
نه ګریوان تر دامنه څیری په بازار دی
له حیا نه پورته غټ کتلی نه شی
ما اموخته په کمڅلو په یا یر ار دی

✡ ✡ ✡

پښتنې چو نه می و لیدی په سترګو
څوک چه ترکی د خطاستانی خطا دی

په څو اماں به خپل هوډ پرې بې دی له لاسه
که ئې سر شي د خونې زمري تر زامه

✡ ✡ ✡

سر د ارزه لره مو په دا دري تو که
یو همت د وهمه توره مل اخلاق

✡ ✡ ✡

سر دې درومي، مال دې درومي پت دې نه ځي
د سړي د چارې کل خوئي په پت ده

✡ ✡ ✡

د رنا مو په حساب دی مرداں مه شه
چه له ږيره له زېړه هم اغوش وي
شړي ور پښتون نه سل په ځ که یوسي
کشمیري که زر ګز شالونه یې په دوش وي

✡ ✡ ✡

خودی تواں توفیق زمیری مېرون مه شه
په هر دم د پښتانه له ناموس ننګه

✡ ✡ ✡

چه په ناموس ننګ اخته وي — که تل ژوي مخ ئې تور
د جهان ملا دې کل وي — خو دې نه وي بې سپور
سر به دار لك شوي سه دي — نه الك شوي په پېغور

✡ ✡ ✡

کان د لعل و د یاقوت څه کان نه دی — چه احسان ترې پیدا کېږي کان همه

✡ ✡ ✡

و نور چاو ته وران مه وایه خوشحاله — چه په قول و په عهد دراں شوو راں همه

✡ ✡ ✡

پښتون په اصل سپره نه دی
یا غور غوستی دی یا بوټنی دی

نه چه ما ته عربی خبرې وایی
د عرب موژ نه څه زده عجمی

✿ ✿ ✿

ما سا ده پښتانه څه زده چه یی وایی
په پاڼه سی پاڼه سی خبرې مو لګی

✿ ✿ ✿

سل سړی نه دي تر یوه غزل ځار یری
نن چه دا پښتو ده ګرلاهی خوشحال ویلی

د خوشحال او رحمان د شاعرانو مسلك په بیانولو کښی مونږ د خوشحال خان د مسلك نه یی ده د شعر د معنوی خوا او هدف په باب یو څه لنډه شرحه وکړه اوس غواړو چه د رحمان په باب وغږېږو

رحمان بابا عموماً متصوف شاعر نقل شوی دی . دا خبره سمه هم ده . مګر څه قسم متصوف ؟

رحمان بابا متصوف شاعر دی خو ورسره کلك او سپیڅلی ایمان هم دی د تصوف په استغراق کښی له ده څخه ایمانیت نه دی هیر شوی

لکه چه دا تر اوسه د روایت په صورت نقل شوې ده چه پښتانه د فطری اصولو سره سم اول ځان پېژنی بیا نور جهان

دا یوازی د رحمان بابا پوری منحصره نه ده، یو ایمانی خاصیت دی هر ایمان نه ایمانی خواص تر هر څه د مخه افتخار کوی او هر څه چه د ایمانیت د روح سره سمون خوری نه آسانی سره یی منی، هره چاره چه په قاضی او قانون خوړه نه شی، پښتانه یی په پښتونولی خوړه وی نو ځکه ځینی کسان پښتونولی پنځم مذهب بولی که څه هم دا پنځم مذهب په اصولو او اساساتو کښی د څلورو مذاهبو سره مخالفت نه لری

هماغسی چه خوشحال خان په خپل قام، وطن، خپلو شعائرو او دسا تیرو مین دی د رحمان بابا هم تری کم نه دی مګر د شاعرانه سبك او اسلوب د اختلاف له کبله د دواړو د ادا او بیان طرز بیل دی

نه ئی ملك نه ئی لسكر نه ئی ګنجونه
تر ځانانو د ماغې دی ښکلې مخونه

✡ ✡ ✡

د چین او د ماچین می اوریدلی په غوږونو
په سترګو می لیدلی د نوبیر دی ښایسته

✡ ✡ ✡

د خوشحال خټك خوښکلی مخ په کار دی
که د سوات که د پکلی که د نوبیر وی

✡ ✡ ✡

د وطن سیمې یادوی

د کابل میوې خوراك دی د توتیا نو
پری ځپاره شوه تور کارغان له هندوستانه

✡ ✡ ✡

ګل دستې می لور په لور په ملك خپرې شوې
تر کابله، تر کشمیره تر بنګاله

✡ ✡ ✡

نور داغونه د نوروز په وخت غوټه یری
په اهاټه کا غوټه یده ه د کابل باغ

✡ ✡ ✡

چه میوې ئې د کابل خوټه لې نه وی
دهغو تر وهم و شکی دی ګورګوری

✡ ✡ ✡

چه په کښی خواره یاران شته پیښور تر هر دیار ربه

✡ ✡ ✡

د خوشحال د زړه خوښی نشته ی صرا نه
ځپل وطن ئی په هر ځا ندی کشمیر که

د پښتو ژبې ذکر کوی

چه په ځپله ادعا ئی ژبه نادان دی
په ترکی خبرې څه و ایی ادعان ته

د ملیت پالنې په اصولو سم او برابر د خپل شعر تهداب ایښودل بولوي او انګار
حسابيږي د نیشنلیزم په دې عصر کښې باید دغه مذکوره ټکي ډېره وستایل شي .
ګوري دغو لو خلکو په قسم فکر کاوه او پوهاوي خوشحال په خپل فکر کې نوع
او د خپل شعر په قوت د نیشنلیزم د قوي فلسفې بنیاد کېښود ، په مقابل کښې
رحمان بابا د اسلامي تصوف مذکوره د پښتنو لې د مذکورې سره داسې مرح
او ګډه کړه چه د هر پښتون په زړه او احساساتو کلکې منګولې لګوي او لوې برې
کوي

خو هر کله چه خوشحال په خپل شعر کښې د یوه عربي شاعر په شان کاملا
آزاد رواں دی چه له څه شي څخه متأثر شي دستي د شعر جامه ورا غوندي او
په مقابل کښې رحمان کاملا د شرقي روح نما ینده دی ، دی هر څه نه وایي چه
وایي یې د اخلاقو او مقامات له دائرې د باندې پل نه ږدي ، نو ځکه د پښتو
نه د با کښې خوشحال خان ته دغومره محبوبیت حاصل شوی نه دی لکه رحمان ته .(۱)

نه د غه دلیل سره رحمان ته پښتنې نړۍ تر ټولو لوی
لقب ورکړی . او « بابا » یې ور ته وو ایه په لو یه پښتونخوا کښې چه دغه
ملي لقب ملجا ته حاصل دی نو همه فقط « احمد شاه » دې او بس پښتونخوا دریم
بابا نه لري او که لري یې نو همه له بابا تو نه انکار کوي دا چه ځای
نور بابا ګان هم شته نو همه ملي نه دی محلي دي د دې لقب مقام ډېر لوړ دی او
هر څوک یې لیاقت نه لري

د لته اوس مناسب ښکاري چه د رحمان بابا له دیوان څخه هم دده د مسلك
د اثبات د باره د نمونې په ډول څه اقتباس وکړو ـ اول باید وګورو چه
د رحمان بابا په شعر کښې د اهمان ملیت او پښتو نولۍ اظهار په څه ترتیب شوی دی (۲)
دا چه رحمان بابا د خپل مسلك بنیاد د « عشق » بر اساس ایښی دی دده
د مقام لوړه تیاتې ونولو ، که دده د شاعرانه تخیل اعتلاء ، خو په هر صورت
رحمان بابا د ژوند هر اړخ ته د عشق په نظر ګوري ، او د ژوندګې هر تعبیر یې

(۱) مولانا عبد القادر د پېښور د پښتو اکاډیمي مشر هم د « فکر یون »
کښې دغه مطلب تائید کړی دی .

(۲) په دې برخه کښې د ساعلي محتاني له مقالې استفاده شوې ده .

د رحمان بابا تعبیر خورا لطیف، نازك، ماهرانه او پوسلی دی. رحمان بابا هر څه دعشق په پیرایه او د شاعرانه نداینو او د فصاحت او بلاغت د ټولو اصولو په مراعات ادا کوی. رحمان بابا په ډاګ او لوخ تعبیر نه کوی. رحمان بابا که مجذوب وی، وی نه خو له خودیه نه دی وتلی

تا چنین خوش چون پاس گریبان داشتم

در جنون از خود نه رفتن کار هر دیوانه نیست

له بلی خوا رحمان بابا په مذکوره کښی اېرشاهی سعدی ته او ډېر حافظ ته ورته دی. مګر په حافظ باندی ظاهراً رندانه رنګ ختلی دی. خو رحمان بابا همسی نه دی

د رحمان او سعدی تر منځ چه فرق لیدل کیدی شی هغه دادی چه د ه، ډېره واعظانه او اخلاقی لارښولی ده خو د رحمان بابا کلام ډېر شاعرانه دی او لږ واعظانه. البته اخلاق د رحمان بابا د شعر د شرانو در د حسنا ښیړی.

ره داسی مګر کوم چه انسانی اعمال او ادراکات ډېری خواوی لری.

مګر څرګندی او په ډاګ ئی دوه دی. یو دا چه انسان په ځان کښی منهمك شی دی هر څه د ځان او د خپل حظ او منفعت دپاره غواړی. بله دا چه دفطرت او کائناتو، د آفاق او انفس په بی سروسامانه دریاب کښی ورک شی او لاره ورکه کړی. اسلامی تصوف دغومره کولی شی چه انسان د شخص پرستی او د خپل چاری څخه پورته کړی او د اجتماع په صحنه کښی یی د یو صالح غړی په حیث داخل او د لیږ پراخ نظر ښترګی ور په ښترګو کړی دی ځان او په ځان کښی خپل حیثیت، او همدا رنګه عایله، قوم او وطن وپیژنی خو څومره چه د فطرت، صله رحم او قرابت تقاضا ده متصوف له حیاته بی ځایه توقعات نه لری. او نه سعادت په هغو خطوطو کښی لټوی چه عموماً د باطنی انتشار تشویش او د اضطراب سبب ګیږی رحمان بابا په دغه حیاتی فلسفه ایمان لری، روان دی او د شعر په رنګینه او خوږه ژبه یې اظهار کوی

په کوم عصر کښی چه خوشحال او رحمان ژوند کاوه دغه د طوائف الملوکی عصر و. او خلك د دین د تاثیر لاندی وو په دغه عصر کښی د خوشحال خان له خوا

خام د مینې چه د رنده په وینو مو ښم   ترو زلال که جګر خون دی نه پوهیږم

دریا خرقه ئي مکړه خدای تر غاړه ي

رحمان کوږ دستار تړلی قلندر دی

✡✡✡

سره ددې لوړ او عالي مقام چه رحمان باباته د ژوند په مطالعه او تحرنه کښې حاصل شوی دی رحمان بابا پښتون دی او کامل پښتون او دا روحیه ئې د خپل ولس او جامعې څخه په ښه توګه اخیستې ده . نو ځکه په قومي مسلماتو او روایاتو سم تعمیر ونه کوی :

ننګ و نام که ستا په مینه له ما درومي

زار شه ستا تر مینې ننګ او نام زما

✡✡✡

پورته خو معلومه شوه چه دی عشق او مینه څه شی ته وایې او له دی نه څخه دا هم معلومیږی چه ددغه عشق دچاسره دی . نو بیا ددغه خطاب هدف هم پیژندل کیدی شی نو که په دغسې احساس او تصور کښې د قومي ننګ او نام څخه تیریږي چه ترڅو لو عزیز شی دی نو ګویا رحمان بابا دعشق په باب انتهائی ایثار او قربانۍ ته حاضر شوی دی نو دده په نزد دعشق دپاره له ننګه تیریدل په خپله غیرت دی .

نوکري د معشوقو کوم په عشق کښې

منت نه د بهلول نه د اورنګ خورم

دا خوبي داعلی عشق دپاره فداکاری وبود له ، او خپله آزادی ده چه په عشق باندی ننګ و نام ورکوی . دمعشوقو دنوکرۍ دپاره دپادشاهانو نوکري ترک کوی . پادشاه ده ته فرق نه کوی خپل قومي عادل پادشاه وی لکه سلطان بهلول لودی . او که پردی متجاوز او ظالم پادشاه وی لکه اورنګ زیب !

په لاندې اشعارو کښې د ننګ او غیرت اهمیت ښیي او بې ننګان غندی :

زغره واغوندی مـلا وتـړه د جنګ

هلـه پـه مـر کـه کـښـه د ننګ

وسی ننګـو ته د ننګ خبري مـسکړه .

یا ځـان وګڼه پـه خپلـو وینـو رنګ

دعشق، عاشق، محبوب، دلبر، وصل، فراق، می، شراب، پیاله، دیدار، خمار، گل، بلبل، زلفې، کاکل، شونډې، رخسار او نور د ښکلو او اغیره ناکو استعمال رو او کماېو کسي تاوکړی دی داجهان له عشقه پیدا او عشق د جملهٔ مخلوقاتو پلار بولی او رښتیا هم که عشق نه وای نو دنیا به دوزخ وای '

دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی
د جملهٔ مخلوقاتو پلار دی دا

د حافظ، مولانا جلال الدین بلخي او سعدی کامیابی هم نه همدغه پیرایه کسي ده . دخوشحال هم دا هنر زده دی مگر دخوشحال او رحمان په عشق کسي د ځمکی او اسمان فرق دی رحمان بابا عشق یو روحانی احساس او استعداد گڼي چه د جسمانی مساس او ځکی څخه مبرا دی.

دی دنیا او جسمانی حظوظ آنی، تیریدونکی، بی وفا، فانی او خوب وخیال گڼی فقط په نیك عمل، مینه، ایثار، خدمت او د نیك عمل په همه خوند او مزه قایل دی، چه عامل او فاعل ته دا خبر په صورت حاصلېږی

عشق د نفس له خاصیته مبرا دی
کار د ستر گو نه څوك څه کړه په دهان کا

وای خوشحال خان که څه هم عارفانه مضامین لری څیني ئې لکوالو ده په کلام کسي تصوف هم لیکلی دی خو رښتیا داده چه خوشحال خان یو عملي او پراتیك شخص دی. ده دعشق معنی داده چه له حسن او جمال څخه استفاده نه کاردی که څه هم په زحمت او تکلیف حاصل شي او دغه دژوند حاصل گڼي

رحمان بابا ته ژوندون خوب وخیال او افسون معلومېږی

په هر نوش کسي نیش وینی هر راحت د زحمت نه بدله کسي ګڼلی گوری دلال ورته جگر خون سکاری په دغه شان د حیات تل او عمق ته رسېږی – او بوه لویه استغنا او بی پروائی ورته حاصلېږی

نو برته د سپی یتوب او وطنیې له شعوره څخه نوری قولی حمری ورنه طملانه او خوشې بریښی نو ځکه ځان آزاد گڼی او په قلندرانه استغنا افتخار کوی

دا یو څه رنگه ژوندون دی نه پوهېږم   خوب وخیال دی که افسون دی نه پوهېږم

په لاندې اشعارو کښې حب وطن ، کور و کلي ، حب محیط ، د خپل قام معشوقي ، خپلوي ، عزیزولي ، پېغور ، همت ، مېړانه ، ایثار ، قرباني ، غیرت آزادي ، د وحدت بنیاد شاهان او دغسې نور قومیات او قومي خصوصیات داسې په ښه ښوا او ښکلو پیرایو کښې بیان دوي او ذکر یې کړي چه د شاعر قومي او وطني محبت اثبات کوي لیکن رحمان بابا په یوه غشي یوه مرغۍ نه ولي بلکه د ده یوه خبره ډېرې معناوې لري د ده شعر په ډېرې ساده ګۍ کښې ډېر پسوخ او ژور وي ،

په سبب د ظالمانو حاکمانو
کور و ګور او پېغور دري واړه یو دي

خدای دې وژغوره له هرې پرېشانۍ
ای رحمانه د کور و کلي ودانۍ

لکه سپند دا ما سپند به عود رنګ درومي
هسې یون دی په تلوار د عمر

ورک شه ورک شه بد کردار او بد سیري
که دي ورور که دي عزیز وي که پردي

تر همه لا نیکوکار بیګانه ښه دی
چه بد کار شي د چا ورور وي او یا ابن عمي

که دي ورور ، که دي عزیز ، که دي فرزند وي
واړه غواړي خپله خپله مدعا

تمام عمر تر آشنا تر عزیز پورې دي
یوې ګېډې مخنور ن کړي هم رسوا

داکوم رنګ د آشنایي او ورورولي دي
چه زه ستا د مخ ثنا کړم ته مي رودې ؟

چه د ورور او د عزیز پرې زړه آرشي
حاصل مه شه همه خپله مدعا

چه استوګنه په پردي وطن کښې کا ندي
همه نه لري د هیڅ واک و اختیار

ننګیالي چه یو ځل مخ کا په کوم لوري

بیا هیڅ نه ویني کوهی دي که ګړنګ

د پښتو په معاشره کښې جنګ، دفاع او انتقام د نارینه ؤ کار دی. ښځې د کور، اولاد او ناموس په ساتلو مکلفې دي. که مړ ته ښځه وویل شي معنی ئې دا ده چه «بې ننګه بې غیرته!» خو پښتنې ښځې هم پښتنې دي او هم غیرتي ښځه د بې ننګه بې ناموسه نارینه ځخه اهمیت او فضیلت لري. خوشحال وائي

چه په ننګ او په ناموس تر لوړه کم وي

صدقه شه ما قابله روی تر لوړه

ننګیالي تر مړو مه سه دي او که نه وي

ننګیالي تر له هم به ده له تر سوره

په اشعارو کښې د ننګ د کلمې له دغې استعمال ځخه د رحمان بابا مدعا دا ده چه په بې ځایه او ناجایز ننګ لکه چه کله له پښتنو ځخه کیږي، او کله د ننګ په ځای کښې بې ننګي کیږي په دغو انتقاد وکړي. مګر د دغې لطیف او نازک تعبیر فقط د رحمان بابا په قدرت کښې ؤ او بس. وګورئ په دوه اخرو بیتو کښې روی ته په لوړ اهمیت ورکول او تر سوړ ته نه ګوته ځطر کتل لکه چه په پښتو کښې رواج لري په لطیفه پیرایه کښې عدل شوي دي په پښتو ژبه او خپل شعر داسې افتخار کوي

خوشحالان او دولتان مې غلامان دي

زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

په دې شعر کښې علاوه له افتخاره په کنائي ډول ډیره دقیقه اشاره دې خوا ته شته چه خوشحال د مغولو نوکري کړې ده، دې وړ نه په غلامۍ تعبیر کوي او پېغور ورکوي. او په دې شان قوم د پردیو نوکرۍ نه آزادۍ ته رابولي

بیا وائي.

که مې شعر د رحمان مهمند تر غوږ شي

غوږ به نه نیسي په شعر د خوشحال خټک

یو کتاب په سپره بل کښې چا و نه کړ

ای رحمانه چه یې وکښې دا کتاب

ر ماستا وړاندې ار وته به حیران وو
که ژوندی وای آدم خان او درخانۍ

چه بېلتانه د زلمیو سره شته
خوبې پدی خوند کنځو به د قارون دی

دوخت باچاته وایي:

مونږ به نشي ته په حرص بې قناعته
ای په تخت داورنګ زیب ماسته ګدایه

څوک چه په ملي څمکو کښې اوسي

په سبب د ږیرې ږیرې تیښته
همیشه لې سپېره ږېره به تراب وی

د خښکې له غمه قوم د رحمان خوښ دی
چه زړه شی لي له جهانه به شتاب وی

تردی ځایه مونږ د خوشحال او رحمان په قومي نظریاتو وغږېدو خو دومره مایدنور هم ووایو چه د خوشحال او رحمان په قومیت کښې فرق دی رحمان وائي په قومیت کښې مایدسړی پښتون ولتول شي خو خوشحال وایی چه اوما نیت یعنې سړی پښتون دی ددوادو شاعرانو د قومی شاعری مثالونو ته که فکرو کړی شي نو دغه مسئله ښه واضحه ده

تردی وروسته به د خوشحال او رحمان د شعر په لحاظ خواږو ګړېږو

دخوشحال شاعری د فورم په لحاظ تر رحمان بابا وسیعه ده دخوشحال په شعر کښې غزل، قصیده، مستزاد، رباعی، ترجیع بند، مسدس، خفیف، لوی او هر قسم بحرونه شته. مګر رحمان بابا عموماً د غزل په زمینه کښې پوهن کړی. پو څو قصیدې هم لری. غزل لی هم عموماً له یو څو بحرونو څخه تجاوز نه کړی رحمان په غزل ګوییه کښې حافظ ته ورته دی خوشحال د سعدی د «ای کاروان آهسته رو کارام جانم می رود» په شان ږیر مسلسل غزل لری.

د رحمان غزل د حافظ غوندی هر بیت بیل بیل مضمون اداکوی. وجه دا ده چه خوشحال د غو مره د کلاسیک په حدودو کښې بند او ایسار نه دی لکه رحمان چه دی. رحمان لفظ لفظ او کلمه کلمه تلی، اهنګ، ترکیب

اورنګ زیب که د ځېلې په تخت ناز یږي
ځپله خو نه هر ګدا لره ځېلې دی

په امید د زلفو و نښتم په دام کښې
روهېلي وم ساده دل په بند و مار ګړ

عاشقي په تیره توره در په لاس کا
نور دعمر او دسکون په ملك نه هو کړي

....

بخوا یې هم وانده ستا په دود سړی وو
نه هم پاچه د ښو په خیر همت کړی

سادی غم عو نه دی انسانه مو نه دی نشی
سور په ځپلو و ینو لعل د نه خشان دی

حرام خو ر د محشو په حساب دی
که په توره یا په تیغ وی مینه نه ی

مینه نه ی و یلی نه و ینه و همه ته
چه نه ی وخپی آر ار نه نه کا هیڅ سړی

له او له نه نه ګی میا آر ادی ده
که مقصود د آرادې لري غلام شه

ره ر حمان د آرادې په طلب کړ ځم
نا ری نه د تور و ر لمو له ر نځیره

په اشعار کښې قو تماك لکه ر مري یم
ولې نه یم د ر مری په ځیر کر نه

هم په مدحه هم په هجو ه بنه پو هیږم
و لی نه یمه په دی چار و خو ر سند

پښتنې معشوقې یادوي :

په ځملو ځملو مې رنړه و ړی نه پو هیږم
اپر یدی ده که ختکه ا لعیات

....

درحالی په سل عمو مو خدای احته کړه
ره نه ولی له تارار کوم که ګو ري

دغه قسم تأثرات دده په شاعرۍ کښې دفارسي شاعرانو دکلام له مطالعې او تقليد څخه پيدا شوي دي

په همدې غزل کښې وايي :

يار مي ماست دی په دکان د حلوا پانو
په شير ينه خوله ئې څکه مچان مشلې

✿ ✿ ✿

که درحمان بابا پام شوی وای چه امرد پرستي په پښتو شاعرۍ کښې عيب دی، نو دا غزل به ئې نه وُ ئيلای. تردې دمخه به پښتو شاعرۍ کښې دغه رنګ نه ليدل کيږي. زمونږ په روايتي اوولسي شاعرۍ کښې مقابل جنس د مقابل سره معاشقه کوي

البته داسې اشعار سپيناً ډيردي چه معار له يکښې د ښځې له خوا دي لکه په لنډيو، نيمکيو، ټکټيو، چاربيتو او دقصو په بارو کښې ا

بوشي چه رحمان له خوشحال او نورو کلاسيکي شاعرانو څخه جلا کوي او دده د شعر خاصه حسابيږي، همه دا ده چه دده شعر ډير رواني او ساده ګي سره دداسې صنايعو، بدايعو او شعري ښکلاؤ حامل دی چه د «سهل الممتنع» درجې ته ئې رسوي. رحمان په داسې ډيرا يه کښې شعروايي چه که سړی وغواړي بري اعتراض وکړي د ګوتې ايښودو ځای پکښې نشي موندلای.

چه منکر پرې اعتراض کولای نشي
دا دی شعر دی رحمانه که اعجاز

✿ ✿ ✿

يا به قند، يا به نبات او يا به شهد وي
هر کلام چه له رحمانه شيده شي

✿ ✿ ✿

په ظاهره خو سړی داسې فکر کوي چه درحمان بابا شعر بس ساده پښتو شعري دی . خوچه سړی ئې دلفظ او معنې په ښېړ لو لګيا شي نو چه څو مره فکر کوي نو هومره ئې خوند زياتيږي .

لکه دا چه :

جام دميو چه درنده په ويښو مومم
او زلال که جګر خون دی له پو هيږم

او وړاندې وروسته هر څه يې څو څو ځله کوري، مطالعه کوي يې، نو بيا يې په خپل ځای ږدي مگر خوشحال خان پر روان مخ ردی نغمه هم وايي، مونږ خو به هم وهي تيږې هم رغړوي، کمزوري هم راغورځوي، او لوی لوی گټان هم پر بل ولي د خوشحال د طبيعت سيند چه روان شي نور نو هر څه په مخه وړي الفاظ ددوه د شعر تابع دي دی نه شي کولای چه د خپل شعر مخه د کوم لفظ يا قافيې په مراعات را ونده کړي. خوشحال پښتو، فارسي، عربي او کله کله د هندي نا آشنا کلمې هم په خپل شعر کښې راولي. خو هندي مهجوري او عربي نه معلومېږي.

رحمان هم د فارسي او عربي کلمو څخه ډېر کار اخلي خو رحمان د فصاحت او ملاحت د اصولو په مراعات کښې له خوشحاله ماهر دی خو بيا هم که ژبې ته بې وگورو د خوشحال پښتو سمت د رحمان پښتو ته سوچه او سپېڅلې ده. صرف دومره ده چه رحمان ډېر مهارت په کار اچولی دی چه د عربي او فارسي کلمې د شعر د حسن او جمال او ودرنې د کمال د پاره استخدام کړي دي خو سره ددې په رحمان باندې اعتراض کېدی شي چه دی ولې دومره د فارسي د تاثير لاندې واقع ؤ.

كلاسيك شاعري

زما مراد د کلاسيك شاعرۍ څخه د فارسي په رنگ کلاسيك شاعري ده دا قسم شاعري لکه چه د معمولو په دوره کښې په پښتو را گډه شوې وې د پټې خزانې له مطالعې څخه څرگندېږي چه دا مير کروړ له وخته بيا د بايزيد روښان پورې د پښتو شعر څه څه د عربي شاعرۍ څخه متأثر ؤ. ليکن بيا هم په پښتو کښې خپل روايتي رنگ ساتلی شوی ؤ د ژبې، الفاظو، محاورو، سند احت دورن آهنگ، او خيال نندي روحيه اکثر؟ ملي او قومي ده مگر د ميرزا خان انصاري نه را دې خوا ده كلاسيك رنگ قوي شو. خوشحال کمال ته ورساوه او رحمان د اعجاز درجې ته. عبدالحميد ماشوخېل پکښې د هندي سبك لښې پيدا کړې، او کاظم شيدا پرې مهر ولگاوه.

خوشحال آزاد ملي شاعر دی. او رحمان د تصوف، عرفان او د ديانت سمت پابند، مگر بيا هم ددوه په کلام کښې د امر د پرستۍ څېرې اثار موندلای شو لکه چه وايي

د مو خطو به صحت مې زبان نښلي
چه د دام لاندې دانې خوري مرغان نښلي

دا بیرایه تر ده وروسته شاعرانو لکه حمید اوشیدا له ده محمه رده کړي ده داطریقه داظهار دخوږوالی ، لطافت اودهس ته درسیدلو ډیره مؤثره لاره ده . لکه دا لاندی مثالونه

که دي زلمي په مخ پیچ و تاب شوی سایی
ویسته څـه طاقت لـری د اور له تـاب

✿ ✿ ✿

خیال د زلفو ئی زما تر زړه چاپیر شو
که تـر گـنجه چاپـیر شوی مار دی دا

✿ ✿ ✿

زو بیما ئی می په طلب کسی شوه حاصله
شپه او ورځ لکه آفتاب پرلار رواں یم

✿ ✿ ✿

خو برو بی دلبری څه په کار نه ده
لـکه ونه بي مـیوي پـه باغو پـ، ره

✿ ✿ ✿

ما قـبول د رقیب بـار کـړ تا د یاره
سوداوریان په دي جهان کسی خوراو ورورودی

✿ ✿ ✿

سره ددي چه درحمان بابا کلام دگل او سمبل په باغو کسی نستي اودعشق سوز و گداز ، مینی اومحبت ترجمان دی ، خو په خپله خوږه وینا اوزنګینه بیرایه کسی ډیري اعلی ، احلاقی ، سیاسی اوحیاتی نکتي هم ځرګندوی ـ حلاصه داچه خوشحال په قوله ممی شاعردی خودرحمان مقام له شاعره پورته دی ،

کـابل ـ میوند واټ ـ حادم مهمه

۱۸ داسد ۱۳٤۵

مدعا خو دومره ده چه هر راحت د رحمت په بدل کښې لاس ته راځي مګر دی وائي:

«د مینو جام چه د رندو په وینو لاس ته راځي نو ر لال ئې وبولم که جګر خون؟»

په دې ادا کښې تلازمات، مصطلحات په داسې شان راجمع شوي دي چه د شاعر په لوړ تخیل او د ژوند په عمیقه مطالعه دلالت کوي. د مینو جام، د رندو وینې د شربت د سرو او د نو ګیلاس، د ځیګر وینې - د زړه په وینو حاصلیدل، ځګر خون ګڼل! - رحمان بابا ټول ژوند او د ژوند ټول عیش و عشرت چه خلك ورپسې مري دي، وجدان او ایمان پرې ور کوي، د مینې دیو جام یا د شربت دیو ګیلاس سره تشبیه کړی دی، وائي چه دا جام او ګیلاس نې د رندو او ځیګر د وینو په لاس نه راځي

نو مدعا ئې دا ده چه دا ټول ژوند په دې ځیګر خونې ارزي؟ او مخصوصاً چه سړی پرې ورور او اشنا هم خوا بدي کړي!

دا تعبیر یعنې (جام د مینو) ئې ځکه خوښ کړی دی چه ښکلی دی نو له دا چه ډیر حقیقت دی انسان چه هر څو مره رحمت و ګالي ځان او نور هلاك کړي حاصل ئې یا یو ګوله مړی ده، یا یو ګیلاس اوبه! نور خو هر څه تقریباً له حاجته زیات دي نو انسان ځله دومره حرص کوي چه ځان هم بدبخت کړي او نور هم! رښتیا چه دا یو سوال دی چه د انسان زړه ته راځي خو دومره عمیق دی چه فیصله یې یکې نشي کیدای نو ځکه یکښې بابا د سوال رنګ غوره کړی او فیصله ئې د انسان ضمیر ته پرېښې ده!

دویمه مصرع یکښې داولي د توضیح دپاره د تمثیل په ډول راوړل شوې ده په دې شعر کښې داهم د بلاغت یوه کرشمه ده چه شاعر د ځان سره خبرې کوي او بل چاته خطاب نه کوي! همدغسې یوه بله نمونه

ښادي غم غوندې اسانه مونده نه شي

سور په خپلو وینو لعل د بدخشان دي

د رحمان بابا د شعر یوه بله خاصه تمثیلي پیرایه ده ددې دامعنی ده چه د رحمان بابا د غزلو اکثره اشعار داسې دي چه اوله مصرع یکښې لکه دعوی داسې وي، او دویمه داولي د توضیح، تمثیل، او اثبات دپاره وي

خو د کارګر هغه لاسونه چه په کار کې ټپاکې شوي وي د ښکلولو او مچولو وړ بولي او کاسب ته د خدای دوست وائي

حضرت عمر د بیکاره سړي دماغ د شیطان کورګڼي څکه نو به بازارو کښې ګرزیده او بیکاره خلك به ئې کار ته ورټېل او ویل به ئې زه هر چا ته د احترام په سترګو ګورم ، مګر دا چه ما ته وویل شي چه یو سړی کار او مسلك نه لري د هغه احترام زما په نزد کمېږي

حضرت علي ویلي دي چه که له تاسي څخه یوځوك رسۍ واخلي او لرګي ټول او پر خپلو اوږو ئې بازار ته یوسي خرڅ ئې کړي چه خپل شرف او آبرو پرې وساتي تر هغه سړي ډېر ښه دی چه بیکاره ګرزي او ګدائي کوي

په دې ډول د شرق او غرب ډېرو پوهانو او د بشر لارښوونکو په ژوند کې د کار او زیار اهمیت په مختلفو زمانو کې په مختلفو عبارتونو څرګند کړی دی او هغه اولسونه چه د خپلو لارښوونکو په لارښوونه ویښ شوي او د کار او زیار خواته ئې هڅه کړې ده هغه د تمدن لوړو مدارجو ته رسېدلي دي ، او د سائنس دا نننی حیرانوونکي موفقیتونه د همدې کار او زیار نتیجه ده

خو یواځې پښتني دنیا ده چه لا اوس هم څه رنګه چه د نوي ژوند او نوي عصري عصر سره ښائي د کار او زیار د حقیقي مفهوم او د خپل اهمیت سره نه پوره اشنا ده څکه نو د خپل پرمختګ په لاره کښې تر نورو ویښو دنیا وو وروسته پاته شوې او په ژوندي سر د نورو ژوند یو خوشه چین ده

د کار او زیار په لاره کښې د پښتنو دا پاته کېدل که څه هم تر یوه ځایه نه د پښتنې خاورې د جغرافوي موقعیت د اشکالاتو او تاریخي ساه ورکو پېښو او د خارجي متجاوزینو د تجاوز د شخړو له کبله وي ، خو له بلې خوا تر ډېره حده د عصري پوهې نه لرل ، او د پوهې په اساس کار نه کول او زیار نه ویستل د پښتنو د وروسته پاته کېدلو اغېزه ناك عوامل دي .

خو عصري پوهې ته د پښتنو مخه اړول او یادونې د کار او زیار په اهمیت پوهول او دوي ته د تعمیري ګټورو کارونو زمینه پیدا کول د پښتنو مشرانو کار دی چه خوشحال خان هم یو له دغو مشرانو څخه ګڼله کېږي .

د خوشحال په وخت کې د پښتنو مشران یا هغه خانان وو چه کار او زیار ئې د خپل شان او خپلې کورنۍ د پاره عیب او عار ګڼله چه حتی د دوی د لاسو پنځل

ليکوال ښاغلی عبدالرؤف بېنوا

کار او زيار

د خوشال په نظر کې

د مترقي ژوندون اساس پر کار او زيار ولاړ دی او د ښتنو او ولسو اقتصادي پرمختګ د کار او زيار نتيجه ده ځکه نو کارګر او زيارکښ انسانان د مترقي ملتو د ښه ژوند خوندوونکي ګڼله شي

ځکه چه بې کاره او بې زياره ژوند خوار، بې خونده، او بې واکه وي همدا شان هغه اولسونه چه کارګر او زيارکښ خلک نه لري، تل بې سيکه، ټيټ او د نورو لاس ته اړ وي

دوېمې دنيا انسانان خو لا له لرغونو زمانو نو څخه د کار او زيار په حقيقي مفهوم پوهېدلي دي او زيار ئې ويستلی دی چه د کار د پاره مساعده زمينه، او د کارګرو د بدني فعاليت او دهغې ودې د پاره اسان وسائل پيدا کړي دوېمې دنيا يو پوه وائي ددې د پاره چه د ټولنې حق ادا کړو، يوازې د کار په وسيله دغه حق ادا کېدای شي

په دې اساس نو په يوه صالحه ټولنه کښې بايد ټول د ټولو د پاره کار وکړي که دا کار په بدني فعاليت اړه ولري او يا په فکر او ذهن ، ژان ژورس يو غربي پوهاند په خپل کتاب کښې چه نوی انکر ، نوموړی ليکي چه

هيڅکله ترڅو بلله شريفه هيله پيدا کېدای نشي چه يوه داسې ټولنه منځ ته راشي چه هلته يوازې کار حکومت وکړي نه زور او استثمار

بل فيلسوف وائي :

فلاسفه وو ، ددې دنيا زرار تعبيرونه کړي دي ، خو اصلي هدف دادی چه دې جهان ته يو ټول تغير او بدلون ور کړ شي او دا د کار او زيار په اثر کېدای شي.

سقراط ويلي دي کار د نېکمرغۍ او نېکمختۍ چينه ده د اسلام لارښوونکو عملاً د کار او زيار اهميت مسلمانانو ته ښودلی دی حتی حضرت محمد (ص)

بیا بیا دي ئي د خانانو، ملکانو، امیرانو، شیخانو، بیا چه ملایانو او شاعرانو دا
باخوا لي نه شوای زغملای نو ځکه ئي د مخه تر هغه چه د خپل قوم او اولس مخه د کار
او زیار خواته واړوي او د خپلو نورو ډیرو اصلاحي او اجتماعي افکارو په ترڅ
کښې خپل خلك د کار او زیار په اهمیت پوه کړي لومړی ئي د هغو طبقاتو په عقیده
لاس پورې کړی دی کوم چه ئي په اولس کې د کار او زیار مانع ګڼل، او هغه
داسې معرفي کړي

ملائي په ډیر تحصیل شي — شاعري ده له حکمته
ملکي خو باد شاهي ده — خاني هم له سلطنته
پیري لا لویه پایه ده — ده له ډیره ریاضته
مفت آسان ګڼي داواړه — پښتانه له جهالته
هر سړی ورته ملا دی — چه په یاد کا څو آیته
چه پیرو هغه شاعر دی — قافیه غلطه کښته
هغه خوك ورته ملك دی — چه کور لمې وړي له محلته
خان هغه چه تر مور پر پورې — په رانګو کښې وهي لته
پیر هغه چه پسې درومي — خوسرتوري په دالته

که څه هم خوشال خان پخپله هم خان او د خان زوی و، لکه د مخه چه مو وویل
د هغه وخت خانانو او خانزادګانو هیڅکله ځانونه محتاج نه ګڼل چه کار و کړي
او زیار و باسي. بلکه نور خلك ئي محتاج ګڼل چه د دوی د ګټې د پاره کار و کړي
او د دوی د استراحت د پاره زیار و باسي، خو د خوشال نوع په هغه کښې دی چه
پخپله خان او خانزاده دی مګر بیا هم د خپل لوړ فطرت او حقیقي انساني شعور په
بنا د خانانو د باوړو خوبونو مخالف دی، ځکه نو وائي

چه خانان دي یا امراګان دي — په هند کښې ګرځي په هر مکان دي
عوضي هیو به د مظلومانو خوري — رښتا تر هغو واړه ددان دي

بل ځای وائي

وځانی و ته ور ځمله هر هیڅ نه — و عالم و ته پیدا کړه درد سر
خانی کار د هر چا نه ده د هغه ده — چه صرفه ئي نه په زړوي نه په سر

دا روپا د پښتلمي پېړۍ په ادبیاتو کې راغلي دي هغه وخت چه آدم یوم و اهه
او خواپل خوند او د اصیل زاده چیری و ؟

هم د نوکرانو کارو، یا هغه محلي امراګان وو چه ځانونه ئي کار او زیار ته اړ نه ګڼل، بلکه د نورو انسانانو څخه ئي د مریانو او وینځو په څیر کار اخیست هغه هم یواځې د ځان د خوښۍ او استراحت دپاره

یا هغه شیخان او پیچه ملایان وو چه اکثرو به ئي خپل قوم ته یواځې د سرسایي ورکړلو او د آخرت د عذابونو قصې کولې. د ژوندو د دنیا ئي دارالعمل او د مړو دنیا ئي دارالبقا بلل، او خلکو ته به ئي د دنیا د ترک او د کار او زیار څخه د لاس اخیستلو وعظونه کول، او یا داسي حکمرانان وو، چه د هغوی کار یواځې او یواځې په پښتو سترګو په زور او ظلم حکمراني کول او د خپل اقتدار ساتل وو او دا تر هغه وخته ممکن و چه د دوی قوم او اولس ناپوه او د خپلو حقو د کار او د خپلو ځمرو له فکري قوت څخه ناخبره وای.

په دې منځ کي یو بله ډله هم وه دا ډله مشران نه وو خو خلکو ئي خبرو ته غوږ نیوه دا ډله د شاعرانو وه، مګر د دې ډلې هم هغه وخت د خپل ماحول او محیط تر اغیزې لاندې زیاتره یا د ځان د ساعت تیرۍ او مجلس آرایۍ د پاره د ګل او بلبل عیش او نوش، مجازي عشق او سور ممارلي کولي او یا به ئي د نورو د خوښۍ د پاره د مدحي او ستاینې سندرې ویلې، او یا به ئي د پلرو د و یا د ورو په یاد ونو خولې ستړې وي او یا به ئي د مړو وېرنې او مرثیې لیکلې یو څو محدود شاعران د پوهې او علم خاوندان وو چه هغوی هم په تصوف او روحانیت کي دومره ډوب شوي وو، چه هغوئي کار او زیار ته فکر نه کاوه بلکه لا به ئي ویل

که محنت او مشقت دي خو د دین دي به کار نه دي بل محنت په دا دنیا

وخت په ژوند کي نه ئي ژوندیو ته د ځان و ژړلو باري هم و هلې لکه چه وائي

په ژوند و مره چه د مرګ له غمه خلاص شي انسان کار دي کي په ځان نا ندې ګران ولي

د هغه وخت د ځینو شاعرانو په فکر کار او زیار د آزادۍ نقیض ناله کیده چه ویل ئې

آزادي او کار و بار دي سره لري لاس له کار و باره و باسه که کار کړې

حتی رحمان بابا به لا هم کله کله بې د دین له کاره بل هیچ کار ته په اهمیت نه قایلېده او ویل به ئې

ای رحمانه، که څه کار دي خو د دین دي نور کارونه بې بنیاده بې اساس

خوشال خټک چه یو حساس پښتون مشر او قومي شاعر و پر خپل قوم او اولس

خپل مال په ترس په صرفه په نیم خوري
د بل هم نکړي که درست په نیم خوري
په کور د کونډې رنډې د یتیم خوري
ملا د اولې اور د جحیم خوري

خوشال دخپل وخت له هغو بې عملو شیخانو څخه هم سرټکوي چه نه پخپله کار کوي او نه بل څوک کار ته پرېږدي - دی وائي

که شیخي را هډي غواړې	پخپل لاس کې دې لا لا
لنګې ور دستار په سر کړه	سر وهه په مصلا
یا مسواک کښېږده په سر کې	پائي وڅو ممه تر ملا
په تسبیح خوځوه شونډې	نور ټګي کوي کعلا

بل ځای وائي :

دا تاراج لکه شیخان کا نه په مکر	ابریدي نه دي دا هسې تاراجي
دا ئي سحر د ما بل دمخکې را اوړه	چه درست اوس په کوټ کې وما لیده حاجي
صفائي د زړه په کار ده نه د ږیرې	څو په ږیره ګرځوي شا نه عاجي

بل وخت تر بې عملو شیخانو داسې په لاحوله تېرېږي چه وائي :

هر چېرته چه ګرځي په لاحوله ترې تېرېږه
سل ملا په زړه کښې سل دامي تسپې په غاړه

بل ځای وائي :

ګوتې ومښه په غوږو ترې تېر شه
دا ګر زر د ګروهنه کا زړه په درم کښې

په دې ډول یو خوا ته خوشال دخپل وخت هغه مشران غندي کوم چه د قوم او اولس د بېرته پاته کېدو سبب شوي ، او د حقیقي کار او زیار مانع ګرزېدلي دي ، او بل پلو ته دخپل قوم او اولس څخه د کار او زیار خوا ته اړدوي ، او پخپلو اشعارو کې د نورو اصلاحي او اجتماعي درسونو په ترڅ کښې د کار او زیار اهمیت په زړه راز ادبي عباراتو څرګندوي .

تر هر څه لومړی خوشال غواړي د پښتنو له دماغونو څخه د یأس او نا امیدۍ مګروته لیرې کړي او پر ځای ئې د سعې او عمل ، امید او آرزو تخمونه وشیندي .

خوشال هم دسې پتوب معیار کار نو لی نه اصل او نسب لکه چه وائی

مرد نه شي په گفتار — خو پیدا نکړی کردار
نامرد فخر په نسب کا — مرد نه مورلری نه پلار

بل ځای وایي :

بهتري په خوی خصلت دی په خوشاله
خام طمع دي په نژاد نشي بهتري

خوشال پواري خانان نه عمدي بلکه ملکان لا ترخانانو بدترگڼی وائی :

که په کور کښې مال دولت لري ستر گوري — ملکان ئې ترخانانو دی مردار
حقه چار نه د عزیز کاندی ناحقه — که په نهی رشوت مومي یو دینار

بل ځای وایي :

ډیر ئې ملکان دي پکښې سه ملك هغه دی
هر څوچه بې ښکې کا د چا نهی رشوت خور پنه

کښېږي په مسجد کې دسود دنو کا خبری
یادخور، دلور، دولوروتو وبل کړینه

همدا راز خوشال همه کسان چه حقیقي ملایان نه وو، خودمادي او نفسي گټې دپاره ئې ځانونه په ملایانو مشهور وول، او د حقیقي ملایانو رنگ ئې نه اوه داسې غندي

نادیده چه منبه لسولی — ځان ملا کاندی مشهور
سمله تول کا څو دره منه — تر خوا جنگانو شي مغرور
دروغجن ترڅو په ورشي — دکا نل کاندي مذکور
پټې ډکې پیالی احلی — ښکاره نه خوري پوانگور

بل ځای وایي :

کتابونه د اسمان دځمکې لولي — په عمل ئې فرق دځمکې داسمان دی
په باطن ئې زړه گمان سره لړلی — په ظاهر وبل پوه مسلمان دی
په خبر کې ئې فیض موندنه شي — مذهب په قول، عهد په پیمان دی

بیا دغسې ملا ته خطاب کوی وایي

که هیڅ کار و بار دی نه وي درته وایم — هسې مه کښېنه بیکاره بابه کار

دخوشال په فکر هغه څوك چه کاهلان دی که څه هم پاچهان وي دولت نه نایلي دده په نظر هوښیار خلك هغه دی چه په کار بوخت وي لکه چه وائی

کاهلان دی چه احمقان دی — دولت نه نایلی که پاچهان دی

دولت د دین دنیا د چا دی — چه هوښیاران دی په کار چپان دی

دخوشال په زمانه کښی زیاتره پښتنو کسب او کار ته نه سپکه سترګه کتل کار او زیار ئې د کښتې طبقې کار او د لوړې طبقې عار ګاڼه کارګره او صنعتګره طبقه لکه پښ ، ترکاڼ ، زرګر ، څڼګر او نور ئې د اولس تر عادي طبقې کښته ګڼل ، حتی تجارت او دکانداری ته هم زیاترو پښتنو سر نه کښته کاوه او دا ئې د هندوانو کار شمېره ، ځکه نو خوشال چه نواری ئې کار د خلکو تر منځ د طبقاتي اختلافاتو د لیرې کولو او د اجتماعي عدالت او مساوات د منځ ته راوستلو وسیله ګڼله بحپل کتاب فضل نامه کښی چه په (۱۰۸۹ ، ه) کال ئې د عوامو د پوهولو په غرض په خورا ساده مثنوي منظوم کړی او زیاتره ئې دیني او اجتماعي لارښوونې دي د کسب او کار داسې ستاینه کوي،

هم واجب دی هم مباح دی	کسب کښله نا صلاح دی
چه حلال کسب څوك کاندی	صد رحمت په هغو باندی
چه له خپله کسبه نه خوري	که ولي دی کله به خوری
څه په کسب چه حاصل کا	خپل عیال واړه خوشدل کا
دا تلاش ئې که جسر دی	له جهاده برابر دی
هره شپه چه څملی ستړی	په سبا پاڅی خوب وړی
چه له خوا به را بیدار شی	د مجاهدو سره شمار شی

څنګه چه په نوره ټولنه کښی زیاتره فساد او جنایات له بیکاری څخه پیدا کیږي نو خوشال هم د بیکاری او بې کسبی اړتو نه داسې څرګندوي

چه له کسبه بې حاصل وي	دا دری چاری نه ئی تل وي
له هر چانه طمع خواست کا	کس نا کس سره نه ناست کا
مروت نه څخه لاړ شی	برکت نه څخه لاړ شی
خوشامند به د هر چا کا	یا به خوارشی یا به غلا کا

لکه چه وائي

که غوټې ډېرې وهي په لاس به دُر شي

چاوي داچه په دریاب کښې گوهر نشته

بیا نو د طلب درس داسې ورکوي

په طلب کښې که سستي نه وي نا ورکه

د ژوندون اوبه نه بیا مومې نه کام

بل ځای وائي

د کیمیا د بوټي گل کله مونده شي

چه د پښو تلي گلگون نشي په غوښته

او پښتنو ته دا تلقین کوي چه بې زیاره، بې زحمته، بې مبارزې او بې حرکته څوک مطلب او مراد ته نه دي رسیدلي او نه به ورسیږي لکه چه وائي

چه مړي حیلي منگلي نه کا کښلي   هوښیار نه وي څړ نې غوښې ورته تلي

مرغلره د دُر مرجان هله ولجه کا   چه قبول کا نډي د بحر څپې چلي

عاشقان چه ترسر تیر شي هله کښل کا   د دلبرو ښتي خولي لکه نجلي

باز چه والوزي له ځالي هله گوري   د ښکار نو سا پسته ستر گي کښلي

چه داور بحري نادسره یوځای شي   بیا ها له کا په ملکو نو لمبې بلي

چه سیلاب دغره له سره نه روان شي   بیا ها له بیاني په مځ ډېري ځځلي

خوشال راحت دمحنت نتیجه بولي خو محنت او زیار ویستل د خنگیالیو او منگیالیو مېړونو کار گڼي ځکه نو وائي

چه خنگیالي دي دولت هغه مومي   چه منگیالي دي عزت هغه مومي

دا دوه ایده توکه سره تړلي دي   څوك چه محنت کا راحت هغه مومي

دامید، طلب، زیار او محنت تر ستاینې وروسته خوشال خپل اولس ته د کار اهمیت ښیا نوي، او دده له وینا څخه څرگندیږي چه د خوشال په وخت کښې هم بیکار رواج درلود او که څه هم خوشال له بیگاره نه دوه کړي بیا هم تر بیکارئ حتی بیگار هم ښه گڼي. دا ځکه چه د خوشال په نظر باید یو ساعت هم بیکاره تیر نه شي او په یوه قوله کښې باید بې رنځورانو نور ټول کار وکړي دی وائي

هر ساعت چه پرڅا ځي هسې بیکار   تر هغه نه زه لا ښه گڼم بیگار

رنځوران که کار و بار نه کا معذور دي   روغ سړی نه ولي نه کا خپل روزگار

بل ځای وائي

دوه زړونه چه یو شي غر نه هم پاره پاره کا
ځار تر یکرنګي چه نه تونه راښکاره کا

بل شرط چه خوشال د کارګر او ریار کس د پاره ټاکلی دی هغه په کار او ریار
کي د مشکلاتو سره مقابله کول او د سختیو په وخت کښي مړانه او استقامت ساتل
او خپل مطلب ته ځان رسول دي چه وائي

په جهان د ننګیالي دي دا دوه کاره
یا به وخوري ککري یا به کامران شي

یا وائي تر مطلبه به پوري شرط د رسیدو دي
که تمامه لار په وینو شي آلوده

د مشکلاتو او سختیو پر وخت د استقامت ساتلو مذکوره ځکه سره بیانوي

واړه زړونه مراعت وي په سا دي کي
چه په غم کي مړ نه شي زړه هغه

بل ځای وائي

په جهان کي که مردان دي هم هغه دي چه و سختي و ته ورپېښي ځانونه

خوشال د کار او ریار نه موفقیت کي شوق او سعی هم ډېر ضروري شرط
ګڼي ، ځکه نو وائي

رسول د طالب څوك کا تر مطلبه درتي وښایم په ګوته هغه شوق دی

بل ځای وائي

د مردانو په معراج نه ورتلی نه شي چه د سعی کوتاهي لري په زړه کي

په کار او ریار کي قطعي تصمیم هم د ډیر اهمیت لوی عامل بولي او
د دوه زړه توب او وسواس نتیجه ناکامي ګڼي چه وائي

ګیدړ هغه زړه دي وهم وسواس لري مزري زړه ور دي کله هراس لري
هغه مزري نه دي هغه ګیدړ دي په کار و بار کي چه زړه ګوریاس لري

خوشال یواځي د کار د آغاز خبري نه کوي بلکه د ماهتو کار ګرانو دا فریضه
ګڼي چه د کار د انجام فکر هم ولري ، او یو کار چه آغاز کړي نیمګاره ئي پرې
نه ږدي ، لکه چه وائي

خوشال خپل اولس ته د کار او زیار سپارښتنه کوي خو دی د کار د پاره ځینې شرطونه هم لري چه تر ټولو لومړی او مهم شرط ئې د کارګر او زیارکښ انسان د پاره لوړ همت درلودل دی ، چه بخپلو اشعارو کښې ئې ځای په ځای د همت داسې ستاینه کړې ده

که اسمان دی د زمري نه خوله کښې ورکا
د زمري په خوله کښې مه پرېږده همت

نل ځای وائي

په بلند همت کې پورته پورته درومي — سکته سکته ځي سړي په پست همت کې

د خوشال په نظر بې همت سړی له هره کاره سر غړوي او همتناك سړی هر کار ته چمتو وي ، لکه چه وائي

بې همت سړي له هر کاره غړېږي
همتناك سړي هر کار ته ولاړ دي

د خوشال د کار بل شرط د کار او زیار په لاره کې مشوره او مصلحت کول دي ځکه نو وائي

که سړی په مصلحت کې برابر شي
زه ضامن چه دده کار به ابتر نه شي

په دې ترتیب د کارګرو مشورتي حرکت ته په غیر مستقیم ډول ضرورت ښيي او دده په نظر هغه کارګر چه په کار کې مشوره نه کوي د کار نتیجه نه ئې ندامت وي دی وائي

هر څوك چه کار کا بې مصلحته — هیڅ نه وینه خوري بر له دولته
که بحث ئې هر څو کار و بېسار کا — حاصل به نه وي له ندامته

او د مشکل کار پوارې چاره تدبیر او مشوره ګڼي چه وائي

چه کار د چا مشکل شي په تدبیر و بله کښېږي
دا کار څه اسان نه دی دا مائي ورلره نو به

خوشال د کارکوونکو دیووالي او اتحاد طرفدار دی او د کارکوونکو اتحاد د کار د بریالیتوب اغیزناك عامل شمېري ، لکه چه وائي

پنځه ګوتې دي که یو نه وي — د نورو ګوتو چار به دې څه وي
دلاس خوبی ده په پنځه ګوتې — چه سره خوږ وي کار به دې په وي

ملکه خوشحال خان د هوښیارۍ په وخت د کار او رېبار د هنر په مرسته اسمان ته ختل ممکن بول لی دی ، او هغه فکر چه اسمان ته له ختلو څخه ممکن دی دا شان رد وی

وائی لار دختو نشته واسمان ته ... زه به لار درته پیدا کړم په هنر

خوشحال په دې نظر به دی چه که د انسانی همت کمی نه وی اسمان ته الوتل څه مشکل کار نه دی ځکه نو وائی —

وې مې خپلکه نه آلورم واسمان ته

وې بې دا شی د همت په پر و بال

او په دې لاره کی خپل همت داسی ستائی

چه ولمك سره سر نا سی ... به همت کښې هغه زه یم

بل ځای وائی —

به اسمان نا ندی پیری کړم

د همت پسه پرو بسال

خوشحال د کار او رېبار په لاره کی د همت سره سره د وسایلو تهیه هم لازمه گڼی ، چه وائی

چه مرغو نه و زر نیا مو می الوری

هیڅ مقصود تر سره نه څی بی اسبا نه

بیا وائی —

اول سه شهپر پیدا دالو تو کړه ... بیا له پسه الوتنه کړه و اسمان ته

خوشحال چه دادومره د کارگرو ستاینه کوی د دهقانانو طبقه ئی هم هیره نه ده ، او دا طبقه هم د کارگرو په څیر سره په درنو کلمو ستائی چه وائی:

څوك چه چوڼی د د هقانی خوری ... حواله د خورو د مهمانی خوری

چه ئی په ظلم خوری واله دی زهر شی ... که سالو نه د سلطانی خوری

بل ځای دهقان په دی انداز د خپلی دهقانی کار او رېبار ته پاڅوی ، ورته وائی:

تخم شته هم ځمکه هم قلبه لری تیاره ... هر اسباب دی حوله دی ولی نکړی کار د کر

د اوه د کار او رېبار موضوع د خوشال په نظر کی چه په ډېره لنډه توگه ئی یادونه وشوه او ځکه چه وخت لنډ ؤ ، که په دی لاره کی زما دا څیړنه نیمگړی وی بښنه غواړم

مردان همه دي چه همتناك وي — د ننګ په کار کي چست و چالاك وي
کار چه آغاز کا انجام ئي فرض ګڼي — په رنځ هم پاك وي پخوا له هم پاك وي

خوشال په دې نظريه دی چه په يوه قوله کي چه کار همه دی چه د نورو همنوعانو د ګټې د پاره وي ، او دليل ئي هم داسي بيانوي

وګړي واړه کارونه خپل کا — مردان همه دي چه کار د بل کا
څوك چه آرام ګڼي د نيکو نام ګڼي — د خوږ ورځونو دارو به تل کا

په هوا کي د الوتلو او خارجي فضا ته د تللو فکر له خورا لرغونو زمانو څخه د بشر په دماغ کښي ځاي نيولی دی ، تر ميلاد د مخه پنځه پېړۍ څخه چه کيکاوس خپل بالون د څلورو وږيو عقابانو پر اوږو وتاړه او د بالون پورته ئي غوښي وځړولي چه عقابانو به د غوښو په تمه پورته ځغله کوله او بالون به ئي فضا ته خيژاوه نيا د دي عصر تر سپوتنيکه پوري انسانانو ډيري تجربي کړي او په دي لاره کي ئي په سوو قربانۍ ورکړي دي چه په همه قربانيو کي زر کاله پخوا افغانستان هم بي برخي نه دي پاته شوي ، او د مثال په توګه د ۳۹۳ ه او ۱۰۰۳ م کال پېښه د يادولو وړ ده چه په خراسان کي اسماعيل ابو نصر جوهري ځانته د الوتو وزر جوړ کړه ، بام ته وخوت او خلکو ته ئي نارې کړې چه ما بي سابقي څه جوړ کړي ، اوس زه اوس د ستي الوزم د نيشاپور خلکو ور ته کتل ، ده د وزرګو د وزرو سره ځان له بامه را ارتاو کړ ، خو اختراع ئي ناکامه او دی د الوتلو د فکر قرباني شو

تر همه وروسته نوري هم د دنيا د کار او نيار له لاري په دي لاره کي خپلو تجربو ته ادامه ورکړه خو افغاني دماغونه نوري روحاني خوا ته متوجه شول ورو ورو فضا ته الوتل ور ته نا ممکن ښکاره شول او تر څه وخت وروسته ئي نا روا هم وبلل ، او په دې ترتيب ئي د آسمان لاره عقيده نا ځانته و تړله او عمومي فکر دا شو چه

« آسمان ته لار د ختو نه شته — د ځمکي سر قول را ته ملي لمبي شو نه »

مګر نوري د خوشحال رسا او د وررس فکر ؤ چه آسمان ته ئي ختل ته ممکن بلل ، او دده دا فکر د حافظ د فکر په شان نوري شاعرانه تخيل نه ؤ چه د مستي په وخت کي نه ئي ويل

ګداي ميکده ام ليك وقت مستي بين — که ناز بر فلك و حکم بر ستاره کنم

انسان او ادبیات ته داد وه مفهومه یو له بله څخه هیڅ وقت نه جلا کیږی خصوصاً شعریت چې له کومې واسطې له انسان سره کلک تړلی دی شاعری یې واسطې د انسان له زړه سره کار لري، د انسان روحي اوغاوې آرزوگانې او خواهشات په شعریت کښې ډیر ښه او واضح بیانیږي مونږ ویلی شو چه که شعریت نو عقلي نار وي نو انسانیت پیژندنه دغه نار وزرونه کمال کیږي دا انسکار نه خبره ده چه د نار دوه وزرونه څومره قوي او مستحکم وي نار هغومره دوامدار او جګ پرواز کوي شعریت او هیومانیزم هم عیني داسې نسبت لري

په پخوانی زمانه کښې هم داسې وو اوس هم داسې دي او په آینده کښې به هم داسې وي

یونانی هرودوت، ایرانی سعدی او خیام، انګریز شکسپیر او بایرون ارلنډ بوائی هم، آذربایجانی فضولی، ارمن سایت نوا، روسی پوشکین او تولستوی، قزاقی آبای قونانبای، هندی ټاګور، پاکستانی محمد اقبال هم انسان پرور یعنی هیومانیست ادیبان فاضلان او فیلسوفان تیر شوی دي

نوی نه دغو فیلوهیومانیستیک افکارو سره له ملي سرحداتو او محدودیتونو څخه خارج شوي او بین المللی بڼه ئې اخستې دی یعنی بین المللی شوی دی دوی تر اوسه مونږ ته لکه زمونږ دانشمند پلرونه او نیکونه د انسانیت درسونه را کوي د نیکۍ او بدۍ د دوستۍ او دښمنۍ، د کښې او ناکښې، د ظلم او مظلومیت، د آزادۍ او غلامۍ غمونه د انسان ژوند کولو لاره د دوی په آثارو کښې سره بیان شوی ده

له دې کبله دوی که څه هم پخوا تیر شوی دی اما بیا هم له مونږ سره روحاً او معناً یو ځای ژوند کوي، له مونږ سره یو ځای کار کوي او حقیقي انسانیت او عموم بشري پرنسیپونو ته یو لوډ باره زمونږ عالي جناب محاذ له کښې له مونږ سره اوږه په اوږه ګډون کوي

زمونږ پښتو ادبی نړۍ د ښت اوسه ګانو بوی او لس او مان ملت هم د دنیا د نورو خلکو په قطار کښې رحمن بابا، خوشحال خان خټک، علي خان خټک، عبدالحمید کاظم خان شیدا غوندې پیاوړی انسان پرور شاعران منځ ته کړی دی دوی په قطار کښې رحمن بابا او خوشحال خان داووه برجسته شخصیتونه د پښتو په ادب کښې ځان له مهم ځای نیسي مادې کمترانس کښې اساساً د خوشحال خټک د رباعیات تر غطر لاندې نیولی دی چه دده په دوو کلیاتو (پیښاور ۱۹۵۲، ۱۹۲۸) کښې

ليکوالی: ښاغلی عارف عثمان

دخوشحال خان په رباعیاتو کښې

هیومانیتیک افکار

گرانو او محترمو دخوشحال خان دسالگرې گډون کوونکو!

زه غواړم چه په دې شکلې محفل کښې لومړی د افغانستان له حکومت او د افغان له ملت نه د زړه له کومې تشکر وکړم ځکه چه د پښتو ستر او د زړور دست شاعر او زړه ور انسان خوشحال خان خټک سالگره ئې جوړه کړې ده او موږ ئې اوس تاسو سره دخوشحال خان د پیاوړي نوم یادونه کوو

له دې نه وروسته زه د احمره دخپلې شاگردۍ وظیفه گڼم د خپلو گرانو استادانو صدیق الله رښتین، گل پاچا الفت، قیام الدین خادم، عبدالشکور رشاد، نور احمد شاکر او د ادبیاتو د پوهنځي نورو محترمو استادانو ته د زړه له کومې کور ودانی ووایم او د خپلې شاگردۍ احترام وړاندې کوم.

او هم دارنگه صدیق الله رښتین، گل پاچا الفت، قیام الدین خادم، دوست محمد کامل، عبدالحی حبیبی، عبدالرؤف بینوا او معصومې عصمتي څخه هم چه د پښتو د کلاسیک ادبیاتو پیاوړي متخصصین او پوهان دي د زړه له کومې تشکر کوم ځکه چه د دوی مقالې او کتابونه زما په علمي کارونو کښې ډېر ښه کومک کوي او اوس اجازه راکړئ چه زه خپل اساسي هدف ستاسو حضور ته اظهار کړم زما اساسي مقصد دادی چه زه اوس تاسو سره دخوشحال خان خټک په رباعیاتو کښې دده دهیومانیتیک افکارو په باره کښې لږ څه صحبت کول غواړم.

دخوشحال خان مخلصانو ته معلومه ده چه دده په شکلي غزلیات، قصیدې، داستانونه او قطعات دانسان پرورۍ له افکارو او غاړې څخه ډک دي زه غواړم چه په دې کنفرانس کښې فقط دخوشحال خان په رباعیاتو کښې دشاعر په انسان دوستۍ افکارو باندې خبرې وکړم

خوشیکه رموز محض چند وچون است
داند که ابلیس از چه رو ملعون است

«یعنی آن کسی که حضرت انسان را مسخو د تصور نه کند ملعون است»

موږ ته معلومه ده چه خوشحال خان په خپله یو خان او یو حاکم و، د خپل قوم د خټکو نوعستلی مشر و، اما دی فقط او فقط حاکم او خان نه و، دی انسان و نه فقط عادی انسان، بلکه یو لوړ شاعر انسان، عالم او متفکر انسان و خوشحال خان ډیر سه پوهید، چه خانی، حاکمی او مشرتوب په خپل نوبت تیریږی او په دنیا کښی نوارې سره نوم پاتی کیږی.

دی په دې کښی سل فیصده متیقن و چه د انسانانو په زړونو کښی فقط سیکړه یعنی نیکی، سه عمل او انسانیت پاتی کیږی. شاعر دا نسی یو په زړه پوری د شر د دوستی فکر په خپله یو خلور بیز کښی په ډیر واضح او ساده ډول وائی

خو نو ساه ئی نود دې هم دادی
نو موقې خاوری ئې خو ددې هم دادی
نور سود دې نه وینم په دا دنیا کښی
که خو نیکی وکړی سود دې هم دادی

دویمه مسئله چه زموږ توجه ځانته جلبوی، دغه د خوشحال خان رباعیاتو کښی د انسانانو ترمینځ د دوستی اود ولسونو ترمینځ د همکاری مسئله ده د خوشحال خان همزمان میرزا بیدل چه ده نوم موږ مخکښی هم ذکر کړی دی نه خپله یو عجیبه رباعی کښی دا سی ویلی دی:

یاران نه وفاق اگر قدم می شکنند
خشت عمر نو صف عجم می شکنند
از قدرت اتفاق غافل نه شوی
دندانها سنگرا نه هم می شکنند

خو د مولانا بیدل دا خبره مطلقاً رښتیا ده. تاسو نه نو ځای، په اتفاق هر قسم ټبره ماتولی شی په اتفاق، همکاری او دوستی کښی عجیب وغریب نوره ډیره قوه شته چه ده په مخکښی هیڅ شی نه شی دریدی

چاپ شوی دی، دخوشحالخان په همه دیوان کښی چه په ۱۹۵۲ ع کال په پښتو ور کښی نشر شوی دی له یو زرو شپږ سوو نه زیات رباعیات شته دی

دا انسان دژوند هر بواړخ چه ظاهراً موږ ته معلوم دی دا قول دخوشحالخان په رباعیاتو کښی پیدا کیږی

د شاعر انسان پروری افکار حقیقی انسانیت یعنی پاك اخلاقی او حقیقی ښکلی انسان په باره دشاعر استیتیك افکار هم ویلای شو څکه چه اخلاق (اتیکه) هم استیتیکه (نفاست) هم دیوه حقیقی مکمل انسان دایدیال دپاره خدمت کوی. له دی کبله موږ دخوشحال خان همو مانیتیك افکاروته دده داخلاقی او ښکلی او مکمل انسان په باره کښی دشاعرانه ستیتیك آیدیال هم ویلای شو. یعنی موږ کوښښ کوو چه دخوشحالخان په رباعیاتو کښی د هیو منانیزم انسان دوستی اخلاقی او نفاست یعنی استیتیك مسئلې ته هم لږ څوته وینو

لمړی مسئله چه دلته زموږ توجه ځانته جلبوی همه د خوشحال په رباعیاتو کښی انسان ته کومك کول، انسان سره مینه لرل او دا انسان معرور او عالی خصلت نوم بورته کول دی شاعر په خپله یوه رباعی کښی وائی

وګړی وایه کارو نه خپل کا
مردان همه دی چه کار د بل کا
څوك چه آرام ګټی د نیکو نام ګټی
دخوږدوږدونو دارو نه تل کا

زموږ په نظر په دلته دشاعر انسان پروری، نشر دوستی او هیومانیزم بوره بیان شوی دی په حقیقت کښی همه څوك چه خوږ وږدو نو ته دوا ورکوی دوی هروخت دخان دپاره آرام او آسایش پیدا کوی د نورو خلقو له طرفه هروخت په سه نوم نامدی یادیږی. دعه ی دانسان پروری فکر دشرق دپیاوږدو شخصیتونو لکه ابن سینا، عمر خیام، سعدی، حافظ، علی شیر نوائی، مولانا جامی، میرزا عبدالقادر بیدل عوندی زبردستو شاعرانو په آثارو کښی هم زښته ډیر پیدا کیږی، دشرق متفکر شاعر بیدل چه تقریباً دخوشحال خټك په زمانه کښی نه هندوستان کښی ژوند کاوه په خپله یوه رباعی کښی دا انسان مقدس نوم داسی بیان کړی دی:

زه اوس تاسې ته د شاعر دوه نورې رباعي وړاندې کوم چه په دوی کښې د خوشحال خان د دوستۍ او اتفاق افکار په ډېر ښو الفاظو کښې په ډېر عجایب شکلي شکل کښې بیان شوي دي شاعر په اوله رباعي کښې په خپله د معما غونډې سوال کوي او دستي جواب ورکوي :

پنځه دي گوتې دي که یوه نه وي
د نورو گوتو چاره نه دي څه وي ؟
د لاس خوځښت ده په پنځه گوتې
چه سره جوړه وي کار نه دي ښه وي

انسان پرست شاعر په دوهمه رباعي کښې د ویل داغه او په مثال د اتفاق او همکارۍ ضرورت داسې بیانوي

هاتي ته گوره حال ئې معلوم دی
څلور ئې پښې دي پسو ئې خرطوم دی
که پسو ئې نه وي په دا پنځه کښې
که هست و مست دی نیست دی معدوم دی

دلته گرانو حاضرینو ته باید وویل شي چه د شاعر د غسې رباعیات چه په کښې د دوستۍ ، اتفاق او همکارۍ افکار بیان شوي دي تر اوسه پورې د خلقو د پاره مفید دي موږ ته په معلومه ده چه دوستي او همکاري د ټولو اولسونو په ادبیاتو کښې همیشه موجوده او همیشه ژوندۍ موضوع ده له دې کبله هم چه انسانانو ته د دوستۍ او همکارۍ درس نه ویلی دی هر وخت د خلقو په زړونو کښې ژوندي پاتې کیږي او موږ دلته ویلی شو زموږ په زمانه کښې د خلقو تر منځ اتفاق او دوستۍ ډېرې ضروري شوي دي خوشحال خان خټک د اتفاق پرورو او دوستۍ غوښتونکو اشعارو په واسطه زموږ په صفونو کښې ژوندی دی او له موږ سره اوږه په اوږه د جهان د خلقو په منځ کښې د دوستۍ او همکارۍ د پاره مجادله کوي

د دې مسئلې چه ستاسې توجه ته حواله کوم ، هغه د خوشحال خان خټک انسان پرورۍ افکارو کښې د ښو کسانو او بدو کسانو تر منځ فرق کول او د دوی سره علیحده علیحده رفتار کول دي داهم دا ځکه (اخلاق) له مهمو رولونو څخه تشکیل کیږي لکه د شرق مشهور دانشمندان عمر خیام ، سعدي

دانشمند او تجربه کار خوشحال خان هم په دې حقیقت ښه پوهېدلی و. دده ټول عمر، ټول اجتماعي فعالیت او د لوی مغل امپراتوري پر ضد د جنګو او پښتنو سخت سخت جنګونو او مجادلو خوشحال خان ته د غسې حیاتي سبق ورکړی و چې تمام عمر یې د همکارۍ، اتفاق او دوستۍ سندرې ویلې دي.

همدا حیاتي سبق چې خوشحال خان په خپله یې واسطه له ژوند څخه اخستی و، په خپلو اشعارو کې هم اغسې خپلو لوستونکو ته وړاندې کړی دی. دا شاعر په خپله یوه رباعي کې وائي:

خوش خو ښادي دي په دا آفاق کې
واړه بیا موندي په اتفاق کې
څو څو غمونه یا محنتونه دي
یا په دروغو کې یا په نفاق کې

نفسي داسې کسان شاید پیدا شي او دوی شاید داسې پوښتنه وکړي چې د انسان پروري او اتفاق په منځ کې څنګه روابط شته؟ موږ داسې کسانو ته وایو چې بشردوستي او اتفاق تر منځ ډېره ښه روابط او ډېره کلکه علاقه شته. انسان یې له دوست او انسانیت یې له دوستۍ، همکارۍ او اتفاق څخه تصور کولای نه شو له دې کبله دلته موږ فیصله کوو چې د خوشحال انسان پروري افکار او دده د دوستۍ او اتفاق افکار یو ځای تحلیل کړو

همیشه د خلقو تر منځ د دوستۍ او همکارۍ طرفدار خوشحال خان د خپل عمر تر آخره پورې د انسانانو په منځ کې نفاق اچوونکو ته لعنت ویلی او د دوستۍ او اتفاق په اشتیاق کې شعرونه لیکلي و

دولت د خلقو په اتفاق کې دی
همه نه خوارېږي چې په نفاق کې دي
روند شوم یو یار مې یک رنګه و نه لیده
زړه مې تر اوسه په اشتیاق کې دی

همدغسې فکر د شاعر په یوه بله څلوریځه کې هم ویل شوی دی:

چې درست ګلزار دی د اتفاق دی
چې درست خار خار دی ګنده نفاق دی
خار دې په نفره د خارکشانو شي
هوښیار د ګلو ګلزار مشتاق دی

راځئ ، پخپله شاعر ته غوږ ونیسو دی په دې باره کښې څه وائي

کاڼی یا قوت دی گیاه کیمیا دی
شناخت ئې همه لري چه څوک بینا دی
فرق د سړي یو تر منځ بې شمار دی
ځینې سړي دي ځینې چارپایې دي

په دې رباعي کښې هم عین دا فکر په نورو عبارتو کښې بیان شوی دی

فکر مې کړی چه دا انسان دی
ځینې فرښتې دي ځینې شیطان دی
ځینې سړي دي نه خوی خصلت کښې
ځینې بې شکه لکه ددان دی

حقیقي انسان او انسان نما حیوانانو (یعنې کس او ناکس) تر منځ موجود لوی فرق نه یوازې پخپله خوشحالخان ډېر ښه پوه شوی و او په خپلو ډېرو اشعارو کښې دغسې ناکسانو غندنه کوي او کسان (یعنې حقیقي انسانان) په درانه نامه ذکر کوي

که نادان یوسي په هوا خس خس دی
که شکر خوري مگس مگس دی
که ئې دولت وشي که دانشمند وي
دا ئې هیڅ مه گوره ناکس ناکس دی

د انسانیت تاریخ دا ثابتوي چه حقیقي انسان پرور هیومانیست متفکرین عادي (ښه کوه ، بد مه کوه) په پرنسیپ کښې نه وو یعنې د دوی هیومانیزم نیمگړی و ځکه پوره حقیقي هیومانیزم نه و په بل عبارت د دوی هیومانیزم ضعیف او پسیف و ځکه جنگاور او اکتیف نه و مونږ پوهېږو چه انسان هر څومره له بدی سره سخت جنگ کوي ، دی همغومره له نیکۍ سره کومک کوي او د خوبۍ او نیکۍ طرفداري کوي دغسې اکتیف هیومانیزم سعدي ، خیام او بیدل غوندې د شرق زړو دستو شاعرانو په آثارو کښې په ډېر ښکاره ډول معلومیده او له دې سببه مونږ دوی ته حقیقي انسان پرور او پوره هیومانیست شاعران ویلای شو

د شرق دغو لوړو او لسو نه په معلوم شوي د سعدي دا مشهور بیت مونږ هیڅ وخت نه هېروو

حافظ او داسې نور، خوشحالخان هم دښو او بدو کسانو فرق کولو ته ندا کوی دی په خپله یوه رباعی کښی لوستونکو ته داسې قیمتی نصیحت کوی

دا پند دې هر څوك سره بند کا
هو ښیار به نه وی چه څوك خند کا
همراه چه ښه وی بد سړی ښه کا
همراه چه بد وی ښه سړی بد کا

د انسانانو په ژوند کښی دښه پند او نصیحت اهمیت شاعر په یوه رباعی کښی داسې ښیی

پند د سړی دی د سړی د پند دی
پری به پوهیږی چه دا نشمند دی
سړی په پند نیسی شمار وی په بند نسی
و هر سړی ته دا کار څرگند دی

شاعر په خپلو څینو رباعیاتو کښی په اجتماعی ژوند کښی داشخاصو نو[ر] سره مناسبت ښکاره کوی او وائی

څوك په چا گرم وی په چا ناگرم وی
څینی بد عمل په هر چا گرم وی
ته خپل خوی ښه کړه په چا گرم مه شه
خود به شرمیږی چه تر تا گرم وی

دخوشحال دې رباعی ته هم توجه وکړی:

څوك چه له حلقو شور و غوغا کا
نا پوه ، مریض دی همه چه دا کا
چه عاقلان دی چه صابران دی
همه به کله خجال له چا کا ؟

شاعر خپل عموم انسانی اخلاقی فکر دانسان او حیوان ترمنځ فرق په واسطه بیانوی د دنیا قول نور مال ، سالم عقل اشخاصو ته پوره معلومه ده چه که انسان حقیقی انسانی خصلت نه لری همه تیار حیوان دی ، د خوشحال په قول « چار پای » دی

په رنج کښې ومره، همه دارو مه خوره
چه په همت یې و تا څوك در کا

دزړه ورتوب په باره

نه سره سم دی و اړه مړ و نه
نه سره سم دی دهر چا زړو نه
زړه هم هغه کڼه چه لکه عرشی
که نا سندې را شی هزار غمو نه

د طمع گر په باره کښې

طمع بلا ده اصیل بنده کا
سه سه سړی ی وی د الی گنده کا
ما ځیر لیدلی دی چه طمع نه لری
نه ما د شاهانو پورې حده کا

دمنافق اونامرد په باره کښې

سه سه یاران ووسه آشنا یان وو
چه په دولت کښې زاسره ځان وو
دولت چه لاړ شو راته ئې شا کړه
جدا له ما نه په یوه نان ووو

د خسیس په باره

خسیس که مال لری پری ساد نه نه شی
بنده بنده دی آزاد نه نه شی
چه همت نال دی همه آزاد دی
آزاد آزاد دی غما د نه نه شی

د چوغل خور په باره

و تا تـه وائی زما عیبو نه
و ما تـه وائی ستا عیبو نه
د سړی چه مخو نه تو ر شی
پـه مخ ئـا کا تر شا عیبو نه

با نیکان نیک باش و با بدان بد
با گلان گل باش و با خاران خار !

د شرق مل عبقري مفکر مولانا بیدل دا فکر په خپله یوه رباعي کښي په ډېر ښکاره ډول داسي بیان کړی و

طاقت پوشد لباس خون نافه را
تا زیر کمند رسوا نیافته را
با سنگدلان شعار خود سختی کن !
بر دار نا آهن آهسی تافته را

موږ دلته په ډېر مهمو بیت سره دا خبره تاکید کوو چه خوشحال خټک هم یو حقیقي انسان پرور، اکتیف هیومانیست شاعر و، دی ډېر زنده، زنده دل حیات دوست او اجتماعي انسان و. د شاعر دغه رباعي ته ستاسي توجه جلبوو

په خپلو نو کسي عدل انصاف ښه دی
له نورو له بدو سره زړه صاف ښه دی
چه خوك دي غاښ مات کا ته یې هم غاښ مات کړه
که عذر خواه شي غاښ یې معاف ښه دی

خوشحال خان خټک داسي ډېر رباعیات لري چه د تمه ګیر، پلید، چلباز، دوه مخي، خبیث، چوغلخور، دروغجن، قسم‌خور او داسي نورو منفي خصلت لرونکو کسانو په باره کښي لیکل شوي، او شاعر په خپل شریف عمر او اجتماعي ژوند کښي له دغسي نامردانو سره ډېر ځله مخامخ شوی، او د دوی له لاسه یې ډېر ډېر عذابونه ګاللي وو.

د خوشحال خان همدغسي عجیبه رباعیاتو تر اوسه پوري خپل اجتماعي اهمیت نه دی ورك کړی. دغسي اشعار زموږ په زمانه کښي هم موږ ته قیمتي ادبي آذوقه او اجتماعي وسله کېدی شي.

نو اوس دلته د شاعر له دغسي رباعیاتو څخه څو مثالونه راوړو او متیقن یم چه همیشه به عموم بشري اجتماعي او ادبي اهمیت وساتي.

د همت په باره

نامرد همه دي چه وچا څخه ور کا
همت د پاسه ور نه سدی ور کا

د خپلو خپلوانو او نږدې کسانو په باره کښې فکر کوي . دوی هيڅ وخت د نورو غم نه خوري او مونږ ويلای شو چه دوی د اجتماعي ترقياتو مخالفين دي

د پښتو د نامتو شاعر خوشحال خان د شهرت او شهرت پرستۍ ضرر داسې بيانوي ،

لکه چه شوی دی خطا له دسته
شوی نه نه وی له مې پرسته
شهرت بلا دی سړی گمراه کا
د دې مستي ده تر هر څه مسته

گرانو حاضرينو ! ستاسې په اجازه زه د مشهور سعدي يو لنډ حکايت راوړم ځکه چه دا حکايت زمونږ مقصد ته ډېر نږدې دی

«وايي چه په پخوانۍ زمانه کښې په يو ملك کښې دوه صميمي ملګري وو د زمانې په سبب دوی سره جلا کېږي لس پنځلس کاله وروسته له دوی څخه يو تن لوی او غټ سړی کېږي دويم ملګری په ډېر عذاب او سختۍ خپل پخوانی دوست پيدا کوي او دده حضور ته راځي هغه غټ سړی خپل پخوانی صميمي دوست نه پېژني او له دې څخه پوښتنه کوي

ای مسافره ، زه تا نه پېژنم ته څوك يې او له ما څخه څه غواړې ؟
هغه د غټ سړي ته داسې ځواب ورکوي

ما ته خلقو ويلي وو چه ستا پخوانی صميمي دوست ړوند شوی دی او اوس زه ستا د ليدو د پاره راغلی يم »

د پښتو د کلاسيك ادبياتو ستر شاعر خوشحال خان خټك هم په خپله يوه رباعي کښې د درياب او سيلاب په مثال کښې لوستونکي د انسان ښه خصلت خود پرستۍ او بد خصلت خاکسارۍ ته متوجه کوي او وايي

درياب چه لوی دی څومره هوار درومي
شور و غوغا نه کا په خپل قرار درومي
سيلاب په څو څاڅکي غمبېږ پيدا کا
نقاب يې نه وي په ډېر تلوار درومي

زه فکر کوم چه دغه عجيبه رباعي چه انسان ناپاك اخلاق او حقيقي عام بشري خصلت ته راولي هيڅ يو تشريح ته ضرورت نه لري ، د لوستونکو نظر و ته

د غني خلو رېختي د خوشحال خان په دیوان کښي ز ښته ډېرې پيدا کېږي اما د وقت د کمودې له کبله نور غني رباعيات را نه وړلی نه شو

ګرانو حاضرينو ! ستاسي په اجازه زه غواړم چه اوس د يوې بلې مسئلې په باره کښي هم لږې خبرې وکړم دا مسئله د خوشحال خان په رباعياتو کښي ده د هيومانيټيك افکارو يو بل اړخ يعني بله اخلاقي مسئله د خاکسارۍ او سپکېدو په باره کښي د شاعر مفکورې دي دا اخلاقي پرابلم د انسان او له بد خصلت خود نمايي، خود پرستۍ سره کلک تړلی دی لکه چه په يو عربي مثل کښي ويل کېږي «خاکساري د حسارت تاج دی» دلته زه غواړم چه د ازبکو يو مثل هم راوړم د خودبينۍ او سپکېدو په باره د دوی د قسمت په باره ازبکان وائي

«کمتر تا نه دی کمال
من من تا بدی زوال»

يعني

سپکېږي به مومي کمال
خود بين به مومي زوال

په ټوله قول خلق او د خلق څخه رسېدلي لوی لوی نوماند او متفکرين هم د انسان بد خصلت، ځان ستاينه او ښه خصلت خاکساري معرفت بولي هر وخت یو ځای راوړي او د دوی ترمنځ لوی فرق هم ښيي .

دانشمند خوشحال خان خټك هم په ټوله يوه رباعي کښي خود پرستي په جهان کښي بدترين شی ګڼي او داسي وائي

نيستي هستي ده که ته پوهېږې
او هستي نيستي ده که ته پوهېږې
بدتر هر څه په دا جهان کښي
خود پرستي ده که ته پوهېږې

موږ پوهېږو چه په دنيا کښي په هر ملت او په هر مملکت کښي نا پوه، خود نما او شهرت پرستان پيدا کېږي دوی هميشه له خپل بد خصلت سره نورو ته ضرر رسوي او د اجتماع د پرمختګ مخه نيسي ځکه چه دوی اول د ځان د پاره نيا



ښاغلی حیدر رسول رسا د سیمینار غړی خپله بیانیه اوروي

هماغسې پخپله نوموړي او ددوی د ادبي ذوق او استیتیك نظر په تربیه کولو کښې ډېر لوی اهمیت لري .

گرانو حاضرینو ! په دې ځای کښې زموږ کار اساس پای ته نژدې کیږي او اوس زه غواړم چه څېړنې خلاصه راونیسم

موږ په دې وینا کښې فقط د خوشحال خان خټك په رباعیاتو کښې د ده د هیومانیتیك افکارو د بعضې اړخونو په باره کښې له تاسو سره لنډې خبرې کړې دي

موږ پوهیږو چه لوی لوی متفکر ادیبان د خپل لوی استعداد او ژور عقل او زحمت کښې په سبب د خپلې زمانې او ملت آرزو گانې او خواهشاتو ته نژدې کیږي او د خپل دور اجتماعي واقعاتو آئینه غوندې مهم رول لوبوي

زموږ د مملکت لوی دولتي ارکان لومړی مشر (یعنی رئیس جمهور) میخائیل او انو ویچ کالینن د ادبیاتو په باره کښې لیکل شوی یوه مقاله کښې داسې ویلي وو چه خلك گوهر لټوونکي غواصانو سره ډېر شباهت لري خلق هم لکه غواص گران بها ، کمیاب ، قیمتي او غوره شیان لټوي ، انتخاب کوي او په زرهاؤ زرهاو کالونو کښې دغه نایاب شیان له ځان سره ساتي .

موږ ویلای شو چه دغسې کمیاب غوره شیان د هر یو ملت نادر کلاسیك ادبیات او د خلقو ادبي خزینه هم ده

زموږ نژدې گاونډي او صادق دوست ملت افغانستان اولس هم لکه د خپلو مترقي گاونډي ملتونو دغسې ښکلې ادبي خزینه لري د افغان خلق (خصوصاً د پښتو) کلاسیك ادبیات له بده مرغه تر اوسه د پټې خزانې غوندې هغسې پراته دي

زما په عقیده خوشحال خان خټك په دغه ښکلې پټه خزانه کښې لومړی ځلانده جوهر دی

تاریخي ، اجتماعي ، جغرافیوي او دغسې نورو سببونو سره سم ددغې پټې خزانې د کشفولو په باره داخلي ادبیات شناسانو او هم خارجي مستشرقینو هم تر اوسه ډېر لږ کار کړی دی .

راځئ چه د خوشحال خان خټك دغه سالگره ددغې پټې خزانې (یعنی د پښتو کلاسیك ادبیات) د لومړی ځلانده جوهر یعني د خوشحال خان خټك عجیبه ادبي ، علمي آثار او شریف اجتماعي فعالیت د زده کولو په باره لومړی او مهم گام وبولو .

د میرمن معصومې عصمتي په قلم

آثار خوشحال خان!

په اجازهٔ ښاغلی دانشمند رئیس وحضار محترم!

از اینکه بمن موقع داده شده تا در ین محفل اشتراک نمایم مراتب امتنان خود را تقدیم کرده علاوه میکنم که اگر چه چیز نوشتنی در مورد شاعر توانا و بزرگی از همچو منی ساخته نیست مگر نظر به علاقهٔ که به شاعر دارم بدین وسیله اظهار ارادت مینمایم

خوشحال خان ختک قهرمان ملی، شاعر توانا ومرد بزرگ افغان است که در افق ادب پښتو ستارهٔ درخشانی است که بر علاوهٔ شاعری، شخصیت بزرگ سیاسی وامیر سلحشور و بزرگ حربی واز خوانین بزرگ وبا نفوذ افغان بشمار میرود چون درمورد سوانح شاعر استادان محترم تذکرات زیادی داده‌اند لازم نمی بینم وقت حضار محترم را بیجا صرف نمایم لذا از تذکار مکرر خودداری میکنم و به معرفی تصانیف او می پردازم. درمورد تصانیف شاعر و تعداد آنها نظریات زیادی موجود است برخی آثار اورا تا دوصد جلد مینویسند ولی آنچه امروز شناخته شده است عبارت است از کلیات شاعر، باز نامه، فضل نامه، فرخنامه، فراق نامه، دستار نامه، سوات نامه که نگارنده میکوشد تا جائیکه امکان وقت موجود باشد به معرفی آنها بپردازد

باوجودیکه خوشحال خان قایدملی وسیاستمدار دانای حربی ورئیس بزرگ قوم بود وهمه عمرش در زد وخورد های قبیله ئی وجنگ های باقوای بابریان دهلی صرف شده ولی ادیب لبیب وشاعر شیوا بیان، حکیم لایق، عالم صحیح نیز بوده ومیتوان اورا بابای ادبیات کلاسیک پښتو خواند.



میرمن معصومه عصمتي د اولسي جرگې وکیله د سیمینار غړې خپله
بیانیه اوروي.

شاعر از نفاق افغانها همواره شاکی ومتأثر بوده وتذکر میدهد که « افغانها گرد افکار بیهوده گشته دنبال شمشیر نمیگردند، هرگاه زور وشمشیر فکر نمیکنند نظریهٔ شان خطاست بعقیدهٔ من مرگیکه بعزت وافتخار باشد بهتر از زندگی بی حرمتی است »

چنانچه گوید :

په داسې وخت چه وخت د نام و ننګ دی — دا بې ننګه پښتانه نه کا هغه رفتار
پښتانه چه نور څه فکر کا نا پوه دی — بې د توری خلاصي نشته په بل کار
مرګ تر ما په پوهه بهتر تر دا ژوندون دی — د عزت سره چه نه وي ريښت روزګار
همیشه نه په جهان کې ژوندون نه وي — د خوشحال خټک په پاتې شي یادګار

درجای دیگر گوید :

دسړي هومره ښادي دي — چه په زړه کې يې همت شته
چه همت د سړي نه وي — مهيا ور ته نکبت دی
سر ما له په تمه سه دی — که د سر سره عزت شته
دسړي که عزت نه وي — د ژوندون بې څه حالت شته

برای اینکه احساسات عمیق شاعر را درمورد وطن ودشمنان ملی معرفی نمایم وازطول کلام خود داری کنم بهتر است آخرین وصیت اورا دراینجا ذکر کنم که میگوید :

مرا در جای دفن کنید که سایهٔ نعلها به خاکم نیفتد وگرد پای ستوران مغل بخاکم ننشیند قسمت دوم اشعار شاعر که اشعار بزمی وادبی را احتوا میکند نیز کمتر از قسمت حماسی او نبوده بالهم زادهٔ زندگی بی آلایش وساده طبیعی دامنهٔ کوهسار سرزمین خود او بوده است اوضاع محیطی عوامل اقلیمی وغیره همه بروح شاعر اثر جداگانه نموده وتشبیهات واستعاراتی را که شاعر درغزلها واشعار عشق خود استعمال کرده همه اظهارات عمیق وسوزندهٔ زیبائی های طبیعت است که درقالب الفاظ ریخته است یکی از خصایص گفتار او اینست که در وصف وتمثیل جزئیات طبیعت مانند دیگر شعرا به الفاظی وخیال پردازیهای شاعرانه اکتفا نکرده بلکه همه زیبائی ها وزشتی های طبیعت را به نظر دقیق دیده وهم گاهی از گذشت فصل وزمان احساساتش برانگیخته شده باسپری شدن بهار بهار عمرش را بیاد آورده بر بیوفائی ها

بارك خيالى هاى شاعرانهٔ او باب نوين در مكتب عروض وادبيات پښتو مفتوح نموده وقريحهٔ روشن وبلند او شعر پښتورا ازعمق زمين به پايهٔ عروج رسانيد . كتب زيادى درين باره تصنيف نموده كه امروز اثرهاى مطبوع ومنشورش مايهٔ افتخار ومباهات ملت افغان گرديد

اشعارش علاوه برتقليد طبيعت وصنايع شعرى ،عواطف بشرى را با حقايق كائنات يكجا نموده ودرهمه جا شعارش ازعلم وفلسفه حمايت وپشتيبانى ميكند اگر غربيان درمورد گوينده ميگويند كه « در شعر گوينده علاوه بر عواطف حقايق نيز نهفته است » درشعر خوشحالخان خټك نيز حقايقى موجود است كه ازجملهٔ ابتكارات شعر پښتو بشمار ميرود

چنانچه خودش گويد

د بوستان ونې مې واړه پيوندي دي   حقيقت مې د مجاز سره پيوند كړ

كليات خوشحال خان پر از نصايح سودمند اجتماعى ومملو ازاحساسات وطن پرستى واستقلال پسندى وحمايت ملتخواهانهٔ ملى است علاوه بران در سائر اقسام سخن ورى ازقبيل غزل، قصيده ، رباعى ، قطعه مثنوى ، مربع ، مخمس ، مسدس ، معشر تركيب بند، وترجيع بند طبع آزمائى نموده وبعضى اشعار بزبان فارسى وپښتو وبرخى آن ذوالسانين پښتو فارسى وپښتو هندى ديده ميشود

ديوان خوشحالخان بقول محقق بزرگ افغان ښاغلى استاد حبيبى بهترين سرمايهٔ ادب وبلند ترين اثر ادبى پښتو است وبه نظر پير محمد كاكر بحر شعر وسيعى است كه ازان هرقسم گوهر پيدا ميشود درين ديوان شاهكار ادبى ، نه تنها واقعات زندگى خوشحال خان نوشته شده بلكه ، بالاى تمام وقايع مهمهٔ كه در تاريخ دروقت خوشحال خان رخ داده نيز روشنى انداخته شده است .

لذا براى اينكه قسمت هاى مختلف ديوان شاعررا معرفى كرده باشيم لازم ميبينيم اشعارى را ازهر نوع طور نمونه ذكرنموده تبصره كنيم .

الف . قسمت اشعار حماسى شاعر كه زادهٔ محيط ووقت وزمان او ست

خوشحال خان بوطن علاقهٔ فراوان داشت وازجملهٔ فرايض طبيعى كه در نهاد او نهفته بود يكى هم فريضهٔ وطندوستى واحساسات ملت پرستى است كه دراشعار سوزناك وپردرد او ميتوان احساسات درونى اورا درك كرد

شاهد تشخص ملی ومعرف اخلاق بلند اوست در دیوان او اشعار سوزناکی درمورد عشق وطن، عشق ملیت، عشق عزت و ننگ وعشق غیرت موجود است مخصوصاً که میگوید

دعشق بحره ازلی ده په حمکه نه ده — په کتاب به مسئلو به بر هنکه نه ده
په قسمت ئی دا زله دوراود دی — داد سو لو بحره اوس د پښتنکه نه ده

باز گوید

دشراب مستی ژر شی بیست و هسته — لایزاله مستی نه ده روح می له مستنه
دعاشق خاطر او خیال لکه دراب دی — چا چپه ئی کښله لوږه کښلیه پسته
دخوشحال له رنده دیار محبت نه هی — لکه میمه د جبل بت له بت پرستنه

قبلا ذکر شد که شاعر در اقسام مختلف شعر طبع آزمائی کرده که اگر به هر کدام تفصیل داده شده و نمونه های ذکر گردد به طول کلام می انجامد از طرف دیگر قسمت های مختلف شعر او از طرف نویسندگان و گویندگان محترم نیز به تفصیل ذکر میگردد بنا بر این از ذکر هر نوع آن خود داری کرده کلیات شاعر را از نگاه فلسفی و صوفیانهٔ او نیز معرفی میکنم

کلیات خوشحال خان خټك دفتر چهٔ شعری و لفظی و صنعت شعری نیست بلکه دفتری از اندر ز و حکمت علم و فلسفه که در موارد مختلف اخلاقی و فلسفی نظریات خود را ابراز نموده است شاعر عقیده دارد که بزرگی حقیقی وابسته بهمت و هنر وخوی نیکو است و زیب و زینت ظاهری بزرگی و بزرگواری نمی آورد

چنانچه گوید :

دسړی لویی په رنګه په جامه نه ده — په همت ده په هنر ده په خصال

باز گوید :

دسړی قدر و قیمت په اعتبار دی — چه خوار شو وګورئی لا بل ګنی کاڼی

در بارهٔ علم گوید

علم تا میاتی په پورته، جهل تا میاتی په کښته
پاڅیش لره وردرومه پاقارون ته ځان سپاره

خوشحال خان درحالیکه از جهد و جهد در میدان زندگی پیروی میکند درمورد مقاومت با ناملایمات روزگار توصیه مینماید و معتقد است که انسان نه باید در برابر مصائب روزگار قدم نموده ورو رحد و جهد را حفه سازد بلکه میگوید در دریای

و لانقاشی های جهان اظهار تأثر و تأسف کرده ثمر زندگی را با سپری شدن ثمر ساعات یکسان میداند و گاهی بجای اینکه از شگفتن گلها و خندیدن غنچه حظ برده مسرور گردد متأثر شده و لذت بی بقارا که ثمر عمر و زندگانی است به نظر حسرت می بینند برای مصداق قول خود اشعار ذیل را طور نمونه ذکر میکنم .

په دې باغ کښې نه دې پاتې نه وې ګلونه　　که هر شی د خزان له لطا وله
یا ارمان دی ورېښه دا یو څه ګاره　　تل تل به نه وی تازه بهار
تل تل به و اوړد هوا نی به وی　　تل تل به نه وی مهر له یار

برای معرفی تشبیهات و استعارات نغز و لطیفی که شاعر در دیوان خود استعمال نموده به تذکر دادن چند شعر آتی اکتفا میکنم .

چه نوبهار شي د ګلو نو به ګلزار شي　　نرم نرم به تر شخ به مرغزار شي
د هغه لښکر نښه څوك بر ابر کښته　　چه په هغې وخت کښې سیر د ګلزار شي
په چمن کښې نی او نه دروني رواني　　په سمره باندې باري د جوبار شي
پښه د ا هغې پا کښیر ه او سلسالو　　شما تتبی د کشمیر په شاله وار شي
دسپی ستر ګی روښانی رنګ خوشحال کا　　چه اوبه د هوا ر و سره تار تار شي
په اطراف د هر چمن شګفته شوی　　در بسته ود سو سنو هم دیدار شي
په دا باغ کښی د ګلو نو کمی نشته　　د هغه واوړو د چا ژ به شمار شي
که سل برګ ګ نفشه که ارغوان دی　　د هر ګل به بیداره خاطر قرار شي
چه له پاسه به او به راځي په ګښته　　وای سپینی مر غلري د ي نثار شي
د هغه صبا نسیم تر صحنه صد قبه شم　　چه ئی هغی د قدرت په لاس نګار شي
همه ځای چه د مرمر و هوا ر ی د ی　　تر هغه ځای دی دارم تماشه ځار شي
ته به وا ئي دا سمان تما وعو دا ر شو　　چه او به ئی را روانی دا نثار شي
که په سر ئی د خو صو بو څوك ګذر که　　وا ئی پاس په اتیبو باندی رفتار شي
مر غاوي ئی په حوضو نو کښی غوټې که　　د محل په مبخ که ناست د بار و ښکار شي
ته به و ائي د غرو دا ور لمبی د ی　　سر و لاله چه په چمن کښی انتشار شي

جهان عشق در نظر خوشحال خان دنیائیست که دران شاعر درد و شکایت خود را با خواص و ممیزات ملی خود که زادهٔ فضای کوهسار و آزاد بوده یکجا نموده و همه مزایای ملی را ازان منعکس میسازد آئینهٔ تمام نمای کلیات خوشحال خان ختك

که ګټه په بازارشي په کوڅه کوڅه خاروري
د پاکو پاکو امهو ستر خو له دي زمانې
که پاکه پاکه امه په حیا په دین ممه
د مرد په کور کښې مرددی کامدی کامراني

در مثنوی فضل نامه مقام مساوی مرد وزن را درتشکیل اجتماع چنین شرح میدهد

ښځه هرچه سره یار شي — په نکاح سره لوی کار شي
سره یو تن شي دوه تنه — د او بیا د ه مېړه ښځه
لکه دوه وني یو ند شي — تري پیدا د میوې خوند شي

دریک قطعه دیگر دیوان خویش صفات زن نیک را برای سعادت خانواده چنین شمرده است .

ښځه نو به هغه سما که خندوو به مهر خپه
پاکیزه په زیست روزگار په ښځه خوی نامدی میښه
له نیکانو همنشینه له بدانو به ر لږه خو له یښه
له مور واله ی نو نه کاکه ای موروی درو فیصه
د میلمه په کار حاضره په ښځو الی مها دره
حق د چاری په ځای راوړی په رنځور مامدی پوښتنه
پاکیزه ئی د کور صحن ، نه په خولې کی لورلعن
پرستاری تری خوشنودی ښه د هر چا په ساتنه
که دا هسی ځوك پیداشی دخوشحال په لا سوراشی
هیڅ تقصیر به ئي و نه کـا د یاری په پالنه

قسمت سوم د یوان شاعررا اشعار تصوفی او تشکیل میدهد خوشحال خان سنی مذهب وحنفی بوده کوچکترین اعمال را درپیروی به احکام شرع مخالف احترام دین میدانست ولی درعین حال مزخرفاتیرا که عمداً در دین داخل شد تقبیح نموده وبرای ازبین بردن مزخرفات وعادات مخالف دین تبلیغ میکرد وګوید

هرچه شرع فرمائی په هغه کار کړه
نه عمل کـوه په رسم په دود و نه

متلاطم روزگار مردانه وار مقابله باید کرد و بر مشکلات فایق شد در اشعار خود از همچو فلسفه نیز پیروی کرده است چنانکه گوید

د جهان غمونه قول له یکښې های شول — شکر دا چه زړه می لوی راکړی و ماهم

در فلسفهٔ اجتماعی هم خوشحال خټك خدمت خلق را ترجیح داده به تمام شعب زندگی دقیقانه نظر افگنده درد های اجتماعی را به قالب الفاظ ریخته و به شیفته گان بشر دوست و نوع پسند چنین تقدیم میکند.

که راحت غواړې محنت په ځان قبول کړه — بی محنته هیڅوك نه مومی راحت

درمورد صبر و قناعت شاعر نظر خود را طوری جلوه میدهد که صبر و قناعت را پسندیده ترین خصلت انسان دانسته در هر جا از صبر ستایش و از طمع نکوهش کرده میگوید

توانگر هغه دی چه قناعت لری — نه چه مال و نه یا صناعت لری
چه خوی خلاصت یی د سپی نه وی — نو ده لی وګڼه که شجاعت لری

جای دیگر باز گوید:

دانا لی مه ګڼه چه صبر نه لری — چه صبر نه لری حکمت په څه لری
سړی د صبر په کار کښې وازمیه — چه صبر مالك وی هر څه نه څه لری

خوشحال خان وطبقهٔ نسوان :

از مهمترین قسمت اشعار خوشحال خان چه در دیوان و چه در آثار منظوم و منثور دیگرش سخنانیست که این سخنور چیره دست در بارهٔ طبقهٔ نسوان و زنان سروده وطبقات این جنس را نیك شناخته و به اشعار نغز و لطیف مزایای ایشان را تصویر و توضیح کرده است.

این قسمت اشعار او را اگر جداگانه فراهم آوریم رسالهٔ خوبی در شناسائی اوضاع و روحیات و خوی و خصلت و اهمیت زن در جامعه خواهد بود و شاعر ما در ین باره مکملی واقع بین و ریالیست است. اهمیت زن را در جامعه و حیات خود مرد بخوبی بیان داشته حقوق و وجایب یك دیگر را تعیین کرده است.

خوشحال خان در همان وقت هم طرفدار عفت و خوی نیك زن بود و حجاب را از لوازم حیات زن نمی‌شمرد و زن نیکو را در خانهٔ مرد وسیله کامرانی او میدانست چنانچه میگفت:

۹- ترجمه نامه که فقط نام آنرا میشناسیم

۱۰- برعلاوه خوشحال خان کتاب (دپښتو تاریخ) را نوشته و انوار سهیلی فارسی‌را به پښتو تمام عیار دانش ترجمه کرده است

در خاتمهٔ گفتار خود تذکر این نکته را لازم میدانم که گاهی برخی از نویسندگان محترم‌که در شرح احوال وآثار خوشحال خان چیز مینویسند چنین گویند که گویا توجه به شناسائی ویا نشر اشعار وآثاراو درزمان اخیر بنا بر بعضی محرکات سیاسی صورت گرفته و نویسندگان افغانی او را وسیله پیش برد برخی مطالب قرار داده اند

ولی دربن باره باید گفت که شناسائی و نموده‌گری ادبی خوشحال خان ختك اززمان قدیم در افغانستان بوده وحتی در بعضی ازخانواده های قندهار و کابل دیوان اورا طبقهٔ زنان بصورت کتاب درسی خود هم استعمال میکردند ودر وقتی بنشر وتعلیق کلیات مرد قلم و شمشیر پرداختند که هنوز امپراطوری بر طانیه با تمام کم وکیف بربیم قارهٔ هند حکم روائی داشت چنانچه برای اثبات قول از کتابی نامبرده معلوم میشود که برای اولین مرتبه درسال ۱۳۱۷ هـ.ش درست در موقعیکه والاحضرت سردار محمد داود بحیث رئیس تنظیمیه و نائب الحکومهٔ قندهار بودند توسط نویسندهٔ توانا و محقق افغانستان ښاغلی عبدالحی حبیبی گرد آوری شد وبه طبع رسید استاد حبیبی نه تنها اشعار شاعررا گرد آورد بلکه پس از نوشتن مقدمه اشعار شاعررا ازنگاه علمی، فلسفی، تصوفی واخلاقی تقسیم بندی و بافلاسفهٔ غربی وشرقی مقایسه نموده است درتهیهٔ این نسخه چهار نسخهٔ خطی مقابله ودیده شده و (۱٤۰۰) بیت زاید ازنسخهٔ مطبوع دارد

همچنان درشماره های مختلف مجلهٔ کابل مقالات متعددی ازطرف نویسندگان مخصوصاً آقای زمریالی درسنوات ۱۳۱۲ و۱۳۱۳ش بنشر رسیده واین خود میرساند که مردم افغانستان درشناسائی این شاعر ملی خود سبقت دارند ودرابطهٔ تمام مردم افغانستان باو بسیار قدیم ونهایت محکم واستوار است طوریکه خودش خودرا افغان خواند وگفته بود که

اثرات دیگریکه خوشحال خان تالیف و یاتصنیف نموده متاسفانه دوران روزگار بعضی ازانها را محو ونابود ساخته است که ذیلاً آنچه در دسترس است ویامعلوماتی دربارهٔ آن بدست آمده تشریح میدهم

۱- بازنامه خان برعلاوهٔ بلاغت گفتار وتعمق درزندگی‌اجتماعی دراوقات فراغت بهشکار باز مصروف میگشت، ز را دوست داشت وکتابی در اوصاف باز نوشته که دران تربیت و نگهداری واصول طعمه دادن و معالجه کردن باز را نگاشته است این رساله درسال ۱۰۸۵ هـ بصورت مثنوی‌درحدود ۹۱۹ بیت ترتیب وتمام بازنامه بطبع رسیده است

۲- سوات نامه مثنوی است که دران شاعر از سفر خود درسوات وحالات آن حکایه میکند دربن مثنوی نه تنها شاعر اوضاع جغرافیائی سوات را بصورت مختصر وعالی بیان کرده بلکه از خلال ابیات او میتوان به طرز معاشرت تمدن وحد وحهد قومی و تاریخی آنجا پیر بی برد سوات نامه را برعلاوهٔ اوصاف فوق‌الذکر ازلحاظ ادب میتوان یك اثر ادبی عالی واعتقادی واز بهترین تصانیف او شمارد

۳- فضل نامه ابحاث اخلاقی ومذهبی و مسایل فقهی در مثنوی حقیقت است که درسال ۱۰۸٦ هـ مطابق ۱٦۷۸ و۱٦۷٦ ع نوشته شده است

٤- فراقنامه مجموعهٔ است که خوشحال خان درآن گذارشات ودوران حبس خودرا بصورت غزل ومثنوی نوشته است.

۵- هدایه فقهٔ اسلامی که ازعربی ترجمه شده

٦- صحت‌البدن هم منظومهٔ طبی است ودران‌اصول حفظ صحت و نسخه‌های طبی علاج امراض‌را بیان داشته است وازان پدید می‌آید که درعلم طب قدیم‌معلومات خوبی داشت

۷- آئینه کتاب فقهی است که ازعربی ترجمه شده است

۸- دستار نامه : درسال ۱۰۷٦ هـ مطابق ۱٦٦۵ع تالیف شده و شاعر دران مضامین‌وموضوعات متنوع متعلق بهسیاست، تهذیب اخلاق وغیره‌را درقالب الفاظ ریخته است. چون دربن محفل دریك مقالهٔ علیحده معرفی میشود از تفصیل زیاد آن معذرت میخواهم

چه فاضل د زماني وي پرې نه پوهېږي — د خوشحال خټک دا شعر مره مالك دی
وې مې څه دي د خوشحال خټک خبرې — وې يې وايه د گوهر ي عقيق لال
که زما ژبه پښتو ده په پښتو کوم خبرې
يو پښتون نه د ابتکار پېوی چه پرې پوهېږي نو دې ايرې

خوشحال خان بابا :

په پښتو ژبه کښې د دري ژبې تعقيب کړی او دعوی لري چه دا ژبه مې د دري ژبې مرتبې ته رسولې ده .

په پښتو ژبه مې خلق بهره مند کړل — پښتو ويل مې هيڅ تر پارسي دي رسولي

خان بابا د ساده پښتو د احساساتو ترجماني کوي او وايي د عربي او د دري ژبې څخه د ماواقعي مضمون په دې شان ادا کوي

ته چه ماته عربي خبرې وايې — د عربو ژبه څه زده ده څکه
زما ساده پښتو ته څه ده چه يې وايې — نه پارسي پارسي خبرې ځکه

پښتو ژبه د نورو ژبو په څېر يوه عوامي ژبه وه ، يوه دوره کښې ئې مهند نه او اصولي کړه نو يې د سانسکرت ژبه و ملله چه رو ويدونه يې بکښې خو لکه نيا يې د پښتو محاورو څخه د هند خواته ور ساوه او نور ويدونه يې ور پورې الحاق کړل ويد علم او پوهې ته وايي و ويدونه علوم او پوهې دي چه نو موړي ژبه کښې مرتب شوي دي د هغې زمانې تعليماتو کښې توحيد د باري تعالی خورا مهم او اساسي کار ؤ ما چه در اتلو ويد د تربيت اصول او لوښل د پښتو د تربيت نمونه ده چه کښې بيان شوي ده لکه چه پښتنې خواښياني خپله نور دا ميدوارۍ په دوره کښې نازوي او زور نه دي گرځي چه اولادې يې ضايع نشي هوسا يې نورته تيار وي هلكانو ته په اول وخت کښې عسل ور کوي پاك نه يې سنتي سر کلي نه يې کوي، د پيداوښت دورهې، د سر کلي دورهې دعوتونه نه يې کوي چه شپږو کلونو ته ورسي نو ملا وستوري نه يې د ملا څخه تاو کړي او يو متدين عالم ته به يې وسپاري چه د دولس کلنۍ پورې دده کور کښې علم او تربيت پاموي نو بيا نه دعوت وکړي خپل خپلوان نور ناندې دا قول شي دي به د دغه عالم زوي نو لي دده كمالات نه هم ده ته منسوبوي بيا نه يې ورو سپاري چه دده کور مدرسه ، خانقاه کښې کار کوي علم زده کوي چه زلمی شي شلو کلونو ته ورسي نو هاله به يې سړي و کښې حسابوي .

ليکوال : ښاغلی محمد امين خوږياڼی

د خوشحال داشعارو ملي خوا

ښاغلو ميلمنو درنو کورنيو جنابانو !

ستاسو په اجازه د خوشحال خان بابا د ۲۸۶ کال د تلين په مناسبت ما ته محوله شوې برخه د خان بابا داشعارو او افکارو د ملي خوا د ننګ او فرهنګ د تورې او د ښکار څرګندې بيانوم

خان بابا د پښتو ژبې قهرمان د پښتو ژبې محمد ـ ق چه په يوولسمه پېړۍ کښې يې وروړله او دنيا ته يې په يوه صورت ښکاره کړه د دې حساب همه دعوی چه په دې باره کښې يې کړې دي دلته بيانېږي او ستاسو د مخې او د مېړانې څخه هيله لرم چه ما ته د دې بيان د لغزش څخه معافوی ، چه خان بابا د دې موضوع په اشکال کښې فرمايي

په پښتو کښې بيا زما ژبه درغلېږي

درغلېدل تېرو پېر ګڼل دي چه بابا په عين استاديه کښې په خان مملي ا
ژبې د يو ژوندي موجود په شان مرګ او ژوند لري او د خپل جسم په څېر غوړېدل رژېدل لري .

د پښتو ژبه د پښتونخوا په ژړو کښې خورا پخوا پخه او دره ژبه ده چه د پېړيو د حوادثو زور ور ماتدې نه دی رسېدلی ډېرې ژبې ور څخه خوندي شوې دي چه تکامل ته ور رسېدلي ، زړې شوې ومړې او د اليا حنګه ژوانده ، تکړه او تندو منده څو نه روغه ده چه د خوشحال خان بابا په قهرماني لري .

د خوشحال خټک په ژبه برکت شه   چه ويل کا په پښتو له هره بابه

ما خوشحال چه په پښتو شعر بيان کړ   د پښتو ژبه مې اوس په آب و تاب شي

و پښتو ژبې ته يې ډېره خوبي ورکړه   چه خوشحال کړ په پښتو شعر آغاز

جانان مې په خپل کور کې په خپل قام دی

ننګيالی د ننګ د پاره

په خپل کور لګوي اور

ننګ دې ته وای چه د دوست سره دوستي کښي او د دښمن سره دښمني کښي ځان قربان کړي زما دا خبره نه هېرېږي چه اعليحضرت محمد نادر شاه، ننګيالی پښتون د ننګ نجات لومړی ځل کښي د مملکت نجات په خوا کښي خپله وينا په دې جمله پای ته ورسوله

«زه الله تعالی ته شکر وباسم چه زما د نيمو شپو ژړا يې په خپل درقبوله کړه. او زما د هيواد خلکو ئي داغ لرې کړو او زړه يې ورماندې را وسپاره

تاسو ته زما دوه پندونه دي اول دا چه د هيواد دا کارونه د لويو کارونو په شان ګران وبولئ دويم دا چه دا ستاسو کور دی او خپل کور که چا جاړو کاوه نو هيڅ ننګ نشته هر څوک يې جاړو کوي ځکه دا چه د دښمنانو د سترګو اغزي او د دوستانو د سر ګلان اوسئ»

ما دا مقوله دا پند دا موجزه کلمه د کامل د تحلیل په ډول او هغه د مقاله کښي د پښتنو مشرانو د پښتو د تعريف په اصطلاحاتو کښي د ننګ د پاره ځانګړې وه چه اوس کاله نحوا ورماندې د لويانو شعرونه وشليدله

ننګيالي پښتانه تل هر ننګيالي وي دوی ننګ ته خوښوي امر پسند وي دا هم د پاره کار کسب روزنه خونده عزيزولي ورورولي روزي

په ته هسې ننګيالی راشي ته ته ننګ داسې ننګيالی راشي

څټک لا پر ېږده په درست اعمال کښي که ننګ داسې هر ننګيالی راشي

د خوشحال خان بابا ارثي کمالات

(۱)

زما د پلار نيکه کور يې مو رشه يو ر ښتينی ؤ هر کوره

تل د خپل عزت د پاره تېر تر سر ؤ تېر تر کوره

د پاچا رياست يې نه و نه سر يې خلاص نه ؤ له جوره

د طبقه نه دي زمانه کښي د پوهانو همدا تربيت ؤ او د نورو ناپوهانو بل شان نه سو
نور کسانو نه تر ډيره ځلې پوهانو ته پوهنه زور له رسيده او نه ځکې آبا دولې
سوداګرانو، مالدارانو ته سود سودا مال تجارتي باغ باندې کول

خوشحال خان دې باره کښي وائي

د پښتانه نور هم د ه پښتانه

يعني د پښتانه په مرحله توره او سپاره رسيدلي وه، خو اما خواه نه ځکه اری
هر وم او نه توري چلوي

د خوشحال خان بابا په دور پښتنو کښي علم پوهه ډيره شوه ځکه دي سوات نامه کښي
دا خون درويزه د دوري ستانه کښي اووايي چه هاله علم کم ؤ نو دی ورته
مجتهد سکاريده.

په سوات کښې دي دومره ډېر که حقي دي که حلي

بو مجرم د درويزه دي بلي دفتر د شيخ ملي

د پښتانه په هر بره کښي شجاعت، سخاوت شامل دي د علم او قلم ملګرتيا ورسره
نادره وه ځکه خوشحال خان بابا وائي

که سخا ده او که توره که جامه ده

په دا دري توکه زما تللي نامه ده

د خوشحال خان بابا په تعبير د پښتو بولي تعريف کښې شرم، نام و ننګ
د جهان روح روان دي چه دا دري واړه نه وي جهان وران دي

د نيا واړه نام و ننګ دي

که دا نه وي جهان نه ننګ دي

د نيا واړه شرم او ننګ دي

که دا نه وي جهان نه ننګ دي

نادي د نيا په خپل وقت ورا نه ېري جهان په دي درې شيانو ولاړ دی که دا نه وی
د پښتانه د نيا د نيا نه ده يوه تېر ګرده

رښتیا

(٣)

راستي لیار د ښاد شاهي — یې کې نشته ګمراهي
د رښتینو پروا نشته — د جهان په بد خواهي
د رښتینو سره فضل دی — تل نصرت د الهي
د رښتینو ځای جنت دی — د قرآن په ګواهي
نیاز ته نه مومي خوشحاله — په راستي کښې تباهي

د پوهانو قدر

(٤)

چه په حکم د حکیم کاندی انکار — ترهغه نه به بل نه وي نابکار
د نادان د هوښیار فرق دی په دومره ګه — چه نادان به محتاج بوي د هوښیار
د هوښیار سره که ډیره هوښیاري وي — بیا به دی د نصیحت وي طلبګار

دحکیمانو قدر

(٥)

مولانا عبد الحکیم — د دنیا د دین حکیم
د خوګیانو د ګروه ته — په تعظیم ؤ په تسلیم
چا انکار ورنه دی وکړ — وي بې هیڅ نه بې فهیم
د هر چا سره سلوک کا — د اصراط دی مستقیم

دسړو قدر

(٦)

دوه ښادي دی د جهان — یو سه زوی به بل باران
چه دا دوه ښادي بې نه وي — څه در بڅه څه آسمان

زل په حیال د مینتوب ؤ — څو چه ورځی تر ګوره
یا ګټل یا یی تحصیل و — چاریی د اوه نه وه نوره
حرڅ یی زر د حلالی بو ؤ — زل په حلاص نه ؤ له بوره
مل په غشی کم حطا ؤ — د ښکار رمیه وه پر روره
چه د دور و په نمی وو — د احو بو نه یکښی ګوره
که د حپل ماما پور نسکه وی — بېه ر و ولی دی له موره
ترا و نه یی حلم ریات ؤ — تیر پسه قهر ؤ ترا وره
مل د دین په کار میں ؤ — له د نیا نه یی حو اتوره

مار و ا که ښا پیری دی
پری یی نه وه دتن سیوره

داد فریاد

(۲)

قسمت څه چار ې راو کړی — مداره دد رست حپهان شوم
نه ګما نه می تقصیر ؤ — د پاد شاه په بند روان شوم
په د هلی په ر نښو ر کښې — د ری ځلور کا له حیران شوم
پنا کړه کښی می ښی وا شوی — میا لو کړ د بد سلطا ن شوم
د شجاع په بهو ر او شر کښې — حپل و طن لره ر وا ن شوم
ر ړه می د رست سره داغ داغ دی — په تلاش یی د د ر مان شوم
لښکر کوټ مغلو سا ر کړ — ر ه په ننګه د ا مغا ن شوم
که یوسف و و که محمد و و — ز ه د تو لو نګهبا ن شوم
د ایمل فتو ر آ غا ر شو — د مهمند و همنسا ن شوم
د مغلو می بلا شوه — غر په غر په کو هستا ن شوم

پر دی ستا په کرم بنا ددی — په حذر ردی له ښکنځلو
چه په ماما ندی یی ځپل کا — خلاصی حت اشنه دو پلو

حسد

(۱۲)

حسد بده بلا ده — د سړی په ور کوته
د هیچا څه و نه کا — حاسد شته کا ځپله مړه

پښتانه حقیقی مشران

(۱۳)

ملائی په ډیر تحصیل شی — شاعری ده له حکمته
ملکی خو با د شاهی ده — خانی هم له سلطنته
پیری لا لو په پایه ده — ده له ډیر هر ریاضته
هفت آسمان ګمی داوانده — پښتانه له جهالته
هر سړی ورته ملا وی — چه په یاد کا څو آیته
چه پیرو هغه شاعر وی — قافیه غلطه کښته
پیرو همه چه پسی د روی — څو سر توری په دا لته

دزوړ والي ارزښت

(۱٤)

خوشحال خټک که ر زوړ شو — عیب یی کوم دی لیدی خرو
د آسمان په ډور نه زړی — بوی د مشکو د عنبرو
چه ډیر کا له پری تیر شی — بوی اوښه شی د اکرو
چا پری گوته اینی نه ده — دزوړ والی په گوهرو
په هر بازار چه ورشی
قدر ئه خی د سر وزرو

دوسلې قدر

(۷)

که هـرڅـو چـه مې ی و ی ‌ ‌ ‌ ‌ چه و سله به لر ی مر د
د بېڅو سر ه ما ست د ی ‌ ‌ ‌ ‌ ىند ا ر ه که د مر د

دوفا قدر

(۸)

هـد کی او لا د کو م د ی ‌ ‌ ‌ ‌ چه به ر و ی لر ی به حو ی
حو د طمع یا د ځ ا ر د ی ‌ ‌ ‌ ‌ د و هـا یـی نشتـه ـو ی

صبراوکار

(۹)

حسا حوڅه مر د ا ر هې و به ‌ ‌ ‌ ‌ سې کیدد شرمیې کفتار حوری
د مر ر یو هـر د ا د ی ‌ ‌ ‌ ‌ چه یا صبر یا حپل سکا ر حوری

بې اتفاقی

(۱۰)

پستا به و ا د ه د حوی د ی ‌ ‌ ‌ ‌ کور به کور کاندی هو ر ر ی
بو چه سر کا ىدی به یو ر ته ‌ ‌ ‌ ‌ ـل یـی و و هی مهـز ی
د پر د و دستر کو ته یی ‌ ‌ ‌ ‌ ا ی حو شحا له نی ا هز ی
ر ا شه هکر کی ه د و حته ‌ ‌ ‌ ‌ یـو حا ی و ایسه ا غز ی
که د ی د ا هکر و ـه کې ‌ ‌ ‌ ‌ د ر و مه د ر غی لـمز ی

خپل پردی

(۱۱)

په د و سټی به غلیمی کښې ‌ ‌ ‌ ‌ پر د ی لا بښه د ی تر حپلو
حپل که بښه سه شه که بدشو ‌ ‌ ‌ ‌ د ز ډ ه ر نغ شی تر تلو

لري ناصحي خو لکه چه ما وېدا نه دي عرض وکړې زما ځینې دوستان چه دوی پښتنه به
تالان او ددښت نه په کم بخښي خوشال دی هغوی داسې هله په اسانه زما خبرې
چرته منې اخر یو راته وویل چه سمندر خان سمندر چه د قرآن په ژبا کښې
ویلي دي چه :

خدای هم پښتون دی د پښتون په سر جګړې کوي

نو آیا ته ددې مصرع د رښتینوالي نه انکار کوې ؟ او خدای پښتون نه ګڼې
څه ؟ ما ورته وویل چه د سمندر خان خبره په خپل رنګ کښې په ځای ده څنګه
چه مثنوی کښې مولانا بلخي د چوپان او د موسی علیه السلام چه کومه قصه بیان
کړې ده ، نو دغې نه خو دا معلومیږي چه هر څوک د خدای تصور د خپل عقل او
فکر مطابق کوي نو ظاهره ده چه یو پښتون ته به خدای پښتون ښکاري او خبره
ته به خبرمنې، نو که دا دلیل و عمل شي نو بیا خو سمندر صاحب رښتیا ویلي دي .
اخر نو ما ورته څه ویلي وای .

په خبره پورې سړي ته خبره یادیږي، ما سره یو ځل زما والده ویـلي ته
لاړه وه هغه د کلو پښتنه وه او ظاهره ده چه د یوې پښتنې ښځې ذهنیت ئې
درلود هغې چه یو څو ورځې د ویلي په ښار کښې تیرې کړې نو ما نه ئې ګیلې شان
پیل وکړ ویل ئې بچیه؟ د ویلي په ښار کښې خو دې مسلمانان نه شته ؟ ما وویل
ولې، دا خیال دې ته څه رنګ راغی؟ ویل ئې بچیه، دلته خو چه څوک ګوري
نو سر کښې ئې نه وي او په پښتو کښې هیڅوک خبرې نه کوي نو ما فکر وکړ چه
دلته به مسلمانان نه وي څنګه چه مسلمانان خو یو بل سره په پښتو غږیږي .

ظاهره ده چه دا دې په خیال مسلمانان صرف هغه خلق وو چه پـه پښتو
غږیدلی شول او چا ته چه پښتو نه ورتله د هغې په خیال کښې قول مشرکان وو
په ناسوده انسان وی ما نه ادې څنګه پوهه کړې وای ادې خو پښتنه
ښځه وه هغې له څه و دا معلومه نه وه چه ډېر مسلمانان شته چه په پښتو نه غږیږي او
ژبه وایي څنګه خو خبره صاحب ته څه ورځ دلې ده او په کلکته او په ... ویله
ئې ویلي دي چه :

زه به جنت ته د پښتو سره ځم

زه لا په مدرسه کښې طالب العلم وم چه زما یو غوندې پښتون دوست ماته وویل
چه پښتو خو د دوزخیانو ژبه ده، ما ورته په خندا جواب ورکړ چه بیا خو ضروري

لیکوال : ښاغلی سید رسول رسا

دخوشحال خان اسلامي کردار

دخوشال خان د شخصیت د مختلفو اړخونو د مطالعې نه معلومه ده چه هغه یو پوخ دیندار او سوچه مسلمان ؤ او د اسلامي کردار یو مثالي انسان ؤ خو حقیقت دا دی چه دخوشال خان د شخصیت د پښتونولۍ په اړخ ډېر څه لیکل شوي دي ولې د هغه په اسلامي کردار ډېرو کمو خلکو فکر کړی دی

دخوشال خان د پښتونولۍ د بحث په سلسله کښې زما نه دوستانو عجیبه عجیبه سوالونه پوښتلي دي . د مثال په طور یوه ورځ یو دوست راته ووېل چه ستا څه خیال دی چه د اسلام مقدس دین پښتون مسلمان کړی دی او که نه پښتون اسلام پښتون کړی دی ؟ او یا دا چه پښتون په پښتون خدای کښې اعتقاد لري او که نه په غیر پښتون خدای کښې ؟ او یا دا چه پښتو اسلام دی که نه اسلام پښتو ده په تاسو انصاف چه سړی د داسې قسمه دقیقو او عمیقو سوالونو څه جواب کولی شي او بیا بالخصوص له داسې خلکو سره چه د بحث نه زیات په کږ بحثۍ خوشاله دي

خو ما نه له دې قسم دوستانو نه په اسانه ځان خلاصاوه یعنې ما نه ورته ووې چه دا ماریکي دي او په ماریکیو کښې ګوتې نه دي وهل په کار او ماریکه چا سرته رسولې دي او څوک چه دا دري واړه څیزونه سرته رسولي غواړي نو بلا ته وځي

تاسو ته څه پرده ده زه پخپله هم تراوسه دغه ماریکو مسئلو په حقله څه قطعي نتیجې ته نه یم رسېدلی البته که څه هم پوه شوی یم نو صرف دومره قدر په دې اپوته خبرو کښې څه لږ ډېر حقیقت هم شته او که چا یې عمیقه څېړنه وکړه نو شاید چه دا اپوته خبرې سمې شي .

زه دا ضمني بحث ډېر اوږدول نه غواړم ځکه چه دا ما د نفسي مضمون نه یو

نوری بابې د کومه راغلي خو د موږ څخه لوړ بابې وی نو په دې وجه اعتباری څیز دی
عمر چونکه بابې نه لری نو بې اعتباره څیز دی هیڅ اعتبار پرې مه کوه !

عفو غواړم دا تمهید د ضرورت نه زیات اوږد شو او که زه لږ دا لنډ نه کړم نو دومره به اوږد شي چه په نفسې مضمون به هم و بحث و نه شي . خو زما د دې اوږد تمهید نه مقصود دا ؤ چه حاضرینو ته و ښیم چه د خوشحال خان د ژوند د پښتو نولۍ اړخ په دومره شد و مد سره پښتنو لیکوالو بیان کړی دی چه د هغه د اسلامي کردار خوا ته د چا پام شوی نه دی او د امر صحت لی نه دی موندلی چه خوشحال خان په حیثیت د یو ښه مسلمان هم و پیژني .

د بنیادم د دماغ خاصه ده چه هر صاحب فکر چه یوه نظریه جوړه کړي او د هغې نظریې په صداقت قایل شي نو بیا ورته درسته دنیا هم په هغه رنګ کښې ښکاري ، په دې وجه ما ضروري وګڼله چه د خوشحال خان د ژوند د اسلامي کردار اړخ په اختصار سره بیان کړم او دا دی زما اصل مضمون :

خوشحال خان خټک په مذهبي عقایدو کښې سوچه او پوخ مسلمان ؤ ، په اهل سنت والجماعة کښې حنفي مذهب ؤ ، په یوه قصیده کښې د خپلو مذهبي عقایدو متعلق داسې وائي :

په پښت پښت راغلی مسلمان محمدی یم
چار د چار یارانو سره واړه سم صمه

درست په دا پوهیږم چه څلور مذهبه حق دی
زه د حنفي مذهب دعوه لرم محکمه

مینه یې په زړه د علماو وراکړه ډیره
مینه یې د دور د شیخانو راکړه کمه

نه خراباتي نه قمارباز نه بدکردار یم
نه قاضي مفتي چه یې نظر په څو درمه

د خوشحال خان دا شعارونه معلومیږی چه په هغه کښې حب رسول ډیر ؤ ، او د اهل بیتو سره یې هم ډیر عقیدت لاره او ورباندې مین ؤ - د خوشحال خان د لاندې اشعارو نه د هغه د عشق رسول اندازه ولګوئ :

د خدای عرفان مي وشو په عرفان د محمد
پاک دی محمد پاک دی سبحان د محمد

ده چه هرڅوك پښتو رده کړی ځکه چه اکثر خلك به دوزخ ته ځی اوکه نور
څوك ئې رده کوی که نه نو یې خامخا رده کړه ۰

زه دحاضرینو نه معافی غواړم چه داصل موضوع نه ساعت تر ساعته لری
وځم اود پښتون اود پښتو په بحث کښی ښېلم خو خوشال خان سره دپښتو او پښتون
بحث داسی نښتی دی چه بېلول ئې گران دی نو په دې وجه زما فکر هم بیا بیا دې
طرف ته راځی او نه می پرېږدی چه په اصل موضوع څه ووایم ۰

ددې تسلسل یو بله قصه هم رایاده شوه که ددې مضمون سره څه مناسبت
لری اوکه نه خو زړه می غواړی چه داقصه می هم وکړی چه محترم حاضرین
ترینه خوند واخلی ۰

زما دکلی په در شو جامع مسجد ته صوبی جومات وائی ، د صوبی جومات
ملاصاحب ښه عالم فاضل سړی دی او طالبانو ته درس هم ورکوی او په پښتو ژبه
یې شانه ډېر مین دی . دهغه دا نظریه ده چه ددنیا ټولې ژبې دپښتو نه وتی
دی هغه په ډکه خوله وائی چه بابا آدم علیه السلام پښتون و ۰

د صوبی جومات ملاصاحب ته یوه ورځ یو طالب وویل چه استاد ، دشیخ سعدی
صاحب د شعر یوه مشهوره مصرع ده د ډېرې مودې نه پرې فکر کوم خو
معنی ته یې نه رسم ، ما اورېدلی دی چه ته په گلستان او بوستان ښه حاوی یې ،
نو امید دی چه ته به ما په دې مصرع پوه کړی ۰

ملا صاحب ورته وویل چه څه مصرع ده ؟ چې ورته وویل چه دشیخ سعدی
صاحب مشهوره مصرع ده

مکن تکیه برعمر ناپایدار

استاذ په ډېر حېکان چې ته جواب ورکړ چه بې عقله ، دا خو سوچه پښتو ده
چه ته په خپلې مورنۍ ژبې پښتو هم نه پوهېږې نو زه څه وکړم دا مصرع
خو په حقیقت کښې شیخ سعدی صاحب دخوشحال خان خټك نه پټه کړې ده او معنی یې
بالکل صفا او واضحه ده . مطلب یې دا دی چه مه جوړه تکیه دهغه عمر نه چه پایې
نه لری ، چې د استاذ په معنی حیران هوندي شو او د استاذ نه یې بیا تپوس وکړ
وویل یې استاذ دعمر پایې نشته ، دا څه رنگه خبره شوه په دې خو پوه نه شوم ،
استاذ ورته وویل چه بې عقله ، دعمر پایې خو دا دمور او بابا یکل پایې دی کنه؟

تر هلال او تر بلال یې صدقه شم
لار انځه مې د پښه خاوري د ګور ردي
په سرو زرو کښې کمې د قدر نه شته
صحابه د پیغمبر واړه سره زر دي
زه خوشحال خټک همه سې مذهب یم
چې یاران را ناسدې واړه سرابر دي

دخوشحال خان خپل ژوند داسلامي اخلاقو په مکمل طور عکاسي کوي ، دهمه حق ګویي، بې باکي، سخاوت ، میلمستیا ، مېړانه او شجاعت ، توکل او صبر سخت کوشي او جفاکشي ، مروت او مدارا ، انصاف او عدل په خپله زمانه کښې مشهور ؤ . د همه دیوان داسلامي اخلاقو په عالمانه او شاعرانه طرز کښې مکمل تصویر دی او په دې موضوع چه همه کوم اشعار ویلي دي همه ډېر دستاینې وړدي مثلا دتوکل او دعا دژوند په باره کښې خوشحال خان وائي .

که لېوه ده که ډېره واړه وشمېره په تېره
په خوی د پیغمبر شه که شته شته که نه شته نه شته

بیخپل زړګی کښې خومره اوچت شعر دی ګمان نه کوم چه بل پښتون شاعر دا مضمون په دومره سلاست ، روانی او بې باکی سره تړلی وي . څو مسکه دخوشحال خان خپل ژوند همدغه شی ؤ . ځکه همه توان لاره چه دا اوچت خو پېچیده مضمون په داسې اسانۍ سره په خوند نا که او سپېځلي پښتو کښې بند کړي .
رحمان بابا چه همدا مضمون په شعر کښې بندول غوښتي نو وائي

د دلبر و صدقې لره یې غوښتم
هسې نه چه په دنیا پسې زهیر یم

دا هم په خپل ځای کښې بې نظیره شعر دی خو خوشحال خان ورته په دې مضمون کښې سبقت وړی دی د خوشحال خان شعر د توکل دژوند مکمله نمونه ده ،
دغه شان خوشال خان د همت ، سخاوت ، عزت نفس، عفو وغیره متعلق هم ډېر اشعار ویلي دي چه یو شعر یې کښې دنمونې په طور پیش کوم ،

که آسمان دی دزمري په خوله کښې ورکړي
د زمري په خوله کښې مه پرېږده همت
که ګنجونه دقارون درته انبار شي
په هر لوري یې خور کړه په سخاوت

راشه سطر وکړه په طه په یس با مدې
خدای دی صفت کړی په قرآن د محمد
د پیر حلک پیدا دی اولیاء که انبیاء دی
مه شته په حلقت کښې مل په شان د محمد
لاس دی لګولی ما خوشال په دوامنه کو مه
غم اندوه می نشته په دامان د محمد

خوشحال دحضرت علي سره هم د پیر عقیدت لاره اوداهل سنت داماما نو نه علاوه دانما عشره سلسلی دولس وارده اماماني هم دهغه ایله او احترام مستحق گڼل، دحضرت علي (رض) په تعریف کښی دا بلې چه سریې ددې شعرو نه شروع کیږی دلوستلو قابله ده :

که په کار دی چه ده د خدای پیوندګلی
پیروی د محمد کړه د علي

خوشال په همو مسلمانانو بدوایي څوك چه د حضرت علي (رض) مخالفت کوی یا دحضرت عمر (رض) بده وایي

د خوشحال حتیله په عقیده د خلفای اربعه قدر عزت احترام د مسلمانانو د مذهبی عقیدې جزه لاینفك دی او څوك چه پسه دوی کښی دهر یو بد وایي دهغه په مسلمانۍ کښی خلل دی ، خوشال خان دمسلمانو دهر قو او تنازعو نه اوچت او د پیر متوازن او راسخ مسلمان ؤ ، هغه د خپلې نادری عقیدی اظهار داسی کوی :

چه په سب د ابو بکر او دعمر دی
که په خوله کلمه لولی هم کافر دی
د هغو پسه مرګ ثواب ګڼلی بو یسه
چه بدګوی د ذوالنورین دی د حیدردی
تر مهدی پوری یو ولس دی یا دولس
چه پسې څوی او لمسی د پیغمبر دی
له اولسه تر آخره که ګرو هیږې
د بتول او لادسی واړه نور د بصر دی

خاکی و نوری نهاد بندهٔ مولا صفات
هر دو جهان سی غنی اور اسکا دل بی نیاز
اسکی امیدیں قلیل اسکی مقاصد جلیل
اسکی ادا دلفریب اسکی نگاه دلنواز
نرم دم گفتگو گرم دم جستجو
رزم هو یا بزم هو پاك دل و پاکباز

وګورئ چه د خوشال خان او د اقبال د نمونه مسلمان متعلق نظریات یو مثل
په څومره نږدې دي .

ګرانو حاضرینو! له دې ویرې چه ښایي نه دا مضمون د کتاب شکل و نیسي زه
مشت نمونهٔ خروار اکتفاء کوم او دا مضمون هم د ځه ځای ختموم کنې د خوشال خان
شعر او نظم کښې په دې موضوع دومره مواد موجود دي چه د هغو په رڼا کښې
ږي د خوشال خان د اسلامي کردار ډیر په تفصیل سره جایزه اخستی شي او دا
ثبوتولی شي چه خوشال خان د خپل وخت یو ښه مسلمان وو - داسې مسلمان چه د خپل
وخت د ډیرو نورو امیرانو نه د مسلمان په اخلاقو، عاداتو، عقایدو او عملی
ژوند کښې په هر لحاظ سره بهتر انسان وو، او په زړه کښې یې د اسلامي همدردۍ
و اسلامي ورورولۍ، اسلامي برابرۍ او اسلامي اتحاد او اتفاق یو موجزن
سمندر لاره او د اسلام د حفاظت او اشاعت د پاره هر وخت ملا تړلی ولاړ وو عرض
دا چه خوشال خان په اسلامي اخلاقو کښې د خپلې زمانې یو ډیر اوچت نمیادم و چه
هم د ګفتار غازي وو او هم د کردار هم د توري خاوند وو او هم د قلم خوشال خان
وایي

و خدای ته خوار وي بهتر د خلقو
له ځانه پریږده باور د خلقو
که خپل د خدای یې په حقیقت کښې
مومن د خدای شه کافر د خلقو

دمت دارو که مرګ په کار می نه دی
که علاج لره مسي را شی مسیحا هم

✿ ✿ ✿

ویل می خه دی چه نشان د جوانمردیه دی
ویل بې عفو په هنګام د استقلال

✿ ✿ ✿

که په زر رنګه خوبې آراسته وی
چه زړه بې پرې ورانه وی هم هیڅ

خوشحال خان چه د نمونه انسان کوم اخلاق پیش کوی هغه د یو نمونه مسلمان اخلاق دی لکه چه وائی:

مرد هغه چه همتناك در کښتاك
له عالمه سره خوږ په ریښت وژواك

مخ یې مخ قول یې قول عهد یې عهد
نه دروغ نه یې فریب نه تش تپاك

لږ ویل ډیر یې کول په خاموشیه کښي
د غوټچې غوندې خوله پوری سینه چاك

چه خبره د پښتو د ملندیه شي
په لوړ یی لکه آسمان په پستیه خاك

په تمکین کښي لکه سرو او په پستیه کښي
په هر لوري ځان رنګوری لکه تاك

لکه ګل شګفته رو په نظاره باغ کښي
همیشه د ښو ملګرو پسې ملګاك

په دي مضمون علامه اقبال چه د مرد مومن کومي خوبی ستایلی دی که هغه هم بیان شی نو بې ځایه نه به وی. علامه وائی

هاتهه هی الله کا بندۀ مومن کا هاتهه
غالب وکار آفرین وکار کشا وکارساز

موږ چه تر کومه په تاریخ کښې د نړۍ د لویو خلکو په حقله مطالعه کړې ده نو تر اوسه راته داسې یو شخصیت هم نه دی معلوم شوی چه د خان بابا په څېر آفاقي او اجتماعي حیثیت ولرلی شي. یوازې دا نه چه خان یو مدبر او عظیم سیاست دان وه بلکه هغه د جنګ د ډګر د هر کړلیچ نه خبر دار یو منګیالی جرنیل هم و، هغه د پښتو ادب پلار، یو پوهاند طبیب نجومي او د انسانی نفسیاتو د ژورې مطالعې کوونکی کامل یو ستر حکیم هم وه، که نن ده ئې نار په مشکل د ښکار په لټون کښې په سپینه ږیره په ښکل میانان پرهل و، نو سبا ته به ئې په زندان کښې د «دستار نامې» د لیکلو د پاره عنوانونه ټاکل.

لنډه دا چه څرنګه چه وویل شول، خوشحال خان یو جامع او آفاقي انسان ؤ او د ژوند په هر اړخ ئې له خپله قوله او عمله زیات غور زولی ده خو ددې هر څه سره سره هغه یو د تصوف او روحانیاتو ذوق او د هغې سوچ هم وه، او د حضرت شیخ رحمکار عرف کاکا صاحب مرید و، لکه چه وائی:

«طریقت کښې مقلد د شیخ رحمکار یم»

او په بل ځای ترې داسې مرسته غواړي

د خوشحال تکیه په خدای ده   میا بس ته نسا ده رحمکار ته

د تصوف په روی سړی که یو انسان د خدای د ټولو صفاتو هنداره وی، خو یو صفت ئې داسې هم وی چه هغه مرکزی حیثیت لری او د نورو ټولو صفاتو د پاره د محور حکم لری او د هغه انسان د تخلیق منشأ هم هغه مرکزی صفت وی لکه چه خان وائی:

شیخ دې نمونځ روژ کا زه به ډکې پیالې آخلم
هر سړی پسې اخته دی خپل خپل کار لره کړه

داسې ښکاري چه د خان بابا په پیدا کولو کښې د لوی څښتن منشأ د پښتو او پښتنو ارتقا د خپلواکۍ او اجتماعي ژوند بنیادي تصور او شعور پیدا کول وو، خو زما وینا د خان بابا د دې بنیادي صفت د ظاهرولو او د هغه د واضح کولو سره تعلق نلري، ځکه چه زه مکلف یم چه د هغه د اشعارو په فلسفي او تصوفي اړخ وغږېږم.

فلسفه په بنیادي ډول د کاینات د تخلیق د اساسي علت نه د بحث ابتدا کوی، او ددې څېړنه انسانی عقل داسې کوی چه د مختلفو حواسو د جزوی ادراک کړی سره را نو ټولی کوی. د کلیبي یو ځنځیر تیری خوندوی، او نتیجه یې مرتب کوی، عقل د محسوساتو نه ماوراء هیڅ کار نه شي کولی، بلکه څه چه د انسان په ماحول کښې

لیکوال : ښاغلی امیر حمزه شنواری

د خوشحال خان د فلسفی او تصوفی

اشعارو خوا

د خوشحال خان علیین مکان د نوم د آوریدو سره په ذهن کښې د یو داسې ماهر انسان تصور ورپیښي کوم چه د انسانی ژوند په هر اړخ ځلاند او ژور نظر لري او چه د همه په فن هم نظر و ځغلولی شي او ظاهر شي چه خان د انسانی ژوند د هر ضروري او مهم اړخ عکاسی په ډیر ښه شان کړې ده . داسې انسانان په لږه کښې کله کله پیدا کیږي . په قول د علامه اقبال:

نرگس زرگونه کاله ژاړي چې ولې بې نوري

چمن کښې سترگه ور به ډېره گرانه پیدا کېږي

(ترجمه له اردو)

هم دا وجه وه چه علامه اقبال د خوشحال خان ختك د آثارو نه استفاده کړې ده او د خودۍ فلسفه ئې د خان د افکارو نه آخستی وه چه هیڅوك ترې دا انکار کولو مجال نه لري .

علامه مرحوم په خپلو آثارو کښې د خان بابا افکار د صحراب خان افغان په نوم څرگند کړي وو او د خوشحال خان د ملي وحدت نظریه ئې په دې ډول څرگنده کړې چه « باید قبایل د ملت په وحدت کښې ورك شي ، او ملګرو ، راشئ چه د دغه صحر درنه وکړو ، د خوشحال خان همه فروهم د خان د پاره خوښ نه دی ، چه د صحرا د آسونو گرد پرې پریوتی شي »

بوخو به دې هم د علامه اقبال د پښتنو سره مینه وه ، چه هغه د دې ملت په منتها کښې د اسلام د سر لوړی او د ایشیاء د امن تصور درلود ، ځکه ئې وویل

ایشیا یك پیکر آب و گل ست   ملت افغان در آن پیکر دل ست

او بیا ئې چه د خوشحال خان د افکارو مطالعه هم وکړه ، نو د پښتون ملت حقله ئې عقیده لوره هم کلکه او پخه شوه .

داخو د یو فلسفه عملي تفکر دی چه په کائنات کښې ئې کوي، لیکن یو صوفي هم په مبادي د ټول د کائنات په اساس او غایت کښې فکر غځلوي، او وائي چه اللهم ارنا الاشیاء کماهی، او یو فلسفي هم د شیانو د حقایقو نه پرده پورته کول غواړي خو غایت ګڼي، او هم په دې کښې فکر کوي، خو څرنګه چه وویل شول د ده فکر د مادي محسوساتو نه د باندې نه شي وتلی او د طبیعت نه ماوراء د هیڅ خبر وجود معلومولو ته هاغه نه ښدي، او هم په دې مقام کښې د فلسفې او صوفي لار د یو بل نه بیله شي چیرته چه د عقل د الوت انتها راشي، د هغه ځای نه د انساني روح د پرواز ابتداء شي او د دې مقام نه وهاخوا د عقل حیثیت د شاګرد شي، او که هغه د روح په محکمې د شاګردۍ رتبې ته ټیټ کړي. نو کوم شیان چه د هغه د حس د ادراک نه لرې و هغه محسوس کړي، ځکه چه د مشاهده کولو نه پس د عقل څخه د انکار مجال نه وي ځکه نه د پردې شاتې شیان چه دا یقین داده نه پخوا عقل نه تسلیم کول ده یقین داده نه پس ئې تسلیم کړي، لکه چه چا ویلي دي چه:

اینها همه عیب ست که معلوم عوام ست

خوشحال خان بابا هم د عقل د الوت په پائې کښې چه د عقل واګې انساني روح ته حواله کړي نو د یقین د زنائې د پاته شوه او وئی ویل چه:

د پیر عالم زما په یاد — راغی تیر شو لکه باد
هم داسې راشي تیر شي — په ځای ئې نه لري استاد
عجب او یه کارخانه ده — چه پیدا کړه لوی استاد

او بیا وائي چه

هر تماشې ئې ودا ناورته معلوم دي — داحیرت ولاړ ډېره ده ده کې تماشه
ګل ته ګاه اهسې دیپاوحسن ورکړ — چاله هسې ته په ته پاڼي براڼتي

خو د ماوراء طبیعیات یا مابعد الطبیعیات د مشاهدې د پاره مجاهدې ته ضرورت دی، لکه چه خان وائي

همیشه ژوندون که غواړې درته وایم — همیشه کړه د نفس سره جهاد

د مجاهدې سره عقل هم متفق دی — خو انساني نفس چه «آسان خوښي» او آرام طلب دی ددې نه غاړه غړوي خو انسان ته لوی ښتن ددې د پاره یو بل څوهر ورکړی دی، چه عشق ورته وائي — عشق او عقل دواړه د انسانیت خادمان دي

او یا په فضا کښی موجود وی، او د حواسو په ګرفت کښی راتلی شی هم نه عقل کښی فکر کوی او حکم پری لګوی.

د لیری هر مفکر انسان د دې تفکر سره باید مخامخ شي چه دا بې انتها لوی کائنات له کومه څرګند شوي دي او په دې کښې غایت او مقصدیت څه دی؟ ځکه چه انسان د شیانو په ظاهر نه قانع کیږي، بلکه د شیانو ژورو او باطن ته د کوزیدو تکل کوي او ښکاره ده چه د شیانو حقیقت د شیانو غایت وي. نو همدغه مرحله خوشحال خان ته هم په مخه ورغلې ده او ویلې يې دي:

ما چه نظر وکړ په ذرات په موجودات
ګول په جهان راغلم تیري ګول درومم هیهات
پوه عاقل تر میان وي فهم باتي شي له کاره
دا هومره کیږي هومره ادراک د سموات
هیڅ نې، ولي يې درست اسرار موندلي نه دي
لویه کارخانه ده که وګوري کائنات

هو، د ټولو انبیاؤ سردار هم وفرمائیل چه ما عرفناك حق معرفتك، او لوی لوی حکماؤ د دې بې معرفت نه پس هم مجبور او وویل چه: معلوم شد که هیچ معلوم نه شد

د سقراط نه تپوس وشو چه د کائنات په راز څه پوه شوې، جواب يې ورکړ چه هیڅ پوه نه شوم، تپوس تیری وشو چه بیانو به تا او یو جاهل سړي کښې فرق څه باتي شو، جواب يې ورکړ چه فرق دا دی چه زه پوهیږم چه هیڅ نه پوهیږم، او هغه نه پوهیږي چه نه پوهیږي.

عقل چه د پرالوت وکړي او د کائنات د راز په لټون کښې خپلې انتها ته ورسیږي نو د مادیت نه ماوراء د هر څیز نه انکاري شي، ځکه چه د خپل حد نه پورته الوت ممکن نه وي، دلته فلسفه په ټپریدو شي، او دا انسان خیالات چه څه وي داوي چه کائنات ټول بې مقصده څیز دي، په اتفاق سره پیدا شوي دي او په اضطراري ډول لګیا دي کار کوي، هیڅ غایت او مقصدیت نه لري، انسان په قول د سارتر په فضا کښې غورځولی شوی دی خو غورځونکی يې نشته. نو شاید چه خوشحال خان ته هم دا ویره ور غلې ده او ویلې دي:

دا عالم ریګه روان دی که يې ګوري خو هم هسې سره اوړي لاندې باندې

د تصوف په اصطلاح کښې ورته شیخ مرشد او پیروانو ته ئې مریدان وائي دا په دې لار تګ
ډیر ګران او د خطر نه ډک دی او بیا د شیخ د نګرانۍ او هدایت د لاندې د سالك
په لار د یون پیل وشي

د تصوف ډیر تعریفونه شوي دي چه چا ورته د فاضله اخلاقو او چا ورته د زړه د
عشق حصول ویلی دی خو ځینو وائي چه د لوی خدای سره معنا معامله ساتل تصوف دی
او حضرت شیخ عبدالقادر جیلاني وائي چه د خدای او بنده ترمنځه چه کوم حجاب دی
دی د هغو لري کول تصوف دی خو ما په خپله د تصوف کوم تعریف معمولي او عوام
ګڼلی دی په هغه کښې نږدې نږدې د ټولو اقوالو مصداق موجود دی او هغه دا دی چه
د انسانیت د عنصر نه د حیوانیت او ملکیت تسلط پورته کول او دا دواړه د انسانیت
تابع کول تصوف دی تصوف دا دی چه انساني وجود چه د افراط (ملکیت) او تفریط
(حیوانیت) ترمینځه واقع دی د دغو دواړو د غلبې نه خلاص شي او دا دواړه عنصرونه
چه لوی شخصیتونه ورته د بدر قي او خادمانو په حیث ورکړي دي د انسانیت مرستیال
او تابع شي او هم د اعتدال او اوسط دی او هم په دې کښې خیر دی که چیرې په انسان
ملکیت (د پرښتې خوی) غلبه وکړي نو عشق به ئې دومره شدید شي چه همه په معبود و ب
او د دنیا له کاره ووزي او که حیوانیت (چه محض شهوت دی) پرې زورور شي نو
د خپل مسرت او آمادیت د پاره هرڅه مباح وګڼي او په دې نه د دنیا په نظام
کښې خلل پیدا شي لکه چه د ژوند د جګړې د پاره پاروین د ارتقا د نظرئي په ترڅ کښې
شوي دي چه والده حیوانات د لویو خوراك دی او دا یو فطري عمل دی چه روان
دی نو که د پرې انسانان په ګډه د انظر به عملي کړي نو په لږ موده کښې به د انسان
نسل ختم شي نو ځکه د لوی شخصیتونو دا هڅه جاري شي کیدی چه کومه کسالي دنیا بې
پیدا کړې ده انسانان دی د هغې نه جسماني روحاني او د هغې ګټه واخلي لا دې
محدود شي او لا دی د شاور په خیر یو مل رهبر وي ملکه د خدای دا منشاء ده چه انسان
په صحیح معنو انسان دی او هم دغه وجه ده چه اسلام رهبانیت منع کړی دی او د عالم انسانیت
د احترام امر ئې کړی دی خوشحال خان د ګوښه ګیرۍ مذمت داسې کوي

کښېني په خلوت کښې شیخه سودي راته وایه

ولي په خپل ځان داسې آرت جهان تنګ کړي

په تصوف کښې د هومبی درجه د فنا في الشیخ ده او چه هرکله دا فنا حاصله شي نو بیا

خو د مجاهدې په ذکر کښې عشق دا غواړي چه عقل د عشق تابع وي ځکه چه عقل چه د مجاهدې په لار کښې حیران، کېږي او د خوا دنو بوګنو او نکې سېلابونه وړي، نو بعض ته تري د جهان ژغورلو سوونه کوي او ده ته د عقل کار دی، او په دې موقع کښې عشق ده وي او بعض د سالك د همت اس کلکه ونیسي او ودانه دی تګ ته اړ په بر بوري. خو د عشق سترګې هغه څه ویني کوم چه د عقل د نظر نه ډېر لرې او پټ وي. خو په دې شعر کښې عقل ارو مرو ماتې مومي لکه چه خان وائي.

عقل او عشق چه سره دواړه په دعوی شي بل مجال د عقل نشته بې ګرېزه

ځکه نو خان ما عاشق ته په عقل موفقیت ور کوي او په داسې شعر کښې تري مرسته غواړي او وائي:

راشه عشقه راځه چه ور نور یې را ته مات کړي بیا نو رسا عقل په تدبیر را غلی دی

هم د ده مضمون د علامه اقبال په اشعارو کښې هم ځلاند ښکاري او هغه هم په عقل باندې عشق ته موفقیت ور کوي او د مولانای رومي او خوشحال خان دا مکاروونه استعما ده کوي ځکه نو صوفي چه په حقیقي معنو کښې صوفي شي د مذهب یا فرقې د لنډې تنګ تصور نه خلاص ژغوري. لکه چه یو ځل علماؤ یو طالب مولانا رومي ته د بحث د پاره ور لیږلی و. طالب تري پوښتنه وکړه چه ته په دوه او یا فرقو کښې د کومې فرقې سره تعلق لرې؟ مولانا جواب ورکړ چه زه د ټولو سره متفق یم. طالب ور ته وویل چه د دې نه معلومه شوه چه ته ملحد یې، مولانا جواب ورکړ چه «زه د ملحدانو سره هم متفق یم»

نو دا مضمون رحمن بابا داسې بیانوي

له دوه او یا مذهب سره بېزار و کړي له د له
خوشحاله که خبر شې په رښتیا د عشق که کشه

هم دغه مضمون د عظیم شاعر اسدالله خان غالب داسې بیانوي:

هفتاد و دو طریق «حسد» کسی هد دسی هی
رهنما هی یه طریق که نا هر حسدسی هی.

یعنې دوه او یا ټولې د «حسد» دا هغه دو په رعایت سره خو له غوی دي د «حسد» له دا هغه دو په طریقه دوه او یا هغه د حاصلیږي غالب وائي چه زما خپل طریق د حسد یعنې دوه او یا و نه بیل او جدا دی.

په تصوف کښې د مجاهدې د شروع کولو نه وړاندې یو استاد ته ضرورت وي خو

باوندان ګې هم خندنه کوي په خپله ماته يو ډېر معقول ادب وه ورځ وو يل چه
پير صاحب حيران يم چه ته د تصوف په دې يم ولې بمن شوې؟ ماوې رضا يې وقوې
ور ته يې څه وويل؟ خوشحال داسې حلق يې خبره ګوي او وائي چه

د رندانو هسې پيدا شي چه په عشق کښې   داد ماليوني زده خو څه معقول کا

خو په دې لار هر څوك بوني نه شي کولې ددې د پاره داستعداد ضرورت وي دومې
شرط دي لکه چه رحمان بابا وائي :

هر ملحي د سر بازي په هنر څه زده
چه په دې هر کښې سر ښندي پتنګ دي
نه په ښه تو پيري د هر کالي مڅرى
دې سو حسته سره بکر لري سو دا

سالك چه کوم وخت د معرفت دنو بو نو بومر ملو سره مخ شي او چرت ئې
ربات شي او وائي :

په هر لوري او ښکار دې عونډ بدلي
ښترګې وحوره چه نه دا امداره نه کا

ښکاره ده چه دا او بهار همه موسمي پسر لي نه دي چه کال په کال راځي بلکه دا
د کل بوم صوفي شان نو بهار دي چه په هره لحظه د حويل نه احمل او د دلکش نه
دلکش تروي. خو صرف داسې ښترګې غواړي چه هغه وليدلي شي. رحمان وائي :

هر ويښته چه په صورت باندي ليدۀ شي
که پري څېر شي د شناخت ور دره ته وار کا
خاص نده د خداى هغه ګوره و شعاله
چه د ځان په معرفت بې سر قرار کا
عارفان د سر په ښترګو ګوري کښيي دي
د حيل زړه په ښترګو ګوري تماشا کا

او د حق د مشاهدې په وخت چه د سالك کوم کيفيت وي رحمان بابا د دې
نقشه په څه حکيمانه الفاظو را کاږي وائي :

لکه ښترګه تصويري څه ل بې نه وي
چه مي ښترګي په جمال ق ته کا ته کا

سالك د فناء فی الرسول مرحلې ته تیار شي او ددې مرحلې نه پس د فناء فی الله او په پای

کښې د بقا بالله مرتبه حاصلوي د فنا ابتدا ددې نه کیږي چه سالك په ژوند ومري

(موتوا قبل ان تموتوا) لکه چه رحمن بابا وائي:

په ژوند ومره چه د مرګ له غمه خلاص شي
آسان کار دې کړه ځان باندې ګران ولې

خوشحال خان دا مضمون په ډول ډول بیان کړی دی وائي چه

زه هاله د عاقبت ناوې قبول کړم
چه یې خپله تماشا ورکړه په مهر

هو او د هر فطري خواهش نه تیریدل او په هغه تسلط کول ضروري دي ځکه چه

ترڅو انسان په فطرت غالب نه شي هغه د خپل وجود د ښکر کولو قابل نه دی او

د کائناتو تسخیر (چه د انسان د پاره مقدر دی) خو ډیره ګرانه خبره ده او وائي چه:

بیا هاله په یګانګۍ له خاله لاف کړه
که د غیرو اندیښنې له زړه خارج کړي

دا انسان پټ صلاحیتونه هله را څرګندیدی شي چه د دانې غوندې ځان خاوري

کړي - خان وائي

تر یې نه سل رنګه ګلونه شګفته شي
هر سړی چه خاکساري واخلي ځان خاك کا

او وائي چه:

چه د زړه همه نه وویښې خوشحاله
څو یوه قطره که تیره شي تر دا څه

ز مطلوبه پوري شرط د رسیدو دی
که تمامه لاره وهو شي آلوده

هیڅ شك نشته چه د مجاهدې په دوران کښې یو صوفي د دنیا د کار نه تر ډیره

حده پاتې وي، ځکه چه په یو وخت کښې د هر کار ونه هیڅري سرته نه رسي خو د صوفي

عقیده ما یدور هبا ایت نه وی او اکثر داسې مجاهدان چه د دنیا نه ځان ژغوري د دنیا

د سیوري په شان داسې راځي لکه چه خوشحال وائي

څوك چه مخ په لمر روان شي خودې ګوري
چه سایه وربسې دروي په قفا

او دا مرحلې د کامل شیخ او د اولیاوو په صحبت خوځیږي لکه چه خان وائي:

چه کیمیا کیمیا یادیږي په جهان کښې
کیمیا خو ده یوه نظر د اولیاؤ

او ددې په مقابل د بد او صحبت نتیجه داسې ښیي:

من قلیل په یوه مجسره نه یوي شي
بد دې له شي یورمان هم راه د چا

عوام د سالك په حال نه پوهیږي او اکثر ور پوري خندا کوي او ډیر د عقل

په ابتدا کښې د خپل شیخ خواجه باقي بالله په عقیده د وحدة الوجود داعي و.
او په خپلو مکتوباتو کښې ئې په وجودي توحید ډیر څه لیکلي هم دي. چه دلته ئې
نمونه د خپلې مایوسۍ نتیجه وویل ـ دا ځکه چه یو وخت داسې پرې هم راغی چه
هغه خپله مرتبه د خپل شیخ د مرتبې نه ځکه وګڼله او په دې سره د هغه نسبت د خپل
شیخ سره قایم باقي نه شو او د نسبت د ماتیدو نتیجه څرنګه چه ښکاره وه دا شوه
چه د پیر په نګرانۍ کښې حاصل شوی علم و رته ناقص ښکاره شو. او د وحدة
الشهود نظریه یې وړاندې کړه ـ خو په دې کښې ئې د دومره افراط نه کار واخیست
چه د خپلې سلسلې ځینې پیروانو ئې هم اشارتاً شرك منسوب کړ او په خپله
تر ژونده په دې عقیده کلك و ولاړ و چه مقام محمدي ته د رسیدو نه پس د همه
د پاره د آنحضرت صلی الله علیه واله وسلم د وسیله او توسط ضرورت نه دی ځکه
چه د هغه او د محمد صلی الله علیه واله وسلم معاملې مشترك حیثیت پیدا کړی دی
چه په دې خبره ترې اکثر ډیر و مریدانو او خپلو خلفاؤ هم انکار وکړ.

د وخت علماؤ پرې فتوې ولګولې. خو شیخ محمد صاحب د عدم توسط رسول
عقیدة د ایمان کمال ګڼله. او تر ژونده پرې محکم و ولاړ و ـ

وحدة الوجود

په دې نظریه د کم نظر خاوندانو د شرك او حلول ګمان کوي. او حال دا چه
دا نظریه د دغو شیانو نه بیخي پاکه ده. وجه ئې دا ده چه د وجود حقیقي مفهوم ئې
په پوهه کښې نه راځي. او د وجود په ترشح کښې د هغو د ذهن نه مادیت او جوهریت
نه اوځي. په معنوي دلیل یې شیان هم چه صرف متصف بالوجود دي وجود دي وګڼي.
او د وجود مجرد تصور یې په ذهن کښې نه راځي.

وجود نه روح دی نه ماده ـ نه عرض دی نه جوهر بلکه د حق ذات او د حق
وجود یو شی دی ـ که څه هم شیخ سرهندي د حق نه وجود سلب کوي. او حق
نه وازي په خپل ذات قایم وائي. خو وجودي صوفیه څه چه نور د عقل او فهم
خاوندان هم دا نظریه محل نظر ګڼي. او هیڅ پیري دا تصور نه شي کولی چه حق تعالی
نه د وجود نه مغایر په پوهه کښې راشي. نو دیو وجود نه مراد دا دی چه په حقیقت
کښې یو د حق وجود شته. او دا څه چه موږ ته موجود ښکاري. په خپله هیڅ
وجود نه لري بلکه د هم هغه یو وجود مظاهر دي. او کوم وخت چه دا یو وجود په

فنا د بقا پوړۍ ده او په دې حقله د نورو سالکانو او صوفيانو غوندې خان بابا هم ډېر څه ويلي دي وائي:

دا په دا چه خود بيني ور څخه لښته   د جهان ننداره ځکه دوی ليده کا

او دا هم چه:

په رښتيا يې څوک نهال يې ای له دوستۍ گوره بايه
که بېله نامه وايم نامه ستا راشي په ژبه

چه له سوره له گداره بې خبر شي
زما له به لي گلاب له به بې قند کا

او وايي چه:

خوار عاشق په خاصيت دی د سيماب
څو به نه مري څوک به نه ځي له اضطراب

خواجه حافظ شيرازي وائي

حافظ صبور باش که در راه عاشقی
هر کس که جان نه داد به جانان نمی رسد

خو دې مرگ ته د تصوف په اصطلاح کښې موت الابيض وائي او په دې سره حيوانيت لکه مړ او انسانيت ژوندی او ځلاندی شي گويا کښې سالك د همه قائم الليل سيماب په غوندې کوم چه آسير شوی وی او د مړينې په حال کښې هم ژوندی او د نورو مړو د پاره هم د ژوند سبب وی خان وائي:

که لمبې ور باندې بلې کړې ايرې شي
د ژوندون هنر به نه ځي له سيمابه

د تصوف دوه مهمې نظرې

د تصوف په دنيا کښې د وحدة الوجود او وحدة الشهود دوه نظريې ډېر شهرت لري، چه په پخوانو صوفيانو کښې د دغو په حقله ډېرې مرکې شوې دي خو د فريدالدين عطار د تذكرة الاولياء څخه معلوميږي چه په پخوانو صوفيانو کښې د وحدة الوجود د نظرې مرستيال ډېر وو - لکه د منصور انا الحق - د بايزيد بسطامي سبحاني ما اعظم شاني - او د ابوسعيد ابوالخير ليس في جبتي سوى الله او داسې نور - خو په آخرو صوفيانو کښې شيخ احمد سرهندي د وحدة الوجود د نظرې مخالفت وکړ که څه هم

په ډېر ښه شان ظاهر دی . او دې مسئلې ته که په وجداني ذوق و کتل شي .
نو کیفیت بیانول یې امکان هم نه لري . ځکه چې من لم یذق لم یدرك ـ لیکن
په علمي ډول یې څه نه څه تشریح کېدی شي خوشحال خان بابا دې ته داسې
اشاره کوي :

په هر څه کښې اندازه د صنع مخ کړم — چې له ذرې پیدا یې تا پدید شو

په دې شعر کښې دا دلیل شاعر وړاندې کوي چې د ډېر ظهور د یو څیز د غایب کېدو
سبب گرځي ـ که چېرې لمر حرکت نه کوي او همېشه په یو ځای ولاړ وي ـ نو د لمر
رڼا ادراك نه ممکن نه ؤ ځکه چې په مصداق تعرف الاشیاء باضدادها د رڼا
ادراك او پېژاند نه د تیارې په وجود اړه لري . او چې تیاره له سره موجوده نه وي
نو د رڼا ادراك هم نه شو کېدی

خوشحال خان بابا په دې شعر یو وړوکی کتاب په پښتو ژبه لیکلی دی چې چاپ
شوی دی .

د وحدت الوجود او وحدت الشهود په بحث کښې او په مسئله د حق د صفاتو د عینیت
و غیریت د چې ډېره گرانه ده . ځکه چې شهودیان خصوصاً شیخ احمد سرهندي
او د هغه ملگري د خدای صفات د خدای په ذات زائد گڼي . او وجودي صوفیان خصوصاً
شیخ اکبر محي الدین ابن عربي عین ذات گڼي ـ او د زائد پر ذات عقیده د حقیقت
په خلاف گڼي ځکه چې وجودیان یوازې د حق ذات فعال گڼي نه صفات او وایي چې د
الهیت مطلقه چینه یعني یوه ده صفات صرف اعتبارات دي چې په یو ذات کښې
تصور دي . او که صفات په ذات زاید و گڼل شي نو بیا دې سره به ذات د صفاتو معلول
وگرځي او ذات به د صفاتو یوه مجموعه متصور شي . ځکه نو وایي چې هم هغه یو ذات رحیم
کریم قهار او جبار او هر څه هر څه ښکاري او خوشحال خان د دې نظریې پر سته داسې کوي :

نور څه نشته لا ندي ما ندي — واړه دی دی چې څه کاندي

کوم فلاسفه چې عالم ته صرف وهم وایي ـ هم ده حالت د سلوك په ابتدا کښې
په یو سالك هم وارد شي نو چې عارف شي او پوه شي چې کائنات د حق د صفاتو
په عبادت دي ـ او د اعتقاد د وجودي مسلك سره تعلق لري ـ نه د شهودي
مسلك سره . ځکه چې په شهودي مسلك کښې کائنات د حق تعالی د صفاتو عکس باطل
دي . خو د وجودي توحید منونکي صفات په حقله سوري او ظلال گڼي نو د

ډېرو او ډول ډول مرتبو کښې څرګند شوی دی او څنګه په هره مرتبه کښې جدا حکم لري :

ګر فرق مراتب نه کنی زندیقی

په دې حقله ما یو مستقل کتاب هم لیکلی دی . « وجود او شهود » چه په دې نظریاتو سه کافي بحث پکښې شوی دی . خو دا کتاب لا چاپ شوی نه دی .

که مونږ د وجود لفظي معنو ته ځیر شو . نو په پارسي به ورته « بودن » ـ په هندي « هونا » او په پښتو « شته » یا « شته والی » ووایو ـ نو د وحدة الوجود مطلب دا شو چه د هر څیز وجود د خدای وجود دی ـ دا نه چه هر شی خدای دی ـ هغه که چه څرنګه چه وویل شول ـ وجود په ډول ډول مرتبو کښې څرګند شوی دی ـ او په هره مرتبه کښې جدا حکم لري

په دې حقله شیخ احمد سرهندی لیکي « زده کول پکار دی چه د حق تعالی احاطه د شیانو سره داسې ده لکه د مجمل احاطه د مفصل سره ـ او په شیانو کښې د هغه سریان داسې دی لکه چه کلمه په خپلو ټولو اقسامو کښې ساري ده یعنی په اسم او فعل او حرف کښې ـ او د هغو د اقسامو په اقسامو کښې ـ په ماضي مضارع او امر او نهي ـ مصدر او اسم فاعل او مفعول او مستثنی متصل او مستثنی منقطع او حال او تمیز او ثلاثي او رباعي او خماسي او حروف جاره او ناصبه کښې ـ او په هغو حروفو کښې چه د افعالو پورې مختص دی . او هغه مختصه حروف چه په دغو ماضي وارد کیدونکی دی ـ او داسې نور ـ کوم چه په نه ختم کیدونکو ویشونو ویشلی دی . په دغو ټولو کښې کلمه جاري او ساري ده ـ دا ټول اقسام د کلمې نه غیر نه دی . بلکه ټول اعتبارات دی چه د کلمې په تحت کښې مندرج دی . او د کلمې نه د دغو تفصیل او تمیز او بیا په خپلو کښې د یو بل نه د دغو جدا جدا تمیز د عقلي اعتبار نه زیات هیڅ شی نه دی ـ او په خارج کښې د کلمې نه سوا هیڅ موجود نشته » (مکتوب ـ ۹۷ ـ جلد ـ ۲) دا خیال رحمن بابا داسې څرګند کړی دی :

هسې نه چه دا جدای بې ده له غیره　　په واحد وجود سیار دی رب زما

خو په دې شعر کښې رحمن بابا یوازې خپله مشاهده بیان کړې ده . د دلیل پې نه دی بیان کړی . او د شیخ سرهندی د پورته بیان سره مفهوم له د دلیل هم

پرله پسې تغیر د حق د انکشاف ذات نه سوا نور هیڅ شی نه دی او کوم ذات چه محیط دی هیڅ شی د همه غیر نه شی کیدی نو ځکه یوه ورځ چه د بایزید بسطامي په مجلس کښې د همه یو مرید ووېل چه همه هم یو وخت ؤ چه حق تعالی موجود ؤ او نور هیڅ موجود نه وو او مخلوق یې په علم کښې ؤ نو بایزید ورته ووېل چه نو اوس څه دی اوس هم مخلوق د هغه په علم کښې دی.»

په پورته ذکر شوو اشعارو کښې خوشحال خان هم دې باریکې مسئلې ته اشاره کړې ده او وېلي دي چه ډېر نور او سره د همه ذات سره واصل یم تري جدا شوی نه یم بلکه د بېلتون او جدایی خیال وهم دی او دا وهم ددې نه پیدا کېږي چه د حق په علم کښې چه کوم اعیان دي او همه په اسم هوالظاهر کښې د یو بل سره مخامخ شي نو د خپلې ځان ته هستي ادراك وکړي د حق په ذات کښې د هغو تصور نیشی د یو ذات احتمالی تصور او دلته ځان جدا او د حق وجود جدا محسوس کړي ځکه نو خوشحال خان په دې وینا زړه ور ښکاري چه:

که مسجد ګوري که دیر — واړه یو دی اشنا غیر

او وایي چه

بارمې هسې رنګه های وینو په سترګو — چه هر لوري ته ګورم واړه دی دی

او د هستي په دې کیفیت کښې د نورو صوفیو غوندي خان هم تعلی کوي ـ چه د تصوف په اصطلاح کښې ورته شطح وایي ـ وایي چه:

خدای یو هسې فکر راکړ — چه یې ملك راته رڼا کړ
چه په ملك په ملکوت دی — پرې خبر زړه زما کړ
په اعلی په اسفل واړه — راښکاره یې هر اشیا کړ
که په اورو تورو شپه وه — په خوشحال یې سپین سبا کړ

وحدة الشهود

وحدة الشهود یوه داسې نظریه ده چه ډېر نږدې په یو هغه کښې راتلی شي که د وحدة الوجود نظریې ته د صوفیو په اصطلاح کښې همه اوست وایي نو د وحدة الشهود له رویه ورته همه از اوست وایي څو ځکه چه هغوی وایي د حقیقي وجود دی توحید انتها داده چه همه دوست نه بلکه یو اځې اوست ووایي ـ ځکه چه همه کثرت نابودی او کثرت نه هغې مقصود دی نو څو چه صوفي د ماسوی الله وجود محسوس کوي

سوری نه د سوری پیدا کیدل نامکن گڼي نو دې نظرئي ته خان د ا سې اشاره کوی ؛

یو وهم دی که څه دی چه په خلقو باندی ښکاره شو
دنیا دنیا هیڅ نشته که نمود که نابود ده

د معنا تو د عینیت په حقله د خان داشعار دغور وړ دی ـ وائی:

مخ د یار د خط و خال له مستغنی دی   دغه وی هر اسباب له خپله کوره

خوشحال خان د وجودی توحید سره سره د شهودی توحید چودنه هم کوی ده ـ څکه چه شهود د وجود نو ئه یه ده ـ او سالك چه تر څو د مشاهدی ځا ونه نه وی ـ د وجود په حقیقت نه شی پو هیدی ـ خو د دی نه اول چه د شهود په حقله د خان اشعار وړاندی کړی شی ـ د وحدة الوجود په حقله د خان څه د اسی اشعار وړا ندی کول غواړم چه د پښتو د یو صوفی شاعر په کلام کښی ئی هم ما مثال نه دی موندلی ـ وایی چه :

جدائی نشته وصال دی څوی نمد وهم د خیال دی
له ډه چه هم خانه وم ، هم خانه یم لا تر او سه
همه شان له خپله یاره نی د کیله نی ر بیا ره
زه خو شحال چه بیگانه وم بیگانه یم لا تر اوسه

د وجودی تو حید له رویه د مخلوق وجود په خارج کښی نشته ، بلکه خارج هم یو اعتباری د همه ذات دپاره د داخل او خارج ځکه دا سوال نه پیدا کیږی څکه چه حق په هر څه محیط دی ، څه چه دی د همه علمی معلومات دی او د خارجی جهان تصور څکه پیدا شو چه د حق معلومات چه د حق په اسم هو الباطن کښی وو نو هیڅ تعین او امتیاز ئی نه درلود ، بلکه عین ذات وو لکه څاڅکی په سیند کښی خو چه کوم وخت د حق اسم هو الظاهر ته راغلل ـ نو قولو د یو بل وجود محسوس اومشاهده کړ او هم ددی نه د کاینات تصور پیدا شو ـ خو په حقیقت کښی همه ذات الان کما کان دی نه تری څه بیل شوی او نه ورسره یو ځای شوی .

علامه اقبال په خپلو خطبا تو کښی لیکی چه « کاینات د حق د وجود نه بهر څیز نه دی او نه کاینات د حق په مقابل کښی یو داسی وجود دی چه د فضا په د سمت کښی پروت وی کوم داسی دی نو بیا خو حق محدود ثابت کیږی و کاینات او د همه

وحده د چه شیان ئې ثبت کړي دي، په زړه کښې خو د شهودي سالك پوره یقین وي چه شیان فنا شوي نه دي.

وجودیان وائي چه که د مشاهدې په وخت کښې د سالك په زړه کښې دا خطره تیره شي چه د حق نه سوا د شیانو وجود هم شته که څه هم دا وخت همه د مشاهدې د شدت نه غائب شوي دي، نو دغه مشاهده ناقصه او یقین کچه دی ځکه چه معرفت ئې هم پوخ نه دی. د حق د مشاهدې سره سره د شیانو ادراك او احساس د رحمت نه بس کیږي چه دې ته جمع الجمع وائي.

دا مقام نه دری دی فرق، جمع او جمع الجمع «فرق» دادی چه انسان د کائناتو په ننداره او تعلق کښې دومره ډوب وي چه حق ترې غائب وي. او «جمع» دادی چه د حق په ننداره کښې دومره ورك وي چه کائنات ترې غائب وي او «جمع الجمع» دادی چه سالك کوم وخت د سیر الی الله او سیر في الله نه ورګرځي او د رحمت وکړي نو د خلقو په پیرته سلوك ته راشي. په دې حال کښې د کائناتو مشاهده او تعلق د همه د پاره د حق سره د تعلق او مشاهدې مانع نه وي او نه د حق مشاهده همه د کائناتو د مشاهدې نه باتې کولی شي د وجودیانو خیال دادی چه کائنات د حق تعالی د صفاتو نه عبارت دي او شهودیان خصوصاً شیخ احمد سرهندي وائي چه کائنات د صفاتو ظل دي نه عین صفات. ځکه چه ظل هیڅ اصل نه وي. خو څرنګه چه مونږ وینو وجودیان صفات بحیله ظل ګڼي، نو د ظل ظل عین خو د عقل نه خلاف خبره ده، خو حضرت شیخ محمد د ظل کوم تعریف کوي هغه دادی چه «د یو څیز وجود په دویمه درجه یا څلورمه مرتبه کښې» نو که صفات د حق تعالی اظلال دي. او کائنات د صفاتو ظل دي، نو خو بس یو لفظي جګړه شوه، او د وجود په یووالي کښې هیڅ شك باقي نه شو. د توت ستنه څانګې پاڼې او میوه که څه هم د یو بل نه مختلف دي، خو په دې کښې څه شك دی چه دا ټول مختلف شیان د یوه توت د یو وجود نه عبارت دي.

په شهودي توحید کښې د معرفت نه پس سالك ته معلومه شي چه حق د همه د وجود نه سره ده وفي انفسكم افلا تبصرون

خان بابا دا مضمون داسې وړاندې کوي:

یار زما څنګ ته په کور د ننه ناست و — زه بې روحه ګرځیدم دده په مرسته

او وائي:

یار په هر لوري جلوه ګا ورته ګوره — که دې نه دي د لیدو سترګې تتې

که دې سترګې د عرفان شته مبارك شه — د ګلزار په ننداره چه استقلال کړې

او چه غیر باقي نشي نو «همه» هم باقي نشي صرف اوست باقي شي او دا اوست هم د ... حلقو د پوهی
د پاره کوم چه دې مقام ته نه وي رسیدلی — د رسیدلي د پاره اوست هم نه باقي کیږي . بواری
د یو ذات او یو وجود احساس وي او دا احساس صرف یو ذات کوي چه زه موجود یم نور هیڅ نشته
دلته د حق او د صوفي په احساس کښي غیریت نه وي باقي — ځکه چه د صوفي هستي په
حق کښي فاني شوې وي او محض ذات باقي وي صوفي په دې مقام کښي هیڅ ډول
دا خیال نشي کولی چه د وحدت احساس ده ته هم صوفي کوي . ځکه دا ګڼي چه حق
په خپله د خپلې هستي احساس او ادراك کوي — څاڅکی په دریاب کښي د څاڅکي توب
احساس نه شي کولی ځکه یو د دریاب احساس باقي وي .

ځکه نو وجودیان وائي چه د هر غیر وجود د حق وجود دی او شهودي صوفیه وائي
چه نه د هر غیر په وجود کښي د یو خدا مشاهده کیږي — نه دا چه د هر شي وجود
د خدای وجود دی خو که د شهود نظر ئي ته نه غور وکړی شي نو د وجودي او شهودي
توحید اختلاف صرف لفظي جګړه . باقي شي ځکه چه یو وجودي صوفي دا مشاهده
کوي چه د هر غیر وجود د خدای وجود دی او یو شهودي صوفي هم په هر غیر
کښي د همه یو ذات مشاهده کوي — نو ظاهره ده چه کوم وخت په هر غیر کښي د یو ذات
مشاهده کیږي نو په هغه وخت کښي نه د شیانو وجود محسوس او مشهود نه وي —
صرف د ذات وجود نه محسوس او مشهود وي — که چیرې د ذات د مشاهدې سره د همه غیر
مشاهده هم کیږي په کوم کښي چه د ذات مشاهده کیږي . نو بیا خو دا وحدة الشهود نه
شو بلکې [illegible] ات مشهود نه شو ، ځکه ماسوی الله هم په مشاهده کښي راغی او معلومه
شوه چه د حق د مشاهدې په وخت نه همه شیان غایب یا فنا وي په کوم کښي چه د حق
مشاهده کیږي که په آینه کښي د نظر مرکز او محور بواری عکس شي — نو آینه نه
نه مشاهده کیږي او چه د نظر محور آینه وي، نو عکس [illegible] نه شي ښکاره کیدلی

د یو غیر د مشاهدې د پاره باید چه نظر په یوه نقطه قایم شي — نو کوم وخت چه
د حق مشاهده کیږي شیان نه غایب وي او چه د شیانو مشاهده کیږي حق نه غایب وي
نو معلومه شوه چه د مشاهدې په وخت د وجودي او شهودي توحید بیخي یو کیفیت وي
ځکه چه وجودي هم د یو ذات ادراك کوي او شهودي هم خو شیخ محمد د لیکي چه
کله هم د مشاهدې په وخت کښي د سالك په نظر کښي د شیانو وجود نه باقي کیږي . خو
سالك په دې ښه پوهه وي چه د شیانو وجود هم شته . دا خو صرف د حق د مشاهدې



ښاغلی سمانور محمدامین خوګیانی
د سیمینار غړی



ښاغلی دورنامکوف
د سیمینار غړی



ښاغلی انوارالحق ګران
د سیمینار غړی



ښاغلی حبیب الله تږی د ادبیاتو
د پوهنځي استاد د سیمینار غړی

او دا هم چه:

بوهي بيا موند په هر څه کښې — چه مې وکړه د زړه سير

او دا شعر حوالي د شهودي توحيد کامله ترجماني کوي چه:

ذرې نشته چه د اسې سربيجي منوره — که پوهيږې دا رڼا ده د يوه لمره

د تقدير مسئله

هر څنګه چه دا مسئله په امت کښې ډېره معرکة الآراء ده، دغه شان په صوفيه کښې هم ده، خو په صوفيو کښې د تقدير په عقيده څه ډېر اختلاف نشته، البته کوم صوفيه چه د کومې خاصې اسلامي فرقې سره کلک تړون لري، نو مجبور دي چه د خپلې فرقې د عقايدو تقليد وکړي، ځکه نو داسې خلق فرقه پرست زيات وي او صوفيه کم، خو ددې مسئلې په عقله چه کوم اعتقاد د وجودي صوفيو دی، په صوفيو کښې د هغه اکثريت دی، خو د وجودي صوفيو ددې عقيدې وضاحت پوره پوره فرصت غواړي چه دلته ئې ځاى نشته خو په لنډو به دومره ووايو چه د هغوى د تقدير عقيده جبر ته ورنږدې ده خو د شهودي جبريه فرقې په څېر نه، لکه په قول د خواجه حافظ شيرازي:

ګناه اګر چه نبود اختيار ما حافظ — تو در طريق ادب کوش و ګو ګناه من است

ځکه چه فعال مطلق او وجود مطلق چه يوازې يو ذات دی، نو د عمل صدور او تخليق به د هغه د ماسوى نه څرنګه وګڼلى شي لکه چه خوشحال خان وائي:

دا چه وائي چه دا ده کړي او دا به کړي — که رښتيا وايم زه نه يم واړه ته کړي

دا شعر اشاره ده د آنحضرت صلى الله عليه وآله وسلم هغه مشهور حديث ته چه «ان قلوب بني آدم كلها بين الاصبعين من اصابع الرحمن» خو څرنګه چه د خواجه حافظ شيرازي د شعر نه معلومه شوه، صوفيه که څه هم انسان مجبور ګڼي، خو د ادب په وجه دا نه وائي چه دا کار ته کوې، او شهودي صوفيو د توحيد عقيده د اهل سنت والجماعت د اعتقاد سره سمه ده، چه خالق د اعمالو حق تعالى ګڼي او انسان ئې صرف کاسب ګڼي که څه هم د حديث له رويه پدې مسئله بحث کول جايز نه دي، خو علماؤ پرې بحثونه کړي دي، او تراوسه سره متفق شوي نه دي.

شاه ولي الله هم په حجة الله البالغة کښې يوه داسې خبره کړې ده، چه د صوفيو او علماؤ دواړو په تائيد کښې ښکاري، ليکي چه «زه مجبور يم چه مختار وسم»

دا وه يوه مختصره عرضي نظره چه ما د خوشحال خان خټک په فلسفي او تصوفي اشعارو وکړه.

لیکوال: ښاغلی انوار الحق ګران

خوشحال خټک

د افغانی ملیت علمبردار

زه د ځان د پاره دا ډېر لوی افتخار ګڼم چه د خوشحال خان په دې سیمینار کښی برخه اخلم. هغه خوشحال خان چه د پېړۍ د تاریخ د لویو شخصیتونو څخه یو شخصیت د آزادۍ د تحریک یوه رڼا او د ملیت د عقیدې په هغه وخت کښی علمبردار پاتې شوی چه دنیا لا په تیاره کښی په یوې داسې صحیح عقیدې پسې سرګردانه ګرځېده کومه چه د انسان د اجتماع او د یوې سیاسی سوسایټۍ د پاره د کوټلی بنسټ کار ورکړی.

موږ ټول دلته راغونډ شوی یو چه خوشحال خان ته د خپل عقیدت او ادب نذرانه د هغه دولت د پاره پیش کړو کوم چه هغه د علم، د ملی خوشالی، سیاسی عقیدو او آبرومند ژوند د پاره د انسان مشترکې خزانې ته ور بښلی دی.

هغه یو ډېر لوی انسان و، په دې نه چه هغه د مادې دولتونو خاوند و، او که چه داهم هغه کامی ارل - په دې هم نه چه هغه لوی لوی جنګونه د جنګ میدان ته وروړلی دي ګولی څول اګر چه هغه دې جنګونو نه بیست من نه و په دې هم نه چه هغه د یوې اوبی ګوډی د سترګو تورو، حالانکه دی د یو اعلی خاندان نجیب ضرور و

که موږ هر ځل خوا وګورو نو هغه د انسانی نسل په تاریخ کښی د هغه نی برخې مشرانو څخه و، د چا د هغه متونو چه د هغوی په ژوند کښی هیڅ ځای نه و نیولی او نا کامیاب د دنیا نه تللی دی خوشال خان د جنګ په میدان کښی د شرق د لوی نه د لوی قوت مغل امپراطور اورنګ زیب د لاسه شکست خوړلی و چا چه د اموددریاب نه د برما تر سرحده حکومت کاوه، اګر چه ده دې شکست سبب د نورې او ځواکونو قوت چندان نه و، بلکه د چالاکې امپراطورې ساړ شو نه او دررو رور ژ ګوموچه د خوشحال نه



د خوشحال خټک د ۲۸۶ تلین د سیمینار د اوریدونکو یوه منظره.
په لومړۍ برخه کې د لیسې ښوونکي او په وروستۍ برخه کې د لیسې
شاګردان لیدل کیږي.

مذهبي عقيدې د خصوصياتو په ځطر يقه ۳۰۰ کاله پخوا چه په دنيا کښې هيڅرته دې نظرئې مونږ نه درلود تعليم کړی ده

په دې وخت مونږ خوشال خان ته د مليت د عقيدې پلار او د نوي سياسي فلسفې سرلښکر ويلی شو چه تر پنا دوه سوه کاله د خوشال خان د مرگه پس په نولسمه او شلمه عيسوي پېړۍ کښې دنيا قبوله کړې ده د دې نه آگاهو د دنيا د سياسياتو محور نا په مذهب يا د پاچاهانو په فاميل يا په شخصي علايقو او يا نيا په سو چه زور څرخيد کوم چه په دنيا کښې د نوي انارشۍ او مصيبت راوتلو سبب شوی وو

د دې نکتې د اثبات د پاره او د همه زول په ارزش ښاندې د نو هيدو د پاره چه د دنيا د سياست په صحنه کښې ده لو نولې دی راځي چه په همه دنيا نو سرسري نظر واچوو په کوم کښې چه دی ۳۵۰ کاله وړاندې ۱۶۱۳ ميلادی زېږېدلی وو

يورپ چه ان سبا په هر شق کښې لکه سیاسی، سیاسي فلسفه او اجتماعي علوم وغيره کښې د دنيا د کاروان پهسر روان دی په اولسمه عيسوي پېړۍ کښې نيمه په بل حال کې چه د قوت په وسيله قايم شوا و حکومتونو د توري په زور د خوبختل چه په نورو حکومت وکړی او چپل سرحدونه ترکومې چه امکان لری د هر وی په دغه پېړۍ کښې يورپ تر بيا د درو لويو قوتونو ترمنځ ويشل شوی ؤ دا قوتونه فرانس، سپين او آسټريا وو چه مستقيماً يا غير مستقيماً ئې د يورپ په قولو د باسنو نو قسمت در لوده د فرانس لوئی څوارلسم دا تر او رسوخ له لحاظه په يورپ کښې ډير لوی شخصيت درلود چا چه د فرانس سرحد د راين او پيرنيز (Rhines—Pyrenees) ته محول او اندر لېمل ئې چپل سلطنت کښې شامل او غوښتل په هند ليمل د هغه وخت د سپين قبضه وه، انگلستان د نور يورپ نه د مخه په اونو محفوظ او گوښې دداخلي جگړو د په وړ بخوت کښې پيت بروت ؤ چه د پاچا او پارلمان ترمنځ روانه وه په دې وخت په يورپ او نوره د دنيا کښې ترځه وخته پورو له اصه او د مرم نه پريوتې وو جرمنی په دغه وخت کښې يو ملت نه وی بلکه د کمو د يو کانو امېرانو او آزاد و رياستونو يو غونډاری دی چه اکثر په خپلو کښې په جنگ اوو دی وروی ملک د لوی کاونه ماځوذ لو نو او تاخت د پاره ميدان وو چه د وروی په سو ښه تر ډير لوی پوره دلته په جرمنی کښې ورمنو تی د و د دېرش کلن جنگ ۱۶۱۸ ـ ۱۶۴۸ ميلادی په پس چه د هر مينا نو سويډن نيا نو او نورو هيا نو ترمنځ وشو او په نتيجه کښې چه د (ولیسټ فاليا) سوله په ۱۶۴۸ ميلادی کښې

خپل همت ځانته او خپل هغه ملت وشو ګاوه دچا دعزت او آبرو ساتنه دپاره
چه هغه هرڅه په داو ایښودي وو. دخوشال خان آواز دغه وخت دپاره دعمل نو څو نو
دخوشالو په څېر سوړو کښې ډوب شو. دهغه دشخصیت رو ښانه لمر دعمل سوړو
داسي نو په دوړو کښې تت رو نیو په دي حالاتو کښې دهغه بخت او نوم بایدتر اسده
اسده فنا ته سپارل شوي وي ځکه چه لکه څرنګه موږ ته معلومه ده، اکثراً تاریخ
دهغو شخصیتونو او خانانو دکارنامو کیسه ده کوم چه دجنګ په میدانونو کښې
بریالي شوي دي. داځکه چه کم شوي چه تاریخ دمغلوبو او کمزورو خلکو ملتیا کړي
وي، یا یې دهغه چا خبرو او میکو ته پام کړي وي کوم چه جنګ ته بللي دي تاریخ
دخوشال خان په زمانه کښې او دهغه نه وروسته دي، دماچا هانو د قصیدو کتابونه وو
چا چه نه لیکوالان مورخین او مذهبي مشران ځلي ځاي استخدامول چه د دوي کارنامي
آسمانونه ورسوي او هغه خلک سپک کړي چه دي ماچا هانو د مخ نیولو جرأت
کړي ؤ داوجه وه چه د دنیا لوی مورخ ګبن په دي لیکلو مجبور شو، کله چه مریدوک
اعظم خپل لښکر ته وویل چه ماته تاریخ ولولئ نو مرید وک نوو ایي زما دا
دروغجن خوماته راوله نو مل سپی چه دد لیار تاریخ دقولونه دبوي لوبي امپراطوري
صدراعظم ؤ او په دي وجه یې د تاریخ په خولولو کښې لاس ؤ او په تور او سپین یې
دهغو خلکو له زیات خبر ؤ وایي: قول تاریخ دروغ دي دا سړی دا انګلستان
صدر اعظم سررابرټ والپول ؤ چه دخوشال خان هم زمانه ؤ

دناسازه حالاتو دبېړ تقاضا داوه چه خوشال دي دما په هغه بري ستا رلی
او دي نو مو په ګورستان کښې تراسده اسده دهغه دشعرونو خبر کړي وي ولی خوشال
دشریت په کاروان کښې دهغه دي قدا ساتنه ؤ هغه د کوچنو ستو رو په منځ کښې
پوره قامت عروج چه ر زابې درماني دتیر یدو سره ورځ تروژمه ریاتیږي او دهغه
دحکمت اثرونه او ددښمنانو دسپکو وېناؤ اهمیت دمخه ورځي

خوشال ولي دخپلو دښمنانو په مقابله کښې دومره هیڅ وخت چه هغوی دده
نوم ورک نه کړي شو، او خود ددي چه حالات دده دنوم ورک کیدو دپاره ډېر
زیات ؤ داځکه چه خوشال ډېر لوی شخصیت درلود. دلوبی لوېه وجه یې داوه چه
هغه پوه ډېره لويه نظریه دنیاته راوړي او ددغي نظریې دعملي کولو دپاره ټول
ټول عمر په خپل قلم او توره مجادله کړیده دا نظریه د ملیت ده؛ کوم چه دده نوي

راځي چه لږ د هغوی اندې تېر شو. د انګلستان د پاچا چارلس دويم د پاچاهۍ چه
د خوشحال هم زمانه وو دا هيڅ د بې عزتۍ خبره نه وه چه د فرانسې د پاچا لوئي
څوارلسم له تنخواه وخوري. دغه شان د تاريخ د دوو لويو پاچاهانو د جرمني فريدرك
اعظم ۱۷۴۰/ ۱۷۸۶ ميلادي او د روس د زار لوی پيتر ۱۶۸۲/ ۱۷۲۵ ميلادي
د پاره هيڅ نامناسبه خبره نه ښکاريده چه فرانسوي ژبه د خپل دربار ژبه کړي
او فرانسوي کلتور ته د جرمني او روسي ژبې او کلتور ځای ورکړي. حالانکه
دا دواړه پاچاهان ډېر لوی خلک وو چا چه د جرمني او روس د وحدت او لويۍ د پاره
د بنياد ايښودونکو حيثيت درلود. د ځانې او شخصي ګټو د فهرست نه بايد په خپل
پښتانه محروم نه کړم چا چه د هندوستان په وړو کي براعظم کښې د لودي خاندان
پاچاهي سره لا اندې د مغل پاچا بابر د پاره /۱۵۲۵/ ډاګ وار کړه. بابر د خپلو مشرانو
او ځوانانو توري لاس ته اول راوستي او بيا يې په هندوستان ور پورې کړل چه
پښتانه د ژوند او مرګ نه وغورځوي

په هغه خوشحال او د هغه نيکونه د مغل امپراطورۍ نوکران وو د چا د حلال د پاره
چه دوی دا فرمانونه په څه کښې او دا پاسينده نه پورې شاهي عالم د هندوستان په وړو کي
براعظم کښې ډېر خدمتونه کړي وو مګر کله چه د خوشحال عزت نفس پوخو متواتر
ګوزارونه وخوړل او دی د عمر او دماغ د لحاظه پوخوالي ته ورسيد نو ده ته د هغه
ناقابل برداشت او ناوړه حالت احساس راپيدا شو په کوم کښې چه دی او د ده ملت په
اوسېدو مجبوره شوي وو.

د مغلو په سلطنت کښې چه ده ته کوم مقام حاصل وو يا چه د شاهجهان نه پس
د شاهي کورنۍ څه حال وو ده په اسانۍ کولې شول چه د مغلي دربار له مخورو سره
سازباز وکړي او د مغلي شهنشاه او غورځوي. ولې ده دا کار نه دې کړی. ده نه د مغلي
سلطنت د درنا ريا نو سره د مغلو خلاف د دا او چت پيدو سازش وکړ او نه يې دا ماسينه
نه پورې قابلې خلکو ته د مغلو ت کولو د پاره اواز وکړ ځکه چه ده نه ځان د هغوی وکيل
ګاڼه او نه امايده.

د دې په ځای هغه ټولو افغانانو ته د ملي عزت په لوم د وحدت او مساوات د پاره
جنګه کړه او په دا شان يې د هغې ملي نظريې بنياد کېښود کوم چه د شريفو خلکو او
ملتونو د پاره په ټوله دنيا کښې تر اوسه د سياسي مذهب حيثيت لري .

وتړل شوه یورپ بیا هم قریباً په همه حال ژبه د جنګ په وړاندې وو چه فرانس د خپلو
د پاره همه شان جوړ وه لیکن پاتې یورپ یا د سپین د همسرګ د شاهي کورنۍ لاندې
دی یا بری د آستریا د همسرګ د شاهي خاندان حکومت دی .

ایټلي د سپین لاندې او د آزادۍ نه محرومه دی - پولینډ بې شماره آزاد جاګیردار و
ملا کېږو ملک دی ګسا وله یسا ف استریا - پروشیا او روس د ده درواړو
تکوی چه په زور ورته ځي او د املاک په خپلو کښې وویشي حالانکه د فرانسې کوښښ
دادی چه پولینډ آزاد او خپلواک پاتې شي او ساتي .

روس چه وروسته د تاتاري حملو د ګذارونو نه په هوش کېږي خپل قوتونه را
غونډوي د لته د ماسکو د امیر حکومت و رورورو ډیاتیږي چه ټول روس په یو سیاسي
وجود کښې راغونډ کړي او پولینډ سویډن او د کریمیا تاتار خانان د ملکه و ماسی

موږ که ایشیا ته نظر واچوو وینو چه چین لا تراوسه د وحشي قبایلو د حملو
لاندې برباد دی او په هندوستان باندې د مغلي کورنۍ حکومت دی
دا مغل د آمو له اخوا د حمله آورو په حیث کښې راغلي او د افغانستان نه تیر شوي
په هندوستان قابض شوي وو - اوس په هندوستان او افغانستان دواړو د دوی حکومت ؤ
پاتې د نیا موږ پرېږدو ځکه چه ګډ وډ وضعیت د ګډ شوي حالت نه پوهېږو
دلته د امیر حاد لاندې اور ور ګیر ویش د عهد اعلا رضی زبېر و ن د وچه د هغه وخت په انسانی
د هغو لوګو موجود ده وه - دنیا لا تر اوسه هغه اجتماعي ارزښتونه نه وو پیدا کړي
چه د په اوسنۍ تمیز بری و کړی او هغه ګانې بې لامو الهی نه وو چه د دوله اوسپك ټول
او جوك بری وکړی شي .

په دې وجه په یعطلسمه صدی پیړۍ کښې د هغو هرا سوی شریف امیرا نو د پاره
کوم چه انګلستان د پاچا تحواه جوا ره وو داهیخ بده نه وه چه د انساني تاریخ
پولوی هصیت یعلمه جون آف آرك انګلیسانو ته په ګوتو ورکړی - جون آف آرك
لکه چه هر چاته معلومه ده یو مذهبي تحریك د دې د پاره شروع کړی ؤ چه انګلستان
د فرانسې د خاورې نه وباسي او د فرانسې خپلواکي د یو فرانسوي شهزاده چارلس په
پاچاهۍ بیا ګوتو ته راولي - جون آف آرك په اور کښې وسوځوله او د فرانسوي
مذهبي کونسل له خوا چه غوري پې د انګلستان د پاچا سره ولاړ وو په هغې د مرتد
د توبې نه پس ګنهګاره - کافره او مت پرستی د فتوی وخپو ول شوه .

زمرې نو يسي د يو مخصوص ليك موجد (۱) هم و کوم چه اوس لا پر تيا ره کښې پروت دی د خوشحال د نثر څه صايع شوي دي ولي ددې باوجود هم خوشحال نېست مند شوی دی د هغه شعرونه کوم چه تر بيا روع زمونږ ګوتو ته راغلي دي ددې د پاره کافي دي چه مونږ پرې د ده شخصيت وپيژنو ــ دده د خوی بوی او آرزوګانو نه خبر شو د هغه د فکر دا لوتو سيل وکړو ــ او د هغه د کرکټر، اخلاقو، او دژوندانه د فلسفې درك ولګوو ــ دا نظمونه مونږ ته د هغه زمانې د حالاتو يو تصوير هم پلاس کښې را کوی او راته ښئي چه پښتانه هغه وخت څه رنګه اوسيدل او مغلو حکومت څه رنګه کاوه ــ هغه جنګونه چه خوشحال د مغلو د پاره او د مغلو خلاف کړي دي ه خوشحال په ديوان کښې موجود دی. د خوشحال د مليت نظريه، ددې نظريې د قوي کولو او مشهور ولو د پاره د هغه خولدي ملي سندرې د هغه لوی پښتون او د هغه افغانيت، اخلاق او جهان باني حتی چه ددې ځمکې آسمان د لاندې قريباً د هر څه متعلق د هغه فکر مونږ ددې ديوان نه معلومولی شو، تردې چه ديوان د خوشحال د حسن او شهواني تحريکو د عشق او مينې د صحنو او د ښکلو د هغو اقسامو يو ر ښکلي تصوير هم مونږ ته په ګوتو کښې را کوی کوم چه د خوشحال خوښې وي ــ دا څيزونه او د هغه مضامين د پښتنو په اخلاقو کښې اوس هم اجازه نشته چه څوك يې لوم په خوله وا خلي ــ ولي خوشحال يې نه په زړه ور تيا داسې[۲] بيان کړي لکه چه د دنيا په وړاندې تللي ملکو نو او خاصو کښې يې اوس رواج دی ــ دا يو بل ثبوت ددې خبرې دی چه خوشحال د خپل وخت نه ډېر وړاندې دی

خوشحال په خپله يوازې لوی انسان نه وو بلکه نورو ته يې هم د لويې درس ورکاوه د هغه په فکر بايد انسانان لوی لوی فکرونه ولري

د لويو خوبونو زېږون د خپلو دماغو په ځالګو کښې وخت کوی او په هر څيز کښې د لويې خواته وا وړی

لکه باز په لوی لوی ښکار نظر وی

نه چه ګرځي ګونګټي پسې باد خورك يم

---

(۱) د خوشحال خان د ديوان نه ځيني نظمونه ــ ليکونکي دي. اين. ميکنزي د لندن د پوهنتون د ختيځ او افريقا د مطالعو ځانګه

دیوې عقیدې دراوړونکی او د نظریې د سرحد په حیثیت چه په سوونو کاله

د قبایلو له وړاندې ژوندی خوشحال هم د همو زحمتونو سره مصافح شو کوم چه د هر همه

ساکښ په مرحله وی چه د وخت نه وړاندې دنیاته راغلی وی

خو د هم نفسی د رحمن ... ـ نها زمی د سند و من کل ...

خوشحال ته د خپلې مقصد لوړتیا او د خپلو وسایلو د محدودیت پوره احساس ؤ لیکن دی

او خو د همه د خپلې اخرې ساه پورې د خپلې لارې نه واوښت نه

خوشحال په قوله معنی د قوت د لحاظه پوره نو ؤ کله چه دی وفات کیده نو قریبا

د سلو اولاد و پلار و د ژوند په آخرې ورځو کښې هم د آس پو مېړنی شهسوار ؤ

که مې عمر په شمېره تر شپېته تېر دی ـ لا په کار د سوارۍ لکه ارلک یم (خوشحال)

په دې قوی وجود کښې خوشحال پو قوی تېز دماغ او پو نفس پرست زړه و ر ده

خو ملی کړی ور ـ ددې دواړه وتو کو د نو ځای کېدلو نتیجه دا وه چه خوشحال خان

د کمو صحیفو نظر پوا و فکر و او پلار او د ډېرو رومانی صحنو او مجلسو نو شاهکاری

«لوی ممثل» شوی وو ـ خوشحال د پښتو د نظم او نثر لوی غنی لیکوال (۱) ؤ چه

د سرایو لی هاول او د سر او لف کېږو په حیال شمېرو نه پې څه اوږد دد نوریت د نظمونو

سره د برابری چیلنج ور کولی شی د سرهاول او سرکېږو کتاب د خوشال په نظمونو

(۸۸ پا ڼه) د نظم او سندرو لیکلو داشوق د خوشحال سره د ژوند ترا خرې سلګو

پورې ترډې جنډه وو چه کله په دې جنګ د لمونه راووت او یا به د نوکر انو د پو

لښکر په سر به آس سور نه ربه لاس ټوپک به تیکی دسکار له راستون شو نو به شعرونو

نه بې راتوري کړي ـ ده څلو بست زره شعرونه لیکلی چه اکثریې د مرګه پس

پاتې دی چه په ایشیا ، یورپ او دامریکی په خلکو کښې ورو ورو شهرت موندی او

د دنیا په مختلفو ژبو کښې ترجمه کولی شي بوازې دا نه بلکه دا پیچ ځی دارو ځی

په حساب خوشحال قریبا (۲۵۰) کتابونه و نه و غیر ه لیکلي وو (۲)

د کوم نه چه او س تش یو څو کتابونه د نیا ته پاتې شوی دی ، خوشال خان د احتصارا و

(۱) دا د فخر خبرکت دی چه د خوشحال مورنی ژبه په کوم کښې چه دی استاد ؤ

د ومره غنی شوه د سرهاولی او سرکېږو د خوشحال نظمونه

(۲) د ساغلی حبیبی د بیا چه د خوشحال خان په دیوان .

د پښتو پلو پانې خوره په غره کښې اوسه ‌ ‌ ‌ نه چه پان د هندوستان خوري زما خنده
په هغه بازار به څو سود و سودا کړي ‌ ‌ ‌ چه کاره نکښي قدري وي تر شهنده
ای ورورستي عقله دریغه که پوهاوي ‌ ‌ ‌ ما نه ولې په پېل خان کړه هومره شنده

د خوشحال بابا خبراوې د هغو دګو اشارو ته مالو مېږي چه نه شمرو نو کښې ده مختلفو سيمو ته کړې دي چرته چه ده کار کړي دي يا د هغه صحت او هغو نه پته لګي چه ده د مختلفو قبيلو کړې ده يا د هغو پرګنو د کړه قياس کيدی شي د کومو د ملك منظر ، د سکو سياست يا د ميو خوله چه خوشحال خان ته کش کړي دي دا چه موږ را نو ځای کړي او د خوشحال د مليت خبراوې تري

د موجوده افغانستان ملك، د پښتو نيو د کرسي نه اخوا تر اټکه پوري د پښتو نخوا سيمه يا نه نور ولقطو او کښې دا تلسمي او نولسمي عيسوي پېړۍ افغانستان راوځي

د خوشحال خان نه وړاندې د مغلو د سلطنت غور ځولو د پاره د افغانانو له خوا ده کوششونه شوي وو ـ نو د شېرشاه سوري له خوا چاچه شهنشاه همايون غور ځاوو او تر مرګه يې په هندوستان کامياب حکومت و کړ ل د پير ر و بيان له خوا چاچه د شهنشاه اکبر خلاف د بغاوت او جنو لو رهنما ئي کړي ده ، اګر چه دا دواړه واقعې د افغان مليت په ارتقا کښې ډېر لوی اهميت لري ولې بيا يې هم ده د ملي مفکوري له لحاظه يو مکمل مثال نه ګڼو ځکه چه شير شاه سوري خان د پښتو افغانو د موري خاوري نه بېل شو کولی او نه هندوستان کښې لکه د نورو روهيلو ميشته شوي وو د هغه بغاوت په حيله موري خاوره کښې مو ميږه د رلوده. رنات نه ريات مو نږ د ده بغاوت د هندوستان ـ دوو او آباد کارور تمبع رقابت ملي شو چه يو افغان او بل مغل و د ـ د پير رو سان تحريك لکه د چون آف آرك مذهبي رنګ درلود او په دې وجه بې خالص ملي نه شو بللی مګر د خوشحال خان تحريك سوچه په مليت ولاړ دی ، چه په پښتو نخوا کښې خپلې قولې حرفې لري او د بوی مذهبي مفکوري قبول حصايص ور کښې موجود دي چه د تسليمع

رور ور سره مل او د تورو شر نګار بي به شا اور يدلی شي
داغان په ننګ مې وتړله توره

افغان د دما ی خوشحال خټك يم

خوشحال خان د شهنشاه جهانګير د سلطنت په دوره کښې دا ناسيه د په خوا کښې

چه په خوب شو بې روزګار همه ز مري یم
نه چه ولي د ونو خوري ها مېږك یم

نور وته د لوئي په نصیحت کښې وایي

چه دي توان رسي په لوئي در باب کښې ګرځه | په ویله کښې دي اجل وي هم نهنګه
یا بهیږ ګرځي په دریاب کښې | په قلزم ګرځي جهاز

پدې ډېرو کېږو بدې مضمون کښې د هر ګران کار دی چه څوك د خوشحال په لوی ژوند چه مختلف الجوانبه اړخ ړیا واچولی شي او یا د دې طوماري شخصیت د عکس نه پرده لیري کړي شي - مجبوراً دا کافي ده چه ووایو خوشحال د مغل په سلطنت خلاف بغاوت وکړ ، چه د افغان خاوره د لوړو وسلطی نه آزاده کړي د دې مقصد دپاره خوشحال په داسي حال کښې وچه د افغان ملیت تر اله یې په خوله او د افغان ملیت نیرغ ای د تور بالای مغرور سراو خول د پاسه پورك واهه د جنګ میدان ته و د ننګل د سرا یو لی هاو ل او سراولف ګیرو په وینا یاغی اوآزاد خوشحال دا هریدو د غره په تېرو کښې تر آخری سلګو دافغان د آزادۍ ، سالمیت بوالی او د پښتو او ننګ ای ټکر بري نه سود او په دا شان یې په دنیا کښې د ملیت د نظریې دودي تیږه کښېښوله او همه تجم لی په نړۍ کښې وکاره چه ایله د ده د مرګه د وه سوه کاله پس را د رغون شو ، و غوړېد او ګل شو

که موږ د وخت خلورم کچ په مې خلورم نمد په نظر کښې ولرو او د ادر تما مختلف مدارج د شرق د نظم د سبك اولاد و سره په حمال کښې و سا تو چه هر شعر د مل له د مضمون له لحاظه اکثر مختلف دي او په دا شان شعر د له د معنی تسلسل لري مولیږ کولی شو چه د خوشحال د ملیت یو نت عکس او تصویر پرو کښو - دا عکس موږ ته ښیي چه د خوشحال ملیت په نسل ، جغرافیه او ژبه دی تړلی چه د جغرافیې تعلق دی نو خوشحال دا افغانانو د ځمکې په باب په شرقي سرحد کښې واضحه دي همه هندوستان سره د پښتنو د ځمکې سرحد اباسیند ګڼي کوم چه د هغه نظم له ثابت دی چه ده په دې مشهوره جي بور کښې د هغې خاي د انه لیکلی دی.

که یو ځلی می رسید و شي تر سنده | نورد ی مه ویم په تورو ستر ګو هنده
نه په ستر ګی د سړی په چا خو یدې شي | له لې ما ته په اوبو شي د چا ننده .

اورنګزیب ـ چې پوه په کلاکښې تر دوه نیم کالو بندي وساتل شو او بیا اګرې ته بوتلل شو او نظر بند کړی شو

د خپلو دوستو د ملګرو په متواتر کوښښ او کمک آخر خوشحال خان د بنده په کال ۱۶۶۹ میلادي کښې آزاد کړی شو خوشحال خان خپل ملک ته راستون شو او د انتقام دې غالب په پښتونخوا د آزادۍ او د اتفاق او د تمام شوی عزت را ګرځولو د پاره یو ملي حرکت شروع کړ

هغه د مغلو خلاف په قولو فعلو جهاد وکړ او د هغه کوششونو چه د یو ملي حرکت او بیدارۍ د پاره ضروري دي هغه او د هغه خاندان د پښتو ادبیاتو بنیاد کیښو د پښتو ژبه ئې په خپلو بیا پسته نظمونو او نثر ونو غني کړه هغه د پښتو او پښتونوالي درس اتفاق او ته شروع کړ پښتو د هغه په نزد بخښش عفو، سخاوت، مهمانداري، ملنه پالنه، وفاداري، غیرت، عزت نفس، د ملک سره مینه د وطن او اولس سره محبت او د مظلومو قبیلو ترجیح یو والی دی چه د یو کوچني او نا قابل تسخیر ملیت د پاره ئې ډېره ضروري ګڼلی، د شرق فلسفي شاعر داکټر محمد اقبال د خوشحال د دې اخلاقو تر دې حده ثنا خوان و، چه هغه یو نظم په خوشحال لیکلی، کوم چه زه ئې لاندې د ترجمې سره د پیش کولو جرأت کوم

قبائل هوں ملت کی وحدت میں گم　　　که هو نام دنیا میں افغانیوں کا بلند

محبت مجهے ان جوانوں سے هے　　　ستاروں په جو ڈالتے هیں کمند

مغل سے کسی طرح کمتر نهیں　　　کهستاں کا یه بچه ارجمند

کهوں تجه سے اے همنشیں دل کی بات　　　وه مرقد هے خوشحال کو پسند

اڑا کر نه لائے جهاں باد کوه　　　مغل شهسواروں کی گرد سمند

دا قبایل باید د ملت په یو لوی وحدت کښې ځان ورک کړي چه په دنیا کښې د افغانانو نوم اوچت کړي زما مینه د هغه ځوانانو سره ده ـ چه ستورو ته خپل کمند اچوونکي دي

د مغل نه په هیڅ شان د کوهستان دا عزتمند زوی کم نه دی

داکوړې په کلي کښې په کال ۱۶۱۳ میلادي کښې زېږېدلی ؤ. دا کلی د ده دوړېکه په نوم او هم هغه آباد کړی وو. د خوشحال خان پلار شهباز خان د پښتنو د خټک قبیلې موروثي مشر او د اټک او نوښهر ترمنځ د پرتو سیمو مېړۀ په دې چه د خوشحال خان د ریاست نه د هندوستان او افغانستان لویه لاره تېرېده له کومه چه د سوداګرۍ لارې نه د هندوستان د منځني خاتیځ او لېرې خاتیځ ترمنځ د تجارت شاهي لاره وه. په دې وجه د خوشحال خان خاندان ته ځینې حقونه حاصل وو چه د ملکونه د مالیې اخستل او د پاره اټک ته د پورې را پورې کېدونکو نه ټیکس اخستل هم ور کښې شامل وو. سربیره په دې خوشحال او د ده خاندان ته په عمومي توګه هغه حقونه هم رسېدل کوم چه د یو فیوډالي نظام د امیرانو ته حاصل وي، او دی سیمې داسې په عاید د هغې لوی لارې حفاظت او ځمانه هم وه کومه چه د مغل د سلطنت د ژوند شاهرګ ګڼلی شوه. په کال ۱۶۴۱ میلادي د جنورۍ په میاشت کښې د خوشال پلار شهباز خان د پښتنو د یوې بلې قبیلې یوسف زي سره په جنګ کښې چه د مالیې ورکولو نه یې انکار کړی ؤ وفات شو. خوشحال خان چه په دې جنګ کښې ټپي هم شوی ؤ د وراثت د قانون مطابق د خټکو د قبیلې مشر او د هغې سیمې امیر مقرر شو چه د شهنشاه شاه جهان له خوا هم ده ته امارت او مشري ورکړل شوه

په کال ۱۷۵۹ میلادي کښې د شهنشاه شاه جهان زوی اورنګ زېب خپل پلار بندي کړ او خپل قول ورور چه ولیعهد شهزاده دارا او ورکښې هم شامل ؤ وژل او د مغلیه لوی سلطنت په تخت کېناست. د شاه جهان د اولاد او په حلقه کښې او په عمومي توګه نو کښې چه د یو مل د مرګ د پاره د شاه جهان په اولاد کښې د ده د ... پس ولسټل خوشحالخان د اورنګ زېب په پله وو چه د شهزاده دارا ملاتړ یې په پښتونخوا کښې وېوله

په کال ۱۶۶۴ میلادي کښې د کابل نوی نایب الحکومه چه د خوشحال د پاتېدونکي زور او شهرت نه په وېره کښې و د مغل پاچا اورنګ زېب خوښ ... ټک کړل چه د خوشحالخان خطر لرې کړي، چنانچه خوشحالخان پېښور ته دعوت شو چېرته چه هغه دوکه ... بندي ؤ او بیا هندوستان ته د ... او د رنتنبور ... لاندې واستول شو، خټکو هغه ځل چه لاره ... او خوشحال په زور را آزاد کړي ولې خوشحال خان هغوی پوه کړل چه هېڅ لاس ونه خوځوي، خوشحال په ډهلي او

ده د مرګ /١٦٨٦/ میلادي / نه په شلو کالو کښې د ننه دا ارزو عملي شوه چه په کال ١٧٠٦ میلادي کښې د قندهار یو بل لوی پښتون میرویس خان د قندهار سیمه د پردو له جغه آزاده کړه او د یو لوی سلطنت بنیاد یې کېښود چه حتی په فارس یې هم کښې یې تر ډېره کالو حکومت وکړ. دا سلطنت څو کاله پس وغورځېد ولې ډېر ژر یو بل لوی افغان فاتح احمدشاه ابدالي د شاهدولي تر مشرتابه لاس کښې ونیو او په کال ١٧٤٧ میلادي کښې چه د خوشحال په مرګ ایله ٥٨ کاله اوښتي و د د موجوده افغانستان وودې کرښې راکښلې

احمدشاه ابدالي د پښتونخوا په ملك د افغانستان نوم کېښود، د کوم په پای تخت کابل کښې چه اوس موږ راغونډ شوي یو او همه چانه د عقیدې، اخلاص او ادب یو څو ګلونه نذرانه کو او چه د افغانانو د ملي پاچاهي مفکوره یې په خپل دماغ او فکر کښې وریږوله په خپلو لاسو لو یې دارالو یه کړه او هم هغه د لوی پېر یې آ درو او کوسبین کیږي تور وخاورته کوز شو یعنې خوشحال خان خټك

افغان فاتح احمدشاه ابدالي یوازې دا نه چه د خوشحال او د همه د ملت سره د شوي ظلم بدل واخست بلکه په هندوستان یې قبضه وکړه، مغل پاچا یې په د ملي کښې د خپله طرفه د خراج په بدل د ما تحت او نوکر په حیث مقرر کړ او هندوستان په دوو بر اعظم کښې یې د افغاني حکومت بنیاد کېښود، په هندوستان د پښتنو دا قبضه دانګریزانو د راتګ پورې روانه وه، دا دې نه پس افغان تاریخ یو بل دور ته داخلیږي چه تفصیلات یې تاسو ته معلوم او مستقبل یې د هغو افغانانو لاسو کو ته پاتې دی چه نن په پښتونخوا کښې ژوند کوي.

موږ چه د ملیت شعور د طوفانو خوا ته په خاکي وکښې د تیرو سلو کالو دا هغې بله سا تلې ده، دا موږ هغه خوا الیانو او بېلو ته بریږدو چه دا افغانانو په ملك کښې اوس دور لی شی، زموږ پوره باور دی چه دوی به د استعمار د تیارو تورې بردې په خپلو لاسو نو وشلوي او هغه سهار به خپل مورنی وطن ته راولي د کوم سپین او ژوندون و نکی امرچه به په عروانو او رغونو بېړك وهي او ر موږ قمروانه به در نیا په پلو شو کښې همیشه لمبولي ساتي

موږ د ژوند د ازادۍ ورو ستی ډیوې یو
پس زموږ به په وطن رڼا رښا وي

زما آشنا ، ره تا ته ورته يو خبره وکړم چه زما د پره خوښه ده
خوشحال خان خپله هم نوره داسې ځای خوښوي چه
د مغلو د اسونو دوړه دې په غرونو نه لګي

خوشحال لکه چه ما وړاندې ويلي دي د خپل وخت نه ډېر وړاندې راغلی وو او دغه وجه ده چه په هغه د مغل د دور او قهر ټوله ازله وخوړ ځيده

هغه د زور مقابله هم په او په کاميابۍ وکړه چه په خولې هميشه د ګټې او فتحې چغه پورته له ولې د خپل روی وفادارۍ د لاسه چه د مغلو سره ملګري شوی و خوشحال آخر وخوړ ځيده . د هغه د ژوند آخري ورځې اګر چه د غرونو او نه ټېرو سره خو په آزادۍ کښې تېرې ولې د مصيبت او دردونو چاودون نه ډکې وې

که د سرې دستار نشته دې | که داس مې لښته نه دې
هو مرد مال هو مړه مې روی | دا په چا ماندی مرتی؟

په خوشال ماندې يو وخت د ما نوښی چه هم راغلی ده او وائی

زه لې چا لره وهم قدر نې چارده | پاور وسو څه داتوري قلمونه

زه مرګه ته ژوندی هغه د مستقبل په باب فکر مند دی چه آيا به اعمال ملت کښې داسې تحرک پيدا شي چه دده مقصد او غايه وړاندې بوځي ؟

نه به زما غوندې بل ننګيالی راشي | نه به زما غوندې بل جنګيالی راشي
حقه لا پر پرده به درست اعمال کښې | عجب که هسې ورهنګيالی راشي

د خپل خان متعلق د ده دغه دعوه د هوي ترديد نه کوم ځکه چه هغه په حقيقت کښې ډېر لوی انسان وو هغه په ټولو خصوصياتو کښې بې ساري او د اعمال ملي ماندی چه د هوی هر هغه څه چه اوس بې اروا او يا په آينده کښې نه بې خاوند کېږي، دده په برکت دی څه وشو که نه هغه خوا د تو به تقدير پاکښې هغه د دا د صحې به رحمت شو د هغه شخصيت او حيثيت په پښتونخوا کښې کېدی نه شي او نه بې په کښې د هغه خدمتونه سپک کېدی شي چه داسان د يو صحيح احتمام ژو ډپاره ده کېږي . کاش زما سره داسې څه وسيله وی چه ما ملی د نيا ته بر خوشحال خان ته يو زيري ورکولی شوی ، چه دده د خدمتونه باطل او ضايع شوی نه د ده چه د ملی بيداری کوم تخم يې دملک کښې کرلی او په خپلو وينو يې خړوب کړی

په عين هغه وخت کښې موږ ته ښايي په دې کښې ټينګار وکړو چه د ده د فعاليت خواوې بېځده ډېرې وې او خورا ډېر زور تيا ئې درلوده. خوشحال خټک د خپلې زمانې د يوه پياوړي شخصيت په حيث د ژوند د ډېرو خواو او علومو په ډګر کښې فوق العاده تاثير درلوده او ډېر آثار ئې پکښې پرېښودل دي په سياست، اخلاق، فلسفه شاعرۍ او نورو څانګو کښې لاس لري او په دې اساس معاصره خټک پېژندنه خوشحال خټک ته لوړ او ملي القاب ورکوي. لکه «د آزادۍ سراج»، «ملي قهرمان» «د پښتو د شاعرۍ پلار»، «د پښتو د مختلفې دورې داعيانې شاعرۍ موسس» او نور او دا ټول منصفانه او حق په جانب دي ځکه چه خوشحال نه يوازې د سياسي بلکه د شاعرۍ کورنۍ مشرهم و مثل شو په اوسني عصر کښې د خوشحال قدر او مقام هم لوړ دی. خو وخت او زمانه هر شي په خپل وخت کښې په خاص نظر ګوري ځينې اوسني اعمال ئې شاعران په خپلو اشعارو کښې پر له پسې خپلې عقيدې په دې ډول تکراروي چه کاشکې اوس خوشحال خان ژوندی وای لو ده نه ټول مهم او باريک مسايل نه يوازې شاعرانه بلکه سياسي مسايل هم حل کړي وای د کوم وخت چه په حاضره دوره کښې پېښانه مجامع دي البته دا يوازې شاعرانه تحليل دی .

هيڅوک نه شي کولای چه خوشحال خټک له هغې زمانې او شرايطو څخه نني زمانې ته را نقل کړي. مګر کومې اوڼدې هغې چه په سر کښې ئې خوشحال ولاړ و او د پښتنو مبارزې ته ئې لار ښوده نه کوله ډېر لوړ تاريخي ارزښت ئې درلود او په دې اساس ئې په اوسنۍ دوره کښې هم قدر کېږي خوشحال نه يوازې د پښتنو د شجاعت ستاينه کوله بلکه د هغو د نواقصو غندنه ئې هم کوله

زه ډېر خوښ يم چه زما علمي کار و نه د خټک پېژندنې له يوې څانګې سره مستقيمه رابطه لري او د يوه ژب پوهاند په حيث د پښتو د کلام په تاريخ کښې د خوشحال خټک رول زما د خاصې علاقې وړ موضوع ده. د خوشحال خان په باره کښې په عمومي صورت څو ځله خبرې اترې شوې وي ځلور کاله پخوا د شاعر د زېږېدنې د ۳۵۰ کاليزې په مناسبت د پراګ په ښار کښې د چکوسلواکي د شرق پېژندونکو په مجله کښې چه «نيو اورينټ» (Neworient) نومېږي ما يوه کوچنۍ مقاله د خوشحال په باره کښې په انګرېزي ژبه خپره کړې وه چه عنوان ئې دی **«خوشحال خټک او د پښتو ژبې تاريخ»** ما هلته خپله نظريه په لنډ ډول څرګنده کړې وه البته اوس زه نه غواړم چه هغه خبرې بيا تکرار کړم ځکه چه د دې مقالې اصلي مضمون تر لو امکان پېژندنه و لکو ته شه

لیکوال: ښاغلی نیکولای دوورياتکوف.

خوشحال خان خټک او د پښتو د کلام

دانکشاف په تاریخ کښې د هغه مقام

د خوشحال خان خټک نوم چه د پښتو په ادب کښې یو نامتو کلاسیک شاعر او په هغه پېړۍ کښې د افغانانو د آزادۍ د پاره د مجادلې یو پیاوړی لارښوونکی هم و، د پښتون ملت د تاریخ په کتاب کښې تل تر تله تازه او افتخاري صفحه ده. د هر ملت په تاریخ کښې داسې مهم اشخاص وي چه یوه لویه پېړۍ د هغو په نامه یادېږي. د دې د پاره پوره اساس شته دی چه د پښتو او افغانستان په تاریخ کښې د خوشحال خان خټک پېړۍ هم ونوموو. د داسې اشخاصو د ژوند، آثارو او کارنامو مطالعه په خپله خان ته مستقل علم او پوهنه کېدای شي. ټول دلایل ددې د پاره شته دي چه خټک پېژندنه او خوشحال پوهنه داسې مهم علم وبولو چه بین المللي خاصیت هم لري. په حقیقت کښې اوس په افغانستان کښې او هم په خارج کښې خوشحال علمي آثار موجود دي چه ددې علم یعنې د خټک پېژندنې د پرمختګ نمایندګي کوي. لومړی په دې سلسله کښې باید د خوشحال خټک په باب د افغانستان د لویو پوهانو آثار په نظر ولرو چه د ښاغلي صدیق الله رښتین، ښاغلي عبدالحی حبیبي، ښاغلي ګل پاچا الفت، ښاغلي عبدالرؤف بېنوا او د نورو په قلم دي. په اروپا کښې خوشحال خټک پېژندنه مثلاً د راورټي، بیدالف او د نورو په کتابو کښې منعکس شوې ده. اوس هلته ددې شاعر په باره کښې اسنا مورګنسټرن او پروفیسور ماکنزي خپلې څېړنې خپروي. د خټک پوهنې روسي عنعنه هم شته چه سرچشمه یې په اروپا کښې د پښتو د زده کړې منلي مبتکر پروفیسور دورن دی او(۱) په شوروي دوران کښې د موږ ځوان او زاړه افغانستان پېژندونکي ددې مطالعې ته ادامه ورکوي.

خوشحال خټک د خپلې زمانې زوی وو او هغه په افغاني قولو کښې د خاني د قبایلو دوره وه. هغه خان او شاعر و د هغې فیوډالي دورې معنې په ماليت او ادب کښې تر ټول ښکاره څرګنده کړه.

(۱) ګل پاچا الفت، ملي قهرمان، کابل ۱۳۴۴، ۱۸۰ مخ

رول ولوبو. افسوس چه د لته مونږ د ډېرو خولو تاریخي پېښو سره چه د خوشحال خان خټک ژوند له هغو څخه ډک دی جدا کېږو او خپل اصلي هدف ته مخ اړوو. زه ځکه چه د خوشحال خټک مقام د پښتو د کلام په تاریخ کښې څرګند کړي و خود اماید ووایم چه د کلام تاریخ د اولس له تاریخ څخه نه جدا کېږي

د دې دنیا لوی ناوه، ځکه قوي مفکوري چه شاعران د هغو پاره مخادله کوي شاعران لوړوي.

د خوشحال خان خټک شاعري د نورو افغاني او غیر افغاني شاعرانو له نظم سره په دې اساس توپیر لري چه دده شاعري د آزادۍ د لویو مفکورو څخه الهام واخیست د دې څخه خوك انکار نه شي کولای چه د دې لویو مفکورو خوشحال خان خټک دې ته مجبور کړی چه په خپله مورنۍ ژبه کښې اصلاحات وکړي. دا داور داسې قوي لاره وه چه په هغې کښې دا دی پښتو مولا خوله شول. د خپل وطن د آزادۍ د پاره ئې نه یوازې توره بلکه قلم هم لازم ګاڼه. ده د پښتو ادب او شاعرۍ لوړو ماڼیو ته پورته کړه او په هغو کښې یې د ژوند موقالماده قوه واچوله

زه علیم داور مګر بیب یم، سر په ځوره نه بیانان

زه په ننګ د پښتو یم، دوی نیولي مغلان

په دې لویه مخاذله کښې د خوشحال خټک شاعري نه یوازې د خټکو د پاره ستر اهمیت درلود، بلکه د ټولو پښتنو قبایلو د عمومي ژبې پښتو د پاره ئې خدمت کاوه شاعر په ټوپنګ ایمان سره لیکلي دي

ګلستان د ماد نظم شګفته شو

پرې وهي شیدا بلبله پر و بال

ګلدستې ئې لوړ په لوړ د ملکه خودي شوي

تر کابله، تر کشمیره، تر بنګال

شاعر نه یوازې توره په لاس د مغلو د تسلط په مقابل موافقانه جنګېده، او په هغو مره قدرت ئې عجیب، ښکلي او مفصل اشعار جوړ کړل خوشحال په دې کښې مبالغه نه ده کړې چه وائي:

د دیوان مې که بیت بیت سره حساب کړې

تر څلوېښت زره به تېر شي په سهي کال

خوشحال خټک د خپلې دورې د کلتور او ثقافت پوځلانده ستوری و او د خپلې زمانې

خو ګمان دی. خو دا باید وویل شي چه اوس اصلي هدف مې د همې دورې د ژبې تاریخ او د خوشحال خان د شاعرۍ د شعر اړ ځینې لارې واضح کول دي.

خوشحال د یوه لوی کلاسیکي شاعر په حیث په همه عصر کښې شهرت موندلی دی چه د مغلو د لوی امپراتورۍ په ټاټوبي او کلونو کښې د فارسي د کلاسیکي شاعرۍ ځینې هرې خواته خپرې شوې وې مګر د همه کلاسیکي شاعرۍ ۶۰۰ کلنه د شهرت دوره هم په زوال وه او د یواري رانګیږي شفق لي پکار یده یعنوا په فارسي کلاسیکي شاعرۍ کښې خراساني او عراقي سبکونه موجود وو او دې سبکونو د مینځني شرق د قولو ژبو په ادب باندې اغیزه درلوده. وروسته هندي سبک پیدا شو چه ادبیاتو ته یې د الفاظو رنګینۍ، د کنایو استعمال، شعري سیماګانې او طرز ور ته خوا ربات کړل مګر په هندي سبک شعر کښې حقیقي روح و بایله داشاعرۍ د شاعرۍ د باره وه عرل د حافظ په استعداد خپل آخري مقام ته رسېدلی ؤ.

د خوشحال په دوره کښې ډېرو درباري مداحانو شاعرانو او هم مذهبي، تصوفي ادیبانو په دې هنر زیات قدرت درلود په شاعرۍ کښې تارکو الفاظو ته ځای ور کړ او په دې ډول د شعر او شاعرۍ اساس ئې د ملي مسایلو، حقیقي ژوند او اجتماعي اعتراضو څخه لیرې کړ.

خو د خوشحال خټک په اشعارو کښې موږ بیخي بل ډول منظره وینو زه ته هم وایم چه خوشحال خان خټک د خپل زماني د قولو مترقي قواؤ او مشکورو نماینده ؤ په همه وخت کښې د فیوډالیزم جریان پرمخ روان و او په هیڅ هغه وخت کښې پښتنو قبایلو د خارجي اشغالګرو پر خلاف مقاومت کوله په ۱۶۰ ع ... کښې د تاریخي شرایطو په نتیجه کښې د پښتنو په منځ کښې دروښنا بیا او اهمیت پورته شو او اهمیت په یوه اندازه د مزګرو دیموکراتیک پر انتدائي مشکورو ماندې ماؤ او همه وخت لی ډېر لوی تاریخي رول درلود. مګر په هغه حال کښې کله چه خوشحال خټک په ۱۶۴۱ ع کال کښې د خټکو د قبیلې د مشر په حیث بګړی وتړله لو د شاهجهان او په تیره بیا د اورنګ زیب په دوره کې پښتانه د مغلو په ضد پورته کړل خوشحال خان زیار و یست چه ټول پښتانه قبایل د یوه خبار حی عظیم پر ضد په مجادله کښې سره متحد کړي او د یوه آزاد پښتني دولت اعلان بې وکي

بې شکه په دې مبارزه کښې موږ د خوشحال خان خټک مترقي تاریخي اجتماعي

به وزن به مضمون به نزاکت هم به تشبیه کښې

پښتو ویل مې هیڅ تر پارسي دي ز سوالي

د خوشحال په کلام کښې فارسي او عربي لغات ډېر دي ده په خپلو اشعارو کښې د بدیعي، عروض، بیان علومو ته ځای ورکړی او دا خو یو ضروري کار و پرته له دې څخه د ادبي ژبې د انکشاف دپاره نورې لارې او چارې ممکنې نه وې

ممکن ځینې کسان په دا اعتراض وکړي چې ملي شعر او ملي کلتور څنګه بې له دې علومو څخه موجود دي آیا د ملي ادب خزانه قیمت نه لري؟ البته دا بېله موضوع ده، راځئ چې پخپله قاعده له خوشحال څخه واورو چې وائي

هر کلام مې واردات دي یا الهام دي

چې موزون مې په تقطیع د بحر بند کړ

دا بیت د خوشحال خټک ښه نمانه کار ښئي چې پخپله شاعر د اصلي شاعرۍ موضوع په دې څرګنده کړې او محققین باید دا موضوع له نظره ونه غورځوي.

په تازه تازه مضمون د پښتو شعر

په معنی مې د شیراز او د خجند کړ

شیراز — د لویو فارسي کلاسیکي شاعرانو سعدي او حافظ وطن دی، په خجند کښې یو بل لوی کلاسیکي فارسي شاعر کمال خجندي شعرونه ویل نو ځکه خوشحال خټک غوښتل چې د پښتو ادبي او سبکي خزانه دې لوړ معیار (مقام) ته ورسوي

ننني پښتو تصفیه کوونکي پر خوشحال باندې دا انتقاد کوي چې ده په شعر کښې پردي لغتونه ډېر دي، مګر څه وکړو چې زړه یې سوځي شي؟ د خوشحال په دیوان کښې داسې غزلې شته چې په دواړو فارسي او پښتو ژبو لیکل شوي دي باید وویل شي چې د هغه وخت په شاعرۍ کښې دا یو مخصوص طرز و چې کله نه کله به شاعرانو به یوه غزل کښې د دوو ژبو څخه کار اخست، د خوشحال په یوه غزل کښې یوه مصرع په فارسي او بله په پښتو لیکل شوي ده شاعر نه په پوره قدرت سره په دواړو ژبو باندې حاکمیت درلود البته خوشحال ځینې شعرونه لري چې نوارې رنګیني او د فورمالیزم مشق پکښې شته چې په هغو کښې په الفاظو او تورو لوبې کوي او د خپلې شاعرۍ استادي ښئي، دلته یې یو داسې مثال وګورئ

شې ښې ښې ښی ځینې ښېښې

ښې په ښې بې شفت ښېښې

دغو پرو علومو او څانګو په زیاته اندازه معلومات لري په خپله شاعرۍ کښې منعکس کړي. اوس که څوک وغواړي چه د خوشحال خټک اشعار ترجمه کړي نو باید دایرة المعارف لري په څنګ کښې وي، ځکه چه د ترجمان د پاره ضروري ده په شاعري، تاریخ، حقوقو، اسلامیات، جنګي علومو کښې معلومات په کار دي بلکه ضمناً باید په فلسفه، بیولوژي، ښکار پېژندنه او نورو علومو په څانګو کښې ځانته معلومات حاصل کړي. شاعر وائي

درست دیوان مې لکه باغ د علم ګنج دی
په کښې هر رنګه ګلونه هر نهال

د خوشحال خټک شاعري په دې شاهدي ورکوي چه دی په فارسي او عربي ادب سه پوه ؤ. د دې ژبو په ښکولو، عروضو او بدیعي صنعتونو باندې ئې پوره تسلط درلود په دغو ژبو کښې ئې هم شعرونه لیکل کوم شعرونه چه خوشحال خټک په پښتو لیکلي دي دا څرګندوي چه شاعر په غزل، رباعي، مخمس، قطعه، ترجیع بند او نورو بندونو او شعرونو په جوړولو باندې پوره حاکم ؤ. اما د افغانستان د کلتور په تاریخ کښې د خوشحال خټک رول په دې نه ختمېږي دی د خپلې زماني هم لوی کلاسیکي شاعر او هم ستر ترجمان ؤ او ډېر علمي ادبي او دیني آثار ئې له فارسي او عربي څخه پښتو ته اړولي دي دا کار د ده د مخه هم رواج ؤ مګر د خوشحال ترجمه کښې فوق العاده او مخصوصه ده ټول پوهان په دې اتفاق لري چه د خوشحال خټک شاعري شخصیت است ترجماني شخصیت څخه لوړ او څېړونکو څرګنده، لیکلي دي چه د خوشحال خټک په ترجمه شوي آثارو کښې په ښکلو لغاتو او د کلام په تناسب کښې د فارسي او عربي ژبو تاثیر او اغېزه لیدله کېږي څوره په قطعي ډول سره ده ده چا مخالف یم چه د خوشحال په اشعارو کښې د عربي او فارسي ژبو اغېزه په همدغه اندازه قوي نو لې کومه چه د ده په ترجمه شوي آثارو کښې موجوده ده.

شاعر په خپل یو غزل کښې وایي:

پارسي شعر مې هم زده سلیقه لرم د دواړو
پښتو شعر مې خوبي شو هر څوك خپل ګڼي سا علي

خوشحال د هم دې غزل په بل بیت کښې د پښتو شاعرۍ ژبې د خپلو اصلاحاتو مضمون په لاندې ډول څرګند کړی

نظر بو څخه له هغې نظر له نقطې څخه د شاعر له خوا د پښتو اصلاحات دري برخې یادري لاري لري

۱ـ د شاعرانه موضوعاتو موق العاده پراخوالی او هغوی ته سره اوږدې کول دي او همه وخت د علومو او فنونو د پر لغات او اصطلاحات ئې پکښې ځای کړی دی

۲ـ خوشحال په پښتو شاعری کښې د پر بدیعې او عروضي علومو ته هم ځای ورکړی کوم چه پخوا په فارسي او عربي ژبو کښې او په برخه درلوده. د هغه ټول صنعت او سبک خوند کړی او په دې ټول یې د پښتو د شاعرۍ خزانه غنی کړه.

۳ ترټولو مهمه خبره داده چه شاعر داد پښتو ژبی او اولسی محاورې په ...ژ دی کولو کښې موثر کام واخیست په تیره بیا دا یې په رباعیاتو او «بار نامه» کښې لیدل کیږی

ورورستی خبره د خوشحال د شعر او ملی ادب د رواړخو په باب ده په دې مسئله کښې مهمه د یالیکټیکي رابطه او کږی تعلق موجود دی د نړی‌په هر قاموس او دایرة المعارف کښې دا خبره لوستلای شو چه خوشحال خان خټک د افغانانو د اعیانی شاعرۍ موسس د هغې سره قول موافقت کوی هو، خوشحال خټک یو نواب ؤ اما دا چه دی یواځې د نوابی د شاعرۍ نماینده او یواځې دا شرامی مفکورو غږ کوونکی ولمل شی دا په غلط وی ځکه چه ده په شاعرۍ کښې د اولس پښتو ن څخه ئې هم شته د خوشحال شاعری یواځې په نوابی محافلو کښې نه ځوړنده پاتې

ده د بهترین اشعار کوم چه اولس ته یکښې خطاب شوی دی د ملی سند ر غاړو په خولو ترن ورځې پوری اوریدل کیږی دا اشعار لکه د ټری د شاعر له بهتر ښې سولې مرګ ته لری

د خوشحال اشعار تر اوسه پوری ژوندی دی او ځموږ په هم عصره پښتانه د لوړو کارنامو د پاره له هغې څخه الهام اخلی

به پارسی ژبه می هم ژبه ګویا ده

به پښتو ژبه می خلق نور صدکړل

په دې بیت کښې لې د «ش» ، «ش» ، «ی» او «ع» تکرار اصلی موضوع ده ، او د لیکلو له مخې هم خاص مورځ او نقش لری ، مګر دا ټول اشعار د خوشحال په شاعرۍ کښې اصلی مقام نه لری د مصرع معنی او مضمون د دې د شاعرۍ زړه دی ، دې شاعر کوښش نه کاوه چه معنی د الفاظو قربان شي او د شعر معنی لې په پښولو الفاظو کښې نه پټوله ، ده زیار و یست چه په شعر کښې مادی او معنوی دنیا په یوه توګه څرګنده کړی اما په دنیا کښې لې آزادی تر ټولو مهمه ګڼله

آزادی تر بادشاهیه لا تیری کا
چه د بل تر حکم لاندې شی زندان شی

د پښتو د تصفیه کولو تر ټولو ګلك طرفداران باید په دې اعتراف وکړی چه د خوشحال د زیاتو خارجی الفاظو استعمال د پښتو ژبی د شاعری د انکشاف د پاره د هغه وخت د تاریخی شرائطو په استناد یو لازمی کار ؤ ، په همدې وخت کښې ویلای شم چه د خوشحال خټك په شاعرۍ کښې د پښتو ژبی ژوندی اصطلاحات او اولسی محاورې غومره ډیرې دی ، د دې د پاره چه دا مختلف معروف او د کلام لوی سمندو نه سره یو ځای کړی د شاعر لوی نبوغ ، استعداد او استاذی په کار وه ، خوشحال همداسی اشعار لری چه یوازی په ملی محاوره باندې جوړ شوی دی مثلاً

څوڅو فکرونه ، څوڅو اخونه
د یوه مې په غم کښې ، سترګی بی خونه

داځل مې وشوه په مخ کښې سونه
او د نو نه تو نه له مین تـو نه

په لومړیو مصرع کښې یی نه یوازی تکرار بلکه د مصرع ټول ترتیب او ځینې او اولسی محاورې ته نږدې دی په ورورستی مصرع کښې د کلمو آواز فوق العاده ترنم او اولسی شکل لری همه لغات چه یې شعر کښې لې راوړی دی محاورې یې بیخی لری ده مګر کوم چه یې ماره کښې ټول نه سره هم آواز دی

په آخر کښې کوښش کوم چه د پښتو ژبی تاریخی اصطلاحات او په معنو کښی د خوشحال خټك رول په لنډ ډول وښیم ما ته معلومیږی چه د خوشحال پر ته له دې



ښاغلی اجمل خټک د سیمینار غړی د خطابې
په وخت کې .

لیکوال ساعلی احمد حقیق

دخوشحال دفکر او نظر

نوې مطالعه

خوشحال بابا په هغه شخصیتونو کښې دی چه مونږ پس دد نیا په مخ په مختلفو اولسونو کښې وخت په وخت پیداکیږي، دا صلاحیت او استعداد وي پکښې چه د روند ماضي دا ترلاندې چه معاشره کښې د فطرت د قوانینو سره سم د جدت او نوي ژوند کوم ضرورت محسوسیږي هغه محسوس کړي، دهغې د پاره نوی فکر، نوې ولولې، نوی جوش او نوی تحریك پیدا کړي او اولسونو کښې د نوي ژوند ساه پو کړي .

دخوشحال بابا د ژوند او آثارو مطالعه څخه په آسانه دا څرګندیږي چه دهغه په طبیعت کښې حدت، زړه کښې د حدت زاوسنو بې قراری، ذهن کښې ددې د پاره نوی فکر، وینه کښې دغیرت ګرمي، غیرو کښې همت او سینه کښې جرات ؤ. هغه زوړ نظام زوړ اولسي ژوند زاړه حاوي روایات او خراب شوي عادتو نه نه ګڼل، سخت تنقید ئې پرې کاوه او هرڅه ئې دخپل نوي فکر په رڼا کښې نوي لیدل غوښتل او هر کله چه هغه فکري او ذهني انقلاب هم راووست او سیاسي او اقتصادي هم – نو هم ئې د قلم نه کار اخیست هم د توري نه او ځکه د توري او قلم دخاوند په نوم یاد شو .

هغه دخپل مرام حاصلولو دپاره یو هڅه ګیرعملي جدو جهد هم کاوه، او همروله ئې هم ایکل جدوجهد ئې هم داسې کاوه چه خدای (ج) ورته د ماتور بار طبیعت ورکړی ؤ د هر څه ښکار ته ساز ؤ :

طبیعت مې په مثال د ماتور بار دی
که ئې ګورې د هر څه ښکار ته ساز دی

او اشعار ئې هم داسې ویل چه نه ئې د چا نه طمع لرله نه ویره، چه څه ورته ریښتیا ښکاریدل هغه ئې ویل، که په چا بد لګیدل که ښه :

په دا کلي کښې څوك به لرم نیکخواه — چه ریښتیا وایم هم دا لرم ګناه

او ورسره ژغور هم ترڅې حده ؤ او په ځان ئې اعتماد هم دومره ؤ، چه که د هر طرف نه ئې د حق وینا په وجهه مخالفت کیده او د بدخواهانو هجوم ورپسې ؤ، ده ئې هیڅ پروا نه کوله

په خوشحال باندې کـه تل ناري سوري وي

مار پـروا نـه کـړي د زاغو پـه هجوم

دې اخري شعر کښې ئې د «مار» او «زاغ» استعارو ته پام وکړئ. مانا چه ژوند کښې همت، جرئت او جدوجهد غواړي، مار د همې شان علامه ده او د بې همتۍ، بزدلۍ، تیارخورۍ په نتیجه کښې چه ژوند کښې د بل په پس خوره قانع کیدل په زړه، خوښا او مردارو سرکول او د هغه شان نورا ختلاطي خویونه راشي، زاغ د هغې علامه ده

د دې سره سره چه دا اشعار وکتل شي، نو د خوشحال مانا د طبیعت جدت پسند په ښه څرګنده شي :

زمانه د زمانې د لاس زیات دی

هر زمان نوې نغمې د بم و زیر

فراغت دې مبارك شي د ګیدړو

د زمري د غاړې پرې دي ځنځیر

په دومبي شعر کښې زمانه هغه زمانه ګڼل چه هر زمان ئې نغمه نوې نوې وي، زمانه د دې وینا واضح دلیل دی چه خوشحال ژوند او زمانه جامد نه ګڼي، بدلون او حرکت ئې قایل دی او چه کله هغه زمانې د زمانې نه هر زمان نوې نوې نغمه راوباسي د هغه شان مانا هم زمانه هر وخت نوې نوې کیدل غواړي .

دوهم شعر کښې د ځینې دې نظریې اظهار کوي چه لکه د ګیدړو تیار خورې ژوند، پست همت او مردار خور طبیعت وال خلك په زمانه قانع وي، نو ځکه چه د مړتوب سربارې او جد وجهد نتیجه کښې چه څه سختۍ راځي د هغې نه فارغ وي . ولې کوم وګړي چه د زمري همت او جرئت لري هغوی د ځینې زمریتوب نه کار اخلي، ننګ وځو کوي او ژوند کښې ګرمي او حرکت پیدا کوي . نو د هغوی غاړې ته زمانه ځنځیرونه اچوي ځکه چه هغوی د زمانې مخالفت کوي ځکه زمانه په بل مخ اړول غواړي او ځان ته په خپل قوت او همت خپل ژوند په خپله جوړوي . او نور هغه خلك چه ژوند او خوندلي



ښاغلي عبدالقدير فهيم د وينا په حال کې د اوريدونکو په ډله کې د پښتونستان ملي مجاهد
خان عبدالغفار خان په لومړي کتار کې ليدل کيږي

او آخر يې انسان خداى ته ورساوه، خو كه نرانرۍ ور سره نه كړي نو څه اثر يې
ترې كم كړ

څه خولې د خداى نه گوري   كه يې نه دي برابر

او نن دا نه ده دا دومره خو د خوشحال خان بابا نه علاوه نوموړى بادشاه ونيا نو
مالان هم ويلي شي د خوشحال د خدمت او عزت د فلسفې او د تصوف د فلسفې فرق
دلته پيدا شي چه خوشحال د انسان د عظمت او قدرت منبع د انسان خپل همت او
جد و جهد بولي او دى د همت او هنر نه پروبال آسمانونه فتح كوي

دې مې څنګه نه الوزم و آسمان ته   چې يې دا شي د همت په پرو بال
واى لار د ختو نشته و آسمان ته   زه نه لار درته پيدا كړم په هنر
په آسمان با مدې نوري كړم   د همت په پرو بال
چه فلك سره سر ماتې   په همت كښې هغه زه يم

او تر دې هم زياته د خوشحال بابا انسان څنګه واقعي عظيم دى چه د ژوندانه
ستې نه د ارتقا او انحطاط د فلك له گردش څخه نه گڼي او وايي چه «زرعى» څنګه
زرعى دي چه د دنيا د ريحان خوشبو او د باره د محنت او همت نه كار نه دى اخستى
شوى كه د همت او محنت نه كار واخستى شي «زرعى» نه زرعى باتي نه شي «ريحان»
ي نمي قول اظهار د محنت او همت دى :

په هر كار كښې چه همت و تړې دله
كه اغزي وي هغه كار، ور ته ريحان شي

بلكه هغه خو د كوښش او جد و جهد تر دې قايل دى چه وايي چه دا كيدى
نه شي چه څوك دې په اخلاص كوښش وكړي او كامران دې نه شي

چه كوښش په اخلاص كاره اى صاحب يم   كه كامران په خپل مراد نه شي سړى

او داې څه كوي چه بابا خو د همت او كوښش تر دې حده قايل دى چه نور
خو بر يږده موږ ته دا سبق را كوي چه هغه فلك سره هم برابر كيدى شي د كوم
گردش سره چه خلك د قوې د دنيا د حالتو گردش تړلى گڼي :

كه لې درست د مقدور را ته سكاره كړ
دنيا فلك سره كښتي په خپل د ستور ر كړم

ژوندکښې ئې ګټه وي او اوې او متحرک ژوند کښې تاوان، دووی مخالفت کوی لاړې
ورته ليسی او فائدې ته هڅپروونه اچوي يعنی دخوشحال په عقيده چه زمری کيدل
يکاروی ولې چه دا د شرافت، شجاعت او انسانی عظمت تقاضا هم ده او د ژوند دارتقا
تقاضا هم، نو د زمری کيدو سره به د زمانې مصائبو ته سينه ډال کول هم وی. تردې
چه که آسمان دې د زمری خولې کښې ورکوی هلته هم دغه هم زهير کيږی او مايوس
کيږی نه، حپل همت نه کوی :

که آسمان دې د زمری په خوله کښې ورکړی

د زمری په خوله کښې هسې پر بېږده همت

که خوشحال يوخوا زمانه بدلول غواړی او د زمانې د رنګ نه بوې لوی لمې
راوباسی نو بل خوا د دې جدت دپاره، فعالګانې، متونه او تشی حمري کامي نه ګوي
د همت او عمل درس ورکوی، بلکه حپله د ننګ توره او د شعور قلم لاس کښې اخلی
ميدان کښې ودريږی. که مونږ لږ فکر وکړو او په دې انظر و اچوو چه خوشحال بابا
زمانه بدلوی او دا انسان په عمل او همت ئې بدلوی. او په آسانه به دې نتيجه
رسيدی شو چه بابا زمانه په انسان سوره نه ګڼی. انسان نه زمانه سور ګڼی، انسان
د زمانې په جدت او بدلون قادر ګڼي يعنی دا وائي چه د زمانې د هر بدلون
خالق انسان دی

د خوشحال بابا نه مخکښې او د هغه په عهد کښې عامه عقيده دا وه چه انسان د ملک
دلاسو ګوډاګی او يوعاجز، حقير، بې وسه او بې طاقته چينجی دی ددې په مقابله
کښې خوشحال راغی او انسان د زمانې په شا سوردی او وائي چه دا انسان همت او
همت د زمانې دجدت خالق دی. دا ډيره لويه خبره ده او دا خبره هغه وخت کېږي
صرف خوشحال بابا کولای شی، ځکه چه د هغه د فکر بار د مرغيژنی فلسفې طوقونو
شلولی او د غيرت او جدت په وزرو دومره اوچت الوتلی شی چه د انسان د قدرت
لوې لوې منظرې ورته ښکاره ئ او وائي :

چه په ملک او ملکوت کښې موندې نه شی
هغه هسې څيز نسي اېښې دی په ما کښې

ما حپل سر تر فلک و ليده په دره   ددې خوب مې معبره کوم تعبير دی

که لويې و ته مې ګوري   ماه و خور زما پرچم دی
آسمانو نه مې خيمې دی   برې دستور و زيت تم دی

د پښتو شعر لې غور کې د شعر او ادب په هکله نوې او مختلفه نظريه دا ده چه باید ادب نه خو د وهم او خیال دلیلا د زلفو په بند کښې ګیر یږي او لاړ نه شي او نه چا ته د ولي نعمت او آقا د کاسه لیسی لار پرانیزي

شعر او ادب باید چه نه خو د یو محدود ذهن په خوا راغلی، د ژوند نه بې تعلقه او انسانی دنیا نه لیرې په هوا کښې د خوب خیال رنګین باغونه جوړوونکی وی. او نه د چا یو انسان او یو طبقې د خوشحالی، لوبې او عیاشی د پاره ځای نې ځانونه صفتونه یا ذمونه د انسانو تعریفونه وی. شعر او ادب د هغې عیاشی او وخت تیری نه دی د ژوند نوامیس او بنیادی قدر دی او ځکه شاعری د یو با شعوره، حساس درد مند زړه، بالاراده پیداوار ګڼلی شی او د خپل اولس او ژوند د منعکسې ننګ، اصلاح او ښېګړې د پاره یوه موثره ذریعه ده. ادب په باب دا مختلفه نظریه وروستنه پیدا شوې ده او خوشحال بابا ډیر منعکسې د دې عقیدې ګوچه د هغه اشعار یې ښه نماینده ګی کوی

د هغه وخت شاعری به اکثر دروغ صفتونه او د خوب او خیال تمثیل وی نو ځکه خوشحال بابا وئیل

نه به هسې شان دروغ ښکښې ویل شي
چه به خپله دروغژن شي دم در حال

نه یې مقصد او سر هوا غږیدل چه د هغه وخت نو عام صفت و خوشحال بابا ډیر بد ګڼلی دی او وائی:

سر هوا لکه سپ څنې هسې وبړی
د خپل ځان سره خوله پټه سوال ځواب

د دې قسم لا یعني او بې شعوره شاعرۍ سره د فکر او عمل خاوند خوشحال چیرته روادار کولای شو. نو ځکه تنګ شو

چه دا څو تو که مې ولیدل د شعر   هی تو به د شاعرۍ د اعمال
کشکی زه په زړه ګونګ وی شاعر نه وی
تر دا هسې ګویا بې ښه وه لال

ولې خبره دلته نه پاتیږی. دا د خوشحال بابا د اولس خبره نه وه چه هغه طوفانانې اسار کړی وی، چه کوم د هغه طبیعت کښې نو یې دنیا نه لو لو ته بې قراره وو. یا یې د خپل طبیعت هغه رجحان ختم کړی وی، کوم چه جدت او تحول غوښته، نو ځکه یې زړه ګونګه

او د دومره لوړ همت خاوند او خود اعتماده دی چه وائی :

همت هاتمان خوږی زمری په ښکار کیږی

نو به دا چه څان ملك وته تر نور کړم

دا انسان د عظمت دا عقیده د بابا په خدمت خواه او ترقی خوا غیرتی طبیعت کښې احکل شوې ده او د همه نه ئې د خپل عصر نو داسې نا عمله منکر فکر خوند کړی دی چه د خپل اولس فکر او عمل ته ئې ډېرې لارې پرانستې دی که هر څو د همه خپل عصر کښې نور شرایط د ده د عمل سره په تائید کښې نه ؤ همه د فکر داسې مشعلونه روښانه کړی دی او ملت کښې د ژوند پیدا کولو داسې ګرمې ترانې ئې ویلې دی چه د همې نه برکت د عروج د منزل نه لوړ یون کیږی او کېدی شی

د بابا د خدمت پسند طبیعت نه مطالعه د همه د شاعرۍ په میدان کښې کېدی شی ځکه چه هم د دغه طبیعت له رویه همه د پښتو شاعرۍ کښې ډېر خدمت پیدا کړی دی بلکه قول «آب و تاب» ورته هم ورکړه ور ښلی دی :

ما خوشحال چه په پښتو شعر نظر کړ — د پښتو ژبه نه اوس په آب و تاب شی

په پښتو ژبه چه ما علم بلند کړ — د عمرو ملك مې فتح په سمند کړ

نه دوست د پښتو شعر ما پیدا کړ — ګنه شعر د پښتو ؤ غیر مثال

د خوشحال بابا نه مخکښې پښتو شعر و شاعرۍ هم د شکل (Fourn) په لحاظ هم د معنی او مضمون نه لحاظ ډېر ابتدائی شکل کښې و . د ده د خدمت پسند طبیعت دغه شاعری خوښه نه شوه نو ځکه ئې تنقید وکړ او پکښې ئې بدلون راووست چه نتیجه ئې دا شوه چه که همه دور نشو ونوډۍ وه ده ترې د قند و نبات خوند کړه .

نو په حال او په ماضی کښې هسې نه ؤ — چه سکاره ئې د عمرو ورا ته خوند کړ

د میرزا دیوان مې ومونده په ګوډی — مصحف مې اوراق خوږ ښکی خند کړ

که دولت ؤ که واصل ؤ که دانور ؤ — په عمرو مې د هر یوه ریشخند کړ

کتلی مې ورته ساری کړې د قند و — دور نشو نه پوډۍ نه چه ښخو ند کړ

کیدی شی چه همه وخت چا دا اشعار شاعرانه مبالغه ګڼلې وی ، ولې نن د ادب د تاریخ هر طالب علم داسې چه د بابا و پنا و صحیح تنقید او حقیقی موارد اودې کښې شك نه شته چه د بابا نه مخکښې پښتو شاعرۍ ډېره ابتدائی او ګډوډ شکل کښې وه . چه دی راغی نو ده ورته سر څوی وکړل او پښتو کښې ئې با قاعده نظم ، صحیح غزلې د همې خپل ورتونه او د نظم مختلف قسمونه رایج کړل ، بلکه

نه ولې؟ ځکه چه لکه د بابا د علم، شعور او حکمت ډېر کسي شعرونه وايي او دعوی شعر او ادب د خپل اولس د ژوند عکاسي نو لي، نو هغوی ځان په بو شعور وايي او مراتې مضمونو نو پورې نه تړي د خپل اولس د ژوند په مناسبت هغه قول مضامين د هغوی شاعرۍ کښې راځائيږي، کوم چه د هغه وخت غوښتنې وې او ځکه د هغوی اشعار د موضوعي لحاظ د سترګو او د لمو د مسلسل تکرار نه ډک وي هر ښت کسي چې د علم د دفترونه وي :

خدایه وشکم چا نه ځوك نه پرې پوهېږي   ما ویلي هر یو بیت دی د دفترونه

او هر کله چه هغه په خپله اراده او کوشش خپل شعرونو کښې د اولس دردونه او د ژوند د کامیابۍ رازونه بیانوي نو اشعار یې نن د هغې عیاشۍ او وخت تېرول نه وي. د انساني معاشرې د سکلا او د محکمې تنګه د پاره قیمتي ملغلرې وي .

ما خوشحال څه دا اشعار نه دي ویلي   بو اسرار مې هویدا کړي په اشعار
دا څه شعر نه دي ما خوشحال خټک ویلي   والله در ګوهر دي د بیان په تار پېیلي
چه دې زړه هغه ګوهر نه پکښې مومي   که پرې پوهېږي تر آغاره تر انجامه

تاسو لږ فکر وکړئ او وګورئ د هغه اشعار در ګوهر دي او که نه؟
د پښتنو معاشره کښې، پرون هم او نن هم، د قولونه لویه کمزوري پېښه ده، خوشحال بابا وايي

پښتانه نه عقل نو هغه نه کس دي   کوته سپي د قمارباز د هوس دي
بادشاهي یې د عمل په زور بایله   د عمل د مضمونو نه په هوس دي
اوس د پاره سره کورته ور غلي   په ولږه د اوبن د غاړې د جرس دي

یعنې پښتانه څه ناپوه خلك دي لکه د کوتې سپو په ځیر کو دو کې کېږي اوس د پاره سره کورته ورغلي دي هغه قیمتي اوبن او قیمتي بار ورته نه ښکاري هغه د هغه شان پرېږدي او په غاړه کښې یې د دوه پیسو جرس دي په غږ یې ګونګوي او اس باباجانان وايي چه « پښتون هر څه ته قیمتي دی خو یو پیسې ته نه دی قیمتي . چه دوه پیسې دې ورته وبود لې نه قام پېژني نه دین هر څه پرېږدي او پیسې پسې منډې وهي »
راشئ وګورئ! چه خوشحال بابا د پښتنو د دغه بد خصلت د ورکولو د پاره اولس ته ځکه د غیرت الفکشنو نه وهي او ځکه یې دا اشعار نن هم هغه شان مفید دي لکه پرون چه وو :

ځوك دنیا و ته مړ یو نه دی خوشاله   شاه ځلمیو ته د اونو چڼغاله ده

پاتې نه شوه بلکه د ژبې نه يې د ادب د اسرار او نل شپېلۍ خوندونه او کوشش وکړ او دا شپېلۍ يې داسې په زور کښې وغږوله چه د پښتو ادب، پښتو نولي او اولسي ژوند ولاړه معلومه او زړه قدر ونه هر څه ئې ولړزول او ولاړ لګيا دي لړزېږي او لکه د پسرلي د باد شپېلۍ وئې د وطن په غرو سمو د مرې خپې سره نوې سترګې، نوې غوټۍ او نوې ګلستان پيدا کړ:

ګلستان د ما د شعر شګفته شو — پرې وهي شيدا بلبله پر و بال
ګلدستې يې لوړ په لوړ په ملک خورې شوې — تر کابله تر کشميره تر بنګال

او هر کله چه نه خو سر هوا خبرې وي او نه دروغ او نه بې مقصده شاعري کوي بلکه دی شاعري د خپل اولس د شعور رڼا بولو او ګوند کښې حرکت پيدا کولو د پاره کوي . نو د خپل ديوان نه د محدود نا پوهو خوږ حس خوندوي، بلکه د اسې د علم ګنج يې بولي چه د ژوند د هر اړخ او هر رنګ ګل پکښې په مې د مقصد شي پکښې موندی شي :

درست ديوان مې لکه باغ د علم ګنج دی — په کښې هر رنګه ګلونه هر نهال

دا هم تشه دعوه نه ده ، د خوشحال ديوان واقعي د علم ګنج دی . او هر رنګه وېږې، غوټۍ او ګلونه پکښې شته په دې موضوع استاد حبيبي، کامل صاحب، ښاغلي رسا، عبدالروف بېنوا، معصومي هوړا او مير عبدالصمد خان په خپلو تصنيفاتو کښې ډېر نه مفصل سره بحث کړی دی . او دا ئې ثابته کړې ده چه خوشحال د شاعرۍ له مخه ډېره فراخه کړه او ډېر نوي نوي مضامين چه پردي وخته نه پښتو شاعرۍ کښې نه وو هغه پښتو ته راننوېستل، بلکه انګليسي مستشرق راورټي خو تر دې ووئيل چه «لکه د عرب د شاعرانو غوندې خوشحال نه د پاره هيڅ مضمون غير نه دی» .

تاسو د بابا د ديوان راواخلئ او دا د علم ګلستان وګورئ او ووايئ چه د هغه وخت کومه خبره داسې وه ، چه په هغه وخت کښې د خوشحال او اولس ته هغې کښې د رهنمائي ضرورت وو او دې ورته لار نه وي ښودلې . د ژوند کوم اړخ وو چه نه هغې تنقيد پکار وو او ده پرې تنقيد نه وي کړی مذهب، پښتو، ننګ، وطن، سره ميړه او سرداره خو د هغه وخت غټې غټې ستادي قدرونه وو په هغې هم خو د بابا تنقيد د بابا خپله نظر او د بابا هدايات پوطرف ته ، هغه خوشحلې، مېړه، سردار، خان، ملا، شيخ، ښځه ترد چه بار، توره او آس هم نه هېروي، په هر څه تنقيد کوي .

او معاشره کښې څه چه نالوب هوا ئې دي هغې په مناسبت هر څه کښې نوی صفتو پيدا کول غواړي او د اهر څه د پوهې اراده يې شعور او احساس لا ندې کوي څښې د تو کل [illegible]

په ضد تیار خوږ، بې محنته ناوه بل په ګټه وړه مړي کولو والا کسان دغوی نه کم ګڼل
یا یې تنقید کول ډیر اوی مضمون دی، ځکه چه د محنت کښو احترام او اقتدار ډیر
او سنی پیداوار دی، ولې خوشال ما باځیل عهد کښې په دې نکته رسیدلی دی او دا مضمون یې
دا احیستی دی. د ځپلو لیچو ګټه خوړونکی ته ځضغر یا زمری وایی او د بل دلاسو
ګټه خوړونکی ته «روما» یعنی لومبړه وایی.

خوره خوروا د خپلو لیچو — ضغر شه مه روما

او بل ځای وایی:

څوک چه پو ډوډه د دهقانی خوری — حواله د خوړو د مهمانی خوری
چه یې په ظلم خوری واخلي دې زهر شی — که سا لمونه د سلطانی خوری

او دا یې وګوری چه او وایی چه د انسانیت معراج ته سړی رسیدی شی، خو شرط دا دی
په کوشش او جد و جهد وکړی، یعنی د انسان او انسانی معاشرې د کمال د پاره محنت او همت دی

د مردانو په معراج نه ورتلی نه شی — که هیڅ کوتاهی لری په دې کښې

د خوشحال دور د نسلی تفوق او خاندانی برتری دور و، هغه کښې د لویې معیار
حسب او نسب یا زر او زور و، د هغه دور کښې خوشحال د بلې لویې نه انکار کوی
او وایی چه لویی صرف او صرف په هنر همت او توره ده.

د سړی لویی په رنګ په جامه نه ده — په همت ده په هنر ده په خصال
او چه لویی هیڅ دی د نسب دی که د زر ده — چه لویی ده چه لویی دی په هنر
نامرد په ګرځی د پلار په نام پسې — خوان مرد په ګرځی په خپل صمصام پسې

داحقیقت چه قوت او طاقت اصلی سرچشمه اولس دی ورو سته ډیر عام شوی دی او
خو د هر چا په خوله اولس اولس چیغی دی حکومتونه اولس جوړوی، دا اولس هغه یې جوړوی
وه اولس د پاره یې جوړوی، ولې شاباش د خوشحال بابا په فکر او نظر چه هغه، هغه وخت
کښې دا راز معلوم کړی دی او د انسانی معاشرې د تشکیل او ترقی د ټولو نه لوی قوت
رته اولس ښکاری چه د بادشاهانو او فاتحانو دور و، هر خو د نسلی او خاندانی اقتدار
ورو او چه چا سره په دغه اقتدار کوټک و هغه ته حق حاصل و، چه اولس لکه د ګډو
رو چه کوم خوا روانوی، روان کړی، په داسی وخت کښې د خوشحال دا وینا چه که
ولس ځپله کښې سلا یوه کړی نو بادشاهان تابع کولی شی. نو خو دا هغه د نوی فکر او
سیاسی تدبیر ډیر لوی دلیل دی، بل خوا د اولسی په زور کراسی د قیام طرف ته هم یې
اشاره ده.

زه تر هغه ښار شم چه یې دا کړه تر ښاران ښاره ښار تر ما هغه شه چه ښار شوی تر مثقاله
د درویش برخه خوښي هم د هغو دي چه په شمار د زرو ناست وي چون و چند کا
ماوې مردلره خولوم نوې نادا له نه د زرو نو لول چه په هنر دي
که هندوسره ویران ویران مهران دي په مهرانو به چه له شي مختصر دي

دا او هغه اشعار چه د زر پرستۍ د همه الحرص سره تعلق لري چه مونږ پښتانه یې کښې د تیره عمره راهسې مبتلا یو. د زرو او دولت یو بل ضرري اړخ هم شته چه د ټولي دنیا او لسونو د هغې ضرر ښکلی دی او په پیړیو پیړیو لې انسان د انسان غلام ساتلی دی.

د زرو او دولت دا اړخ د زرو یو څو لاسونو کښې جمع کېدل او متمرکز کېدل دي.
تاسو به د انساني جامعې د ارتقا تاریخ لوستلی وي، انساني معاشره کښې د «غلام» تصور هغه وخت پیدا شوی دی چه کوم وخت د انسانانو د جامعې په شریك دولت د یو یا څو کسانو د قبضې او ملکیت تصور پیدا شوی دی. د هغه وخت نه تر دې وخته په زرو او دولت قابضه طبقه په انساني معاشره قابضه ده چه څنګه څنګه د دې قبضې کمیت او کیفیت بدلیږي د هغه شان ورسره د انسان د غلامۍ انحوونه هم بدلیږي او را بدلیږي.
هسې یو انسان که د بل انسان په یو شکل یا په بل شکل کښې غلام وي، نو د دې سبب دا وي چه د جامعې دولت او زر د یو څو کسانو په قبضه کښې وي راشئ او ګورئ چه دا مذکوره د خوشحال بابا څه کښې هغه څنګه پیدا کړې او څنګه بیان کړې ده. هغه وائي چه د انساني جامعې د پرېشانۍ سبب دا دی چه ټول دولت او دنیا یو څو لاسونو کښې راجمع شوې وي او که دا د یو څو لاسو او جمع شوی دولت دنیا په اولس کښې پرېشان او خپور شي نو انساني جامعه به په آرام او اطمینان شي.

د دنیا په جمعیت کښې پرېشاني ده د دنیا په پرېشانۍ کښې جمعیت دی

د هغه شان د اطلام رد په شکله د نوې د نیا د املسه چه «زر دې ته اه دي پیدا چه د مو قارون سره دې را جمع شي او نیادې د هغه د هوس په قبر کښې دفن شي او یادې د هغه په خرا او کښې خوسا شي».

خوشال بابا څنګه په وضاحت بیان کړې دي.

هغه زر تر کانی نو ټې لا بتر دي چه ای وصندوق په څه که نه خرڅیږي
چه او نه په ځای ایساری شي او خوسا شي صفائي هم به داده چه مهیږي

محنت کښ او خواري کښ ته په درنه سترګه کتل او اهمیت یې قایل کېدل او ددې

نا متو ناستو خاندانی حکومتونه، وسیع او خواره اولسونه موجود وو او د دوی ډېر طاقتور حکومتونه قایمېدل او ورانېدل، ولې که دوی را غونډېدل نو د دوی راغونډېدونکي طاقت به یا دغه چرچ ؤ یا دغسې د برترۍ تصور یاد ملکو نو فتح کولو هوس. د خوشحال بابا جدت پسند طبیعت او مدبرانه ذهن چه د خپل دور د جابر او استعماري طاقت د لرې کولو په مسئله فکر وکړی نو د دې په مقابل کښې ورته یوه نوې وسله محسوسه را غله او هغه وه د قوم په نوم د اولسونو را یوځای کول او د اولسي اتحاد په زور استعمار ختمول یعنې د دې نه مخکښې زما نه شي یاد چه چا د «قوم په ننګ» د «ملت په ناموس» توره تړلې وي. ځکه چه هغه وخت خو که تورې تړلې شوې، که مېړې را اسېتې شوې او که حکومتونه کېدل د اولس په ننګ به نه ؤ په ذاتي یا خاندانی اغراضو به وو، دا خو یو خوشحال دی چه د افغان په ننګ توره تړی او وائی:

د افغان په ننګ مې وتړله توره ننګیالی د زمانې خوشحال خټک یم

او دا خو یو خوشحال ؤ چه هغه د زړګي د اولسونو د اتحاد شا به ورته د ننګ کار و نه پکار دی

درست پښتون له کندهاره تر اټکه سره یو دي ننګ په کار پټ او اشکار

د فکر او عمل د جدت او جرئت په لړ کښې ئې تردید وېلی شو چه هغه ته ئې دار داسې زده او ذهن ور کړی ؤ چه د خپلې معاشرې د هر سوده شوو او خوسا شوو رواياتو د مراتح او هر څیز سره ئې نه لګیده هغه جهان ته د نام و ننګ د ګټلو د پاره راغلی وو

نو تمام او سانکي ته په شو کښې ناستي:

څوک به هم د نام او ننګ په جهان راغلل څوک به فکر د تمام د سانکي دي

او زما په خیال هم دغه وجه ده چه سره ددې چه د خاندان د روایتي حالاتو زما کښې هغه ته میراث کښې خو دا خوامش باقي دی چه

مادې زه نه د عمل په نو کرۍ کښې نه رکېږ نو به ګړم د سرو د سپینو مال

ولې جدت پسند طبیعت ئې قرار نه، ولو لواو ننګ ورته موقع ورنه کړه او ددې په ضد ئې ورته مجبورونه ورپه پښو کړل

په ناحق مجبورونه را په پښو کړل واه واه هسې نوارش هسې مآل

د اندې د مغلو او خوشحال ذکر راغی، موراشوه چه لږ دا سکته هم وسنجوو خوشحال بابا

اولس ته چه سپه و بله وکا   باد شاهان ورته سجود کاندی اختیار

دا هم معلوم شوې د چه د اولس د قوت راز د اولس په سلا مشوره او حرکه کښې دی. د خوږو ورو او لسو نه یو جامع قوت جوړېږي چه اولس کښې د سلا مشورې، حرکې او یو پرابې صفت پیدا شي، له دې سببه د اولسي حکومتو او یا جرګو او د مجلس شورا ته کو اصل حرکه یا بار لیدلي دی.

خوشحال بابا چرته چه د اولس د قوت راز معلوم کړی دی نو بیا ئې د دې قوت د یو موقی کېدو د پاره ئې د حرکې سلا و مشورې ضرورت هم د ډېر پام ګڼلی دی. نو دی چه وائی:

د معامله سر وصا ریا ته دا قضا ده   چه قضا شي د خلقو د مصلحت

بابا وائی چه تر مراد رسېدو او مرام حاصلو لو د پاره مصلحت یو ګټوره دریعه ده که څوک خپل هدف ته رسول غواړي نو خپل اولس او خپلو ګړو سره به سلا و مشوره کوي او وائی:

مصلحت لکه قولف دی   سامراد لکه مجمر

د خوشحال د انقلابی او وحدت پسند ... به د دې نه لوی او د دې نه د بصیرت او جرأت ډک مثال څه وی، چه لکه ما مخکښې ویلی دی کوم وخت کښې چه د هغه نه ګرچا د هر حلک قول کار و نه د دولت دلاسه ګوی هغه وخت کښې دی را پاڅی او د ملک سره پررول کوی او د خپل ته ډېر په مجبور کښې د ملک د تېر لو اعلان کوی او په دی ډول د خپل اولس فکر ته دا خبره رسوی چه د ملک نه خپل ارو بره کول او په دی خپل وخت او طاقت ضایع کول نه دی په کار، را پاڅیدل په کار دی. او د ملک سره کشتی او د فطرت د قوتو مه سره پررول په کار دی چه هغوی را لاندې کړی شي او دا انسانیت د معراج کار تری نه واخیستل شي لو ځکه وائی:

مست هاتیان خونی زمری په مجبور کړې   نو بیا چه ځان ولګوته بر ډو ر کړم

دا هغه راز دی چه ده بیا ډېر و قوتو نو بري عمل و کړ د سندرو نو، هرو لو، هوا ګانو او وریځو او اوس لمر او سپوږمۍ سره په بر ر و لو دی او ورته تر مو ران شوی دی نو لاندې تر آسمانه ورسېدل او د خوشحال بابا قوم چه د هغه په وینا د پو هېدو او په همی د عمل کولو په ځای ئې هغه پسې قولک را واخیستو او د کور کلی نه ئې وتښتاوه، او د هغه دا وینا د هغه دیوان کښې خوندی پاتې ده.

د بابا د مکر د لوړتیا او د نظر د وحدت یو بل ښه ثبوت دا دی چه « هغه » هغه وخت د قوم او قومیت نارې پورته کړې وه چه د هغه هم عصر قومونو او اولسونو د چرچ د تقدس، د نسل د برترۍ یاد زور او حجر په قانون چلېدل، لوی لوی سلطنتونه،

د پښتون اولس شکل اختیار کړی دی نو په دغه مناسبت د خوشحال د ننګ، غیرت او خود وجود قول تعلیم هم د معمول خلاف نه و د ظلم، استعمار، او ظالمانه تسلط خلاف و هر کله او هر چیرته چه هغه شان استعماری قوت او ظالمانه تسلط وی د خوشحال د ننګ توره او د شعور قلم د هغې د ماتولو د پاره یو موثره وسله ده

لکه چه وه داسې ده او داسې به وي خوشحال بابا اولس ته وی مترقي ژوند ورته سل غواړی د هغه تعلیمات او ژوند د دې د پاره یو ښه مثال او اکسیر وی پرون هم و نن هم دی او سبا ته هم وی هغه د نوو استعماری قوت نه آزادی غواړی او خپل اولس ته خپلواک او اختیار ګڼي او د دې مرام د حصول د پاره بابا د وینا او عمل ډیر ښه ګټور درس ورکړی دی لکه وایی:

آزادی تر باشاهی لا ښری کا ــــ چه د بل تر حکم لاندی شی زندان شی

وده د دی درس له هر خپل فایده اخستی شي هغه پښتانه چه مغول ته نوردی که سپین

الغرض خوشحال بابا څه و؟

د ژوند جذب او حرکت یو طوفان و، د مبارزی یوه نه ختمېدونکې سرچینه او پر مشرق خپله د یو نوي پرخوش، همسال او غور رنګی ژوند مکمله مجسمه وه. او نور اولس کښې د دغه ډول ژوند پیدا کول د پاره د غیرت چیغه هم د ننګ توره وه، هم د علم او شعور قلم، هم غیرت سره لمبه وه هم د هدایت منوره شمعه هم وایی چه

پښتانه که بل څه فکر کا نا پوهه دی
مغل له تورې خلاصی نه شته په بل کار
چه څوک ګنده سر نا دی کاندی د تورو
د خوشحال خټک برخې هغه را سم
په جهان د ننګیالی دی داد وه کار
بابه وخوری ککره یا به کامران شی

او هم د نوري او جان باره سره سره د هنر درس ورکوی وایی:

لار د جنت به شته و آسمان ته ــــ زه به لار ورته پیدا کړم په هنر
که طالع او هنر دواړه سره کړدی ــــ د خوشحال به یکښې وی سم هنر

باسوانی هم دده د دې وینا تحلیل او تجزیه وکړو نو دا ګوري چه خبره هم دغه ده چه یو اولس کښې توره او هنر دواړه راشي نو هله هغه مخکښې کولی شی او اسمان ته ختلی شي و دغه و خوشحال بابا سبق چه د نن نه دري سوه کاله مخکښې خپل اولس ته ورکړی دی، چه نن هم هغه شان تازه او حسب حال دی لکه چه پرون و.

د خپل ژوند آخري ۲۵ کاله د پښتنو د یو موقف کولو او مغلي استعمار د مقابلې ولو په جدوجهد کښې تېر کړي دي دده دغه جدوجهد که عملي دی که فکري دده د غیرت او همت قومیت او وطنیت د جذبې ډېر واضح او واهم اړخ دی، او اې دې په باب کښې خلک رنګه رنګه بحثونه شروع کړل غوالی دا نه دي چې غرض چې د پښتون اولس د اتحاد دا مرکز ولې [illegible] دا اولس د ژوند او حرکت کومه ولولې چه د خوشحال کلام کښې دي، دده د ذهن [illegible] د ملکو نظر په بل طرف واړه ول شي مونږ [illegible] نه دی غرض چه هغه خبره څرګنده شي او د خوشحال د تعلیماتو د اصلاح په دې عصر کښې د تفصیل محتاج باقي نه شي یو څو خبرې کوو

خوشحال بابا وائي

اتفاق نه پښتانه کښې باقي له شو — ګنې بابه د مغل ګرېوان پاره کړي

او بل ځای وائي

بله هېڅ لېد لې نه شي تر د امځه — یا مغل د منځه ورك یا پښتون خوار

مونږ چه د خوشحال بابا دې اقوال څنګه تحلیل او تجزیه کوو او ورسره اړ په دې هم غور کوو، چه دا مغول چه بابا ئی « ګرېوان پاره کوی » او د « منځه ئې ورکوی » څوك دي؟ څه دي؟ او څه ګناه ئې ده؟ نو ډېر په وضاحت سره راته معلومه شي چه د هغه وخت په مناسبت « مغول » نوموړي استعماري طاقت ؤ، د پښتنو په خټه [illegible] ناست ؤ دا اولس ئې [illegible] لوټلو هم کو تالا هم، او دده موجودیت ئې هم ختمولو او هغه هرڅه ئې کول چه یو استعماري طاقت ئې د خپلو مقاصدو د پاره لازمي ګڼي دی، [illegible] « پښتون » بولي، و [illegible] محکوم اولس ؤ چه د بابر د کورنۍ په رحم و کرم ئې ژوند تېراوه، ترڅو چه ددې کورنۍ د شهزادګانو او امراؤ ئې ډېر خدمتونه کول، هغه مقام او رتبه به حاصلېده کوم چه مغولو ته حاصل ؤ.

که هر ارکان دې پښتون مغل نه شي

نو په دا چه [illegible] نباسي دا خیال پیدا شي چه مغل هغه وخت دا استعمار [illegible] او «پښتون» د هغه نه [illegible] ځنې دراګېر (محکوم) هغه استعمار [illegible] کښې وي چه دده (محکوم) [illegible] او دده (محکوم) [illegible] دي کېږي چه هغه (استعمار) ورك کړي [illegible] مغل د منځه ورك او پښتون خوار او محکوم [illegible] چه پښتون د دغه د امکان مگر که چه خوشحال شروع کړي وه، د مسلمان بادشاه او [illegible] پښتون سردار مگر [illegible] او نه د پښتون اصل د ملکو او مغل اصل د ملکو مگر [illegible] دا په حقیقت کښې د ظالم او مظلوم د حاکم او محکوم د استعمار او د اولس مگر که ده چه د هغه وخت په سټیج ئې داو رنګه او خوشحال

دې عربي ژوند د پښتنو د جغرافيايي محيط د ساختمان او تاريخي خصوصيت د محصول په حيث د دوی توليدي قواوې او مناسبات Productive fores and relations پر مالدارۍ بنا ـ د طبعي اقتصاد Naturl economy او ابتدائي ګډ نظام Primtive communal System په مرحله کې ساتلی دی

د برګرۍ او کسبګرۍ او په نتيجه کې د کار د وسيع تقسيم او بيا د رو اجتماعي طبقاتو Socialclasses د منځ ته راتللو د پاره يې ترډېره پورې لا مساعد شرائط نه دي برابر شوي مګر طبيعي ملري خصوصاً جنګي آلات يې لکه توره او حتی زغرې په غالب ګومان ، د ګاونډيو اقوامو د تماس له لارې لاس ته ورووړي او له لېنديه او غشی سره يې بوځای استعمال کړي دي په دې ډول د قهرمانۍ ژوندته ور داخل شوي او دغه ژوند طبيعي داستانونه يې خود اکثرو آريايي اقوامو قديمې ادب څوندي ـ ترموږ پورې هم را رسېدلي دي .

د فردوسي د مشهوري شاهنامې په ملحقاتو کې د دوی د يوه نامتو قهرمان (کک کهزاد) د توري او برېښ کيسه داسې راغلې ده .

چنین گفت دهقان دانش پژوه | مر این داستان را ز پیشین گروه
که نزدیک زابل بسه روز راه | یکی کوه بد سر کشیده به ماه
یکی قلعه بالای آن کوه بود | که آن حصن از مردم انبوه بود
بدز در یکی تندکش جای داشت | که در رزم با اژدها پای داشت
نژادش ز افغان سپاهش هزار | همه ناوک انداز و زوبین گذار
به بالا بلند و به پیکر ستبر | به حمله چو شیر و به پیکار چو ببر
به نیرو جدا کردی از کوه کمر | گریزان ز زخمش بدی شیر نر
ورا نام بودی کک کهزاد | سگالیدنی بس ز رزم بودش نهاد

امير کروړ جهان پهلوان ـ چه د پټې خزانې د مؤلف په عقيده د دوهمې اسلامي پېړۍ په سر کې ژوند کوی ـ د خپلې قهرمانۍ ستاينه په يوه وياړنه کې داسې کوی

زه يم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نشته

په هند و سند و پر تخار و پر کابل نشته | بل په زابل نشته

له ما اتل نشته

ليکونکی : ښاغلی حبيب الله «تږی»

دخوشحال خان دظهور اقتصادی

او اجتماعي عوامل

د پښتو د معاصر ژوند او رنځو ليکل شوو اسنادو له مطالعې او مقايسې نه څرګندېږي چه د اسلامي سنې له شروع يعنې اومې عيسوي پېړۍ له ابتدا نه را په دې خوا هم تر څو سوو کاله پورې د دوی ژوند د کوچيانو او نيمه کوچيانو په حيث د خپل هيواد په لوړو غرو او سمو ورشوګانو کې دی

البيروني د غزنويانو د عصر نامتو عالم او مؤرخ په خپل مشهور اثر کتاب الهند کې د هندوستان غربي پلوته غرونو او سيدونکي قبائل چه ورو ستنه يې په صراحت سره افغانان بولي دريم عيسوي کال د پښتو د بيان په ضمن کې د پاچا او مدوی قبايلو په نامه يادوي او وايي چه د هند غربي سرحدي سيمې يې تر نيمايي څخه پورې نيولې دي

مشهور چينی زائر هيوان تسنګ چه په ٦٤٤ عيسوي کال کې په ګندهارا کې دی افغانان دا پوکين A – Po – kien په نامه د سليمان د غرونو د شمالي برخو اوسيدونکي بولي

حدود العالم چه په ٩٨٢ عيسوي کال کې ليکل شوی دی په ګرديز کې د شورل د کلي موقعيت په غره کې بولي او وايي چه اوسيدونکي يې افغانان دي

ابن اثير نامتو عربي مؤرخ د يوولسمې عيسوي پېړۍ د ابتدا په وقايعو کې له پښتنو سره د سلطان محمود جګړې بيانوي او ليکي چه سلطان د دوی پر غرونو يرغل وکړ او کلک جنګ يې ورسره وکړل

البيروني څرګندوي چه هم پښتانه د غرنيو قبائلو په توګه يادوي او وايي چه د هند غربي خواته پرتو غرونو کې مېشته دي

پېرته چه سبکتګین د خپلو ځنګیالو د زیاتولو په فکر کې شو ډېر زیات افغانان
رته راغلل او ده له خپلې خوښې سره سم په خپلو عسکرو کې په زرګونو ومنل
یا لیکي چه د بلخ د پرغل په وخت کې د سلطان محمود د لښکر و ډېره زیاته برخه
افغانان وو .

د پښتنو په خپل عربي ملك كې د ځمكې د لږوالي او خپرونو لو اشكال د برګرې
وبه پای كې د ملك الطوايفي د انكشاف امكانات ډېر لږ كړي دي
(زه په دې مقاله كې د ملك الطوايفي اصطلاح په هغه عام مفهوم نه استعمالوم
چه زموږ مؤرخينو چه تر اوسه استعمال كړې ده بلكه زما مطلب له ملك الطوايفي
... ټولنې یوه معينه مرحله كې هغه خاص اقتصادي او اجتماعي نظام دی چه په هغه
كې توليدي روابط د خانانو ، ملكانو او نوابانو شخصي ځمكي تشكيلوي)
دې ځرګندو واقعيت او په دغې خاصه دوره كې د پښتنو نادر اجتماعي خصوصيت
... قهرمانی دوی دې ته ورنه ولې خود خپلو قبائلي مشرانو او محلي حكمرانانو
... مشري منځ په ګاونډيو ... نو ځمكو خصوصاً هندوستان ورشوه شي هلته دوی
... واري دا چه ستر دولتونه جوړ دوی بلكه د هند د ټولنې په تحول كښې هم ډېر مؤثر
اقسم كړي ي د هند د اقتصادي او اجتماعي ... په ... لو ن
... افغانانو په پوځه توپير د اصي متر قي سهم لرلی دی لكه د روم د غلامي په نظام
... د حرمي قبائلو
... امهال په هندي ټولنه كې د غلامي نظام او صنفي توپير و نه Caste dis rimination
... ور و ... حد ته رسيد لی وو ، د ملك الطوايفي لو ... صرهم يكسي
ا ځرګند شوی دی

مګر ... په ... چه وويل شول لا هم د دموكراتيك قبائلي ژوند په مرحله كې
... دوی خپله د خپلواكي مينه ، روږدورتيا ، او دموكراتيكه ... د خپل
... اجتماعي ... زادي خصوصيت په توګه له ځان سره هند ته وړی او هلته د خپل سياسي
... رت له لاری د پښتوا ... ډېر ... او مقيد صنفي نظام ... ځای ... ته ...
لوك ... كوي .

د پروفيسور محمد حبيب د عليګړ د پوهنتون د تاريخ او سياست د استاد په قول
... هند كې د افغانانو حكومتونو د ... د كار ګرو د طبقې له سره قول تبعيضات

عشق د حسن مخې ته سر ښکته پر مېز څنګه ساتلی دی
په ژوبله یونم پرغالم پر تښتېدو نو نا ندی   پر ماتېدو نو نا ندی
له ما اتل نشته

زما د زړه پر حول تاوېږي هسك په نېغ و په و یا نه
د آس له سومې مخکې زړېږدي غرونه کاندم اتڼونه   که مې آبادونه وېجاړ
له ما اتل نشته

په عمومي ډول د پښتنو پر مادي شرایطو رالاړ شوي اجتماعي تشکیلات یو ډول پرګنی قبائلي Clan - tribal ده. لري یعنې له د پښتني اجتماع په ګېډه کې لاکوم د داخلي اجتماعي تضادونو محصول په واقعي معنا دولت State منځ ته نه دی راغلی. البته پر سېره پر څېړنو محلي قبائلي دموکراتیکو حکومتونو یو شمېر نور کوچني او ستر دولتونه هم د پښتنو په مشرۍ جوړ شوي مګر څرنګه چه دا یې یا د تهاجماتو او فتوحاتو محصول او یا د دوی له خپل هېواد ده بهر منځ ته راغلي دي نو له دې امله یې د ثقل مرکز د تسلط حدود او مستقیم اقتصادي تأثرات عموماً له پښتونخوا نه بهر باتې شوي دي.

پلرنی کې کهول نا په اجتماع کې لومړنی ځانګړی اقتصادي واحد له یو ډول اشرافي دموکراتیک نظام سره - چه رئیس یې د قوم او ولس له خوا د همه داهلیت تجربو، زړورتیا، قوت او نورو صفاتو په اساس ټاکل کېده - د پښتني اجتماع څرګند ممیزات دي.

دې اقتصادي او اجتماعي Socio - economic حالت له پښتنو نه مختلې جګړه ییالان جوړ کړي دي. پر سېره پر دې چه په تربګنیو او قبائلي جګړو کې یې ځانونه ستړي کړي او د خپلو محلي مشرانو په مرسته یې له پردو سره ډېرې کلکې مقابلې کړې دښمنو جهانګیرانو او حکمرانانو له خوا هم تل په عسکري خدمت کې داخل کړې شوي او په داخل او خارج کې یې تاریخي جګړې تر سره کړي دي.

کوم لومړني محلي حکمران چه د ساعلي اولاف کارو Olaf Caroe په قول یې شنبا یې ډېر زیات قبائلي افغانان په خپل لښکر کې داخل کړي دي همه یعقوب بن لیث دی.

البته چه یې خپله لیکنه د یو لسمې عیسوي پېړۍ په لومړي سر کې کړې ده وا

په دې دوره کښې بايد پښتو ادب د خپل عصر د اقتصادي او اجتماعي په تيره بيا د سياسي اوضاع د انعکاس په حيث څه د نوع او شکل او څه د موضوع او مفهوم په لحاظ ډېر بسيط شکل ولري. اوزان او الفاظ يې بايد په عمومي ډول محلي او موضوعات يې حماسي، مذهبي، عشقي او څېړې نور برگې او قبايلي مسائل وي لکه چه دي. د شپاړسمې پېړۍ له اوايلو نه را په دې خوا د پښتنو دهقاني ژوند د همو عوا ملو په نتيجه کښې چه موږ څه گوته ورته ونيوله په کلکه سره تسريع کېږي او په پښتني ټولنه کښې ملوك الطوائفي عناصر په نارډول را څرگندېږي په دې ډول پښتانه پرته د غلامۍ د مځوسې تاريخي مرحلې له تېرولو نه په انقلابي ډول ټوپ وهي او له قبايلي گډ ژوند نه د ملوك الطوائفي او مېړني مرحلې ته ور ننوځي.

دا دوره چه د شپاړسمې پېړۍ له اوايلو نه شروع کېږي د احمد شاه بابا د سلطنت تر وخته دوام لري.

خوشحال خان خټک د پښتو پر ستر سياسي او ادبي مشر، د توري او قلم قهرمان او د افغانانو د وحدت د ډېرې عالي ملسمې با متو باني د همدې تاريخي دورې د اقتصادي او اجتماعي شرايطو څرگند مولود دی همدغه شرايط دي چه يې د خوشحال خان د شخصيت په جوړولو او د يوه ملي افغاني دولت په تاسيس کښې قاطع نقش لرلی دی. پرته د دغو شرايطو له روښانولو او په نظر کښې لرلو څخه د خوشحال خان د شخصيت درست تحليل او واقعي پېژندنه په هېڅ صورت او له چاپېره شرايطو نه مستقل ډول يوازې د يو څو پېژندو په واسطه هيڅکله هم نه شي تر سره کېدلی. ځکه پرته د آفاقي او عيني شرايطو له تجربي او تحليل څخه د يوې اجتماعي حادثې او يا شخصيت په باره کښې هغه ډول او نسبي قضاوتونه او حکمونه د علم په دنيا کښې هيڅ ارزښت نه لري. د يوې جامعې تاريخ د تصادفي، مجردو او يو بل له سره جلا او مستقلو حوادثو مجموعه نه ده. بلکه د يو له سره مربوطو او يو پر بل ناحو اد نو کل دی. د هيڅ يوې اجتماعي پېښې درست درك هم په يوازې او خالصه ډول يې له دې چه دې مربوط حوادث او چاپېر شرايط په نظر کښې ونيول شي امکان نه لري. بايد د هرې حادثې او شخصيت د پوره او صحيح پېژندنې او تشخيص د پاره مربوطې پېښې او چاپېره شرايط تشخيص او درك شي د خوشحال خان ژوند پېښې او شخصيت هم د يوې اجتماعي حادثې په حيث همدا ډول دی.

لري کوي. دغه ډول د کليوالو او بزګرو په ژوند کې د اساسي انقلابي اصلاحات راولي چه نو موږ دی بوهاند يې د خپل انقلابي ماهيت له نظره د ماوتسې تونګ له انقلاب سره تشبيه کوي. سلطان علاوالدين له خپل دې اصل سره سم چه «د هغه قوي بار بايد د ضعيف په اوږو ور وړه لو يږي» د بزګرو سکنه طبقه د کليوالي لوړې طبقي له ظلم نه ساتي

په پای کې ادعا دا ن له هغو مسلک الطوايفي عناصرو سره چه د هند د غلامي نظام په بطن کې را پيدا شوي دي د خپل قبايلي دموکراتيک ژوند عناصر ګډ وي او په نتيجه کې د نوموړي قولني اقتصادي او اجتماعي سير مخه په ودانه دي تيزوي او د سترو مرکزي شاهي دولتونو بنسټ ټينګوي

د استعماري دولتونو نه عموما د خپلو منافعو د ساتلو په غرض مخ د هند برابادو محکم د پښتنو مهاجرتونه او هستيدل ربات تر بنسټ کوي او حتي د سمې فرمانونو په واسطه دوی د محکوميو لو ته ور نولي.

مثلاً د لوديانو د لودي حکمران بهلول لودي د شير شاه د تاريخ په واسطه چه ليکونکي يې عباس سرواني دي نه لاندې عبارت موږ ته را رسيدلي دي

«هندوستان هغه شوك سره ساتلي شي چه حکومت يې د قبايلو په زور وي بريږدي چه هر قبايلي افغان خپل غريب خپلوان دلته راولي بريږدي؟ چه په هند کې بر محکو اباد اوله ندي ورځي نه خلاص شي او دولت له خپلو مقتدرو د ... ساتي»

په دې ترتيب پښتانه د عسکري خدمت او مو ... او نوکريو او مهاجرتو په لږ کسي لږ وډ بر د جاګيردارانو او دهقانانو په ډول د زراعتي محکو د بار او يږي او په توليدي قواوو کسې يې د تحول بنسټ را څرګنديږي. د مالداري تر څنګ د بزګرۍ ژوند هم چه د ملك الطوايفي د منځ ته راتللو د پاره ... اوس يې اساسي شي دي ورو ورو شروع کيږي د پښتني ټولني دا مرحله چه زموږ د قهرمانې دو پول او په وروستني سر کې يې ملك الطوايفي او مدني خصوصياتو ندوي خصوصي په ډيرو برخو کسي تر خپل سيوري لاندي ورك کړي دي تر شپا ... پيړۍ پور دوام کوي

د دغې لاندې په ساتلو یې هم وګماري. په عین همه وخت کښې چه د پښتونخوا په شرق کښې د خوشحال خان نیکه د جهانګیر له خوا د عسکري خدمت او لار ساتنې د پاره قبول کېږي چه د پښتونخوا په غرب کښې د احمد شاه بابا نیکه ملک سدو خان د شاه عباس له خوا د همدې کار د پاره استخدامېږي

د هند او پارس حکومتونو د پورته مقاصدو د ترسره کولو د پاره د پښتو دځېلو او تر لاس لاندې ساتلو په لاره کښې له زوره نیولې بیا تر زر او زار پورې له هر ډول وسایلو او ټګیالو نه کار اخیستلي دي اما کومه تر ټولو نه موثره وسیله چه د پښتنو د ستمانو په اصطلاح له نانا دمه تر دې دمه د دوی د زړیلو او ځپلو استعماري مقاصدو د پوره کولو د پاره کار ورنه اخستې دي هغه د ساټس او روردي هغه ده چه ډېره موثره وسیله ده چه پښتانه یې تل په خپل منځ کې سره اخته او ملي مقاومتونه یې ورمات کړي دي

دا رشوتونه، ټګیالونه او وربېږونه او دغه وي په مقابل کښې د پښتو عدم مقاومت او په نتیجه کښې یو ټل سره لوېدل او بې اتفاقي د خوشحال په عصر کښې داسې حد ته رسېدلې چه یې په خپله د ده په شمول د اکثرو پښتني ملي مشرانو زړونه یې ورځولي دي هغه ځکه غرض و ندې خوشحال چه ویل نه یې

د عالم ډېرې خبرې لور په لور تورې لښکرې
زړه مې نه خوځي له ځایه غرخوښي وي که نه

دې د پښتنو کمزورتیا داسې حد ته رسولې چه په ډېر ارمان سره وایي!

ځینې څه لو یې دعوې ارم په زړه کې   ولې څه کړم چه پښتون واړه یې ننګه دي

✡ ✡

چه مغول وته مې وتې له توره   درست پښتون مې وعالم وته ښکاره کړ
اتفاق په پښتنا نه کښې پیدا نه شو   که نه ما نه د مغول ګریوان پاره کړ

✡ ✡

پښتانه په عقل پوهه څه ناکس دي   کوټه سپي د قصابانو د خوس دي
باد شاهي یې د مغول په زرو ناپله   د مغول د منصبونو په هوس دي
اوس له ناره سره کورته ور غلي   په ولجه داوس د غاړې د جرس دي

دا د ساټس تل د پښتنو د ځینو منصبي او قومي ځپانو په واسطه عملي کړی شوی

د خوشحال په عصر کښې افغانستان په عمومي ډول د هندوستان و حکومتونو د تیریدو
او توسعه غوښتونکو عملیاتو میدان دی چه په ګاونډیو ملکونو کښې د خپل زور
په معراج کښې دی په هند کښې د بابر د اولادې یا د مورخینو په اصطلاح د هند
د مغولو، په پارس کښې د صفویانو او په ماوراءالنهر کښې د بخارا د خانانو حکومت
دی افغانستان د دغو دولتونو د متعرضانه عملیاتو په نتیجه کښې د قربانۍ دغو ښې
په ظاهر په درو برخو ویشل کیږی شرقی سیمې د هند د مغولو، غربی د پارس د صفویانو
او شمالی برخی د بخارا د خانانو په لاس کښې کمبوری مګر څرنګه چه له دغو
دولتونو نه یو هم په خپلو لاندې کړو سیمو قناعت نه دی کړی بلکه هر وخت یې
غوښتی دی چه د خپل اقتدار ساحه پراخه کړی. نو له دې امله دا افغانستان د متعدد
تقسیم پر سر یو بل سره عموماً خپله د پښتنو په توره جنګیدلي دي نو ځکه کله
ځینې حساسې سیمې د یوه او کله د بل دولت لاس ته ورغلی دی په پښتنو پخوا نا ندې
تسلط دغو ګاونډیو توسعه غوښتونکو دولتونو ته ډیر ما رزا او ستر اهمیت
لاره له یوې خوا دوی د پښتنو عسکری استعداد او د پښتونخوا ستراتیجیکي اهمیت،
په زړه پورې آب وهوا او مالیاتي عایداتو ځانته ور بلل او له بلې خوا یې
تجارتي اهمیت .

دا مهال د پښتونخوا د ډیرو غرونو له دروونه همه ستره تجارتي لار تیریدله
چه له هندوستان نه د کسپین تر غاړې رسیدله دا همه زړه تاریخي لار وه چه
د آریانا او خراسان په دوره کښې یې د سوداګرو د قافلو جرس له شرقه تر غربه
اوریدل شوی و. د شوروي اتحاد د نامتو مورخ او افغانستان پیژندونکي ای ، ام
رسنر په قول په دې لاره نه یواځې تر شپاړسمې پیړۍ پورې هم د څورلس زره اوښانو
کاروانونه لیدل کیدل چه د کندهار له لارې به یې هندي توکران، کشمیري
شالونه او نور شیان ایران او مرکزي آسیا ته رسول کوم ګمرکي محصولات چه
ددغې لارې پر سر بوارې به کندهار کښې له تجارتي کاروانونو نه اخستل
کیدل او ټول نه د پارس حکومت ته ورکول کیدل دوه ځلې خو باوه سرور روته رسیدل،
ددې لارې ساتنه پرته له پښتنو څخه نه شوه کیدلی. نو ځکه د هند او پارس حکومتونه
مجبور وو چه دوی نه نوارې د پخوانو جهانګیرانو او حکمرانانو په څیر د خپل
اقتدار د ټینګولو او پراخولو په غرض په عسکري خدمت کښې داخل کړی بلکه

ملي هيڅ ليدل نه شي تر دا سمه   يا معمول له محکومو ولس يا پښتون حوار

۳ـ له کله نه چې پرمخ تللو ملوک الطوائفي دولتونو سره تماس او د هغه د اعماري شاهانو د پرتم داستانونه د دوی اجتماعي او سياسي شعور فوق العاده تقويه کوی. په نتيجه کې له يوې خوا په پښتني اولس کې د حاکمه طبقې د استبداد او ظلمونو پرضد مبارزه دومره زوروره شوې چه مشران يې د جهاد اعلان کوي او وايي پښتون اولس بايد د دغې طبقې له ظلم نه ځان خلاص کړي، له بلې خوا له پښتنو سره ـ د يوه محکوم قوم په توګه د پردېو له سلطې نه ځان را ايستلو او د يوه خپلواک افغاني ملي دولت جوړولو فکر ورځ په ورځ پخېدلی او عامېږي

د دې دوره اوچت مقصد د ترسره کولو د پاره د خپلو ولسي او ملي مشرانو په لارښوونه او له څو عوامله د دغې خاصې تاريخي مرحلې په موده کې را پاڅېدلي او د پرې ټينګې مبارزې يې کړې دي مګر څرنګه چه د اقلمي بېرې د بيماني تړاو ايلو بوري هم آفاقي شرائط څنګه چه بايي هغسې لا نه دي برابر شوي، نو له دې امله يې ملي نهضتونه او مبارزې د بريالیتوب هاسې يوه حدته نه رسېږي چه نتيجه يې د پردېو له سلطې نه وتل او د يوه ستر افغاني ملي دولت جوړول وي، په پای کې وروسته د شرايطو له پوره مساعدت نه دا د افتخار ورځ د احمدشاه بابا په لاس ورته عمل کېږي

کوم لومړنی څرګند اولسي مشر چه د پښتني نهضت د پردو د ... بي په اوږدو احمد شاه نه بايد روښان دی دا نهضت له آره يو اولسي نهضت دی له همدې امله روښان د يوه اولسي مشر په حيث مجبور و څو لومړی د حاکمه طبقې له محلي نمايندګانو، خانانو او مذهبي مشرانو سره وجنګېږي او بيا يې له مرکزي حکومت سره مبارزه کړي.

څرنګه چه د روښان ولسي مبارزه د مظلوم او محکوم ولس په ګټه او د حاکمه طبقې پرضد د مذهب په نامه شروع شوې ده نو ځکه په دغه سياسي نهضت بناء دې کې هم پوره ول خاصه مذهبي او د ظلم او استبداد پرضد روحيه د ورايه څرګنده ده، مګر د مليت د فکر څرک لا هم په پښتني ادب کې نه ليدل کېږي

او په دې ډول يې ملي او ولسي مشران خپله په خپل ټوپك لګيدلي دي

زه په ملغشي ټوپك و يشتلی نه يم / كه ويشتلی يم خو بيا په خپل ټوپك يم

کوم پښتانه چه په دغه ډول افرادو د پاره لکه عسکري خدمت، لار ساتنه او ملي تخريب ـ استعداد ميدل هغوی ته به د حکومتونو له خوا د دوی د خدمت په بدل منصبونه، انعامونه، تنخواوې، ماڼۍ، د ګمرکي محصولاتو د تحصيل امتياز او جاګيرونه ورکول کيدل په دې لړ کې برسيره پر ډيرو نورو مشخصو کسانو لکه ملك سدو خان چه يې د خپلې تورې په زور د ميرافغان لقب د پارس د دولت له خوا ګټلی او خوشحال او د ده پلار او نيکه ته هم د عسکري خدمت او پاچاهي لارې د ساتلو په بدل کې جاګيرونه او منصبونه او د ګمرکي محصولاتو د تحصيل امتيازات د مغولو د حکومت له خوا ورکړل شوي دي

د پورته ټولو خبرو په نتيجه کښي د پښتنو پر اقتصادي او پر هغه بنا سياسي او ثقافتي ژوند کې ډير سريع او څرګند تحول منځ ته راغی چه زه يې په لاندې ډول خلاصه کوم

۱ـ پښتانه د مهاجرتونو او عسکري خدمت له لارې دا د زراعتي ځمکو د پاسه هست دهقانان او د سترو بيګالو خاوندان خانان او لوانان ګرځي او له دې سره يو ځای د دوی په منځ کې او وکړي د ګرځي پرمخا دومره پرمخ تګ راغی چه د ملك الطوائفي د نظام اساسي شرائط يې برابر کړي او اجتماعي طبقات په بارز ډول يکښي څرګند شوي

۲ـ پر پښتنو او ولس د حاکمه طبقي استبداد او ظلمونه داسي حد ته ورسيدل چه انعکاس يې د صوفي عبدالرحمن او مست حميد په اشعارو کې هم ښکاره دی

په سبب د ظالمانو حاکمانو / کور و ګور د پښتنو درې واړه يو دی

(رحمان بابا)

غريب خلك مردګان يکښي ور پټېږي / ظالمان مکبر منکر پښتون کور شو

(حميد)

د دې تير يو او ظلمونو له کبله لومړی عام او لس او ولسي مشران او ورو سته د ملي اشرافو او حکومت له هبتاً عام تصادم نه ټول پښتانه د يوه محکوم قوم په حيث په ګډه د ې ملي ته ورسيدل چه

ایمل خان، دریا خان او خوشحال خان او نور په نره د دغه زړورو او واحد او لوی افغان په لوی نامه د مبارزې داسې یو کلک عزم پورته کوی چه انګاري یې تراوسه هم لا د پښتنو په غوږو او زړو کې اوریدل کیږي

قول پښتون له کندهاره تر اټکه   سره یو د ننګ په کار پټ و آشکار

دوی دیانتي په قاطع قول دي فیصلې ته رسیږي چه

که هر زار کا ندي پښتون مغول به نه شي   نو په دا چه له زړه و نه باسي دا خیال

خوشحال خان وروسته تر دې نه د افغاني عظمت او له پردو سره د مبارزې په مغزو کې پټ فکر په عزم جزم بدل شوی دی په ډاګه اعلانوی او وایي

پس له دې مې دی دا عزم، د خوشحال د خاطر جزم
یا بیولی مخ مکې ته، یا مغولو سره د رزم

دی له جبل اجتماعي موقف سره سم د یوه نر او نا ماتو پښتانه غوندې د افغان د ننګ توره تر ملا او د دښمن په مقابل کوی د افغاني ننګ او غیرت د په ځای کولو دپاره وروسته تر دې چه د یوه واقعي شهامت مدار په څېر په خپلو عیبو سهوو اعتراف کوي - هر څه په لمنه وهي او په لوړ غږ وایي

پښتو سره د دغه تور دی د مغولو	حق دار یې په نیټو یک په ننګ یم
که سره که ما سره دا ته معلوم دی	په دا کار کې په مثال لکه نهنګ یم
اورنګ یې پوري په منصب په نوکرۍ غوښه	چه ترخه یم و تر نظر د مغول کلک یم
په جبل نام و ننګ چه دا شم لیونی شم	حق دار کله په سودا او د بیان دلک یم
د افغان په ننګ مې وتړله توره	ننګیالی د زمانې خوشحال خټک یم

دی قول پښتانه د دوی له اجتماعي او تاریخي خصوصیت سره سم مسلح انقلاب ته ور بولي او وایي

پښتانه که نور څه فکر کا ما بوه دی   مې له توري خلاصی نشته په مل کار

د خوشحال خان په مغزو کې د یوه افغاني ملي احساس ترڅنګه د ده جبل ذاتي خصوصیت هم د ورایه ناري وهي لکه داچه

وروسته تر روسانیانو نه د خوشحال خان وار دی . دده په وخت کې د پښتنو قوامي اقتصادي او اجتماعي شرائط نور هم بدتر کېږي . په دې وخت کې یوه ډېره مهمه پېښه چه یې د پښتنو په پارولو او ددوی د ملي شعور په راژوندي کولو کې ډېر مهم اثر درلودی ، هغه ته راغله . دا پېښه له اروپا سره د امریقې گرد چاپېره سمندري لارې په واسطه چه مصنوعیت او د مصرف لپاره الې یې نو مسلسل واقعیت ؤ د هند د حکومت د مغلو سلطنت توقیف کول دی دا کار ځکه چه ای ام زمور وابی د پښتنو سوداگرو او هم تجارتي او ترانزيتي لارې اهمیت کموي داسې چه او د انگریز داولسمې پېړۍ په پای کې د هند د وچې لارې سرحدونه بندوي او داد زمان بوه بله شپېږمه چه دا هندوستان ، ایران او منځنۍ آسیا د کاروانونو په مخ ور لگېږي د پښتنو سوداگرو له لارې د ترانزيتي مالونو وړل راوړل تقریباً بندېږي او د پښتنو د پاره عسکري خدمت هم د هند د حکومت له جوانب کېږي . دا پېښه پښتنو قومونو او سوداگرو ته پوره زیان وراړوی په دې لړ کې بېله خوشحال هم تاوانی او همه د گډ کې محصولاتو د تحصیل امتیاز چه یې پلار او نیکه درلود له حکومت نه احستی ؤ لغو کېږي

په دې ترتیب زمینه برابرېږي چه د اولس مظلومیت او محرومیت ورځ په ورځ زیاتېږي بلې خوا اشرافو ته هم د مغل محکومیت نه شعوري ډول ورڅرگندېږي ځکه چه د مغلي د استعماري حکومت مالي ځپلې د خوشحال په حرکاتو کې د خان او خپلو مادارانو د منافعو پر ضد د هغوی شعوري ملي مبارزې د امکاناتو زېږي جوړېږي او حتی غیرمرئي عوامل هم دې ته وړاندې کوي چه په پوځي گرفتاري او د زندان په بلا کې یې د پښتونخوا کلونو په هغه زمانه کې کوي

هغه د زندان حال دی چه خوشحال د خپل خواږه وطن په یاد ډېرې له درداو سوزه ډکې او داسې سندرې بکسي لیکلې دي چه هغه د درست یې ترملي اررښت له غوره دي او ملي یې ترهغې نه لکه داچه

پښتنې خوږې دې د لمې مادته بېسې چه شمال یې نوی راوړي تر زندانو ره

دوروستنو پېښو او روسانې مبارزانو په نتیجه کې د پښتنو سیاسي او اجتماعي شعور سخت ټکان خوړی او ناوخت اولس او اولسي مشرانو تر هغه ګډه خانان او ملکان هم لکه

دوام نه کوی. په پای کې هلته چه په اروپا کې د سرمایه داری د ۱۷۸۹ د ستر انقلاب مقدمات برابریږی، په افغانی جامعه کې د ملوک الطوایفی ستر دولت د جوړېدو پوره شرایط منځ ته راځی، وایی چه له یوې خوا د افغانستان ګاونډی توسعه غوښتونکی او متعرض دولتونه هم په سقوط شوی او له بلې خوا په ستنی اجتماع کې د نوو اقتصادی او اجتماعی شرایطو د نوی ملی نظام په ګټه کاملا بسیږی. دلته ده چه د لوی احمدشاه بابا په مشرۍ لومړنی غیر ملوک الطوائفی افغانی دولت - وروسته له دوه سوه کاله پر له پسې هڅو مبارزاتو - منځ ته راځی چه خوشحال خان یې د تورې او قلم ستر قهرمان دی.

په نتیجه کې غواړم په جرأت سره ووایم چه خوشحال خان کوم خارق العاده او نابغه ماجراجو انسان او یا تاریخی تصادف نه دی بلکه د هغو منظم اقتصادی او اجتماعی جریانو محصول دی چه په پښتنی جامعه کې - په هر کمه پول د روښان له وخته را شروع کیږی او د احمدشاه بابا په وخت کې خپل وروستی ته رسیږی. په همدې اساس زه غواړم د خوشحال د شخصیت په برخه کې دا دوه ټکی په خاص پول سره روښانه کړم.

۱- د خوشحال خان د مبارزو او د ده د شخصیت د جوړولو بواری او قاطع عامل نه بواری د ده شخصی نبوغ دی او نه لکه څنګه چه ځینې خلک دا نیغ قضاوت او کشف او کرامت په اساس د تاریخی ځانګړو له مخې خیال کوی د ده پر شخصی ځانګړو نه د ځینې او د ماجراجویی او اتفاق نابغی شهرت دی. بلکه د ده د شخصیت د جوړولو او ظهور عامل هغه زمینه ده چه د هغې تاریخی مرحلې قوی اقتصادی او اجتماعی شرایطو رابرابره کړې ده. څنګه چه یو څو بواری پر شخصی ځانګړو نه د ځینې او ماله در او په زړه کېدل هیڅکله هم له ځینې نه داسې قهرمان نه شی جوړولی چه دی دې خپل قول قوم راو پاروی او د اورنګزیب غوندې یو واکدار په ځان دې داسې کړی دی او هغه دې له خپل قول قدرت سره یو کال حیران او پریشان ورته ولویږی.

اورنګزیب راته یو کال و شو چه پروت دی
په صورت حیران پریشان په زړه افګار

بله دا چه ګله که د خوشحال مبارزې پر شخصی ځانګړو او انګیزو نه یو ځول ماجراجویی یا تصادف وی نو باید د پښتنو د اجتماعی تاریخ د داسې یو منظم ځنځیر

لا به خوب کې په لیره پرېوزي له کټه — چه د چا تر خوبه د رماته توري شرنګ دي

که په دا دور ژمی نو لې همه زه یم — چه مې داغ په خاطر ایښی داورنګ دي

درست جهان مې و معمول وته حیران کړ — ځای په ځای مې پښتانه وته قلنګ دي

په دې تاریخي مرحله کې پښتو ادب هم د قولي د اجتماعي انکشاف سره سم. څه د مضمون او مفهوم په لحاظ او څه د نوع او شکل له نظره په یو ساري او انقلابي ډول عمي کېږي دا د ادب د خپلو نویو او ابتکاري عناصرو له نظره کاملاً نوی حوله ي دی چه له دغو عناصرو څخه چه د پښتوا به سمت د دې دورې ځینې خاص او ځ مهم رکن ته چه د خپل وخت په شرائطو خصوصاً سیاسي جریاناتو پاملرنه هم ده خصوصیت تشکیلوي هغه د ملیت موضوع ده. دا احساس په دې وخت کې دومره بارز شوی دی چه د خپل وخت د سیاسي مبارزاتو د میدان قهرمان خوشحال وروسته له مرګه هم د پر دېو سیوري ښخیده نه غواړه او د غلای خوشحال خان مري، مګر د پښتو دو حدت او خپلواکۍ مثال چه پر اوسني شرایطو بنا د تاریخ خورا ښکلی دی په کوم ما حرا حو مکر! و ههصیت، او په کوم استعماري ظالم او طوماني بادښاه کړي شو بلکه ورځ په ورځ نوره هم زیاته شوه او د پښتو اخوا له شرقه تر غربه په ملو لمبو ځلېده.

په کندهار کې د پښتو په ملي ډېر ستر ماهر او مدبر سیاستمدار حاجي میرویس خان راپاڅېد او د پښتنې مهمت مثال یې په لاس کې واخیست

دده په وخت کښې داخلي او خارجي شرائط نو رهم مساعد شوي دي. له یوې خوا د صفویانو حکومت مخ په ځوړ دی او له بلې خوا د افغانستان په غربي سیمو کې د دغه اړخ او پاري زور زیات زوندي یې تهذیبات انکشاف او هیښو لو روغوا ملو له امله اجتماعي شعور پوره قوي شوی دی او د میرویس په مبارزو کې ټول طبقات دده په مرسته کېږي او خارجي قوت ته مانه ورکوي مګر څرنګه چه لا هم د پوره ستر افغاني ملي دولت د تشکیل شرائط پوره نه دي برابر شوي نو د دغو مبارزاتو محصول افغاني حکومت هم

فقط یوه اشاره کوو او هغه دا چه د پښتو په قبیله خوشحال دا ډول لې جګړې یوازې د مغولو د دولت د خوښې د پاره کړې دي . مګر زما په فکر دا حکم هم هسې دلاته نه دی . ځکه یو خو قبائلي جنګونه د قبائلي ژوند په مرحله کښې یعنې د پښتو ټولنې خصوصاً پښتنو اجتماعي خصوصیت دی . بل دا چه که له یوې خوا خوشحال له یوسفزو سره چه د مغولو د دولت د دښمنانو ګڼل کیږي جنګیدلی ، نو له بلې خوا له ننګرهار سره هم چه د مغولو د حکومت د دښمنانو حکم پرې کیږي . د جګړې میدان ته را وتلی دی . ترڅو او په مجملا په هغه وخت کښې د اجتماعي تاریخ او خصوصاً د خوشحال د دغو جګړو دقیقه مطالعه ونه شي نو بنا یې ته ورښیي چه خوشحال خو پښتنو د شیر شاه دور نیا له یوې ملې لا دي نه دا دلی. مګر څرنګه چه دا خبره هم زما د مقالې د نورو تقریباً ټولو ټکو په څیړنه د دو څیړونه اړه لري نو له دې امله د ... ومره یوه یاد ونه ... کوم او خپله وینا د خوشحال په هغه پیغام پای ته رسوم چه ته یې وایی همدا نن یې پښتنو ته را استولی او هغه دا دی

په د اصلي وخت چه وخت د ننګ و ... دی

دا یې ننګه پښتنانه کاڼه ... ر

پښتنا نه که نور هم فکر کا نا بوه دی

بې له توري خلاصی نشته په مل کار

ټول پښتون له کنده هاره تر اټکه

سره یو د ننګ په کار پټ وا شکار

کړي نه وي لکه چه د مخه و ښودل شو . البته په دې کې شك نشته چه د وخت توسعه غوښتونکي مرکزي حکومت سره د ده او د ده د امثالو تصادم هم په دغو عواملو او شرائطو کې مرومرو ځای لري . ځکه انسانان خپل تاریخ خپله جوړوي .

۲ ـ خوشحال خان لکه څنگه چه ځینې کسان وائي قضاوتونو او بې رحمانه حکمونو په اساس او به خوري ـ د کوم خاص قوم او یا نژاد په مقابل کې د نژادي تعصب خاوند انسان نه ؤ بلکه د خپل وخت د شرائطو محصول یو ستر افغان ؤ . کله چه دې معقول وایي واضحه ده چه مطلب یې همه د پښتنو د ښمنه حاکمه او ظالمه طبقه ده چه تل لو موثر خپلو دهغه د مغولو د دولت په نامه تعبیر کړي وه . خوشحال خان ځانته پر اقتصادي او اجتماعي جبر سربیره تاریخي رسالت لاره . او هر څوك چه د ده دراته رسالت د پوره کولو په لاره کې ورته خنډ شوي هغه یې له پواړی د پښتنو بلکه د خپلې کوراني د ټولو په شمول ـ غندلي او رټلي دي . همدا سبب دی چه په اشعارو کې یې له پردو نه د خپلو ځنډ له کمه له ده .

البته کله که دې د افغان یا مغول او م احلي دا فقط یو سیاسي شعار دی خو حتی زموږ د عصر انقلابي لیډران او د نژادي توپیر او د ماشرم د پر و سر ستنو د ښمنانو هم د روس او جرمن او چین او جاپان او حتی هون په نامه استعمال کړي دي . په دې اساس د خوشحال مبارزه فقط د خپل وخت له متمرکز مغولي دولت سره وه نه له کوم خاص قوم او یا نژاد سره حتی کله چه د قوم خبره راځي ملته دی په دې پر افتخارخان به استنا روی ډول اوزبکه او لي او وایي:

که مې عمر په شماره تر شپیته تېر دی لا په کار کې د سوارۍ لکه اوزبکه یم

د هغه ډول کله چه د انسان فلسفي ته راځي وایي

ده خود زده درد غوا لم په هر یوه مذهب کې

ستاز ده ستا حبر ي چه نقلونه رنگارنگ کړي

۳ ـ بل کوم ټکي چه زما په عقیده ځانته مفصله څېړنه ایجابوي هغه له خپله پښتنو سره د خوشحال خان ځینې قبائلي جگړې دي . مگر دلته په د پرلنده ډول دې ټکي ته

هغه یو ډیر ښه صوفي شاعر دی خو د رزم په کوڅه هم له دې نه تېر شوی، هغه بل د حماسي اشعارو کوټلی پهلوان دی مګر د تصوف د باغچې بوی هم پرې نه دی لګېدلی، دا بل د بزمي سندرو خوږژبی طوطی دی مګر له رزمي او حماسي دنیا څخه ناواقفه دی هغه بل د اخلاقو او موعظې ښې ښې خبرې کوی خو د رندۍ خرابات ورسره نشته لیکن زموږ د خوشحال د ښو ولې کټولې پیوندی دی، که د سړی خپله زړولی تنګه نه وی نو په دې ګلشن کښې هر ډول کوکي او ګلان شته دی، همدغه وجه ده چه پوهانو ویلي دي د خوشحال په رزمیه کښې شهنامه ویل چه هغه په فصاحت کښې حسان، په رزم کښې فردوسی، په اخلاقو کښې سعدی، په فلسفه کښې خیام، په عشق او تصوف کښې حافظ، په عشرت کښې ابونواس او د فطرت د ښکلا انځورګر ومنل شو.

البته دا فرق شته چه فردوسی رستم نه دی مګر خوشحال هم فردوسی دی او هم رستم.

د توره په میدان کې چه سودا وي د سر د نو ... هم ارمان مې ګوره تل به سور وي زما اس

ددې لنډې مقدمې نه پس غواړم چه له ستر خوشحال سره یو بل لوی شاعر پرتله کړم او هغه د روسی ادب پلار الکساندر پوشکین دی

خوشحال او پوشکین څه ګډ اړخونه لري

پوشکین یوسل او لس کاله د خوشحال له مرګه نه وروسته پیدا شوی دی.

خوشحال او پوشکین دواړه د خپلو ژبو لومړني او لوی شاعران دي.

راځو چه له خوشحال او پوشکین نه پخوا د دوی پر ژبو او ادب باندې یوه لنډه نظر واچوو

د خوشحال نه مخکې پښتو او د همغه وخت ډیره زمانه پخوا د امیر کروړ جهان پهلوان رزمي سندرې :

زه یم زمرى په دې نړۍ له ما اتل نشته ... پر هند و سند و پر تخارو په کابل نشته

بل په زابل نشته

له ما اتل نشته

او د شیخ اسعد سوری زړه راښکونکې قصیدې هیرې کړې دي

د چنګیزیانو او مغلو تاړاکونو عموماً د نړۍ په دې برخه کښې د ادب خوند بدل کړی ؤ، د زمانې بې مهرۍ او د مشرانو بې قدرۍ خو پښتو شاعر له دربارونو څخه بهر د غرو شاته شړلی و.

ليکونکی: ښاغلی عبدالقدير فهيم

خوشحال او پوشکين

کوم وخت چه په ۱۶۱۳ عيسوی کال په دوستانو، خپلوانو د خوشحال د پيدا يښت
زيری وکړ نو اروپايی ملکونه د رنسانس د مشعل په رڼا روښانه شوی وو د دنيا
وپېښو او معرفت هغه لمبه چه په ايتاليه کښې بله شوې وه، ډېر ژر ئې د يوروپ
نورو ملکونو ته رڼا او تاو ورسيد، په مختلفو هيوادو کښې د علم او هنر داسې
راپه ستوري وځليدل چه نه يواځې د خپلو ملکونو او وطنوالو سترګې پرې رڼې
شوې بلکه د وخت او مکان د حد په لحاظ ئې هم تر ډېر لرې لرې پورې شغلې
ورسيدې او رسيږی

د رنسانس په راتګ کښې ايتاليه کښې دانته، جوتو، او وروسته بيا بوکاچو،
پترارکا، ليونارد داوينچی، رافائيل او ميکل آنجلو پيدا شول
د يوروپ نور ملکونه هم پدې سيالی کښې وروسته پاته نه شول، هر ملك
پخپل وار انسانی جامعې ته خپل دانته گان او رافائيلان وړاندې کړل چه يو
له بل سره څنګ په څنګ دريدلی او سيالی کولی شی، مګر پښتنی دنيا چه دوه
پيړۍ د رنسانس له شروع نه وروسته د ادب او هنر جهان ته کومه خارقه وړاندې
کړه، نه يواځې له رنسانس نه راپه دې خوا زمانه کښې د هغه سيال او مخې پيدا نه شو
بلکه له رنسانس نه پخوا هم د هغه جوړه او انډول نه سکاری

ښاغلی رسا دارمان خوشحال په مقدمه کښې وايی که په ايتاليه کښې دانته،
په انګريزانو کښې شکسپير په جرمن کښې ګويته او په ... ښتنو مونږ هم څوك
لرو چه فخر پرې وکړو. هغه خوشحال او رحمان دی

خوره وايم- مونږ داسې څوك لرو چه بل څوك ئې نه لري او هغه خوشحال دی
خوشحال د پيړۍ د سترو شاعرانو له لومړی کتار نه څو قدمه وړاندې ولاړ
دی څکه چه نوح سردار او د او يو څنګی صلاحيتونو خاوند دی
هغه د څنګی سالارانو له ډلې نه څو ګامه ترمخ دی څکه چه د څنګی پايه
شاعر دی. شاعر هم څنګه شاعر؟

د الياد د مصنف- هومر له زمانې نه رااوخله تر دې دمه پورې- خپلواو پردو
که هر څومره شاعران ورسره پرتله کړی دی پوهم په کښيو کښې برابر نه دی خپلو

خپل بو شعر (۱) ولوست او سپین ږیري دیرژاوین دامتحان اخستونکو له ډلې څخه را پاڅید او چیغه ئې ووهله: «روسي ژبه له مرګه خلاصه شوه اوس که مې شم باك ئې نشته» دیرژاوین خپل تصویر پوشکین ته یادګار ورکړ او پرې وئې لیکل «له مغلوب استاد نه غالب شاګرد ته»

د پوشکین په وخت کښې د روسي ښارانو (پاچایانو) په دربار کښې فرانسوي ژبې داسې ځلې او ریښې زغلولې وې چه حتی په خپله روسي سردارانو او دربار ته نژدې کسانو هم په خپله مورنۍ ژبه د روسي په فرانسوي لهجه ویله، مګر پوشکین که څه هم لکه خوشحال له پلار او نیکه سردار او دربار ته منسوب او مقرب و خو شاعرۍ ئې د خپل قام په ژبه او د قام دپاره وه. له پوشکین نه وروسته په روسي ادب کښې لوی لوی شاعران تیرشول لکه لیرمنتوف، نکراسوف، ناسي بین، مایکوفسکی او داسې نور خو په شاعرۍ کښې د پوشکین سیال او مخې څوك پیدا نشو. د خوشحال په څیر دی هم د خپلې ژبې لومړی او لوی شاعر ترننه پورې پاته شوی دی

خوشحال او پوشکین د آزادۍ غوښتونکو ملګري وو:

خوشحال د پښتون په ننګه، توره وتړله، له مغلیانو آزادي غوښتونکو ایمل خان مومند او دریاخان اپریدي سره ملګری شو، په سمه او میدانونو کښې ئې په ویر، کړ به او تاتره ئې په کلونو د ښمنانو د پښتون د تورې زور وښود

ملګري ئې ایمل خان او دریا خان دواړه سره په ننګه اوبت کښې ومړل د خوی په ننګه خوش خو به مرګ ئې دردمند دی

ایمل خان دریا خان دواړه په شهر د ننګه تیر شول په ننګه کښې

د دواړو په فراق کښې زما تل آه و ماتم دی

د مرګ څخه ملګري تري یو وهل د پښتون د آزادۍ پلاره کښې په پوره سر هغاد له کوي څکه خپه دی

که ماغوندې نور هم وای په دې کار نه وبر خوشحال وم

چه ما غوندې څوك نشته څکه پروت را باندې غم دی

څمچ دی خو مایوس او تنبل نه دی، حوصله ئې پر ځای ده،

دعالم د پرې خمرې لور به لور توري لښکري زړه مې نه خوري له ځایه غر خو هسې دی که نه

(۱) په دې شعر کښې د ۱۸۱۲ د روسیې او فرانسې د جګړې ذکر شوی دی چه روسي جنرال کوتوزوف ناپلیون ته پکښې ماتې ورکړه.

نه چا د پښتو يو لکي شاعر خوله په خواهرو ډکه کړه او نه چا له سرو زرو سره وتاله ، مګر چه د پښتون شاعر همت دی خبرو ته موتار نه دی

د هغه شاعر دا مې وشه په ژړه چه د شعر دردانې پلوري په مال

ولې دريغه چه بې قدري او بې مهري نه وای ، نتيجه دا شوه چه څه شاعران يا خو په قام کښې پيدا نه شول او که پيدا شول نو لکه د بېديا ګلونه پټ پله وځوکيدل ورژېدل او د زمانې بې مهرۍ د هغو په وږمې او طراوت د چا مشام تازه نه کړ ، که ګورم نو شاعر له خوشحاله نه پخوا پيژندل شوي او مخکښې شوي دي نو هغه څوک پاو ، څوک چارک ؤ من يکښې هيڅوک نه ؤ پخواني شاعران دوه دوه ستوري په څېر ځليدل چه خوشحال لکه لمر راښکاره شو . د هغه په رڼا کښې وانده ستوري له نظره پټ شول ، خوشحال دی چه د پښتو شعر علم ئې جګ کړ

په پښتو شعر چه ما علم بلند کړ د خبرو ملک مې فتح په سمند کړ

په هغې قصيده کښې له نورو شاعرانو سره د ځان پرتله داسې کوي

نو په حال او په ماضي کښې هسې نه ؤ چه ښکاره ئې د خبرو داته خوند کړ

د ميرزا ديوان مې ومانده په ګوډې مفرده مې ارزانی خويشکی رند کړ

که دولت ؤ که واصل ؤ که دا اور ؤ په خبرو مې د هر يوه ريشخند کړ

د هغه وخت چه خوشحال د پښتو شعر علم اوچتوی له پښتونخوا نه په لرسر او بر سر دربارونو کښې پارسي ويله کېږي ، و يله کېږي څه نه په شاهي دربارونو کښې او د پاچا يانو او خلکو ترمنځ د پارسي مشاعرې کېږي ، په هغه وخت کښې مثر خوشحال که څه هم په دربار کښې خپل ورځ او تول لري ، مګر مټې دا مهووهی د پښتو د شعر علم جګوي ، د خپل قام په ژبه د قام د پساره شاعري کوي - داسې شاعري چه د هغه له مرګه څه کم درې سوه کاله پس د هغه په ياد بين المللي غونډه جوړېږي او په تاريخ کښې د لومړي ځل د پاره په بين المللي غونډه کښې د خوشحال په ژبه (پښتو) تقريرونه کېږي کرامت ئې نه دی وليده ؟؟

✿ ❋ ✿

راځئ ځه چه د پوشکين زمانې او له هغه نه پخوا شاعرۍ ته هم يو نظر واچوو له پوشکين نه پخوا هم په روس کښې وانده او لږ شاعران تير شوي او د هغه ، زمانې مشهور شاعر درژاوين دی چه د پوشکين د استادی حيثيت ئې درلود ، په ۱۸۱۵ عيسوي کال هغه وخت چه پوشکين د ليسې په کالني امتحانونو کښې

درنځور کلا او د سلاویخکی معبد:

یک تنها په کټ کښی پروت یم — نه یوان د هند د کوټ یم
دا مې حال دا مې احوال دی — که وا یه شی څه پر مقا ل د ی
چه په ما نامدې دا حا ل د ی — څه د پاسه یو نیم کا ل د ی

په دې شعر کښې خوشحال د خپل بند او د نورو بندیانو حال بیان کړی دی
یا دا چه

د رنځور خوشحال په خوب ایدلی نه ؤ — آخر وشی همه چار چه نې تقدیر کا

د خوشحال د بند او په ډیلی کښې د پرارې توب کیسه موږ ته سه معلومه ده د همه زحر هم موږ درک کولی شو چه دې آزاد مشرب او ازاد فطرت مشر به داورنګ ځه دربار ته په تحمیلی ورتګ نامدې ایسته

ولې دا کار چې څه وخت د یورپیانو ننګیالي ښکار زاغی وو د هندوستان په زیارو ورګډ شو نو دده په لاس چې کومه زیاتوخل د دوه نورو تیارو په منځ کښې ونیوه نو تر نن پاتې ده او انشاءالله تر ابده به باقي وي دا ننګیالي د غور زمري شهاب الدین محمد غوري پښتون ؤ چې په اول ځل ئې په هندوستان کښې په پوره ډول د مسلمانانو حکومت جوړ کړې او سره ئې د مسلمانانو د کلچر بنیاد ونه ولګول او که څه هم نائب ئې قطب الدین ایبک مقرر کړې نو دا ځکه چې ننګیال نه خو متعصب وي او نه تنګ نظر بیا چه د غه سلسله ختمه شوه نو د جلال الدین خلجي پښتون په قیادت کښې پښتنو ننګیالو د هندوستان د حکومت واګې په خپل لاس کښې واخستل که څېرې د ننګ او میړانې داستانونه ئې د راسم شم نو یوازې د نو ننګیالي علاوالدین خلجي نامه به ختم نه شي او هندوستان د ننګ دا سلسله کله د بهلول لودي او کله د شیرشاه سوري په رنګ کښې باقي پاتې شوه د هندوستان څه کې او هندوستاني قوم وسره یو کړل خو د مسلمان کوم کلچر چې د پښتون په لاس جوړ شوی ؤ ، هغه ئې د وړاندې په شان هم نه شو کړی او پښتنو تر اخره پورې ایراني ، تورانی ، مغل او عرب وغیره ټوله مسلمانانو ته د یو ټولی او هندوانو ته د مل ټولی په نظر کتل او دا دوا ړه قامونه ئې تر خپله دوره هم د خداوساتل او په هندوستان کښې ئې د یو نوي قومیت او نوي کلچر بنیاد ونه ښخ کړل دا کار هغو ننګیالو وکړ چې خوشحال بابا نه د بر بخوا تیر شوي دي نو چې څه وخت یو بل قوم د مسلمان په حیثیت هند ته را ننووت خو داسې قام چې ننګیال په کښې نه وو یعنې «مغل» او هغو په ټول دور اقتدار کښې د خپل خوی مطابق دا کوشش وکړ چې د پښتنو په کړو او نه تولې کړې دوه قامونه هندوان او مسلمان یوځای کړی او پادشاهي مغل کړی

دین که یوازې اکبر په کښې پر ښېو د خو دا مثل تر شاه جهان پورې تو او وچلاوه ولې د هندوانو ډېر مدار صرف دومره کار وکړای شو چې لکه څنګه چې

هیڅ فرق پاتې نه شو دا ځو بر صغیر پاك وهند ، دا گران کار پښتنو ته ځکه پاتې
شو چې دا قام د اسلام نه وړاندې د یو داسې کلچر (پښتونولی) خاوند وو چې
د نورو قومونو کلتورونو داسې پرې هیڅ اثر نه وو کړی او پښتونولی د هر ځای
د وړاندې په پښتو ولاړه وه او بې شماره انگیالي به هر دور کښې د خپل
کلچر د حفاظت د پاره سرونه تلي ولاړ وو قدرت د اوچتول چې د هندوستان
د کلچر سره یو داسې کلچر وصنگوی کوم چې په خپله ټینه بوده کښې د ډومره
مروت دی چې په هیڅ توکی د نه لیدلو ده دی او د اکارنش دغرونو یا مسلمانانو
کلچر نه شو کولی کوم چې څه وخت غرنو د مانعینو په حیثیت د سند له اوره
په هندوستان را گډ شول او دوه سوه کاله پس نوروسره همه کاني ولي کیدلې
کومې چې ددوی نه وړاندې د نورو را تلونکو قامونو سره شوې وې
بې شکه چې په عربو کښې د مؤمنانو کمی نه ؤ خو دې کار ته انگیالي
پکار وو او انگیالي پیداکول د پښتو کار دی . زه داغه وایم چې پښتنو ته
صحیح اسلامی کلچر را رسیدلی دی ، پادوی د قرون اولی د مسلمانانو په شان وو
ځکه نه کومو ورځو کښې چه اسلام د پښتنو علاقې ته را رسیده او په کومه لار
را رسیده په هغه زمانه کښې دومره رسمی او مقامی گډون نه کښې شوی وو او
د مدینې د خوندیتوب نه را اوچت شوی رښتنی اسلامی کلچر د دمشق او بغداد
د رنگونو ، دنگو ماڼیو د مسلمانانو په کلچر کښې دومره ځای نه ؤ نیولی دی
چې که چیرې حضور پاك (ص) یا راشدین خلفاء (رض) په دې وخت کښې را ژوندی
شوی وی نو دې نوی اسلام ته به بیخی حیران پاتې شوی وو نو هم چې په
هر رنگ کښې وو خو چې پښتنو ته را ورسید او د مسلمانانو او پښتنو د کلچر
نه کوم امیرش خوندیتوب همه دومره مروت او پوخ وو چې لوبو ، او بو غرونو ورته
په ډغره کښې لار پریښووله و که زه د دې شروع د غزاوی محمود د وخت نه
وکړم نو اگر که صحیح نه ده ولی خو خبره نه را لنډه شی او دا اورم چې سره
د دې چې د هغه له اوله پښتنو ته د خپلې زوع بیتو بدل ور نه کړی شو بیا هم
چې د کله نه ده په هندوستان بریلونه شروع کړل نو پښتانه تش د خپل
په غرض د خپلو ، خپلو مشرانو لکه ملك عارف ، ملك داؤد ، ملك محمود ملك یحیی ،
ملك عاری ، ملك شاهو ، ملك خالو ، ملك مامو او ملك احمد غوندې انگیالو
په ماتحتی کښې شامل شوی وو او د سومنات په فتح کولو کښې د ترکو په

نه په لنډ ډول د دغه په حقله يو څو خبرې وکړم چه هغه په خپله د کوم مقام
ننګيالی و – او په خپل کلام کښې يې د ننګيالي ستاينه څنګه کړې ده ؟ داسې
ويښ د هغه ننګيالي مرستندوی کوو چا چه د ننګيال د پاره يوه کرښه راښکلې ده
نه دا چه –

په جهان د ننګيالي دي دا دوه کاره يا به وخوري ککرې يا به کامران شي

که زه د دې يو شعر په تشريح اقدام شم او د تاريخ نه هم د دې شعر په رڼا
کښې حوالې ور کول شروع کړم نو د دې ساده غوندې شعر نه به يو لوړ ته
ټ کتاب جوړ شي او ول الدح ته به دا يقه تري وانګېږي چه خان بابا د ننګيال
پاره ډېر اوچت بلکه ګران معيار ټاکلی دی او دې معيارته رسېدل يا خو د
نه مرحله وه او يا صرف د يو څو نورو ننګياليو دلته نه هم د خپل ګران مشر
پند رسول رسا دليك نه فيض حاصل کړم مشران وی هم د دې د پاره همو ی
خبرې لمړو او په چل يوهيږي هم چه همه د ارمغان خوشحال په ديباچه کښې
ليکلي چه د خوشحال خان د شخصيت د مختلفو اړخونو د مطالعې نقطه نظره د ه
په همه و ... ننګيالی پښتون سردار و او د پښتو د سردارۍ په بارك
او مشکل هم ... دغه په کردار کښې د پښتون قوم خوبی او خامی دواړه
نامو مدې شي خو خوبی ور کښې د خاميانو په نسبت ډېرې دی او دا خوبی
صرف په يو ډېر اوچت انسان کښې په نظر راځي . د خوشحال خان پېژندل په
حقيقت کښې د پښتون پېژندل دی او نه صرف د پښتون پېژندل دی بلکه د يو
پښتون خان يا سردار پېژندل دی او نه صرف د يو پښتون خان يا سردار پېژندل
ی بلکه د يو ننګيالي پښتون خان يا سردار پېژندل دی . د پښتون د پښتو
ر تقاضې مدارج دا دی اول هر پښتون د خپل ژوندون د حفاظت او عزت خيال
ساتي او خپل ژوند د پښتو په معاشره کښې د پښتو په لار و چار و تېرول غواړي
که ډېر يوه او اصيل پښتون وی نو هغه د ځان سره د خپل خاندان د حفاظت
و عزت خيال هم ساتي او دا يې خواهش وی چه د هغه خاندان دې هم په پښتو
کښې چاته لاندې نه شي او چه ډېر يوه او شريف پښتون خان يا سردار وی
نو هغه بيا دا خواهش لری چه د هغه قبيله دې هم د پښتو په لار و چار و کښې
نورو قبيلو نه اوچته وی او با عزته ژوند دې تېروی او د قبيلې حفاظت او عزت
لکه د خپل ځان او خاندان په شان خپل حفاظت او عزت ګڼي د خوشحال خان

مغلو د مسلمانو د کلچر او ثقافت خرابې ته ولې او د مغل شاهي خبرې څوبته هم دغه رنګه هندوانو هم د مغلو د حکومت خرابۍ ته ولې شروع کړل چې خبره اورنګزیب ته راورسیده نو هغه په دې وار پوه شو او پس نو ده محض د سیاسي مقصد د ترسره کولو د پاره د اسلامیت څرګنده خوداسې اسلام چې ترخه ئې لې و ریږده کولې شوه ګډې مرغولې نه دي نه پوهېږي ؟ چې دې مسلمان بادشاه چې خلک ئې د راشدینو خلفاؤ مرتبې ته رسوي پښتانه په صورت سنګه ولې وغل ؟ او نه قول څرګنده ئې د پښتنو سره انصاف ولې ونه شو کړی عالماً به دې چې دوی د اورنګزیب په کتاب کښې مسلمانان نه وو او خوشحال خان خټک هم څه ی خلک به دې ملامتوي چې دا اورنګزیب عالمګیر په شان مسلمان او پارسا بادشاه سره ئې جګړې کړې دی نو که د مسلمان بادشاه برخلاف جنګېدل سه کار نه وي نو بیا اورنګزیب خپل سکه پلار شاه جهان بادشاه نه و که مسلمان نه و ؟ چه اورنګزیب ور سره وجنګېده او دغه حال ئې د ورورونو سره و

مګر خبره دا ده چه له دې څا سره هغه جنګ او د ر د نه و د کوم له کبله چه نه پوارې خوشحال خان خټک ملکه دا پخل خان او دریا خان په شان نور د انګیالو هم د جنګ نورې ایستلې وې مطلب مې دا دی - چه مغل تر اورنګ زیب پورې قول پو شان وو - دا بېله خبره ده چه بخې نه بې بېلو ئې څکه نو خوشحال خان بابا د شیرشاه سوری او بهلول د بادشاهۍ زمانې رایادې کړې وې - چه هغه به دې پوه و چه د هندوستان حکومت صرف انګیالیان په صحیح ډول چلولی شي - څکه بې دغه وخت انګیالیو ته بیرته بیا د خپل میراث چلولو غیږ وکړې

مګر چه دغه وخت سره دا مقصد ترسره نه شو ولې د جنګ کومه فلسفه چه د هغه نه پاتې وه اول د میرویس غلجي او شاه محمود په رنګ کښې څرګنده شوه بیا د احمد شاه ابدالي بابا په صورت کښې په خپل مکمل شکل کښې را څرګنده شوه - او بو خل بیا انګیالیانو دنیا ته ثابته کړه چه انګیال څه ته وائي نور هو؛ نور چه د پانی پت د دریم جنګ نه پس بیا د هندوستان حکومت تالاق مغل پادشاه ته څکه وسپارل چه مؤرخین د انګیال او مغل په فرق سم پوه کړي - او پوه به تل ترتله پرې پوهیږي څه زما په خیال د انګیال دا قصې که ده هرڅومره دا انځورم نوهم او لا د بېرې - ځکه دا خوشحال بابا به لور راکړ ځم

خو حوصله یې بېدې کوي چه :-

د مړو بوږ غټوب به لښکر نه وي   مټ یې هر کله بو اری به خپل ځان شي

د پښتون سردار د پاره د مېړانې او شجاعت نه علاوه سخاوت هم ضروري دی او خوشحال خان دومره بې ځوان ؤ چه سره ـ دې د مړه لوی خاني او سرداری هیڅری ز کوږېږي مرض شوی نه ؤ د همه د سخاوت در واره لکه د حاتم د هر چا د پاره هر وخت خلاصه وه وایی -

که ګنج به د قارون در ته انبار شي   نه هر لوري یې غورځوه به سخاوت

د خوشحال خان یه دی وینا به خپله نه مکمل طور عمل ؤ او عمل یې هم به دي رنګ

که حاتم غوندې کرم کړي د مهرانو   د نوي مړي به جامه بدده همت

همه نه نواري د ډېر ستر دسترخوان خاوند ؤ ملکه نهري نه یې سپي بدوته خیری هم نه ورسوده لنګر نه یې جاري ؤ چه وفات شو نو دنیا دخلی دې دعوی مطابق -

چه خاله یې نانی نه شي مرده شوی ته   خدایه ور کړې د خوشحال غوندې رحلت

ژوند یې دومره پاک او سپېڅلی ؤ چه د خپل زمانې مشهور ولی او مرشد رحمکار (رح) یعنې حضرت کاکا صاحب وصیت کړی ؤ چه چو ملکه نه یې زمانه کسي په شریعت محکم سړی د خوشحال خان خټک نه نه غیر بل څوک نشی کېدای نو د دې دپاره که څېری ... وی نو ... د دې ... عمل را کړی او قبر ته یې دې هم هغه کور کړي د هغت خال یې داؤ دی نه مری او صفه یې کسی چې بهرام خان خپل زوی مکرم خان د یکه دګرماری دپاره والهي بوده قوت نه عاطه کړ او د مکرم خان سړ وته یې د مقابلې دعوت ورکړ خود هغو ... نه شو وایس لا بدل هکه خو خان ویلی دی

که آسمان دې درمري په خوله کسي ور کړي

در مري په خولې کښې مه ږ ږده همت

خپل ژوند یې هم د دې شعر ژوندی تصویر ؤ خوشحال خان خټک څو مره سه سردار ؤ ، څومره بې ځوان ؤ ، څومره ښه خان ؤ ، څومره لوی وطن دوست ؤ څومره لوی بهادر ؤ ، څومره لوی لیکوال ؤ ، څومره بې مثله سخی ؤ ، څومره بې نظیره میلمه دوست ؤ ، څومره لوی عالم ؤ ، څومره سه شاعر ؤ ، څومره پاک مسلمان ؤ ، د خوشحال خټک کردار دیو تور یالی ، ننګیالی ، غیرتمند ، سخی ، شریف او اصیل پښتون سړی دی دا چې خان او سردار چې په پښتنو کسی

څوك په زمانه کښې د پښتو اوچت نصب العين تر ذهنه پورې ؤ او په دغه معيار هغه د اول سړي په تو نمونه پښتو سردارؤ د پښتو د ژبې ارتقايي درجه پېژني دا چ اصيل او ننګيالي پښتون به د خپل ځان، خاندان او قبيلې د حفاظت او عزت سر د پښتون قوم په حيث مجموعي د حفاظت او عزت خيال د نورو قومونو په مقابله کښې غوره ګڼي او ددې ملي پښتو د پاره به خپل ځان ، خاندان او قبيله قربانوي دا تصور د خوشحال خان د زمانې په پښتون کښې نه ؤ هغه په اول ځل دا کوشش وکړ چه دا مذکوره پښتون نه ور پيدا ندې کړي او ددې مذکورې د پاره يې جد وجهد شرو کړ خو په اول کښې هغه به دې کوشش باندې داعي د قبيلې وروسته بيا هغه وخت چ د مغل منصب يې پرېښود او د پښتون په ننګ داسې کلك ودريد چه تر مرګه پورې د د خپل ژوند مرام او مقصد وګرځاوه

هغه په دا ګه وايي چه:-

د افغان په ننګ مې وتړله توره ننګيالى د زمانې خوشحال خټك يم

اوس يې نه صرف د دوی قبيلې سردارؤ بلکه د ټول پښتون قوم يو ليډر ؤ او ليډر هم داسې ليډر لکه ن چه په مغربي قاموسو کښې د ليډرۍ تصور دی خوشحال خا پيدا شوی خو د مشرق په ما يوه کوهستاني وطن کښې دی خو د قوميت يې داسې ورکړی د چه مغرب ورته رده کړه کولی شي او صحيح قومي پښتو علمبردار د ديو ننګيال خان دا صفت

چه توره لري د توري څوان هغه چه ګټل خو ندول نه شي که خان هغه

دا د هغه د خپل ژوند رښتيني عکاسي ده او چه لې ور تېر شي نو بيا وايي:

خاني کار د هر چا نه دی د هغه دی چه صرفه يې نه پېژني د زر وي نه په
يکباره يې په نظر کښې شرم و ننګ وي د دنيا په سود و زيان نه وي خ
يو قدم چه تور وړاندې شي نو هر کا

سردار هغه دی چه شرم ننګ لري مدام د شرم توره تر څنګ لر
صرفه په زر نه کا سر فدا په سر نه کا چه د شمان وي له عفو څنګ لر

او بيا دا چه

چه صرفه کا نه دی په سر يا صرفه کا نه دی په زر
نه په خان نه په سلطان شي نه به خپل کار ندی کشور
چه په ځان مين نه وي مې اشو ب نه کا لښکر

سر دې لاړ شي، مال دې لاړ شي پت دې نه ځي

د سړي د چارې هر څو سي پسته ده

د خوشحال بابا په انفرادي ميړانه مې ځکه زور ورکړی دی چې تاريخ په دې ګواه دی چې ډېرو خلکو په «توره دې لالا وهي او سپره دې عبدالله وهي.» او مونږ ته ښوده کړې دی چې خو داسې خلك هر ګز د ستاينې وړ نه شي کيدلی خان بابا خو بس دومره قدر وايي

چې په ځان مې نه وي مې پتوب به کا لښکر
ياخو تخت دی يا تخته ده د شاهانو ځای مقر

هر څوك غواړي چې خان او سر دار شي خو ددې د پاره هم دغه يو شرط ايښی دی وفقط دا

حاجي کار د هر چا نه دی چې صرفه ئي نه په زر وي نه په سر
يکه تازه اې په نظر کښې شرم نه ګڼه وي د دنيا په سود و زيان نه وي خبر

جنګ د چا سره کوی د اغيار سره خو د يار سره د قوم نه هم پر مدی لکه

و اغيار ته لکه کاڼی موم و يار ته په سختۍ او په نرمۍ کښې همه وره يم
اهل شر ته د شاهين منګل پيدا کړه اهل خير و ته حليم شه تر حما مه

داغيار سره جنګ آخر دغه د پاره کوی وائی

ژر د عدل توره واخله ملك اسلام کړه په جنګونه

او که چيرې موقع د جنګ نه وي او څوك ځرګې په کښې کوي نو بابا په کښې نه دی ولې ده

يا تکيه د بوره خدای د ياد توري په ځرګو مرګو نه شي کار د تمام

او که په داسې موقع کښې څوك د وسلې د استعمال نه ويريږي نو ورته لې پوره لاره ښيي ده :

چې خيښ په وسله نه وي مرد دې نه وايې وځان ته
لاس دي سره کړي سترګې توري ځان دې وخوندوي خوان ته

په جنګ کښې چې څوك د شانه ګوزار وخوري نو هر څه اې ما يلو دل لکه

همه کس مېړني نه دی څوك چې توره په قفا خوري

د جنګ د پاره بې هنر هم څو ولې دی او هغه دا :

که د جنګ په کار کښې ډېر دی حکمتونه چې د سر صرفه و نکړې نو مړی دی

بل داسې اوچت نمونه سردار ترلاسه نه دی پيدا شوی چې هغه وايي

نه نه زما غوندې بل ننګيالی راشي
نه نه زما غوندې بل ننګيالی واشي

څوک لا پر پېړۍ په درست افغان کښې
عجب که هسې ورځ ننګيالی راشي

د بابا په څېر د يو نمونه پښتون با ننګيالي په حيثيت نهان نه نور هغه نر پيدا دم
چه نه دي الهی خوښه نه پوارې پښتانه پيژني که دا و وايم چې قوله دنيا يې پيژني
نو د حيلې خبرې نه څوت کښې نه دي موجوده سيپارته اشاره وکړم او بيا په کښې
دغه شعر ګنجايش پاتې شو

اوس نه ډېرې ټکو کښې دا وايم چې بابا په خپل کلام کښې د ننګيال
پيدا کولو د پاره او د کوم هسې ننګيال پيدا کولو د پاره کوم ارشادات کړي دي
هر څوک چې د هغه کلام لولي نو د خودداری، غرب نفس، پښې ارادې، سخت
کوشې، جفاکشې حق ګويي ادبي باکې سق ترپاحلی او د ېرلې په زړه هغه
لګې چې هغه، چې ای نورو ته وايلي دي هم هغه يې په خپله کړي دي لکه

د هر چا نه درست نو کار اول دی
خدای نه خپله درستو نو سر عمل دی

او لا دا چه

نه د روغ په بابا راستی کښې د پر اوی عم دی
د راستی ر ورګار کوه نې عمه او سه

داور ته د باد شاهي لار ستکاري وايي

راستي لار د باد شاهي
په کښې نشته ګمراهي

د ر ستيو پر واښته
د جهان په بد خواهي

او که په رښتيا کښې ورته هر څو مصيبتونه او دښمني خوښېږي نو هم اې پروانه
کوي لکه

په دا ګيلې کښې څوک ته ارم نيکخواه
چې رښتيا وايم همدا ارم ګناه

او بل ته هم وايي

په هر کار کښې هسې کار کړه څنګه، څنګه
چې څوک نه وايي وتا ته درو غن

بابا دا هر څه څکه وايي چې د هغه داخيال دی چې که پښتو ګنجو نو مالک
شي خو بيا د ورځې باني نه شي نو تاواني دی او چې بيا ورځې وي که په لنګه کښې
وي نو هم په ګټه کښې دی او د روغتيا خو چېرې هم په بيا کښې نه شي باني کېدلی
نو بيا نه ده په معمار څنګه پوره شي .

مؤمن چا ته وائی:

مومن هغه دی چې ترس د خدای لری — چې ترس د خدای لری زړه دې په ځای لری

د سر ساتل د مړدیه په لار کښی یو څوک دی ځان نا ما په دې عقلمه وائی

مړدی دې هيڅ د که په زړه شير نه ئې — څه خو وشو که زړه ور دلير نه يم

ترسر چې تيروی وېره ئې هيڅ نه وی — وېره ده هو مر چې ترسر تير نه يې

او که په دې لړ کې په غم مبتلا شوی نو د هغه ئې هم سبب په گوته کړی دی وائی.

غم ئې ئې حکمت نه دی پیدا کړی — د نامرد و مرد په منځ کښی غم محک دی

خو د مړدیه د پاره بو اخلاقی معیار هم شته:

سړی کمه هغه چې په زړه صاف وی — هېشه و رښتنه شرم هم انصاف وی

چې داځو تو که ئې نه وی سړی نه شی — هرچه کا ئې نو دې کا هغه معاف دی

د لیون د پاره ئې کوم حد مقرر کړی دی

جهانو نه څه لړ نه دی تيېي نه و يمی نادانه

گوره څو دی هسی ځکې گوره څو هسی اسمانه

وله ځای دی ستا په زړه کښې ای ترعرش لو پهٔ اسمانه

آئینه د زړه صيقل کړه چې ئې و وينې ای ځانه

که دې دا نندار وشی خدا نه ئې له سبحانه

وړاندې وائی

که لوی وته می گوری — ماه و خور زما پر چم دی
آسمان نو نه می خيمې دی — پرې د ستورو زينت سم دی
لامی لوړ نا هو نه نور دی — کمکی ناع مې د ارم دی

او چې نده ته د خپل ځان پته ور کوی نو داسې ئې بو هوی

که صورت وته دی گورم نه صورت کښی نو حيوان ئې

که مخو وته دې گورم شهزاده د کل جهان ئې

چې طلوع حصول باد بيری کښت کرأ هم بو هيږې

ته ودې ته نظر نه کړه چې د هوبېی استخوان بې

چې مسجود ؤ د ملکو ځای بې پاس ؤ په فلکو

ته خلف د هغه هسې خليفه بد رشان بې

د ننګيال د پاره همه څه ډير کم ليچونه نه دي پيدا کړي بس خوشحال په نيمو يې ورته دوه کاره حواله کړي دي چې:

په جهان د ننګيالي دي دا دوه کاره   يا به وخوري ککرۍ يا به کامران شي

او بدل ئې هم ورته ښودلي دي

يا عاشق شه يا شهيد شه   چې ياد يږي په بدلو په سندرو

څاريږي له چا؟ له همه چا؟

چې څو ګنده سرماري کاندي د تورو   زه خوشحال خټک تر هغې هم څار شم

اې خوشحال خوشحاليږي کله همه وخت

د خوشحال خټک خوشي په همه وخت وي   چې نر پيسا د سپينو تورو شي په زغرو

چې د ازادۍ او محکومۍ مقابله راشي نو وايي

د پټلو پاڼې خوره په غره کښې اوسه   نه چې پان د هندوستان خوري زما خو بده

چې منصب مې د مغل خوند و ملك وم   چې منصب د مغل نشته اوس ملك يم

په منصب پوري خوشحال خټک نوکر ؤ   چې منصب ور څخه لاړه اوس پادشاه دی

او نور په دا رنګه پوهوي

نوکر ژوندي مړه وي، کار يې د مړه وي   خپل رضا يې نه وي، د صاحب په رضا وي

چې ورته حکم د خپل صاحب وي   که هر څو ګران وي هم يې، په ورضه وي

او چې لږ نور ور تير شي نو وائي

ازادي ده په ساده سپينه جامه کښې   خلاص له غمه د زر نعمت او د ملك يم

دو نو خونګړې هسې راته ښې شوې   دايم مست په صحراو او د آهك يم

په خپله خو د ازادۍ په زار تردي پوه دي

چې خوشحال نادې ماستې کړي   دا پوري نسه دي او رنګه دي

خو پوازې د ځان ازادي بس نه ګڼي د نورو د ازادۍ هم غرض پوره کول غواړي

د همه لاس دې ونه سوځي په اور کښې   چې له پښو نه د ننګيالو ننګ اخلي

همه خو نه د دې قائل دي چې

يا ئې ځای په سر درووي مونده نه شي   د مزري مرحه کښتي دي يا ځنځير

مرد چا ته وائي

مرد ان همه دي چې هښتاك وي   د ننګ په کار کې چست و چالاك وي

کار چې آغاز که انجام يې غرض کړي   په زړه هم پاك وي په خوله هم پاك وي

متعصب او محدود قامي نظريات يې لرل او حال دا دی چې د وړاندې تېرو شوو اشعارو نه ښکاري چې هغه د يوه متعصب او محدود قامي نظرياتو لرونکي شاعر نه بلکه د عالمګير او آفاقي تصوراتو لرونکي مصلح کېدلی شي زما په خيال کښې خو دا د انساني عظمت پرده داري ده او که خوشحال په دې ګرم دی چې په پښتو کښې وېلی دي او د داسې تصور نه ؤ ځکه چې مونږ يې ژبه نې عربي يا انګليسي نه وه او که پښتون قام يې مخاطب کړی وي نو ولې يونانيان نه ای مخاطب کول شوه؟ کوم مصلح به داسې غلطي وکړي چې کور نه ير يې دی او د کلي خلکو ته سمه لار ښائي اصلاح خو هغه چې خيرات هم اول د کور نه شروع کيږي زما په خيال خو که د خوشحال بابا د کلام په رڼا کښې وکتلی شي نو هغه ښکاري يو نمونه پښتون يو ښه مسلمان او يو بهترين انسان دی چه اول د خپل قام او بيا د ټول بشريت خدمت کوي په آخر کښې خبره ئې په دا شعر را لنډه کړم چې بابا:

ستا د ښايست ګلونه ډېر دي   خولې مې تنګه ده نه کوم ترې ټولونه

د دنیا عقبی ما څو نه په کسی و ا ئد ه نه شو ته
واله ستا د پاره حو ئد ی ته مقصود د کن مکان یې

او د ما هیت په حقله یې و ا یی
ما هت یې مو ند ی نه شی
هم تر کیب د نیکڅو ند دی
لکه دی د ی نه جها ن کښی
د څلو ر و میا ند و ر و نه
څه حو لی تر حدا نه کوردی

چې څه خیر دی د ا شر
هم مححو ن د حمر و شر
بل نه و ی د نند ه و ر
د ا تـو نـلا ر و نـر
کـه ئـی اـه دی نـرا سر

او یا د ا
په ځان حمر شه چه چر ته ځای لري
ځا ی د ې د ی پو ر ته تر مـلکـو ته

څه نعمت اشیں یې څه هو نا ځای لري
چه ناسو نی شوې حوی د گدای لري

او یا د ا
حلیمه اصل زما دی
که لو ئی می د آسما ن سره سیالی کا
و نا طی وته می گو ر ه که د ا ناې
ما حپل سر تر ملك و لیده لا نور ته
په آسما ن نا ند ې پیری کړم
وایې لا رد حتو نشته و آ سما ن ته
وی می څکه نه ا لو ر مه آسمان ته

لوی منصب یم که یتیم یم
په پستې تر تورو حاورو نه نتر یم
په ظا هر صورت که هرڅو محصر یم
د دې حواب می ای ممر ه کو م تعبیر دی
د همت په پـر و ما ل
ره نه لار در ته پیدا کړ م په هـر
وې ئی دا شی د همت نه پر و ما ل

او چې کله دا وو یې چې لالچی او حریص حلك د طمع د پاره د انسانی شرف اقتدار
حرڅوی نو ما نا حپل نسکیال ته داحتمی درس ور کوی

د همت د ا ر و که مرم په کار می نه دی — که علا ح لره می را شی مسیحا هم
د مر پسې امیں همت د ی په د غا کښی — لا حر م و ر څمی پڅه کړ م د عا هـم

ما کلیات محی ته ا یسی وّ او همه اشعار می تری اقل کول کوم چې ز ماد حیال
حان نا ما سپحی د نسکیال د پاره ویلی دی و لی تر دې ځایه می چې دا ورسول نوره یې
په لیکلو ستړی کړ م فکر را شی چې حلك نه یې په او ویلو د دې نعمر را ت ستړی شی
نو ممم چې تا سو نه اوس هم څه که ستړی نه وی ه و لی ما هم څه کمه بیکمه نه ده
کړې چې نور می دا نقل نه کړ ل حو دا دومره څه چې می و ا و رول ددې نعمې
مقصد څه وو دا په پلنډو ډکو کښی دا سی وسا یم چې څینی حلك داوایې چې حان ما نا



پوهاند صدیق الله رښتین د پښتو ټولنې رئیس د سیمینار غړو ته بیانیه اوروي. په دې عکس کښې
د ښي خوا نه کیڼې خوا ته ښاغلی اجمل خټک ـ عبدالرؤف بېنوا ـ مولانا اعتبار علي عرشي ـ عبدالحي حبیبي
امیر حمزه شنواري ـ قیام الدین خادم ـ گل پاچا الفت ـ پریشان خټک ـ محمد ارسلان سلیمي
او میرمن معصومه عصمتي لیدل کیږي

ليکوال: پوهاند صديق الله رښتين

خوشحال او د هغه د نثر څېړنه

د خوشحال خټک دا خبره چه

چا يې پلو له مخه وانه خيست ـــــ پښتو لا هسې بکره پرته ده

اوس هم دعوا يې په خوشحال کښې ده ولې چه د پښتو ډېرې پټې خزانې لا تر اوسه د خاورو لاندې پرتې دي

خو مره چه پښتون قوم د تاريخ په اوږدو دورو کښې د تورې - مېړانې - او غيرت قوت هر چا ته ښودلی دی هغو مره يې ژبه په دوړو او ګردونو کښې پټه پاتې شوې ده او چا يې پلو له مخه نه دی اوچت کړی

يو زمانه داسې هم وه چه خلکو به د پښتو کتابونه په قبرونو کښې ښخول ولې چه خوک يې په قدر او قيمت نه پوهېدل پښتو لکه پټه خزانه په خاورو کښې تر غېږ پټه نه يې چا په سر لاس راښکود او نه ورته چا د مينې په نظر کتل

مګر کله چه د خوشحال د مينې نظر ور ولګېد نو د ځلا او ښکلا دوره يې شروع شوه

ما خوشحال چه په پښتو شعر بيان کړ ـــــ د پښتو ژبه به اوس په آب و تاب شي

دا ځمکه او هسک دا لمر او سپوږمۍ، دا غرونه او رغونه ، دا ښيلې او سيندونه دا ونې او ګلونه ، دا کاڼي او بوټي ټول د خوشحال د تورې له شرنګهار ، د قلم له کشهار او د ژبې له چهار سره روږدي او آشنا دي

توره او غيرت ، فکر او سياست ، ورکړه او سخاوت - ليکوالي او کتابت - دا ټول د ده په وجود کښې يو لاس او يو موټی شوي وو او دا غږ نه يې له خولې نه راووت

که سخا ده او که توره که خامه ده ـــــ په دا درې تو کښې زما تللې نامه ده

د حقيقت په تاريخ ملکي د قولې نړۍ په تاريخ کښې نه داسې سړی ډېر کم پېښ شوی وی چه هم توريالی وی نو هم ليکوال وی هم ورکندی وی، هم د ځلاندې تورې خاوند او هم د تېره قلم خښتن وی

د خوشحال په اشعارو کښې د مېړانې او غيرت، وطن دوستۍ او مليت روح په داسې اندازه موتي دی چه مستشرق راورټي يې چار ناچار په دې اعتراف مجبور کړی دی « د خوشحال له اشعارو څخه د وطن دوستۍ هغه خوږې ږغې راپورته کېږي چه د حقيقت په خلکو کښې يې مثال نه ليدل کېږي

کیدای شي چه د دغو احساساتو مظهر د سکاټلینډ په لویو سیمو او یا د سویس په غرونو کښي پیدا شي »

د خوشحال د لوړې شاعرۍ اثر دومره زیات او قوي دی چه پښتانه شاعران هم ورته لاس په تندي دریږي او د نامتو شاعرۍ سر ورته وا کښته کوي پیر محمد کاکړ وايي

که څوك منصف مزاج وايي ور ته ښايي   په دیوان کښي یې مونده شي درشان شعر

د شمس العلما قاضي میر احمد شاه رضواني فیصله خو دا ده

د پښتو ژبې که ډېر دي شاعران   خو په واړو کښي بادشاه دی خوشحال خان
هیڅ اشعار نه دي په لوړه په زوره   نه پوهیږم اما سین دی که طوفان
منظومات یې دي لړۍ د مرغلرو   که تسبي دي د یاقوتو د مرجان
د خوشحال د رنده کتري څه هسي نه دي   چه پیالې نه یې کاندي لعل د بدخشان
فصاحت یې د کلام په څېر لسان کښي   د حسان نسبت ثابت دی د سحبان
زرمیات یې هو بهو د خماسي دي   په عشرت کښي مونواس دی د دوران
په آثارو د قدرت کښي چه راخېل شي   نه نو وايي چه هر مردی د یونان
په شکوه د داور لنګه ربیا او د بهرام کښي   مردوسي هم ورته پاتې شي حیران
په پښتو کښي خوشحال خان هسي شاعر دی   لکه ژوا مرا ئ القیس په عربستان
مقالات یې واقعي او حسب حال دي   نه مرصع ویل چه کاندي شاعران

تر شیرینې خوږدو ا لما طوطي خاریږي
ډېر خبر و خوندي توتیان د هندوستان

د خوشحال په دماغ کښي چه کومه جلوا کي یا خودي پرته وه، هغه ده د رمرۍ په خوله کښي هم له لاسه نه ده ورکړې

که آسمان دې د رمرۍ په خوله کښي ورکا
د رمرۍ په خوله کښي مه پرېږده همت

چه څو اتان نه خېل خو ډېرې نه ده دي له لاسه
که یې سر شي د خوالي رمرۍ تر ږا مه

د خوشحال جلوا کي د میړانې او سپېڅوب اصلي جوهر دي
چه د سل تر لاسه ورشي د سل شو
مرد نه خېل لري د خېل عسکر ر هام



د خوشحال خټک د سیمینار د غړو په ویاړ د قبائلو د مستقل ریاست له خوا په یوه ماښام کې میلمستیا ترتیب شوې وه ، په دغه عکس کې له ښي خوا نه کینې خوا ته پرېشان خټک ، انوار الحق ګران - ګویا اعتمادي - سلیمي - دکتور منوچهر د ایران نماینده عبدالله بختاني - اجمل خټک ، دکتور خطیبي د ایران نماینده د پښتونستان لوی مجاهد خان عبدالغفار خان - بېنوا - میرمن معصومه عصمتي - خوږیاڼی - ناست کسان عبداللطیف جلالي - محمد دین ژواک ، یېم په دوهم کتار کښې عثمانوف ، خادم ، سیلاب لیدل کیږي .

نو له بلې خوا يقيني دا شرف خان د مور او نيکه حليمې غوندې پښتو نه مينه هم راپيدا شوې، د دغو نوميالو شاعرانو آثار او اشعار خو تر او سه ريا ته اند ار ه نو څو د دې مگر د دغو نور سره، يو يو غزل د زمانې د چپاو د لاسه د کندهار په ادبي ټاټوبي کښې خوندي پاتې شوی دی د حليمې شعر د محمد هوتک د پټې خزانې په واسطه لکه يوه قيمتي نادره او نايابه مرغلره موږ ته را رسيدلې دی چه و ننت يې دا دی .

و هر چا وته چه ګورم وا يه دی دی

د خيال په ننداره بې ښاد مان شوم

د اشرف خان د مور يو غزل د مولوي نور محمد کندهاري (١٢٨٠هـ) د پښتو ګرامر (تحفة الامير) په آخر کښې د پښتنې زنانو د خوشي د پاره خوندي ساتل شوی دی دا شعر تر او سه پوری د شعر په ميدان کښې نه دی څرګند شوی ، نو ښه ده دا وي چه ټول يې له اوريدلو څخه خوند واخلو .

مولوي نور محمد د دغه شعر په سر کښې ليکي

هغه وخت چه خوشحال خټك د اورنګزيب باد شاه په حکم د رنتمبور په کلا کښې بندي ؤ نو د ده ښځې د اشرف خان مور د خپل خاوند سره مناسب يو غزل و ليکه او هغه ته يې ورو ليږه .

حقه داده چه په زړه پوري شعر يې ويلی دی او تخلص يې د خوشحال په نامه راوړی دی غزل دا دی

نور به نه صبح په ائينه برابر نه کړم ـــ نه به دواړه سترګې تورې په رانجه کړم

نه به سپين لاس نوره سره کړم په نکريزو ـــ نه به نور په زړه و مخ سار د سر و ښته کړم

نه به ما تې مانۍ ځمې نه صبح بريږدم ـــ نه به لا ندې ما ندې لس نه ناجو سره کړم

چه د ميني مارمې اشته چه يې ګوري ـــ د صورت سينګار د ه کوم يو ه ته و کړم

د رست صورت مې ښې لمبې شي ښې ډوډوري ـــ چه د خپل مين د مينې زاريه زړه کړم

کږ و بندو ن تر هر څه خوږ دی په دنيا کښې
اوس يې ياره په ما نر يځ شو ره يې څه کړم

هغه يار چه چېرته دی خوشحال دی اوس
دی دی خپله خوشحالي کړي هم نه ده کړم

صفحو راوړلي ه خپل پښتو ګرامر په سريزې کښې وايي چه «د خوشحال

خوشحال یواړی بې لښکره هم د روح د غرور تو شین زمری دی.

د زړه زور مې مطلوب په لښکر نه وی
مګر زه هر کله یواړی په خپل ځان شی

او همت، قوی عزم، کلکه اراده د ده د لوړ شخصیت څرګندې نښې دی

که می خلق له تندی وځ شی په همت کښی
پروا دار کله په حوض د کوتر یم
په وګړو مې حسرت د مرد یه شی
په همت کښی به هر لوری ښاهوړ یم

په همدې سلسله کښی کوم شاعر چې د شعر ملغلرې په پېښو خپرې څوی د ده زړه
په داسو ډکه غواړی

د هغه شاعر دالې وشه په زړه نې   چه د شعر دردانې بلوری په تال

بې لښکره پادشاهی کول هم د ده د خودۍ او ځان باورۍ نو څرګند دلیل دی

شه عجبه پادشاهی لکه خور شید کړم
یك تنها په جهان ګرزم لښکر نشته

خوشحال خان د خپلې خودۍ پاموخو د ت د څرګند و او د پاره ځان له نار
سره مشابه کوی او دغه ئی د طبیعت ښکاره مثال دی

طبیعت مې په مثال د نا تور نار دی
چې بې ګوری د غر شی و ښکار ته تیار دی
لکه نار په لوی غرور و نا منظر دی
نه چه ګرزی ګوښکې نسی ماد خورك یم

د خوشحال د لوړ ادبی او علمی شخصیت اغېزه دومره قوی او زور وره وه چه
خپله کورنی او اولاد خوشه کوی، چه د غره حقك ئی هم قول شاعران کړل

د خوشحال سره که کسیی نو څوکاله
داد غره حقك نه واړه شاعران شی

د خوشحال د شعر له رو هنتان نه داسې نالې او شیلې راووتلی چه د لرې
او برې پښتو نخوا قول ناغو نه ئې تاره او پېړ اره کړل.

د خټکو د ادب نه آسمان کښی که د اشرف خان هجری، عبدالقادر، صدر خان،
سکندر خان، ګوهر خان، افضل خان، کاظم خان غوندې ستوری په ځلیدو راغلل،

دغه د پوهیالو تود یالو دکار طریقه او لار ده خوشحال هم په دغه لار تللی دی. وایی:

چه په نام پښتون عوځیږی دی خو سیږی اورنګ هسې رنګ پادشاه دی د اسلام
چه نیك خوا بدخوا همه ورته یکسان دی سه تمیز نشته نه ئی څه عدل اعتدال
چه د ښو سړو قدر نه پیژنی ښه ځکه زه ورځی کړم هم په حال

خوشحال خټك زموږ د ملی او قومی تاریخ د ماښی یو لوړ مسیاد دی د ملیت او قومیت او پښتو ولی کومه ژوندۍ جذبه چه دده اشعارو په پښتون اولس کښی پیدا کړی ده همی ته په سپکه سترګه کتل د سپکو خلکو کار دی موږ چه د ځینو نورو د اولسو او څو مره تاریخونه کتلی دی، همدی قولو د ځان د حکومولو او ساتلو دپاره د یر تاریخی حقیقتونه له پښو لاندی کړی دی خوك چه په تاریخ کښی ژوره مطالعه لری همه پدی پوهیږی چه د پښتو په باره کښی پردو مؤرخینو خپل قلم په پټو سترګو چلولی دی او تل ئی خپله درنه او ددوی سپکه وېلی ده. په دی باره کښی د ګلستان رحمت لیکونکی نواب مستحباب خان د حافظ رحمت خان نمسی خو زموږ سره پوره هم خیال او هم فکر دی. دی وایی

«چه د ملو ددوری قول تاریخونه د طمع، ویری، فرمایش له کبله غلط ایکل شوی دی او د پښتو امیرانو حالات بی ځوابه کړی او له حق ویلو څخه چپ پاتی شوی دی»

د بارسی ځینی تاریخونو دا ئی ښو اولاد غوری غلجی ملی دی حال دادی چه دغه کلمه یو هم نه ده اصله خبره داده چه د غور شاه حسین نومی شاهزاده چه په غلورم پښت شنسب ته رسیږی له پلار او مور نه مرور شو، د کی غرو ته لاړ او دبیټ نیکه په کاله دیره شو.

دغلته بی د بیټ نیکه له لور بی بی متو سره مینه پیدا شوه، بیټ نیکه د دغه شهزاده د نسب د معلومولو دپاره (کاغ) نومی سړی غورته ولیږه. دغه له غوره د شاه حسین د نسب صحیح معلومات راوړل نو بیټ نیکه بیا خپله لور ورواده کړه چه اولاد ئی د (غرری، غوری زی) په نامه یادشول

د کاغ ددی خدمت په سلسله کښی شاه حسین د کاغ لور (مهی) هم د غه په عوښتنه وکړه چه اولاد ئی کاغزی ملل کیږی دغه خلك اوس د مشکو په نامه یادیږی چه

کورنی هم د غرنی کورنیو په شان یو خاص کرکټر درلود او هغه دا دی کورنی د میرمنو له علم او فضل څخه عبارت ؤ لکه چه د دې کورنۍ ډېرو میرمنو شعری طبعه لرله او ښه ښه شعرونه یې ویلي دي

د خوشحال کډه د اشرف خان خپله مور ډېره ښه شاعره وه»

د خوشحال د شخصیت په باره کښې کله کله دا خبرې اورېدل کېږي چه دی په لومړی سر کښې د مغولی حکومت تنخوا خور ؤ دا خبره روښه ده خو دلته د تاریخ په فلسفه باندې هم یو رغلند نظر په کار دی.

د خوشحال پلار شهباز خان د جهانګیر میرانی خان ؤ، د دې میراث ساتل د مغولو له بې ستري واکمنی سره له خوښېت نه پرته ګران او مشکل کار ؤ بله دا وه چه اکوړی د هندوستان او خیبر په لویه لار پروت ؤ هغه وخت د هند د لویی امپراطوری سره د تیرا، ننګرهار، او سوبیر په غرونو کښې هم جنګېدل سخت وو، پاتې لا په سمه او هواره کښې. کله چه د خانۍ وار خوشال ته را ورسېد، نو ده هم په اول کښې د خپل پلار لار و نیوله او تر څو چه یې له مغلو سره د کښې ژوندون کوزاره کولای شوه، و یې کړه. مګر هر کله چه اورنګزیب د روح نیتې له لارې وا وښتلو د ده په قومي غزت او دیت باندې وغلو سید نو ده هم په ډاګه وویل

بله هیڅ لیدله نه شی په دا منځ کښې / یا مغل له منځه ورك یا پښتون خوار

خوشحال هیڅکله د سو په مقابل کښې توره نه ده را اخیستې مګر کله چه یې د ظلم ناکردې او ناتار و نه ولیدل نو اخرې حیلې ته یې لاس وروغزاوه، (آخر الحیل السیف) او دا غږ یې پورته کړ.

پښتانه چه نور څه مکر کانا پوه دی / یې له توري خلاصی نشته په هل کار

دا غږ په هندوستان کښې بهلول لودی او شیر شاه سوری هم پورته کړی ؤ، که نه په اول کښې دوی هم د مغلو په لښکر کښې نوکران وو، شیر شاه د (جنید برلاس) له خوا چه په جونپور کښې د بابر والی ؤ، د هغه د دربار ته ورداندې شوی ؤ.

میر ویس نیکه پس له ډېر زغم او صبر له توري ته لاس وا چاوه. احمد شاه بابا د نادر افشار تر مرګه پورې د هغه لوی منصبدار ؤ مګر کله چه د کار موقع رافله نو بیا یې میدان ته را ودانګل او پښتنی ننګ یې په ځای کړ

د راجه سهدیو له مرګه وروسته د شمس الدین په لقب په کشمیر کښې پاچا شو .
دی په اصل کښې د سوات د پاچاهانو له کهول ؤ (۱)

د دې کورنۍ شپاړس تنو په کشمیر کښې پاچاهي کړې ده . کشمیر تر (۹۹٤) پورې د دوی په لاس کښې ؤ چه بیا د مغلو په لاس ورغی .

موږ تر اوسه پورې د نورو په روایت اخون چالاك خټك ماله ، مګر کله چه ما په خپله د تاریخ مرصع پاڼې ولټولې نو څرګنده شوه چه اخون چالاك تو هم ترین دی او په خټکو کښې د اوسیدو په وجه په خټکو مشهور شوی دی .

د دغه شان کوم تاریخي معلومات چه د روښان او د ده د کورنۍ په باره کښې معمولي تاریخونو بیان کړي دي هغه د حالنامې د قلمي نسخو په لوستلو ثابت غلط او ناکره ثابت شول مثلا د روښان د مرګ سن تاریخ (۹۸۰ﻫ) او د مور نوم یې (ایمنه) دی . حال دا دی چه د دغه مل شی ؤ ، د پیرا د صمادی د کوتل په بیخ کښې داخداد او دراخه بهاري د جنګ او د راخه د ماتې کیسه په نورو تاریخونو کښې نه ده راغلې .

د عبدالقادر د خور د کلاښدې کومه کیسه چه د ښتان مذاهب لیکلې ده ، هغه په حالنامه کښې په بل ډول ده . حالنامه لیکي : چه یو سپاهي په لاره کښې د عبدالقادر د خور څادر ته لاس واچاوه په دې وخت کښې داخداد یو خدمتګار کتوری په بیره ووهه او له زمه یې کښته وغورځاوه (۲)

له ما ورسره د شاه منصور د لور بی بی مبارکې د واده کیسه چه نورو تاریخونو په کوم رنګ راوړې ده ، پیر معظم شاه په تواریخ رحمت خاني کښې په بل شکل او طبعي بستې رنګ بیان کړې ده

دا خبره هم باید ووایو چه د پښتنو تاریخونو او مغلي تاریخونو تر منځ لوی فرق دادی چه پښتانه خپل غنیم په سپك نامه نه یادوي ، مګر مغلي تاریخونه سپکې سپورې وایي د مثال په توګه حاجي محمد عارف کندهاري په خپل کتاب تاریخ اکبري کښې ځای په ځای داؤد افغان د میاسلیمان کرلاني زوی چه د بنګال د ولایت حاکم ؤ د مردود او مطرود په نامه یادوي او افغانانو ته خونخوار وایي (۳)

---

(۱) تاریخ کشمیر - د نراین کول تالیف د کلکتې د نیشنل لایبریرۍ قلمي نسخه
(۲) د حالنامې قلمي نسخه - د محمد علیګړ په کتابخانه کښې . (۳) تاریخ اکبري (۲۱۸-۲۲۳) مخونه د رامپور چاپ ۱۹٦۲ ع - د ده داؤد خان په (۹۸٤ ﻫ) کښې د اکبر د عسکرو د لاسه په یو جنګ کښې ووژل شو .

په اصل کښې د یوه غره نوم دی (۱) له دې څخه ښې ښکاري چه د هغو خلکو نظر په چه
ننګنن یې قریش بللي دي یعنې علته ثابتیږي

د سلطان محمود غزنوي په باره کښې څومره چه پښتو تاریخونه لیکل شوي دي
مګر دده د یو خوریی سالار مسعود غازي نوم تر اوسه پورې د ناپیژندګلي په
حال کښې پروت ؤ او چاته پوره معلوم نه ؤ.

داریانا د مجلې د پنځم ځلو پښتم کال د نور په ګڼه کښې دومره لیکل شوي دي
چه حضرت سالار مسعود غازي د غزنوي عصر یو سړی دی چه په ۴۲٤ ه کال کښې
شهید شوی او مزار یې په (بهرایچ) کښې دی داهم وایی چه دی د سلطان له اقاربو
څخه ؤ مګر کله چه موږ د نواب محبت خان په بخ د ریاض المحبت د پښتو فرهنګ
برخه وکتله نو هلته د دې خبرې شرك ولګید چه سالار مسعود غازي څوك ؤ؟ د هغه
فرهنګ د اعمال د کلمې په اوځار نه کښې لیکي چه د سلطان محمود مور د زابل
دیوه مشر لور او پښتنه وه، سلطان محمود خپله خور د ملك ساهو د اعمامانو زنمر
ته ورکړې وه چه سالار مسعود غازي یې زوی ؤ او د هند په (بهرایچ) کښې اوسېده د ده
نسب نامه بیا وروسته په هلته سید سودل شوې ده (۲)

د پارسي په ډېرو تاریخونو کښې دا خبره مشهوره ده چه د هند خلجیان ترك
دي مګر تر اوسه پورې موږ د دې خبرې درد کولو د باره یو څرګند سند نه ؤ
موندلی ډېرو کسانو د ضیاءالدین برنی مشهور مؤرخ تاریخ فیروز شاهی (۳)
اوسني دی مګر دا خبره یې درهمې نه ده واضح کړې چه خلجیان، ترکان نه دي
دغه تاریخ لیکي «کله چه جلال الدین خلجي د ډیلی په تخت کښېناست نو د ښه
سارتیه نه ورته، ځکه چه خلکو ته د ترکانو په ځای د خلجیانو باد شاهي منل
سخت معلومیدل او قبول یې نه صعب کښې. دو چه خلجیان ځکه د ترکانو په ځای
د پاچاهی په تخت کښېناستل» (۵۳مخ)

موږ ډېر ممنون یو چه تاریخونه اوسني دي خو دا خبره یې کښې په څرګند ډول نه
ده راغلې «چه د کشمیر لومړنی مسلمان پاچا شاه میر ؤ چه په (۷٤۲ ه) کال کښې

---

(۱) تاریخ مرصع آماده د هند د علیګړ د کتابخانې قلمی نسخه. (۲) د نواب محبت
خان د فرهنګ پښتو قلمی نسخه چه د رامپور په رضا کتابخانه کښې ده. (۳) دغه تاریخ
په (۷۵۸ ه) کښې لیکل شوی او په هند کښې چاپ شوی دی.

د ختکو د نورو خېلونو تاریخ بیان کړی دی او ډېره برخه اصل حال به تاریخ
مرصع کښې راوړې. نو که چا بیاس ته د پښتنو تاریخ ویلی وی په دغه اعتبار به
وی له دې لیکې تصریح، وروسته اوس مونږ ته د نثر په کتابونو کښې د خوشحال
دوه اثره پاتې شول چه یو دستار نامه او بل بیاض نو دادی غواړو چه په لنډه
سره دمه توګه د خوشحال د نثر په شاوخوا کښې خپله خبره د ادب خاوندانو ته
وړاندې کړو

دستار نامه

دستار نامه د خوشحال د نثر یو غوره او مشهور کتاب دی نو دې کتاب کښې
څه دی؟ هر څه لکه چه د خوشحال کلیات د هر زار مطالعو یو لویه خزانه ده،
دغسې دستار نامه هم د ژوند په قولواند خونو نامدې پوره رڼا اچوی - د دستار نامې
اصلی مقصد د مشرتوب او د ښکی دونه توب شرطونه ښودل دی، د دستار نامې په
سر کښې وایی

چه دستار تړی هزار دی د دستار سړی په شمار دی

یعنی ډېر څوک چې د ښکی تړلو او د سړی لایق وی، ډېر لږ او په شمار دی
نه یوه او لایق مشر د ټول اولس د لوړتیا د پاره د سا او روح مثال لری، له دې کمله
خوشحال خان دغه ښکی ته پوره متوجه شوی دی او په دوه بابونو کښې یې د مشری
صفتونه او شرطونه ښودلی دی لومړی باب په شلو هنرونو او دوهم باب په شلو
خویونو شامل دی خوشحال په دستار نامه کښې د حکومت او قدرت شرطونه
نه بیانوی بلکه د مشری صفتونه بیانوی نو دا ضروری نه ده چه دغه مشر دې هرومرو
د اقتدار او حکومت خاوند هم وی. په پښتنو کښې داسې ډېر مشران او سپین ږیری
وی چه قوم ورته د مشر په سترګه ګوری مګر د حکومت او اقتدار خاوندان نه وی په
خپله خوشحال یو دغسې مشر ؤ میارو بیان هم دغه ډول مشر تیر شوی دی د خوشحال
د دستار نامی مثالونه په نورو ژبو کښې هم شته مګر د یو داسې لیکوال مثال نه کم پیدا شی
چه هم لوی شاعر وی هم لوی مفکر وی، هم لوی سرلښکر وی او هم د نثر عسئلی لیکوال وی
په پارسی کښې قابوسنامه یو داسې کتاب دی چه له دستار نامې سره زیات ورته
والی لری مشترک مواد هم پکښې ډېر دی مګر اساسی فرقونه هم پکښې شته دی
خوشحال خټک خپله دستار نامه د ټول اولس د پاره لیکلې ده په عامه ډول او اسی
او اجتماعی ده او کی کاوس قابوس نامه د خپل زوی ګیلان شاه د پاره کښلې ده
چه په اصل کښې یوه نصیحت نامه ده

مگر ددې په مقابل کښې اکبر بادشاه پهدې الفاظو ستایي (عادلیست که جمیع ممالك هندرا از رجس حرامات وفسق وفجورات پاك گردانید (۳۷ مخ)

دغه شان بو بل مغولي مؤرخ خورشاه بن قباد الحسیني په تاریخ قطبي کښې یو مغولي شاهزاده دناوړو کارونو په نتیجه کښې جنت ته بیایي «و در همین سال شاهزاده مظفر اوا ابراهیم حسین میرزا بسبب شرب مدام و کثرت مباشرت باخوابان سیم اندام بمرض صعب گرفتار شده بروضهٔ رضوان شتافت» (۴۹۱ مخ، تاریخ قطبي دډېلي چاپ) لهدې څخه ښې څرګنده وروسته مونږ دا نتیجه استنلای شو چه د پښتو مشرانو په باره کښې دمغلي اوګړو مورخانو تاریخونو نظر له حقیقت سره نږدې والی نه لري. نو لهدې کبله ښایي چه بې طرفه مؤرخین بوازې دمغلي تاریخونو په لوستلو بسیا نه شي بلکه پکار دی چه لومړی هغه تاریخونه وګوري چه پښتو لیکلي دي او بیا ورسره لهجل بې طرفه قضاوت نه هم کار واخلي. پهدې صورت کیدای شي چه د پښتني تاریخ اصلي څېره ور معلومه او څرګنده شي. مونږ پهدې حساب که دخوشحال په باره کښې هم نورو مؤرخینو څه لیکلي وي، هغه نه دي بوغرض لهمخه وي او دخوشحال اصلي شخصیت ته کوم تاوان نه شي رسولای تردې ځای مو بېد خوشحال په شخصیت وغږېدو او س به ددهٔ دنثر په څېړنه لاس پورې کړو.

دخوشحال د نثر کتابونه:

دخوشحال منظوم آثار خوریات دي او هرچا ته معلوم دي دلته مونږ غواړو چه بوازې دنثر په کتابونو وغږېږو

دخوشحال په مشورو کتابونو کښې بوازې دستارنامه او دبیاض نوځینې برخه ناله نظره تېره شوې ده دپښتو هدایه اوعنایه یې تراوسه پورې لا پته دي د فقه دواړه کتابونه یې له عربي نه په پښتو کړي دي دفقه وروستی کتاب قولو لیکوالو د (آئینه) په نامه راوړي دي، مګر نابېد چه دعربي فقه مشهور کتاب (عنایه) وي. دځینو لیکوالو په آثارو کښې د(عیار دانش) دپښتو ترجمې اود پښتو دتاریخ نسبت هم خوشحال ته شوی دي، مګر مستر راورټي دجېل پښتو ګرامر په سریزه کښې دغه اشتباه له مخه وېستلې ده. دي وایي چه دغه دواړه خبرې غلطې دي کلیله دمنه افضل خان ختك دعیار دانش په نامه په پښتو ترجمه کړې ده او په دوهم نظر کښې یې (علم خانهٔ دانش) بللې ده.

دپښتو دتاریخ نسبت هم خوشحال ته پهدې وجه شوی دی چه ده په بیاض کښې

د دستار نامې د نثر ښېګڼې او خاصیتونه:

د دستار نامې نثر بوعادي او ازاد نثر دی یعنې د تول او قافیې په لومو کښې نه دی نښتی ، ددې نثر لویه ښېګڼه داده چه جملې یې لنډې او پرځای کړې دي او د حیرانیان او ممکن په شان اوږدې اوږدې جملې نه ځوړوي د مثال په توګه د ځلاندې نمونې وګورئ ・

جهان په دوه توکه انتظام او قوام لري په علم په توره ـ که توره نه وي علم بې قوته دی قوت یې توره دی د علم څښتن محتاج د تورې د څښتن دی ، د تورې څښتن محتاج د علم د څښتن دی ، بې شکه ماهان هغه دی چه د واړه توکه لري په یو لاس کښې کتاب په بل لاس توره ـ د دې جهان په دولت د همه جهان دولت حاصل کا د شجاعت بحر اول د پیغمبرانو ده ـ بیاد پیرانو ده ـ واړه پیغمبران میړني وو ـ تر واړو نه میړنی محمد رسول الله (ص) و د ده د شجاعت تاثیر و چه اصحاب یې میړني وو داخل دی (چه سردار یې میړنی وي لښکر یې میړني وي)مګر سره ددې هم د دستار نامې په نورو نثر کښې د حملو دعو ډښت له کبله یو څه ګراني او سختي ایدل کیږي او په ځینو ځایو کښې ډېرې عربي او پارسي کلمې هم راوړي کله کله په کښې داسې ناآشنا عربي لغات راځي چه بې له قاموس نه بل ځای نه حل کیږي لکه

قدید ـ وجه‌وبیه ـ تهمت ـ حرص او نور ・

ولې ددې په مقابل کښې د پښتو سوچه او ښکلي لغات هم زیات استعمالوي لکه رکوټ ـ ورچې ـ بې مڼې ـ تلوار کړو لکې او نور ・

د دستار نامې د ترجمې لارهم ډیره ښه ده او مطلب په ښه عبارت کښې بیانوي لکه

انا و اشاب التایب کهاتین فی الجنة واشار بالسبابة و الوسطی ・

ترجمه ـ یعنې زه او تایب ځوان نه بهشت لره څو لکه دا دوه ګوتې ・

په دستار نامه کښې ځینې نوي افعال او د افعالو نوي شکلونه هم ډیر دي چه په ورو سته ډول ښودل کیږي :

۱ ـ کاږه ـ ووې ـ د (کوږه ـ ووېل) په ځای راوړي په حېروانرو کښې اوس هم (ووې) ویل کیږي ・

۲ـ و پوښتیده ـ داصیغه د معلوم فعل (و پوښته) په ځای راوړې ی لکه (مولانا عبد الحکیم سیالکوټي مې په خپله و پوښتیده ・・)

د قابوس نامې لیکنه ډېره ساده او عادي او دستار نامه په پوخ ادبي رنګ لیکل شوې ده، قابوس نامې ډېر واړه واړه مطالب په یو باب کښې راوړي دي لکه د شراب خورۍ ترتیب، د حمام کولو طریقه — د کور او ځمکې اخیستل او داسې نور

ولې ددې په مقابل کښې د دستار نامې مطالب ډېر مهم او اوچت دي لکه د معاشرت هنر، د شجاعت هنر — د سخاوت هنر او نور

د دستار نامې او قابوس نامې ترمنځ بل لوی فرق دا دی چه په قابوس نامه کښې د مطلبونو بیان نه دی راغلی، یوازې کسونه او کارونه دي او کوم سپېڅلي خوبونه چه دستار نامې راوړي دي، هغه نه لیدل کیږي لکه مشورت، شرم و حیا، انصاف، توکل، همت، غیرت، احتیاط او نور — په دستار نامه کښې سیاست، تدبیر، اخلاق، پښتونولي، سپېڅتوب دا ټول یو ځای شوي دي

دا ښکاره ده چه د دستار نامې مطالب نه په پخوانو کتابو کښې هم راغلي دي او خوشحال نه ورځنې مانده اخستي وي، ولې چه علم او پوهه په نقل او روایت رانیږي، مګر دا هم باید ووایو چه اساسي دماغونه په عامو اساسي فکرونو کښې سره شریک دي. علم او حکمت د ټولو شریک مال دی په هر وخت او هر ملک کښې هر څوک د خپل ژوند د سمون د پاره لارې لټوي او فکر کوي. نو په دې حساب کیدای شي چه خوشحال خان هم ځینې شیان له خپل دماغه راویستلي وي او ځینې نه بې له نورو نه اخستي وي

په پخوانو پوهانو کښې د نظامي عروضي (۵۵۰ ه) چهار مقاله هم په ډېرو شیانو کښې له دستار نامې سره ورته ده.

په لومړۍ مقاله کښې د دبیرۍ، په دوهمه کښې د شاعرۍ او په دریمه کښې د نجوم او په څلورمه کښې د طب ماهیت او ځینې نور دل شوي دي. د شعر په برخه کښې له دستار نامې سره نږدې والې لري، مګر فرق دا دی چه نظامي عروضي د یو پادشاه د پاره د دبیر، شاعر، منجم او طبیب وجود لازم بولي او خوشحال په دستار نامه کښې په خپله د بشر او پاچا د پاره دغه راز صفتونه او خوبونه ضرور ګڼي

لنډه دا چه خوشحال په دستار نامه کښې د یو خپلواکي لیکوال په توګه خپل معلومات او افکار بیان کړي دي او یو خاص ابتکاري رنګ یې ورسیلي دی چه د جوړښت او ترتیب شکل یې ډېر پوخ او سم دی.

۲۲- کله کله په جمله کښې د ربط و روستي توري غورځوي لکه طعام په دري قسمه

د دستار نامې نثر دغسې نور خاصيتونه هم لري، خو په عمومي ډول دا فقما لو په راوړلو کښې د ارغوني نثر په لاره درومي او ښه پوخ رنګ لري

بياض :

د خوشحال د نثر بل مشهور کتاب بیاض نومېږي په دې کتاب کښې يې د خپل کورني حالات او نورې پېښې بيان کړې دي يو ښه تاريخي سند دی

دا کتاب اوس نه پیدا کېږي خو افضل خان خټک په تاریخ مرصع کښې ورڅخه ځېنې برخې اقتباس کړې دي لکه چې د تاریخ مرصع د شپږم دفتر له بیاض نه نقل شوي دي

په نورو دفترو کښې هم د خوشحال له خولې نه ډېر روایتونه را نقلوي اوس نه د خوشحال د بیاض يو دوه نمونې وګورئ

اوله نمونه: «اول خل چې واندرات ته راغی اصالت خان قوم د علي داشمندي او لیبود اوه سده هم له سه جمعیت، هم سواره هم د پیاده ورسره وو هر ګاه چې په کوتل د ممد کوه ورغلو دوه دري مقامه واقع شول زه يې په سر د کوتل تعین کړم دري شپې مې په سر د کوتل تېرې کړې سختي د باد او د ساړه او همه مشقت چې پاس په غاښې مې څکولي دي، که يې کښم طول غواړي »

دوهمه نمونه: «اورنګزیب بادشاه په حسن ابدال راغی شاهزاده له ډېر لښکر سره د ننګنهار په لوري راغی، د مونږ فکر هسې وو چې په مخې به یاقوله په کوهات وکړو، چې بادشاه راغی، لښکر په ننګنهار راغی، همه کار پاتو شو نور فکر و نه تر میان شول، خوا ناخوا له تیراه نه را روان شوم، په دې عریضه او ژړا د ممارقت وه اما نصیب هسې وو، چې په اخر د جمادی الثاني د تیراه نه را روان شوم.

زار علي، حسن علي، موسی وغیره ښه ښه سواره ملګه راسره وو په ماراز راغلم هورته ایمل خان په مخه راغی سره کښیناستو دی تیراه ته راته، ولې وې چې را سره خاور وه ماوې چې که زه پوهېدای چې ته را پسې زه نه ستا او را تللو ته معطل وم اما اوس روان يم، ابریدو ستمو لم، ستون نه شوم اوس خار وهم څه خو عیب نو ندې شي، يو څو حمري مو سره وکړې روان شوم »

د خوشحال په نثر ولو کښې د موضوع او مطلب له مخه دستار نامه يو غوره علمي اثر دی او د سمك دروانۍ، اسانۍ او خوږوالي له مخه د بیاض نثر اوچت او سپېڅلی ښکاري

ښاغلی دوست محمد کامل د بیاض د نثر په باره کښې داسې لیکي د خان ورځې ورځې فقرې

۳- د مطلقې ماضي صيغې د موجوده وخت په سر او ساده شکل استعمالوي لکه
واچاوه، وېژانده .

٤- وګډاري - اداکړي
٥- د (وريږېده، وبست) په ځای (ورو - وبوست) راوړي .
٦- پوهوهل - او نه دې پوه وهي يعنې وشيندي
٧- پرېښي - کښېښي - د (پرېښود ، کښېښود) په ځای
٨- وخوځېږي - مثلا « نورګوتې په قلم وخوځېږي » چه اوس داسې ويل کېږي
، خوځېدې شي) .
٩- ولوډي - اورتري ولوډي يعنې والوري
١٠- وهاري - مثلا ايت وهاري -
١١- پرېښلي - .
١٢- د (پېژندل) په ځای د پېښل د مصدر افعال راوړي لکه ورو ښايه
١٣- استمراري او مطلق مجهول افعال په دې ډول راوړي (وکښل شي -
وويل شي - واهه شي - وساته شي) چه د دغه شکل اوس هم ترڅو لو ځه شکل ګډ کېږي
١٤- د عملي صفت په ځای کښي د (وونه) کلمه زياته استعمالوي او په دغه واسطه
د مطلق حال مجهول فعل جوړوي لکه: خوړلي ويه ، شمار لي وونه ، ګملي ويه
١٥- ونه ويه - د نه صالي په ځای زيات استعمالوي لکه په قول يې اعتماد نه ويه .
١٦- نه ور اوه - د نه بدلاوه په ځای راوړي .
١٧- د استمراري حال مجهول فعل په دې شان استعمالوي لکه ساتلي شي ،
ورکولي شي - د دغه فعل په لره پښتو نحوا کښې د دغه شان ويل کېږي مګر په اوس
پښتو نحوا کښې د (ساتل کېږي ، ورکول کېږي) په ډول زيات راځي .
١٨- د وصل له (و) نه ډېر کاراخلي لکه (وځمکه وته) او کله پوارې و او
پې له (ته) سر اوړي لکه (وپلارشي) يعنې و پلارته شي
١٩- د (رما - دوي) په ځای له (د ما - د يو) نه زيات کار اخلي .
٢٠- عربي مصدرونه چه په (ح ، ع) ختم وي په مذکر ډول راوړي لکه نکاح
ست دی - ترجيح يې ورکړې دی چه اوس مؤنث استعماليږي .
٢١ - د جملو په جوړولو کښې د ربط توري د مبتدا تابع نه ولي لکه قوت يې
توره دي ، داسې مرګ هم ورلره سوره دي چه اوس په داسې جمله کښې چه مبتدا
او خبر دواړه نومونه وي د خبر تابع دي .

دکتور روان فرهادی

مشرتوب د خوشحال خان خټك

په نظر کښې

د خوشحال خان خټك د شخصیت، سیاسي مشرتوب او سیاسي مسلك په باره کښې یو څو یادونې

خوشحال بابا په خپلو غزلو، قصیدو، قطعاتو او رباعیاتو کښې د خپل دربار وړ تکي او پرماجرا ژوند هره پرده، هره گوښه په ښکاره توگه بیان کړې ده. موږ ته کولای شو چه (دغو کرښو او غزلو او رباعیاتو ته د موضوعاتو د ربط د پاره) د خوشحال خټك له ټولو اشعارو او غزلیاتو څخه چه د خپل ژوند د ټولو پیښو په باره کښې یې لیکلي دي یوه رساله جوړه کړو چه نوم به یې وي «زما سرگذشت» دا رساله به ددغه اتو ټوکو گرامي ویناوې دده د ژوند پیښې او سوانح دده په خپل قلم (هیله ده چه دا رساله د خوشحال خان د یادونې تر ملې څو نورې د محققینو په همت د یوې تاریخي مقدمې سره چاپ شي)

لې دلته په دې موضوع کښې موږ د خوشحال خبرې دده د اشعارو څخه اخلو او بیانوو یې. د دستارنامې د بابا غلی استاد حبیبي له خوا په عالمگیري ډول سره مطالعه شوې او په دې مجلس کښې یې نه شوې ده او د هغې حساب بیل دی

۱ـ دخوشحال خټك دژوند درې دورې.

د خوشحال ژوند (چه له ۱۰۲۲ هجري تر ۱۱۰۰ه‌ق پورې چه د ۱۶۱۳ تر ۱۶۸۹ عیسوي کال سره برابر دی) درې څرگندې مرحلې لري : ځلمیتوب ، د ژوند منځنۍ مرحله او د ژوند وروستۍ مرحله ځلمیتوب یې په خوښۍ او مستۍ تیر کړی دی د ژوند په منځنۍ مرحله کښې یې په سرور او شادمانۍ سره د خپلې قبیلې مشرتوب په غاړه درلود

دژوند وروستۍ مرحله یې چه دده د بوداتوب وخت و په جنگونو او کړکیچونو تیره کړه. ده دیرش کلونه، چه پلار یې ووژل شو او د خټکو د قبیلې د مشرۍ منصب دغه د لوی مسئولیتونو سره ورته وروسپارل شو.

خوشحال خان د خپل ژوند د منځنۍ مرحلې یوه برخه د مغلو د شهنشاهۍ په موافقت او صلاح او د خپل ژوند د وروستۍ برخې یوه برخه د هغې په مخالفت سره تیره

په عبارت کښې يې اندازې خوند پيدا کوی او نيمې د خبرو اترو رنګ ور کوی داسې ښکاری
چه خان په خوله کښې ناست دی له چا سره خبرې کوی هغه ترې پوښتنه کوی او دی ليک ليک
ځواب ور کوی (۱) ښاغلی تقويم الحق کاکا خيل وايی د خوشحال نثر
ډېر روان، ډېر بې تکلفه، ډېر ساده دی خصوصاً په بيان کښې نه تصنع شته نه اغلق پېچ چه هغه يې
په زړه دی هغه يې په خوله دی او چه څه يې په خوله دی هغه د قلم په څوکه راغلی دی (۲)
د خوشحال د بياض په باره کښې دغه تبصره تر ډېره حده صحيح او په ځای ده ددغه نثر د بيان
ډول ډېر ښه او خوندی دی او داسې شيان پکښې شته چه په ځير او ښه لګيږی او زړه پرې ډېر ښاد
کيږی، مګر د دستار نامې په نثر کښې لږ څو مدې تکلف او صنعتی ليدل کيږی
سره د دی د خوشحال د دغه نثر ونه د خپل وخت له ټولو نثرونو ښه ښه او
غوره دی ترڅو چه د تاريخ مرصع له نثر څخه هم ددغه نثر خوند او روان دی لکه
چه ښکاره ده خوشحال د پښتو ادب د دواړو برخو نظم او نثر له پخوانيو د ګنګ څخه ايستلی
دی او نوی رنګ يې ور کړی دی ددغه زمانې په نسبت مطلوب نثر په نوعه ساده او آزاد
نثر وليدلای شو چه د خټکو د کورنی ټول نثر ددغه په لاره روان شوه د دستار نامې په نثر کښې
عربی او فارسی کلمې ډېرې دی لکه (مقيم - مطرب - نوار به - حضور - مطلب) مګر په بياض
کښې ډېر دغه کلمې لږې دی.

د بياض نثر محاورې او خبرو اترو ته نژدې دی مګر د دستار نامې نثر په علمی چوکاټ کښې
لوېدلی دی خو بياض په ساده او آزاد نثر کښې راغلی او په دې وخت موږ خوشحال ته
د روان او ساده نثر لارښود ګڼلی او شو ويلای شو او د پښتو د نظم
او نثر د دواړو ميدانو پهلوان بې ګڼو. والسلام.

---

(۱) خوشحال خټک د پېښور چاپ (۲۹٦) مخ.

(۲) بي بي نوره د پېښور چاپ (۱٦) مخ.

کوکه کړه .

« داورنګ پادشاه بېکا ر ه دی خو احوال »

داولې ؟ ددې سوال ځواب پخپله خوشحال خان داسې ورکوی

په ناحق داورنګزیب په بند بندی یم   خدای خبر دی په تهمت او په بهتان

دګناه مې سر رشته معلومه نه ده   مګر خپل عمر دځان ویم تاوان

۳ ـ خوشحال بابا او نیشنلزم :

زه به دې لحاظ په بوی دور د سیالی راولم

تاسو په نشه رنګینه خمر و مست اوسیږئ
زه ملا تړلی د عمل په اسر میدان ولاړ شم

تاسو په ویره د غمو او ډك څو نه ویښیږئ
زه به زلمی او په ډګر د امتحان ولاړ شم

تاسو د زور او زر جاه و نه حیله کمه کړئ
زه زور او زر ستاسو د خوارو څو بو رنګ کمه

تاسو د غیرو د کلتور په فاکسی هر څه هیر کړل
زه ثقافت مو د نیکو د غیرت رنګ کمه

ستاسو مضمون د ژوند نه نهضی د ایلا د باره
زه مضمون خوا له د ژوند د ارتقا د باره

تاسو به سې لولئ چه ځوانی ته مو شی در کړی
زما اشعار څو به ګلو بو سرې لمبی در کړی

*****

بناغلی خان عبدالغني خان

خوشحال خان خټک ته

د خټکو لوی خانه　　د همت مجنون سرداره
ای غازیه د غیرت　　د زړورو مدد گاره

آ صحرا چه ته لې خان وې　　آ کاروان چه ته یې مېر وې
آ صحرا بوړا بېدوده　　آ کاروان دی بې مهاره

ستا بازان کارغان شوي　　ستا باغونو کې بلبلې
همه باغ لوټ اوروت دی　　بې بلبله بې بهاره

بیا د ننگ توره تېره کړه　　بیا ننگیالیو ته داد وره کړه
شه رضا مرور د رحمانه　　شه مجلا د لښکر سالاره

زړه دا لیدی یې لطافت دی را معلوم — شاید چه دغه نوم هم د مهمل شي پری شمار
رندي دغه حد نه وه پښتنه دغه حد نه — کړی ژوندی غرور ای پښتنه رکی د مرار

څوک وايي چه په خاورو کې دی ډېر خوشحال خټک
په ننګ د پښتانه له سره تېر خوشحال خټک

اوس به یې پېژنګړی خو پښتون ؤ د پښتو — ژوندون که په دنیا ؤ خو ژوندون ؤ د پښتو
صحرا به بیابان په کوهستان چه ؤ تل سر — پښتو لکه لیلی وه مجنون ؤ د پښتو
پرسه کی نېژندلی ورفتار د وحشت د نس — اقبال که د خودۍ ؤ افلاطون ؤ د پښتو

بی نار له حادثو د وحشت په ځېر خوشحال خټک
په ننګ د پښتانه له سره تېر خوشحال خټک

پښتون په اتحاد کې که لا شته خوری شته — لکن به دی ادب کی دالوت ووری شته
په سکاری که هر څو په کی لمعه د قومیت — دیوان د خوشحال خان کی خو لا اور د سری شته
اخر نه د دې سار همه تار و نه واحلیس — بی صبره په کی هم بری لمبی سیدری شته

ملت به د پښتون له کتابه ډېر خوشحال خټک
په ننګ د پښتانه له سره تېر خوشحال خټک

معلوم نه وی هر چا ته قانون دی د قدرت — هرګز نه جدا کېږی دریا څخه حدت
لکن ؤ پښتو لره نا نا او را وړ کی — را څه ریا تری واخله نه کیږی نشته حرارت
هر څوک دی په حق کی د سوز ملک — پښتون د ناره دی ؤ په ګلا نو کی ګټ

دا ځکه خوله زړه دی را چا ته ډېر خوشحال خټک
په ننګ د پښتانه له سره تېر خوشحال خټک

پښتون کښی دې خدای نکړی چه شی قحط د رجال
هر څوک چه د غه قام دی د قام مونو به د شمال

لا شته په پس نظر کښی ئی هغه لی روایات
سیالی کښی د سیالانو خو لا سیال دی چه و سیال

نما ځلی چه « اقبال » ؤ حکومت د پښتو
بیا هر ننګه کیږی شول چه ترې ډېر نه ؤ خوشحال

څوک که بی له موږ نه شو او ډېر خوشحال خټک
په ننګ د پښتانه له سره تېر خوشحال خټک

استاد عبدالحق بیتاب

قصیده بمناسبت سالگره شاعر و قائد بزرگ ملی افغان

جناب خوشحال خان

شاعر ملی ما خوشحال خان   شاعر پښتو و استاد زمان

احتشامی شاعر با عظمت   جانفدائی کرده بهر همگنان

همچو حسان واقف اسرار نظم   همچو سحبان صاحب نطق و بیان

زیب گوش خویش کرده سامعین   خامه‌اش هر گه که گشته درفشان

با دیانت هم او از همعصر   با شرافت زاده بوده توأمان

در سیاست کاردان بس بزرگ   در شجاعت با مهابت پهلوان

می‌در آمد چون بمیدان مصاف   عقل گفتی هست یک شیر ژیان

مرغ آزادی شکار خویش کرد   زانکه بوده زادهٔ شهباز خان

در سخاوت خود کس مثلش نبود   همچو حاتم صاحب دستار خوان

آری آری کس برای قوم خود   تا نگسترده است خوان کی گشته خان

در وجودش حب قومی روز و شب   داشت سلطه آشکارا و نهان

در اسارت هیچگاهی تن نداد   بلکه داده بهر استقلال جان

جنگ او با ظلم و استبداد بود   وضع استعمار بد بدی ازان

از برای پیروان چندین کتب   یادگاری مانده و دیوان کلان

پیش‌شان سرمایهٔ افتاده است   بهره بردارد از و پیر و جوان

نه بود از گنج زر گنج سخن   وارثان هستند زین روشادمان

بافصاحت این کتاب مستطاب   درس آزادی دهد از بهر شان

رزمی و بزمی در و شعر است جمع   بر موافق با معانی و بیان

شعر دری هم سروده گاه گاه   بوده پشتی از تعصب بر کران

باوجود این که چندین قرن رفت   دیگری پیدا نگشته مثل آن

او فراهم کرده با تیغ و قلم   روز و شب همراه جمع دشمنان

مهرمن بشرا بېګم
دکوزې پښتونخوا

خوشحال بابا

دې نورو خاورو ښکاره کړه صورت د خوشحال خان
تاریخ به موم هېر نه کړي تر قیامت د خوشحال خان
اسمان کې لا تر اوسه د خوشحال د توري شرنګ شته
دې زمکې ته هم یاد دی شجاعت د خوشحال خان
د قام د آزادۍ په خوږ د دی د ځان محروم
نور هغه له مغل نه و عداوت د خوشحال خان
تمام عمر یې تېر کړو په پردیس د هندستان کې
له ژونده د غلامۍ نه و نفرت د خوشحال خان
ژوندی د آزادۍ روح یې په قوم کښې پوک وهلو
کاش بیا سرحد پیدا کړي شخصیت د خوشحال خان
ای زمکې د سرحد بو ځلې بیا ګی را پیدا کړه
هغه ځلمی چه یوسي وراثت د خوشحال خان
لمن ګې د پښتو ژبې کړه ډکه تمام لپاره
پښتو کې به ورک نه شي اشاعت د خوشحال خان
هر شعر یې شیر یې تر انګبین دی په ونا کې
کلام کې ربا څولی لطافت د خوشحال خان
مزار د ځوانمردانو په سرو زرو جوړېدی شي
ننګیالو جوړه نکړو زیارت د خوشحال خان

ښاغلی محمد صدر سالارزی

دخوشحال خان بابا په یاد

ځمکې سینه کښې دې د تورې قهرمان پروت دی
پام کوه دا د پښتونولی ترجمان پروت دی
چه صاحب ئې امامت روح د جهان پروت دی
دا د مشرق د دنیا ستوری د آسمان پروت دی
دا پهلوان د زمانې ښه امانت وساته
دا افتخار د ننګ روغ سلامت وساته

٭ ٭

داهغه څوک دی چه رڼا ده د مستقبل د ستاره
ملی سالار و د تصمیم د مقبل د پاره
آسمانی تندر و د غرور د جهل د پاره
په خپل وطن کښې ئې جوش وه د نوی نسل دپاره
دی دافغان د ننګ ناموس د حماسې بانی و
شاهکار د تورې د پښتون د حریت بانی و
دی پیدا لې د ښکلو اوی قدر د ځمکې!
دی مدبر د ښار ... مو ملی رهبر د ځمکې
روزلی تا ځیره خاور په غیږ کښې اے وطن ځمکې
دی د صحراو د ... رنګینو پهر و ځمکې!
پام کوه او په سر ما ... ملی غرور دی د قام
ښه ئې ساته دره دو سر د سر ګوهر دی د قام

٭ ٭

ځمکې د رب روی مې دروندی کړه ول ... کوه
حیلم ... وا حله ... آموږ ... ژ ... ول ... کوه

چونکه بوده نافع نوع خود — چونکه بوده خیرخواه مردمان
خواستند از خامه چون سال و بود — گفت «خیر عالمیان» در زمان (۱)
۱۰۱۲

بسکه بوده با رسوخ و با نمود — داشت رسمیت بدربار شهان
باشهامت چونکه بود و کارگر — قدردانی کرد از او شاه جهان
روز یاد بود او بگرفته‌اند — با کمال شوق اینک دوستان
هر کسی در وصف او چیزی نوشت — این قصیده هست از من ارمغان
این همه از لطف اعلحضرت است — کو بود بر قوم افغان مهربان
احترام زندگان هم میکند — اهل دانش راست از بس قدردان
تخت و بختش باد یارب برقرار — از طفیل عاشقان و ها رمان

در هزار و سه صد و هشتاد و پنج
این قصیده گفت بیتاب ناتوان

(۱) این ماده تاریخ را من ساخته‌ام شاید در زمان بولدش ساخته اند (بیتاب)

سەنـا کار نامو نەدی ئن ئیاسەر گی بە ھار حۆسکە

بە قام دی ئیاد ا منھا ن ر ا ھـلـی وا ر حۆنکە

سەر کرە ر ا ئور تە قامی نورە ئیم کنوھو ادی کرە

بەنوادم تە ور بە بادە ددر حو ھو اد ی کرە

حو ھالە ھی د کاەی کرم بەر روبھان تە ر کرە

وا بە قامی ترحا اسی ئیاھر ا ئما ن تـە ر کـرە

ئیور بـە ھیر ھمارە مطر حواو ھا حھان تە ر کرە

دانگە ھەر د تر کا ھو ھـەر ا حا ن تە ر کرە

سالا رری وا ئی دملی سەو ن لھا ت ھـو ا لە و

دحق بە لارە ا سا ئی زوالە مسا و ا ن ھو ا لەو

ستاد لحد سینې کښې دردی پروت خیبرل مه کوه
که پښتنه ای په خپل کور کښې ری ول مه کوه
د ادب رو څپانه لسر د پښتون خواو کې
داد پښتون د ژوندانه لوی مسیحا و گڼه

✡ ✡

ډیر ارمانونه شو دلته به څې څیرو کښې پاتې
خوبلو شوی مه ای تر ډیره وی پیښې و کښې پاتې
خلاند تاریخ مه ای وی نل و حلکور پدو کښې پاتې
ماب د عظمت ای د وطن لویو و پدو کښې پاتې

تودی سری چه ای گا للی وی د قام د پا ره
ملی قـو لـمی به ای سـا ای شـامـدام د پـاره
هوك چه د قـام او د وطن د ار تقـا د پـا ره
کړی ی حد متونه د ملی ژو ند د بقا د پـا ره
مـاضی آینـه د مستقبل شی د هر چـا د پـاره

مـی ریـا ر ای ا فتخـا ر شی د سـا د پـا ره
یا تری خوشحال یا احمدشاه یا میرویس خان خو پدشی
یا تری ایمل بادر یا خان یا با چا خان خو پد شی

✡ ✡

نسیم و پدموکښې د سپار د څه څو اب را و پدی
د تاریخ پا پو د قامی ژوند سم حساب را و پدی
در مـا ی طبیعت بو ی ا نقـلا ب را و پدی
د کړ لیچو بو د سـو ن ای نوی ماب را و پد ی
وا تقا ضا ده د فطرت قامی ملتون نه څوا پدی
قوتی قوتی ی وا که ژوند نور د پښتون نه څوا پدی

✡ ✡

ای د وطن د ننگ ناموس خیا نه ر ا ر خـڅـکه
ای د پښتون د قـا فـلـو سفـر د سـا لا ر خـڅـکه

خوږه و خوږ پښتو او دري نو سره يو شي به سره يو شي ها

ځان پوه کړي به د خوشحال او ناچاخان په ارمانونو

زموږ پښتو او دري نو په عزت او احترام

خوشحال مې کړي به د ګرانو ميلمنو په عزتونو

د هند او د ايران او شوروي له هيوادونو

د کونړ ملکي، بېجوړ، او د خيبر له اولسونو

راغلي ميلمانه دي په معنا کښي ډېر درانه دي

پوره دي زړه سپېڅلي د ادب په معنا زړونو

قدم يې په لېمو کښېږدو ، احسان يې په سر او بڼو

زمونږ سوغات دي پوهې د دوستۍ او سلامونو

له زړه د افغاني په ډېره مينه دې سلام وي

په پوهو، هنرونو او فرهنګيالو لوړو اونو

د اسد ۳۰ / ۱۳۴۵ ش

د افغانستان راډيو تالار

ښاغلی عبدالله بختانی

د محفل په یاد

ددې درانه محفل په یاد شو ما ته تر کلو نو
د نوي او زاړه ځوانان د محفل په فکر و نو

د ننګ او غیرت او د همت خو بڼې ننداري
خوشحال مو په تندو لی ښه رڼو ډیر نو ښکاره نو

د عزم او د [illegible] او [illegible] او د [illegible]
[illegible] مونږ [illegible] د خوشحال له [illegible]

ښکله چه د تو ري او [illegible] لوی [illegible] ماڼ و
مونږ لیدې [illegible] مشکل دی د جهان په تاریخو نو

لیکوال [illegible] حکیم او [illegible] شاعر و
اما په کښې [illegible] کړو د ننګ په میدانو نو

د ده د شاعرۍ او عمل [illegible]
[illegible] کړی د [illegible] ننګه محفلو نو

خو را شی [illegible] اخلاص [illegible] کړو د عمل کښې
[illegible] کښې [illegible] کړو د عمل [illegible] نو

[illegible] اولی [illegible]
د ننګ [illegible] کښې [illegible] خورو ورو قومو نو

ننګ وکړو د خوشحال [illegible] د خوی
[illegible] کړو د [illegible] [illegible] نو

[illegible]
د قام او د وطن [illegible] و [illegible] نو

[illegible] که د عمل ورسره [illegible] شو [illegible]
ددې درانه محفل به یاد شي یا به تر کلو نو

که د خوشحال په دغو دوو خبرو موږ عمل وکړو نو دې خوارۍ، زارۍ او بربادۍ
نه هم زموږ او هم ستاسي وطن خلاصیږي زه د پښتو او اقتدار مخالف نه یم، د یو قام
د پاره د اصروري څیز دی چه دې موږ هم شي خو چه ستا د غریب او نور سري قوم تعلق
ورسره وي زه اقتدار غواړم، حکومت غواړم، خو ددې د پاره نه چه زه دې حاکم شم
زه که غوښتم او همه پیسه خوښوم او همه اقتدار غوښتم چه د قوم او وطن د خدمت
د پاره وي

د خان عبدالغفار خان

وینا

زه اول د افغانستان د حکومت او د افغانستان د صدراعظم نه شکریه کوم چه د خوشحال خان په یاد کښې دا سیمینار جوړ کړ او بیا وایم، تاسې ډېرې خبرې وکړې

په دنیا کښې په نشو خبرو قومونه او ملتونه او څیزونه نه شي همه قومونه چه ډېرې خبرې کړي همه رسوا به پښان خوار دي او چه خبرې نه کوي او کار کوي همه آباد دي

د دنیا نور قومونه هم رسوا به پښان دي خو هغوی آسمان ته ختلي دي پښتون لا تش خبرې هم نه شي کولی. کوم قوم چه د ټول خبرې نه شي رسولي همه قوم په دنیا کښې ترقي کولی نه شي

موږ د اسلام چیغه وهو، زه به تاسې ته د حضرت عمر یوه کیسه وکړم همه ته یو ندوی وویل چه تا چه داخوبه اغوستې ده معلومه ده چه څیات دي کړي دي

مسلمانان په همه سارائی ندوی په قار شول چه هلکه تا رسو به په خلیفه اعتراض وکړ خو په خپله حضرت عمر وویل تاسې مه په قار کیږئ ده داسې مسلمانان چه وی د مسلمانانو مشران نه هیڅیري په غلطه لار روان نه شي ای رسو به څه حال دی ؟ که چا خبره وکړه او همه د چا د غرض او مطلب خلاف وه نو بس بې کافر کوی کور او بر له مونږه نه خوشامدگر خوله شول په کار دی چه موږ به هغان کښې زړه پیدا کړو د ټول خبرو په سه طریقه واورو، نه دا چه موږ بې کافر کړو، مرتد بې کړو، وهاږ بې کړو

د خوشحال خان په باره کښې دوی ډېرې خبرې وکړې، زه دومره وایم تاسې د همه خوشحال خان د ډېرو خبرو نه یوازې په دوو خبرو عمل وکړئ

اول د دنیا سره مینه او بل د شخصي اقتدار شوق پرېږدئ، موږ دې څیز تباه کړو

تاسې که د اسلام تاریخ وګورئ د مسلمانانو خرابې ډېرې شوې، شرق وغرب بې ونیو، مګر کله چه په مسلمانانو کښې د دولت او پیسو مینه او د شخصي اقتدار شوق پیدا شو نتیجه بې خانه جنګی او نفاق او بربادی شوه



د خوشحال د ودانۍ د افتتاح مراسم ـ هغه وخت چه پوهاند
محمد اصغر کابل ښاروال دغه ودانۍ پرانیزی
په دغه عکس کښی له ښی خوانه کابل والی دکتور محمد عمر وردک
سناتور قیام الدین خادم، ارمیرمن معصومه عصمتی داولسی جرگی
وکیله لیدل کیږی

دخوشحال ۲۸۶ تلین دنمانځنې سیمینار

دخوشحال د ۲۸۶ تلین د نمانځنې له کبله چه کوم لوی بین المللی سیمینار د ۱۳۴۵ هـ ش کال داسد له ۲۴ څخه تر ۳۰ پورې چه د ۱۹۶۶ع داګست له ۱۵ څخه تر ۲۱ سره برابر دی په کابل کښې جوړ شو

موږ د افغانستان (۱۴) لیکوالو او د دوستو ملکونو (۱۲) نماینده ګانو پکښې ګډون وکړ

دسیمینار د غونډو په وروستۍ ورځ یعنې داسد په ۳۰ د ټولو غړو له خوا داسې پریکړه وشوه.

۱- موږ ټول غړی دخوشحال د نمانځنې دسیمینار غړی د افغانستان د پوهنې دوزارت او د پښتو ټولنې د راسته ددې لوی اقدام پوره مننه کوو او ددې سیمینار په پای کښې چه د لومړی یادونې په توګه جوړ شوی و دا فیصله کوو:

۲- چه دخوشحال د ۲۹۰ تلین د نمانځنې لوی کانګرس باید په (۱۳۹۱ هـ ق) کښې د ۱۹۷۰ع کال د دوبي سره برابر څلور کاله وروسته په کابل کښې جوړ کړی شی هیله کوو چه د پښتو پوهان او ددې ټولنې غړی او خارجي پوهان له دې وخت څخه د خوشحال د ژوندانه، آثارو او افکارو په هکله څیړنو لاس پورې کړی

۳- باید د کانګرس د جوړیدو نه یو کال د مخه دغه کانګرس د پاره په عملی تیاری او مقدمات پیل وکړی شی

(دا پیشنهاد دخوشحال د نمانځنې د ټولې د غړو له خوا ومنل شو)

د ۱۳۴۵ کال د اسد ۳۰

د خوشحال خټک د واټ د پرانستو په ورځ

د کابل ښاروال وینا

افتخار لرم چه دغه واټ چه د افغانستان د پایتخت د کابل ښار شرقي مدخل
تشکیلوي او د سروبي او جلال آباد له لارې کابل د پښتونستان د یوې
مهمې برخې سره وصل کوي د کابل د ښار معززو خلکو له خوا د (خوشحال خټک واټ)
په نامه ونوموم

د خوشحال خان خټک سپېڅلی نوم چه د دغه پیاوړي شاعر او د آزادۍ د لوی مجاهد
د وفات د دوه سوه شپږ اتیایم کال په یادونه د اسد په څلرویشتمه ورځ د کابل د ښار
په لوی تالار کښې د معظم همایوني اعلیحضرت په پیغام پرانیستل شوې وه نوم ایښودلو
باندې رسیږي د افغانستان او پښتنو خلکو د پاره ډېر ارزښت لري خوشحال خان
چه د توري او قلم میړه یې نولي داسې پوهیږي چه آزادي یې تر هرڅه اوچته
ګڼله او د همه د لاس ته راوستلو او ساتلو د پاره یې هیڅ ډول ایثار او قرباني لویه
نه ګڼله. دا افغان قهرمان پوهېږي دا نه چه د افغان د قوم د آزادۍ غوښتلو په مقابل
کښې د مغل د امپراتورۍ د استعمار او استثمار د قواؤ سره د خپل ژوند په ټوله دوره
کښې په جګړه اخته و، بلکه هر وخت یې کوشش کاوه چه د خپلو ژوندیو اشعارو په واسطه
خپل وطنوال ویښ او لوی مجاهد او مبارز وروزي. د دې مجاهد میړه د شخصیت
علمیت او لیاقت په باره کښې د کمزوریو په ورځو کښې د داخلي او خارجي پوهانو
او لیکوالو له خوا مفصلې وینا ګانې شوې دي نو ځکه زه نه غواړم چه په دغه
زیات کړم یواځې غواړم چه دومره ووایم چه خوشحال خان خټک د افغان اولس یو
لوی افتخار دی او تر څو چه په دنیا کښې د استعمار او استثمار شومې قواوې د بشر
د آزادۍ د محوه کولو د پاره جګړه کوي، تر هغه پورې دی د افغان او نړۍ د آزادۍ
غوښتونکو د پاره، د الهام منبع او یو لوی رهنما دی. زه په داسې حال کښې چه د دې
لوی مجاهد او شاعر پاک روح ته درود استوم، د کابل او افغانستان د آزادۍ دوستو
خلکو له خوا دغه واټ (د خوشحال خټک واټ) په نامه مسمی کوم

(پوهاند محمد اصغر کابل ښاروال)



د خوشحال د واټ د افتتاح د مراسمو یوه منظره .

خلکو ته مجامع د لوی دریځ د پاسه د ښاغلو شوو میړو او ترڅنګ د سیمینار د ورو
د پاره ۲۲ چوکۍ لګېدلې وې چه د هر چا مخې ته د هغه نوم په ورو ښا په خط لیکل
شوی و .

د اتیا ریځی سیمینار غونډه ورځ د سهار په (۹) بجو شروع کیده او په ۱۲ بجو
په ختمیده او په اوه ورځو کښې ټولې (۲۶) درنې مقالې او (۱۲) خواږه شعرونه
ولوستلی شول .

په دوهمه ورځ خان عبدالغفار خان او د پوهنې وزیر ډاکټر محمد عثمان
« انوري » هم پوهنځي حضرت وکړې د پوهنې وزیر د سیمینار غونډو له همکارۍ ،
د پښتو ټولنې له دربار او د حمزه شینواري خوښي ښکاره کړه ، د سیمینار په آخر کښې
پوهاندرشتین د غونډو له خوا د خوشحال د ملي کالیزې د جوړېدو په باره کښې یو
پیشنهاد د ودې ته وړاندې کړچه د ټولو له خوا ومنل شو

د هرې ورځې د غونډو د پاره د غونډو له مخه پوهنوی رئیس تیا کیده ،
شاغلی خان محمد ایوب خان افغان هم په دې سیمینار کښې خپله وینا واوروله

د سیمینار په وروستۍ ورځ د مازیګر په ٤ بجو د کابل ښاروال له خوا د خوشحال
خټک په نامه یو واټ پرانستی شو چه د محمود خان له پلوه شروع کیږي او د
پل خشتي په لوري د رومی د سیمینار غونډو د سیمینار له ختمیدو نه وروسته هغه اهمانستان
د هیلو اکې د هغوی ورځې د دړنو میلمنو په تو ګه په کابل کښې نیړی کړی سې
دروی میلمستیا ګانې ورته وشوې او بیا په ډیر عزت او در ناوی وار په وار خپلو
هیوادو ته ولاړل او ددې سیمینار خوږې خاطرې یې له ځانه سره یو وړې

د خوشحال د نمانځنې د سیمینار لنډه

ښودنه

د ۱۳۴۵ کال د سرطان په ۱۵ نېټه د پښتو ټولنې په غوښتنه او د پوهنې وزارت
عمده د پوهانو د یوې غونډې له خوا داسې فیصله وشوه چه د خوشحال د مړینې
۲۸۶ کال نمانځنه دې په کابل کښې وشي

د خوشحال د مړینې ورځ د دوهمې خور ۲۸ نېټه ده چه د اسد له ۲۴ سره سمون
خوري او دغه نېټه د کالیزې د جوړېدو د پاره وټاکل شوه دې سیمینار ته د دوستو
هېوادو څېړونکي مشهور پښتو پوهان راوغوښتل شول چه څېړنې کسان را اوه هلی شول .

لکه چه ښکاره ده په ټولو پښتو ورځو کښې د خوشحال ددې اوی ... اعلی
سیمینار ټول انتظام سرته ورسېد د خوشحال په باره کښې ډېرې درنې او ښې
مقالې ولیکل شوې او په دغه موده کښې د پښتو ټولنې له خوا د خوشحال دوه
کتابونه (دستار نامه ـ طب نامه) چاپ شول ، دغه شان د نمانځنې د غونډې د پاره
د ځمر تیا یادښتونه ټکټونه چاپ شول او د خوشحال د نوري او قلم په انځا لو لو ښکلې
کتابچې او لیکونه د سیمینار د غړو په منځ کې ووېشل شول

د افغانستان راډیو په لوی تالار کښې جوړه او ورځې د کابل د مرکز په سوونو
سپینږیرو ، ځوانانو ، مېرمنو او نجونو ، پوهانو ، او شاګردانو ددغه تاریخي سیمینار
له اورېدو خوندونه واخیستل

دا سیمینار د اسد په ۲۴ د مازیګر په ۴ بجو د اعلیحضرت همایوني په مبارک پیغام
شروع شو او د اسد تر (۳۰) پورې په ډېر جوش او شوق وچلېد د اومړۍ ورځې
پروګرام په افغانستان راډیو کښې براډکاسټ شو او په نورو ورځو کښې د غه
مقالو ټیپونه نشر کړی شول

د اومړۍ ورځې غونډې ته والاحضرت سردار محمد داوود ، ښاغلی محمد هاشم
میوندوال صدراعظم ، د اولسي جرګې رئیس ډاکتر عبدالظاهر ، د مشرانو د جرګې
رئیس ښاغلی عبدالهادي داوي ، وزیران ، په کابل کښې د خارجي سفارتونو نمایندګان
په کابل کښې اوسېدونکي پښتو پښتانه پوهان رابلل شوي او راغلي وو .

د نورو ورځو د پاره رانګث آزاد او هر څوك ته په دغه غونډه کښې ... ددې سیمینار
د اورېدو د پاره رابلل د پښتونستان مشر خان عبدالغفار خان هره ورځ
د اورېدو له پاره په لومړي صف کښې ناست ښکاره ېده

له هند څخه :

۲۱- مولانا امتیاز علی عرشی عالم ، مؤلف او لیکوال

۲۲- ډاکتر ریاض احمد شیروانی مؤلف او لیکوال

له ایران څخه :

۲۳- ډاکتر خطیبی لیکوال او مؤلف

۲۴- ډاکتر مینو چهر لیکوال او مؤلف

له شوروی اتحاد څخه:

۲۵- ښاغلی عارف عثمانوف لیکوال او مؤلف

۲۶- د ښاغلی دوریانکوف په ځای د هغه مقاله راغلې وه .

یادونه :

پښتو ټولنې دغو کسانو ته هم په سیمینار کښې د شریکیدو بلنه ورکړې وه

۱- ښاغلی مارگن سټرن ناروېژی

۲- پروفیسر میکنزی - له انگلستان څخه

۳- سرآلف کیرو

۴- هربرت پنزل له امریکې څخه مگر دغه پوهان د ځینو عذرونو له کبله راتلای شول او ځینو پیغامونه یې د پښتو ټولنې په نامه راواستول .

دغه شان د هغو د علومو اکاډمۍ د اسیایی ملتونو د انستیتوت دوو تنو غړو ته هم بلنه ورکړ شوې وه خو هغوی هم د وخت د تنگوالی په وجه عذر غوښتی دی.

د مضامینو کتونکې ټوله

د خوشحال د کالیزې د غونډو په اوږدو کې ټولنه کښې د مضامینو د کتلو او نورو ضرورتو دپاره یوه کمیټه وټاکل شوه . دغې کمیټې په ځلو پنځو غونډو کښې راغلي مضامین وکتل او ضروري لارښوونې یې وکړې . د کمیټې غړي پوهان دا دي

۱- پوهاند عبدالحی حبیبی ۲- پوهاند صدیق الله رښتین ۳- ښاغلی قیام الدین خادم ۴- ښاغلی عبدالرؤف بینوا ۵- ښاغلی صباح الدین کشککی ۶- ښاغلی محمد دین ژواک (د منشي په حیث)

د خوشحال د نمانځنې د ټولنې غړي

کوم پوهانو او لیکوالو چې د خوشحال د نمانځنې په سیمینار کښې برخه اخیستې ده مقالې یې لیکلې او اورولې دي په وروسته ډول ښودل کېږي.

له افغانستان څخه :

١- ښاغلی عبدالحی حبیبي د ادبیاتو د پوهنځي استاد لیکوال مؤلف او مورخ
٢- ښاغلی گل پاچا الفت د اولسي جرگې غړی - لیکوال مؤلف او شاعر
٣- ښاغلی قیام الدین خادم د مشرانو د جرگې غړی - لیکوال مؤلف او شاعر
٤- ښاغلی محمد امین خوږیاڼی د مشرانو د جرگې غړی - لیکوال او مؤلف
٥- ښاغلی صدیق الله رښتین د پښتو ټولنې رئیس - لیکوال، مؤلف او شاعر
٦- ښاغلی عبدالرؤف بېنوا د قبایلو د ریاست مرستیال - لیکوال مؤلف او شاعر
٧- ښاغلی محمد ارسلان سلیمي د عدلیې د وزارت اداري رئیس - لیکوال او شاعر
٨- ښاغلی محمد سرور گویا د پوهنې د وزارت مشاور - لیکوال او ادیب
٩- میرمن معصومه عصمتي د اولسي جرگې غړې - لیکواله او ادیبه
١٠- ښاغلی انوار الحق گران لیکوال او ادیب
١١- ښاغلی عبدالله بختاني د پښتو ټولنې غړی - لیکوال او شاعر
١٢- ښاغلی عبدالقدیر برهیم د افغانستان راډیو د خارجي خپرونو مدیر علمي لیکوال
١٣- ښاغلی حبیب الله تږی د ادبیاتو د پوهنځي استاد علمي لیکوال
١٤- ښاغلی عبداللطیف جلالي علمي لیکوال

له پېښور څخه :

١٥- ښاغلی محمد اجمل خټک لیکوال مؤلف او شاعر
١٦- ښاغلی سید رسول رسا لیکوال، مؤلف او شاعر
١٧- ښاغلی امیر حمزه شنواری لیکوال، مؤلف او شاعر
١٨- ښاغلی پرېشان خټک لیکوال او مؤرخ

له کوټې څخه :

١٩- ښاغلی فضل احمد غازي لیکوال او مؤلف
٢٠- ښاغلی سلطان محمد صابر لیکوال مؤلف او شاعر

او ښاغلي مجروح يو شعر د ميرمن شيرين له خوا او د خوشحال يو شعر د ويانه له خوا هم ولوستل شول. د دې ورځې د غونډې رئيس ګل پاچا الفت وو.

څلورمه غونډه د پنجشنبې ورځ ـ د اسد ۲۷

په دې ورځ ښاغلي محمد امين خوږياڼی، ښاغلي محمد سرور ګويا، ښاغلي عبدالرؤف بېنوا، ښاغلي محمد ايوب خان اڅکزي خپلې مقالې ولوستلې او د ښاغلي الفت شعر د ميرمن شيرين له خوا او د استاد بېتاب شعر د ښاغلي ګويا له خوا ولوستل شول. د دې ورځې د غونډې رئيس امير حمزه شينواري خوښ کړی شوی وو.

پنځمه غونډه ـ د جمعې ورځ د اسد ۲۸.

په دې ورځ ښاغلي حبيب الله تږی، ښاغلي انوارالحق ګران، ښاغلي عبدالله بختانی خپلې مقالې ولوستلې، د ښاغلي دوريا نګوف را لېږلې مقاله ښاغلي عارف عثمان ولوستله.

د امير حمزه شعر د ښاغلي سيلاب له خوا ولوستل شو او ښاغلي محمد صفدر سالاري هم خپل شعر ولوست. د دې ورځې د غونډې رئيس پرېشان خټک وو.

شپږمه غونډه ـ د شنبې ورځ د اسد ۲۹.

په دې ورځ ښاغلي محمد افضل خټک، ښاغلي امتياز علي عرشي، ښاغلي عبدالقدير مهيم، ډاکټر مينو چهر خپلې مقالې ولوستلې او د غني او نشري بېګم شعرونه د ميرمن شيرين له خوا او د خوشحال يو شعر د سيلاب له خوا ولوستل شول. د دې ورځې د غونډې مشره ميرمن معصومه عصمتي غوره شوې وه.

اوومه غونډه ـ د يکشنبې ورځ ـ د اسد ۳۰.

په دې ورځ ښاغلي عبداللطيف جلالي، ښاغلي صديق الله رښتين ـ ښاغلي ډاکټر روان فرهادي، ښاغلي ډاکټر خطيبي، ښاغلي فضل احمد غازي او ښاغلي سلطان محمد صابر خپل مضامين ولوستل او اجمل خټک خپل يو شعر هم ولوست. د دې ورځې د غونډې رئيس قيام الدين خادم وو. د دې ورځې د پروګرام په آخر کښې خان عبدالغفار خان او د پوهنې وزير پوهاند ډاکټر محمد عثمان انوري هم يو څو خبرې وکړې.

او په دغه صورت دغه لوی تاريخي سيمينار ختم شو.

د سیمینار پروګرام

د خوشحال خټک د ملاتړې د سیمینار پروګرام چه د اسد له (۲٤) نه تر ۳۰ پورې
جاري وي، په وروسته ډول ښودل کیږي

لومړۍ غونډه د دوشنبې ورځ د اسد ۲۴ — د اګست ۱۵

شروع — د مازیګر څلور بجې

۱ - د قرآن کریم تلاوت

۲ - د اعلیحضرت معظم همایوني پیغام

۳ - د ښاغلي صدراعظم محمد هاشم میوندوال وینا

۴ - د پوهنې د وزیر پوهاند محمد عثمان انوري وینا

۵ - د کابل او ننګرهار د پوهنتونو پیغامونه

۶ - د ځینو پوهانو لیکونه

۷ - د سیمینار د غړو معرفي

۸ - د پروګرام معرفي

۹ - د خوشحال انځور معرفي - د پښتو د ټولنې د رئیس پوهاند رښتین
له خوا

۱۰ - د کتابو ویشنه او ختم

دوهمه غونډه د سې شنبې ورځ د اسد ۲۵ - د سهار له ۹ نه تر ۱۲ پورې.

په دې ورځ ښاغلي عبدالحی حبیبي، ښاغلي ګل پاچا الفت، ښاغلي سید رسول رسا، میرمن معصومه عصمتي په ترتیب سره خپلې مقالې ولوستلې او د خوشحال خټک یو شعر د ښاغلي و پاینده له خوا ولوستل شو. د دې ورځې د غونډې رئیس ښاغلی اجمل خټک غوره کړی شو

دریمه غونډه - د چهار شنبې ورځ - د اسد ۲۶.

په دې ورځ ښاغلي قیام الدین خادم، ښاغلي محمد ارسلان سلیمي، ښاغلي عارف عثمانوف، ښاغلي امیر حمزه شینواري خپلې مقالې او ...



ښاغلی میوندوال صدر اعظم د ښاغلی بریشان ختک د میلمانو ډلی
سره د چهلستون په ماڼۍ کښی لاس ورکوی

د میلمنو، کتنو او بلنو پروګرام

د خوشحال د سیمینار د غړو د پاره د ماسپښین له خوا نه د لیدنو کتنو
پروګرام خوندي شوی و چه په دغو ورځو کښې به د پروګرام سره سم ـ (کابل موزیم)
د کابل پوهنتون د کابل عمومي مطبعه، د افغانستان را د پوهنې او د سالنګ سړک
په پوره ډول وکتل

دغه شان د سیمینار د غړو په ویاړ دغه ورو سته میلمستیا ګانې ور کړې
شوې،

۱ ـ د پوهنې د وزیر له خوا نه ـ په سپوږمۍ رستوران کښې
۲ ـ د اطلاعاتو او کلتور د وزارت له خوا نه د پوهنې په کلوپ کښې
۳ ـ د قبایلو د ریاست له خوا نه ـ په پغمان کښې
٤ ـ د ادیبانو د پوهنځي له خوا نه ـ په استالف کښې
۵ ـ د پښتو ټولنې له خوا نه په باغ بالا رستوران کښې
٦ ـ د صدر اعظم له خوا نه مازیګرنۍ ملمه د چهلستون په ماڼۍ کښې

د خوشحال د سیمینار د میلمنو غړو

معرفي

اجمل خټک:

د یو ژوندی او سوځند شعر خاوند، پوخ لیکوال او د روښانه فکر خښتن دی په ۱۹۲۶ ع کال د خټکو په اکوړي کښې زیږېدلی دی.

رواجي تحصیل یې په خپل ځای کښې سرته رسولی دی له تحصیل نه وروسته څه موده په سوونځی کښې استاد ؤ

اجمل د سیاسي دماغ خاوند هم دی د قومي او ملي جګړو په میدان کښې هم یو مخکښی پهلوان او سرتیر سپاهی دی د ډېرو او نورو زولنې یې د پښتو په قوت شرنګولی دی دده د قلم له خولې څڅه د نثر مرغلرې هم لکه د نظم د شکرو دوږدې او داد کوچکو او نورو ټکيږي اجمل د خوشحال له نمری څڅه د ننګ ملونځی ډیا کړل او د غیرت چیغه یې د هرځا عوڅته ورسوله

د غیرت چیغه په نظم کښې او کوچکول په نثر کښې دده مشهور آثار وه دی

اجمل نو ځل د مخه هم افغانستان ته راغلی دی خو داځل یې د خپل راتشکوتر ریات اثر و پسده او ډېر زړوه یې د میني په زور وطله زړدي کړل


دامیر حمزه شنواري:

د پښتو یو پوخ لیکوال، ولی شاعر او ادیب دی د ملک ما رمیر روی په قام شینواری چه په (۱۹۰۷ ع) کال نه لواړګی کښې پیدا شوی دی

ابتدائی تحصیل یې په اسلامیه کالج کښې کړی دی لومړی یې په اردو کښې شاعري کوله خو میا یې له ۱۹۳۲ ع څخه را په دې خوا د پښتو شاعري شروع کړه دی په پښتو شعر کښې د غزل استاد دی د حمزه په سندریزه ځمکه کښې ده ډېر ځلمیان شاعران وروزل او د غزل ناوې یې پوره سینګار کړه ده په ۱۹۴۱ کال کښې د پښتو لیلی مجنون د قلم قصه ولیکله او د زیږنو د پاره یې په سوو نو ډرامې او فیچرونه لیکلي دی.

د کابل سفر یې دوه دري ځله کړی دی دده لیکلي آثار دا دی

۱ – تجلیات محمد ۲ – غزونې ۳ – د زړه آواز ۴ – ژوند .... نثر کښې



دسی د خوشحال خټك د ۲۸٦ کلیزې د سیمینار غړي د دولتي مطبعو د چارو لیدنه کوي
کسی ... اته ښاغلی محمد ابراهیم کندهاری د دولتي مطبعو رئیس د دغه ماشین په باره کې
د ایران ښاغلی ډاکټر شیروانی د هند نماینده د سیمینار غړی ـ ښاغلی ډاکټر خطیبي د ایران
رښتین سیمینار غړی ـ ښاغلی امیر حمزه شنواری، ښاغلی اجمل خټك، پوهاند صدیق الله رښتین
رئیس او د دولتي مطبعو عمومي کارپکړان لیدل کیږي

دده دیات مضامین او اشعار په مختلفو مجلو او اخبارونو کښې چاپ شوي دي او دکوټې له راډیو نه یې ډرامې او فیچرونه هم خپاره شوي دي
د مرحوم دآزادي په موضوع کښې یې یو کتاب هم لیکلی دی دکوټې او کلات په ادبي ټولنو کښې دیو فعالکاره مقام لرونکی دی
ښاغلی صابر یو ډېر دروند خوی او نرمه طبعه لری او یو خوږ پښتون دی

مولانا امتیاز علي عرشي:

یو په عالم او مؤلف دی په ۱۳۲۲ — ۱۹۰۴ ع کال د هند په رامپور کښې زیږیدلی دی پلار یې ډاکټر مختار علي خان نومیده چه ځعه د مولانا ذکر علي خان زوی او هغه د رحم دار خان اکوزي حاجي خیل زوی ؤ
ده په رامپور کښې له لویو استادانو څخه د عربي علومو تحصیل کړی دی مولانا سعید احمد مراد وي، مولانا فضل حق رامپوري ، مولوي نجم الدین رامپوري او نور ده استادان دي ده په عربي کښې د مولوي فاضل او منشي فاضل ترډرجې پوري تحصیل کړی دی.
په عربي ، اردو ، پارسي او انگریزي ژبو ښه بوهیږي
دی په ۱۹۳۲ ع کال کښې د رامپور دکتابخانې ناظم وټاکل شو
دکتابخانې د تنظیم کاروبار یې له سترو چیپ میں څخه ترسره کړ
مولانا عرشي اوس هم د رامپور د رضا لایبریري یو کاریگر او فعال مدیر دی
او شپه ورځ په ډېر شوق او مینه په خپلو علمي کارونو کښې بوخت دی
ډېر زیات کتابونه ده په ډیار زحمت تصحیح او تحشیه نشر شوي دي چه یو څو مشهور یې دا دي:

۱ـ تفسیر القرآن للامام سفیان بن سعید الثوری .
۲ـ کتاب شواهد القرآن للامام الطبری .
۳ـ تاریخ اکبري حاجي عارف قندهاري
٤ـ دیوان غالب
٥ـ د رامپور دکتابخانې داردو قلمي نسخو فهرست
د مولانا په تصحیح او اهتمام نشر شوي آثار (۲۳) ته رسیږي

۵- د خوشحال خټک یو شعر ۶- زوړ مکروه ۷- یون ۸- نوی څپې (ډرامه)
۹- نوی پښتون، د کابل سفر نامه‌ده ۱۰- تعبیر د کاینات ۱۱- وجود او شهود
پدې کتابونو کښې ځینې چاپ شوی دی او ځینې لا نه دی چاپ شوی

پریشان خټک:

یو علمي لیکوال، د تاریخ پوهندوی او په پښتو مین خټک دی د لواغر تر څنګه د (څوتري) په کلی کښې په ۱۹۳۲ ع کال کښې زیږیدلی دی پریشان د پښتو مینه له دغې پښتنې چاپیریال څخه اخیستې ده چه د کراچۍ او لاهور تعلیمونو په کښې هیڅ کمی را نه ستی شو

د پېښور له پوهنتون څخه په تاریخ کښې د ایم، اې درجه اخیستې ده.

دی د پښتو اکیډیمۍ یو تکړه غړی او د پېښور په پوهنتون کښې د تاریخ د مضمون استاد دی پریشان ښکاره نه خو په پټه شاعر هم دی په تاریخ کښې نوی نظریې لری اوس د پښتو د تاریخ په لیکلو بوخت دی او د سید احمد بریلوی تاریخ هم لیکی

فضل احمد غازی:

فاضلی غازی یو ښه لیکوال او مؤلف دی په ۱۹۳۰ ع کال د کوهاټ په ښار کښې زیږیدلی دی او رواجی تحصیل یې هم دغلته کړی دی

دده لیکلی آثار دا دی

۱- گل خانګه ۲- ډیوه ۳- قومیت او ملیت ۴- نا چا حسان ۵- پښتون بچې ۶- کانګرس ۷- د مسلمانانو اقتصادی مسئلې ۸- پښه ورو ها ۹- شهید اعظم.

فاضلی غازی، د خو رشید او گلستان د اخبارونو مدیر هم پاتې شوی دی.

دغه اخبارونه اوس بند شوی دی.

فاضلی غازی پوزوندی، خوش طبعه او تکړه عالم دی

سلطان محمد صابر:

د پښتو ژبې یو ښه لیکوال، شاعر او مؤلف دی په ۱۹۲۵ ع کال په کوهاټ کښې زیږیدلی دی رواجی تعلیم یې هم دغلته کړی دی

بلار یې د غربی لښکر څخه کوهاټ ته تللی او هلته میشته شوی دی. دی په قام موسی خیل او د مور له خوا حلال زی امنزدی

ده د کوهاټ د مطبوعاتو په اداره کښې اس کاله رسمی کار کړی دی او د پښتو مصاحبو په لیکلو کښې سه لاس لری په ۱۹۴۹ ع کال یې له کوهاټ څخه د پښتو یو اوه ورځنی اخبار (مېواد) جاری کړ چه تر اوسه چلیږی.

ډاکتر حسن مینو چهر :

نو میالوړی لیکوال ، مؤلف او د تهران د پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځی استاد دی چه د اسلامی تصوف د تاریخ او فلسفې تدریس ور په غاړه دی . د ده ډیرو آثارو څخه دا دی

۱ - کلیاتی در بارهٔ تصوف اسلامی

۲ - تصحیح و تحشیهٔ نفحات الانس جامی

۳ - « « شرح تعرف

۴ - « « کتاب الاصلاح

۵ - « « نور العلوم خرقانی

۶ - منتخب متون فلسفی

۷ - مقالات فلسفی در بارهٔ عقاید ابوعلی سینا و خواجه نصیر طوسی

ډاکتر رياض احمد شيرواني :

ښاغلی رياض احمد شيرواني په ۱۹۳۰ ع کال کښې زېږېدلی دی . د ام ، ای علمی درجه يې په ۱۹۴۹ ع کال کښې د علی ګړه پوهنتون څخه اخيستې ده . د پارسی د ژبې او ادبياتو دکتوره يې د (تهران) له پوهنتون څخه لاس ته راوړې ده .

له ۱۹۵۲ ع څخه د هند د خارجه چارو په وزارت کښې کار کوي . په ۱۹۵۸ ع کال کښې چه د افغانستان پاچا اعليحضرت محمد ظاهر شاه د هند په رسمي سفر تللی و ، دی د اعليحضرت رسمي ترجمان و ښاغلی رياض احمد د غني کشميري د احوالو آثارو او سبك په باره کښې په پارسی ژبه يو کتاب ليکلی دی او ډېرې مقالې يې هم په پارسی ليکلې دی دی اوس په کابل کښې د هند د سفارت غړی دی او يو پوه عالم دی

ښاغلی عارف عثمانوف

ښاغلی عارف عثمانوف د فلالوژی علومو کانديد دی ، ده خپل تز د افغانی د نثر په باب ليکلی دی چه د علومو د انستيتوت له خوا نه منل شوی دی دی اوس د خوشحال د آثارو په مطالعه او کتنه بوخت دی او غواړي چه د خوشحال په باره کښې يو ستاتر وليکي ښاغلی عارف د پښتو ژبې زده کړه د کابل د ادبياتو په پوهنځي کښې تکميل کړې ده او اوس په پښتو کښې روانې خبرې او سمه ليکنه کولای شي دی په عمر څلوېښت کلن ښکاري

ډاکتر خطيبي :

ښاغلی ډاکتر خطيبي د ايران د ملي شورى مرستيال د شير و خورشيد سرخ د ټولنې عامل مدير ، د تهران د پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي استاد دی چه د مرحوم ملك الشعرا بهار د تدريس کرسی ور په غاړه ده . مشهور اثر يې (دورهٔ نثر فارسی در قرن ششم تا نهم هجری) نومېږي په مختلفو ادبي مجلو کښې يې ډېرې مقالې ليکلې دی

دري ځله کابل ته راغلی دی ، ښاغلی خطيبي ته د اعليحضرت محمد ظاهر شاه له خوا نه د ستور اوله درجه نشان ورکړ شوی دی

ډاکتر خطيبي ښه وياند او ښکلی خطيب دی . ده تر اوسه پورې واده نه دی کړی او يوازې ژوند تېروي .

په هر لحاظ سره ددې سیمینار په مناسبت او د بابا د شخصیت او عظمت قابل او لایق خواري په دې کې مقالې لیکلې وې ددې نه زیاته د خوشحالۍ خبره ما ته دا وه چه د کابل بیدار اولس او ددې ملک پښتانه د خوشحال بابا په عظمت پوهه معلومیږي او مینه یې هم ورسره ښکاري ځکه چه د سیمینار په ورځو کښې به ډیر کې تعداد د خلکو نه او زلمي به ډیر شوق سره راغلي وو او دلته کښې تر اخره وخته پورې به ګوش د سیمینار دې تقریرونو ته ناست وو ځکه زه وایم چه دا ډیر کامیاب او ښه سیمینار وو بله د خوشحالۍ خبره دا وه چه ددې ملک وزیران یا لوی خلک کوم چه به په هغو کښې شامل شول هغوی هم خپل تقریرونه په پښتو کښې واورول دا د خوشحالۍ خبره وه ته ما ځکه وویل چه د هغې کسانو خپله ژبه فارسي وه خو هغوی د خوشحال بابا د ورځې په مناسبت او د پښتو او خوشحال بابا سره د مینې له وجه په پښتو کښې خپلې مقالې یا تقریرونه وکړل دا هم ددې سیمینار د کامیابۍ او زموږ د خوشحالۍ خبره ده.

زما په نظر د دغه شان سیمینارونو جوړول داسې او لس ته ګټه ور دي چه په هغوی د بابا د فکر خپرول زیات ضروري دي او بیا د خوشحال بابا د شخصیت چه هغه د مینې، محبت، خدمت، ترقۍ او د وحدت په ډیره قوي او موثره طریقه سره رهنما او مصلح دی د هغه پیغام نه چه د سیمینارونو کول په دې عصر کښې ډیر زیات ضروري دي ځکه چه په دې پوهیږو چه د هغه په ذریعه دې منطقې او لس ته د اتحاد او ورورولۍ ډیر ښه درس پیدا کیدی شي نو په دې الفاظو ددې سیمینار په اهمیت هم قایل یم او وایم چه د دغه شان سیمینارونه دې تل وي په دې ما ته ډیره خوشحالي حاصله شوه چه د سیمینار په اخر د پښتو ټولنې رئیس صدیق الله خان رښتین زموږ د طرفه دا تجویز پیش کړ د ټولو شاملینو له طرفه چه د دغه شان سیمینارونه به دلته کښې کیږي او هلو ر کاله پس خو دا وسه نه موږ و ټاکلو چه په کابل کښې به کیږي زه خو وایم او د خدای نه دعا کوم چه خدای دې هغه موقع موږ ته را کړي ځکه زموږ په زړونو کښې دې د هغه نه زیاته مینه او خدمت پیدا کړي چه موږ د خوشحال خان خټک او دغه شان د خپلو د عظیمو شخصیتونو د ژوند د کارنامو نه او پیغام نه خپله هم ځان واقف او د لس هم واقف وو زما په نظر د دغه زموږ د دې منطقې د اولس د پاره د کامیابۍ خوشحالۍ او آینده ژوند د نیوالي د پاره نو بنیادي شي دي په دې الفاظو زه دا خپلې خبرې ختموم او بیا د خدای نه غواړم چه خدای پاک دې آینده د پاره هم موږ ته د دغې توفیقونه را کړي والسلام

دامیر حمزه شینواري نظریه:

زما په خیال دا سیمینار په ډېره او کوره پښتونخوا کښې یو مثالي سیمینار و چه تر اوسه پورې زما په خیال کښې یو قامي مشر خصوصاً د پښتو د یو مشر په یاد

دخوشحال دسیمینار په باره کښې

د محمد عمر تبصرې

دمولانا امتیاز علي نظریه:

کوم کسان چه د خوشحال خان د تلمس و لیاقت... مولانا امتیاز علي عرشي په خپلو خبرو کښې وویل، افکار و خیالاتو ته په کښې ځای نه دي ورکړی ، کسي شامل شوي دي دوی دغه د اشعارو، افکار و خیالاتو به ... ته ... مضامین و لوستل ، زما په خیال ددې سیمینار څخه ډېری مالدې احتمال کېږي لوی شاعر او نثر لیکونکی له آثارو او دده د کلام څخه خبر شول. دا دا ... چه د خوشحال خان نه ... نګار ... ورځانه ... وروسته ... په ... د ... لوی ... افکار به مختلفو ژبو کښې ... چه ... راعلي ... همدوی هم دده خیالات ... افکار ... افکارو ... دوی ته ... د خپل وطن خلک د خوشحال له خیالاتو او افکارو ... خبر کړي او په دې واسطه به د افغانستان او نورو دوستو مملکتو ترمنځ ... تعلقات پیدا شي ... دا ... افغانستان ترمنځ له پخوا زمانو څخه ... تعلقات موجود دي ... دې ... کسی چه ... او ... تعلقاتو د ... ډېري ... دي ... مشکل دی ... خواږه ... ارتباط او ... دې ... ترمنځ ... دې دواړو مملکتو ترمنځ ... د ... او ... تعلقات ... د ... پیدا کېږي ... لحاظ ... سیمینار ډېر ... او ... زما په خیال ... ادبیاتو ... معارف

احمد حقك: ... د خوشحال خټك ... کامل ... ادبي او ملي ... ښتو ... سیاسي ... شکر ... اداشي چه ... سیمینار ... اود ... دسیمینار ... بین المللي سیمینار ... کښې ... او ... زما ... دا ... دې شکر ... دې ... تمریک ... کوم ... هم ... کامیاب او ... شکلو ... زما ... کار ... چه ... سیمینار ... کامیاب او ... ډېر ... دا ... چه ... و لیدل ... او ... لحاظ ... او ... ډېر ... ښه وي ... د ... پښتو ... طرفه ... د ... طرفه ... ملګرو ... طرفه ... ضروري ... چه د ... طرفه او د ... د خوشحال د تعلیماتو ... طرفه چه د خوشحال د عظمت قابل دی او ... د خوشحال ... د ... قابل دي د پښتو ... او وزارت معارف افغانستان ته تبریك ... د ... او هم قابل دی د ... ویل چه دا ... تبریك وایم ... معارف ... کوم ... ویل چه دا ... سیمینار زما ... به ... لحاظ ... کامیاب ... چه ... تعداد ... ډېر ... لیکلي ... [illegible]

په جهت هم او د خوشحال د یوه لسمي په حیث هم او د یوه پروفیسر په حیث هم ډیره مننه کوم او دا مي خیال دی بلکه دا آرزو لرم چه خدای دي وکړي چه دا سیمینار و بل ته بیا بیا وشي او مونږ ته بیا بیا موقع پلاس راشي چه راشو او دده کره پکښې وکړو

دډوکتور خطیبي نظریه :

برای بنده موجب مباهات تشکر و مباهات و افتخار بود که توانستم به نماینده گی از طرف دانشکده ادبیات دانشگاه تهران در مراسم یادبود بزرگداشت، شاعر و مبارز ملی افغان خوشحال خټک شرکت بکنم آنچه در این سیمینار برای بنده بسیار ارزنده و آموزنده بود اول کوششی بود که شعرا و نویسندگان و دانشمندان افغانی برای شناساندن این شاعر و مبارز ملی خود ابراز داشته بودند تحقیقات بسیار دقیق و عمیق این دانشمندان برای بنده بسیار ارزنده و آموزنده بود همچنین نکته دیگر که در این سیمینار برای من بسیار با اهمیت تلقی شد جالب بود که شعرا نویسندگان و گویندگان افغاني بر کرسی خطابه داشتند و با کمال قدرت و مهارت و فصاحت مطلب خود را بیان میکردند. بنده من شخصاً امیدوار هستم ارمغان بسیار پرارزشی را که از این سیمینار همراه خود بایران میبرم و آن آشنایی با شرح حال و آثار و افکار بزرگ این شاعر ملی افغان است میتوانم در مجله دانشکده ادبیات و همچنین سایر مجلات و نشریات مملکت ایران منعکس بعرض خودم انتشار بدهم تا ایرانیان و محصلین و دانشجویان ایرانی هم بتوانند با آثار این شاعر بزرگ آشنا بشوند خیلی متشکرم

دډاکتور منوچهر نظریه:

از شرکت در سیمینار خوشحال خان خټک شاعر بزرگ افغان خوشحال شدم و خوشحالی من بیشتر شد وقتی که با گویندگان و محققان افغانی و خارجی که در این سیمینار شرکت کرده بودند هم آشنائی پیدا کردم تحقیقات این دانشمندان بر اطلاعات من بسیار افزود امید وارم بتوانم با آموختن زبان پښتو در آنچه که در آثار این شاعر از اصطلاحات عرفانی موجود است تحقیقات خود را دامه دهم تا به سهم خود بتوانم در معرفی این شاعر بزرگ کمک و مددیار محققان افغانی باشم از توجه که به بنده شده است بسیار تشکر

بې هم داسې کامیاب سیمینار نه وو شوی زه دا هیله لرم چې دې ته به دوام ورکړل شي
د دې ځای کوربه پښتو ټولنه او نورې پښتو ټولنې او قول غواړم چې د دې سره تعاون وکړي

د پریشان خټک تبصره:

دا سیمینار چې ما ولید نو داسې ښکاري چې خو پوهیږو چې ګوره بروفیسور صاحب او د دې نه
مخکې هم ما څو سیمینارونه لیدلي دي خو دا سیمینار چې ما ولید، ده کښې ډېر
نوي ماډلونه ولیدل داسې نوي چې د هغې نه ما پوهه شوم ته حق واضحیت رده کړه
پ ترې وکړه. د ټولو نه اول خو دې سیمینار ته په ډېره منظمه طریقه ماته چې
انتظام شوی و، مادې نه و ډا ماته داسې منظم سیمینار چیرته نه دی لیدلی، او
خصوصي طور ماته د دې سیمینار چې په کوم رنګ کښې افتتاح وشوه
د اعلیحضرت همایوني د پیغام نه او بیا صدراعظم صاحب ماته ډېر متاثر وکړه سره
صحیح توګه ټولو وزیرانو د کابینې دې سیمینار ته راغلي نو ډېره لوی اهمیت
ما صاحب چیرته کوم علمي محکس یا سیمینار ته نه دی لیدلی چې چا ورکړی وي
اشي زما هم څکه کوم چې نه سیمینار کښې د څه احتوبکو او نورو د ملګو د لیکنې
په نه شي او همه به دی ماته نو شي چې دا نو مهم کار دی او بیا خصوصاً چې هغوی
له کوم اهمه مرېروبه وکړل او څو مره همه د خوشحال خان خټک د ژوند نه خبرو
ره په حیث د همه د نوه لمي څکه ډېر اثر مې پرې واخست ډېر خوشحاله شو او ماته
پاتې شو په سیمینار کښې، دې سیمینار کښې خو داسې داسې علماء او علمي او د ټولو نه اهمه
خبره خو دا وه چې په خوشحال خان خټک باندې دا د ټولو نه اول بین الاقوامي
سیمینار او همه د موږ معرفي او بیا خصوصاً د سې سیمینارونه خو اګر چه نه دي
شوي خو په خوشحال خټک باندې کوچنی کښونه موږ هم په پښتو کښې کوو
خو په دومره لوی پیمانه باندې نه دی شوی اوس نه انشاالله موږ هم کوښش کوو
ماسې طرح کښېوله چې که موقع نه لاس ته راغله چې د عامې نو سیمینار منعقد په پښتو
کښې هم په ما باندې وشي او ماته ره چې د لته راغلی یم د دې سیمینار د ملګو د هغوی
د علم په هغې کښې د څه احتوبکو ملګو مقالې مې اورېدلې دي نو داسې شعر م
چې په حیث د وه طالب العلم ماته د دې سیمینار کښې ډېر فائده کړل او څو مره چې
د دې ملګو خبرې اورم نو هغوی هم د دې سیمینار نه ډېر خوشحال شوي دي. خو دا
پرښتیا وایم چې ما نه داسې سیمینار لیدلی او نه داسې سیمینار خو د لته اسانه خبره ده چې ده په
کې د دې سیمینار دا انتظام کونکو د پښتو ټولنې او وزارت معارف د نوه صاحب او نکو

بڼې خو زما په نظر دې ژوندي عصر کښې یواځې د مړو مشرانو یادونه
کافي نه ده بلکه موږ باید د تیرو مشرانو له یادونې سره سره د هغوی عمل او کردار
هم وګورو او د تیرو شخصیتونو هغه غوره او ښه خویونه په ځان کښې پیدا کړو
کوم چه د هغوی ملي شخصیتونه پرې پیژندل شوي دي. او د هغو اعمالو
پیروي وکړو چه زموږ د ملیت مستقبل پرې ولاړ او بنا پرې ټینګیږي.

زه د دې سیمینار د مقالو سره سره یو دوه درې خبرې هم لرم
لمړی دا چه د سیمینار د ترتیبونو د پاره وخت ډېر لږ او تنګ ؤ او هغه اسباب ؤ
چه په سیمینار کښې د ښاغلي پوهاند عبدالحي حبیبي نامتو پوهان موږ ونه لیدل که څه هم
هغوی دعوت شوي ؤ ولیکن څرنګه چه هغوی ته دعوت نامه ناوخته رسیدلې وه نو
هغوی ونشوای کولی چه په دې لږ وخت کښې د سیمینار د پاره ځانونه چمتو کړي
هیله ده چه په بل سیمینار کښې دا نیمګړتیا نه وي.

دوهم دا چه د سیمینار دوه ورځني پروګرام په دا ډول کښې خپریدل لازمي ؤ او دا
باید حکومت اعلان شوی وای چه سیمینار ته ورتګ آزاد دی ځکه چه ډېر شوقین
خلک ؤ د دې سره یې دلچسپی درلودله چه سیمینار ته ورشي خو داسې ګمان یې کاوه
چه سیمینار ته ورتګ به په دعوت نامه پابند وي.

نور زه ځان مه دا اسم او ستاسې څخه تشکر کوم.

د فضل احمد غازي نظریه: د پښتو په تاریخ کښې د خوشحال خان بابا دغه سیمینار که موږ وایو چه خپل سیال او ساری نه لري نو بې ځایه به نه وي. زموږ په ادبي تاریخ کښې اول ځل د دنیا د مختلفو هیوادونو پوهانو د کابل په ښکلي ښار کښې د پښتون ولس دغې ستري بابا ته خپل د عقیدت او احترام ګلان وړاندې کړل. د دغه عظیم انسان سیمینار په کامیابۍ باندې که موږ د پوهنې د وزارت او د پښتو ټولنې کار کوونکو ته د زړه د اخلاصه مبارکي وایو نو بل خوا نه د راډیو افغانستان په کار مینو وروڼو ته هم شاباسي ورکوو.

د راډیو افغانستان دغې اداري د خپلې دلچسپۍ په برکت د سیمینار د پوهانو آوازونه لیري لیري هیوادو پورې ورساوه چېرې چه د پښتو د دغه لوی شاعر پیغام نه و رسېدلی. د راډیو افغانستان د دغه سیمینار کار کوونکي په دغې کار باندې چه څومره ویاړ وکړي حق لري.

د سیمینار په هکله دومره خبره چه زه یې کول غواړم هغه دا ده چه ددې سیمینار په برکت د نړۍ د مختلفو هیوادونو پوهانو ته دا موقع په لاس ورغله چه د علم او عرفان د مشعلونو په رڼا کښې د پښتو ادب او تاریخ له ډېرو څېرو څېرو برخو پردې لرې کړې چه ځینې طاقتونو اچولي دي او دا دویمه خبره ده چه د دغو پوهانو د همت او زیار په وجه د تتبع د ادب په هنداره کښې د خوشحال خان څېره ډېره روښانه او صفا ښکاري او هر پښتون په زړه او اخلاص مین انسان د دغه څېرې د رڼا په زور د ژوندانه تاریکې لارې کوڅې روښانه کولی شي. د دغه مقدس کار د پیل نو ځکه د تکمیل محتاج و خو شکر دی چه خپل تکمیل ته ورسېد او هیڅ نوی ادبي دور دروازه یې خلاصه کړه.

زه دوهم ځله مخکښې هم افغانستان ته راغلی وم خو په دې اوسني سفر کښې ما چه ددې تاریخي او پر عظمت هیواد د ترقۍ او خوشحالۍ کوم آثار ولیدل په هغو باندې مې روح په نڅا راغی او زه دعا کوم چه الله تعالی دې د دغه وطن واوسېدونکو ته نور همت ورکړي.

د ښاغلي بینوا نظریه: زما په عقیده د خوشحال خان د یاد او دا سیمینار جوړوالي ته باید پردې اقدام د پوهنې وزارت او پښتو ټولنې ته تبریک ووایو او دوی ته په دې لاره کښې لا نور موفقیت وغواړو چه زموږ د تاریخي شخصیتونو په یاد داسې لوی لوی محفلونه جوړ کړي او د هغوی تاریخي، ادبي او کلتوري کارنامې دنیا ته

دښاغلی امیر حمزه وروستی پیغام

د خوشحال سیمپوزیم تاسیس کول د پښتون حکومت یو ډېر مهم او بین المللي اقدام دی چه تل تر تله به پښتانه د دې څخه تشکر کوي

او په هغای به وايي چې څرنګه چه کامل د پښتون ملت مشر کوز ز ،

هغه شان به د يو مشر رول ادا کړي (حمزه شنواري)



د تورخم له سرحدي ليکې نه

د پښتو ټولنې په نامه

د ښاغلي اجمل خټک وروستنی پيغام

زه د پښتو ټولنې کامل شکريه ادا کوم چه موږ ته يې د خوشحال بابا په سيمينار کښې د شامليدو دعوت راکړی او موږ يې په دغه لار د افغانستان د حکومت او اولس د خوشحال بابا سره د مينې د اظهار خوش وايدو.

بايد چه په دې دومره اهم او کامياب سيمينار د افغانستان حکومت، وزارت معارف او پښتو ټولنې ته تبريک ووايم زما په فکر کښې نن وارې د علم او ادب په دنيا کښې دې سيمينار ته يو تاريخي اهميت حاصل دی ملکي دورونو او اسو نو ترمنځه د ورورولۍ او اتحاد د تړون مرسوتو لوړ باره نه هم دا سيمينار يو سنګ ميل ثابت شي

زه شخصاً خو بايد يو ځل بيا د پښتو ټولنې شکريه ځکه هم ادا کړم چه ما ته يې پنځه کاله پس يو ځل بيا موقع پيدا کړه چه زه د خپلو وروڼو د ترقۍ پيشرفت او د مينې ډکو جذباتو په خپلو سترګو ننداره وکړم

زه مې غواړم چه د خيبر درې د دې سر نه هغه سر ته روانيدو په وخت کښې مشرقي، پر مخ تلونکي او د ورورولۍ له مينې ډک افغانستان ته د پښتو سلام وکړم (اجمل خټک)

د اجمل خټک وروستی سلام

د خيبر نه دې سر پر تو پښتونخوا،

نن چه زه ستاسو نه د دې درې هغه بل سرته روان يم او جدا کېږم

نو يو پوښتنه، چه د سترګو نه مې اوښکې ولې را روانې دي؟

زه پوهيږم چه دا د بې وسې اوښکې دي که تاسو کښې د پښتو د غيرت او ملت سره مينه شته نو تاسې وا اورئ چه دا اوښکې تاسو ته څه وايي؟ څه پرته وايي

خو زما خوله به نه شي ويلای، که تاسو د روح او غيرت غوږونه پيدا کړي وي نو زما اشارو او د غيرت چغه کښې به يې واورئ بيا او په کښې ستاسو خوسه چه څه جواب يې ورکوئ،

هغه جواب چه د پښتو ژوندي قوم نه يې ورکوي او که مړه او بې وسه،

ستاسو اجمل خټک

فهرست

لازمه تصحیح

د ښاغلی صدراعظم د وینا د لومړی مخ په (۲۲) کرښه کښی یوه کلمه پاتی شوې ده او ښایی چه (د پښتنی پاسبانی) په ځای (د پښتنی سیمی پاسبانی) و لوستل شی.

د عوضا علو محمد شیرین «مرین» خو یمامۍ ، اسد الله لودین او حبیب الله مندای د مطبوعاتو مامورینو د شمار نامې او ددې کتاب په تصحیح او صحافت کښې پوره زیار ویستلی دی چه موږ ورته په قدر ګورو او مننه یې کوو (اداره)

[illegible] ۱۳۸۶ [illegible]

NANGYALAY PASHTOON

PASHTO TOLANA

1966